# سیګار

ځانګړی عمومي پلټونکی د افغانستان
بیارغونې لپاره

د 2014
جنورۍ د 30

## د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی رپوټ



## د 2008 مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ قانون (P.L. 110-181) د افغانستان بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی تاسیس کړ (سیګار).

د سیګار د نظارت ماموریت، لکه چې په قانون کې تعریف شوی، په خپلواک او مقصدي ډول لاره برابرول دي چې

- د افغانستان بیارغونې لپاره چمتو کړی شوي یا تخصیص شوي مقدارونو سره بسپنه شوي پروګرامونو او عملیاتو پورې اړوند پلټنې او تحقیقات پرمخ ویسي.
- د پروګرامونو او عملیاتو په اداره کولو کې د اقتصاد، کفایت او مؤثریت ودې ته ډیزاین شوي پالیسیو رهبریت او همغږي او وړاندیزونه، او په دا ډول پروګرامونو او عملیاتو کې د ضایع، درغلۍ او ناوړه ګټه اخیستو مخنیوی او موندل.
- پدې معنی چې د دا ډول پروګرامونو او عملیاتو اداره کولو پورې اړوند ستونزو او کمښتونو په اړه د بهرنیو چارو او دفاع وزیر په بشپړ ډول او دا مهال خبر کړی شي او د سمون په عمل لازمیت او پرمختګ.

د افغانستان بیارغونه کې کوم لوی قرارداد، بلاعوضه مرسته، تړون ا نور د بسپنه ورکولو میکانیزم شامل دي چې د متحده ایالاتو کوم وزارت یا ادارې له لارې وي چې د تخصیص شوي مقدارونو کارول پکې دخیل وي یا په بیله بیا د افغانستان بیارغونې لپاره چمتو کړی شوي وي.

سرچینه: P.L. 110-181، ”د 2008 مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ لایحه،“ 1/28/2008.

(د دې رپوټ د هغو منځپانګو د لست لپاره چې د کانګرس لخوا تصویب شوي دي، 3 برخه وګورئ).

**د پوښ تصویر:**

د متحده ایالاتو د د 9 مرین کنډک یوه زره وسایط د افغانستان په هلمند ولایت کې د ګرمې عملیاتو پر مهال په دښته کې تیریږي، د 2013 کال د دسمبر 20. (د متحده ایالاتو د سمندري قطعاتو تصویر)



جوزجان
بلخ
کندوز
تخار
بدخشان
فاریاب
سمنګان
بغلان
سر پل
پنجشېر
بادغیس
نورستان
پروان
کاپیسا
کونړ
بامیان
کابل
لغمان
هرات
2013 کې د مخالفینو له برید
وروسته ترمیم لپاره په عارضي
ډول تړلی دی
وردک
ننګرهار
غور
لوګر
دایکندي
پکتیا
غزني
خوست
ارزګان
فراه
پکتیکا
زابل
نیمروز
هلمند
کندهار
د SIGAR اوسنی دفتر
هغه ولایتونه چیرته چې SIGAR د آډیټ،
تفتیش، او څېړنې کار ترسره کړی دی

# د افغانستان بیا رغونې
# لپاره ځانګړی عمومي مفتش

زه خوشاله یم چې کانګرس او د دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو ته په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغونیزو هڅو په اړه د سیګار دوه ویشتم درې میاشتنی راپور وړاندې کوم.

متحده ایالات په پام کې لري چې د لیږد د دې بحراني کال تر پایه پورې د خپل جنګیالي پوځونو ډیری برخه له افغانستان څخه وباسي. پهرصورت، د بیارغونې تر ټولو ګران بیه او ډیر مصرف لرونکې هڅې چې په یو واحد هیواد کې تر سره کیږي، ادامه لري. د متحده ایالاتو ستراتیژیکو موخو ته لاسرسي د هر وخت په مقایسه اوس د هغه فنډونو له سمې کارونې سره ډیر ارتباط لري چې د باکفایته افغان امنیتي ځواکونو جوړول، د قانوني دولت رامنځته کول، او د ټولنیز او اقتصادي پراختیا لپاره ځانګړي کیږي.

په دې ربع کې ولسمشر اوباما د 2014 مالي کال لپاره د ملي دفاع د واکمنۍ لایحه او د 2014 مالي کال د متحده تخصیصاتو لایحه لاسلیک کړه چې پدې سره د افغانستان د بیارغونې سره د متحده ایالاتو د مرستو کچه له 100$ میلیارده ډالرو څخه اخوا ځي. د 2014 مالي کال تخصیص د هغه کچې څخه چې ولسمشر د سترو بیارغونیزو پروژو لپاره وړاندیز کړی و ډیر کم دی، په نوموړي تخصیص کې یادونه شوې چې د تیر کال له تخصیصاتو څخه 14$ میلیارده ډالر له پلي کونکي ادارو سره پاتې دي چې تر اوسه یې لا ندي مصرف کړي.

په یاد قانون کې هغه شرایط هم شامل شوي دي چې د متحده ایالاتو د مالیه ورکونکو د ډالرو خوندي ساتلو لپاره د سیګار لخوا وړاندې شوي و، لکه د دښمن سره د قرارداد کولو د ممانعت پراخول، د متحده ایالاتو مرستې د افغان دولت له مالیاتو څخه معاف کول، او افغان دولت سره د بودیجې په چوکاټ کې د مرستو لپاره شرایط ټاکل.

د راپور پدې دوره کې، سیګار د پلټنې، تفیتش اونورو مسایلو 25 راپورونه خپاره کړل، چې پدې راپورونو کې یې د څارنې د ناکامۍ، د رغونې نواقص، او کمزورې پلان جوړونه په ګوته کړي او همدارنګه د هغه پروګرام په اړه یې خپله اندیښنه څرګنده کړې چې د افغان امنیتي ځواکونو او د افغان وزارتونو د ظرفیت لوړاوي لپاره په لاره اچول شوې ده. د دې راپور 2 برخه زمونږ د موندنو او سپارښتنو لنډیز وړاندې کوي.

متحده ایالاتو او نورو ډونرانو وعده کړې ده چې که چیرته افغان دولت د نورو اهدافو له جملې څخه د اداري فساد په مخنیوی، د عامه مالیاتو وده، او د ښځو د حقونو په ساتنه کې پرمختګ وکړي د خپلو مرستو لږ تر لږه 50% د افغان دولت د بودیجې په چوکاټ کې ترسره کوي. متحده ایالات او نور ډونران موافقه لري چې که چیرته د بودیجې په چوکاټ کې مرستې زیاتې شي نو د فنډونو د پلان، بودیجې، تخصیص، مدیریت او تعقیب په برخو کې د افغان دولت وړتیا لوړه ځي او پدې سره یې ظرفیت او مشروعیت دواړه زیاتیږي. مهمه مساله دا ده چې آیا افغان دولت کولی شي د بودیجې په چوکاټ کې زیاتې شوې مرستې په موثر ډول استفاده کړي او حساب یې ورکړي.

سیګار په خپل یو راپور کې چې پدې ربعه کې خپور شوی دی نتیجه ګیري وکړه چې USAID هغه معیارونه ندي تطبیق کړي چې د افغان دولت د هغه وزارتونو مهمې ستونزې یې هوارولې چې ټاکل شوې ده د 1$ میلیارده ډالرو څخه زیاتې پیسې په مستقیم ډول د دولت څخه دولت ته مرستې ترلاسه کړي.
برسیره پردې، د سیګار د یوې ځانګړې پروژې راپور ومونده چې د امریکا دفاع وزارت د افغانستان له دفاع او کورنیو چارو وزارتونو سره د 4$ میلیارده ډالرو مرستو ژمنه کړې پرته له دې چې د نوموړو وزیرانو د مالي مدیریت په اړه یوه هراړخیزه ارزونه ترسره کړي.

کانګرس ته زما د وروستی راپور څخه تراوسه پورې سیګار 51 نوي تحقیقات پرانیستې او 39 یې تړلي دي، چې پدې سره د روانو دوسیو شمیر 318 ته رسیږي. پدې ربعه کې د سیګار د تحقیقاتو په نتیجه کې د متحده ایالاتو حکومت 1.7$ میلیونه ډالر خوندي شو، پداسې حال کې چې د جنایي جریمو او تاوانونو کچه چې د سیګار په واسطه اړول شوي دي تقریب ا5.3$ میلیونه ډالرو ته رسیږي. همدارنګه د هغه شواهدو له مخې چې په افغانستان او امریکا کې لاسته راغلي دي، سیګار د 10 کسانو او 24 شرکتونو نومونه د احتمالي تعلیق یا مخنیونې لپاره وړاندې کړل. سیګار د غیر قانوني پیسو موضوع ته خپله توجه زیاته کړې او د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې یې پانګونه زیاته کړې تر څو مامورین یې وکولی شي هغه پیسې په سمه توګه تعقیب کړي چې د چل، دوکې، اداري فساد او د مخدره توکو څخه لاسته راځي.

د روان کال د جنورۍ په 15 نیټه مې د مخدره توکو د نړیوال کنترول لپاره د سنا د کمیټې په وړاندې بیانیه ورکړه او په افغانستان کې د مخدره توکو د کنترول په برخه کې د متحده ایالاتو هڅه مې د تشویش وړ وباله. متحده ایالاتو $10 میلیارده ډالره په داسې پروګرامونو لګولي دي چې موخه یې، لږ تر لږه یوه برخه یې، د مخدره توکو په وړاندې مبارزه وه. افغان بزګران تر اوسه لا هم، د خپل عصري تاریخ د هر وخت څخه زیات کوکنار کري. د مخدره توکو قاچاق په افغانستان کې د متحده ایالاتو او نړیوالو ډونرانو د پانګه اچونې په وړاندې د خطر یو له ډېرو سترو عواملو څخه دی.

سیګار په دې ربعه کې یوه نوې پلټنه پیل کړې تر څو معلومه کړي چې د متحده ایالاتو مرستې تر کومه حده د افغانستان د مخدره توکو ضد پولیسو د ولایتي واحدونو په رامنځته کولو کې مرسته کړې ده. سیګار همدارنګه په پلان کې لري چې د متحده ایالاتو د مخدره توکو ضد هڅو په اړه یوه هراړخیزه پلټنه وکړي تر څو معلومه کړي چې د متحده ایالاتو فنډونه څنګه مصرف شوي، د متحده ایالاتو په فنډ پروګرامونو تر کومه حده خپل اهداف ترلاسه کړي، او دا چې یاد پروګرامونه تر کومه حده په یوه ترلي او همغږي ستراتیژۍ کې ځای په ځای شوي دي.

ما پدې ربعه کې دوه اونۍ په افغانستان کې تیرې کړې چې په دې موده کې مې د پروژو څخه لیدنه وکړه او د امریکایي او نړیوالو چارواکو سره مې خبرې وکړې او همدارنګه د افغان خلکو سره مې د هغو ننګونو او ستونزو په اړه خبرې وکړې چې د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو له وتلو څخه وروسته مخ کیږي. د هر چا سره مې چې خبرې وکړې 2014 کال ته یې د یو محوري کال په سترګو کتل چې په دې کې به دا معلومه شي چې د متحده ایالاتو بیارغونیزې هڅې تر کومه حده توانیدلي چې د یو مسول حکومت او وده کونکي اقتصاد لپاره د اساس او بنسټ تیره کیږدي. سیګار د امنیت، حکومتولي، اقتصادي پراختیا، مخدره توکي، اداري فساد او همدارنګه د بودیجې په چوکاټ کې د مرستو په برخه کې اساسي مسایل په ګوته کړي. د دې هر یو ساحو په اړه زمونږ کارونه روان یا هم په پلان کې دي.

سیګار همدارنګه په دې اړه خپله ژوره اندیښنه ښودلې ده چې د متحده ایالاتو د پوځي او ملکي شتون د کمیدو سره به د څارنې او نظارت کارونه له خنډ سره مخ شي. د همدې لپاره، سیګار په فبرورۍ میاشت کې د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوټ په ملګرتیا سره یوه غونډه جوړوي تر څو هغه غوره لارې په ګوته کړي چې کولی شي په ناامنه سیمو کې د لرې فاصلې څخه اداره او څارنه ترسره کړي. سیګار به خپله نتیجه ګیري دولتي ادارو او غیر دولتي موسسو ته د ماخذ په توګه خپره کړي.

په دې ربعه کې زه یو ځل بیا لکه څنګه چې په ورستی دریو دریو میاشتنی راپورنو کې څرګنده کړې وه د متحده ایالاتو د پوځ. د تعلیق او مخنیونې پالیسیو په اړه خپله اندیښنه څرګندوم. د پوځ لخوا د هغه قرارداد کونکو د تعلیق او مخنیونې څخه چې د جنګیالیو سره مرستې کوي، یوازې پدې پلمه سرغړونه کول چې د دې سپارښتنو معلومات په ډلبندي شوې بڼه وړاندې شوي نه یوازې په قانوني ډول غلط کار دی بلکه د سالمې عامه پالیسۍ او د ملي امنیت له اهدافو سره هم سمون نلري. زه بیا هم د کانګرس څخه غوښتنه کوم تر څو دغه ناسمه پالیسي بدله کړي او د پوځ د تعلیق او مخنیونې په پروګرام کې د سم قضاوت او تحلیل حاکمیت ته وده ورکړي.

دا درې میاشتنی راپور هغه خطرونه او شکونه په ګوته کوي چې د دې محوري کال په ترڅ کې د متحده ایالاتو د بیارغونیزو هڅو په وړاندې واقع کیږي. د متحده ایالاتو د وتلو سره سم، پلي کونکي ادارې او د څار ارګانونه په خپلو بیارغونیزو پروګرامونو د تیر په پرتله لږ نظارت کولی شي. اغیزمنه څارنه هیڅکله هم د روان وخت په اندازه مهمه نه وه. زه به د پلي کونکو ادارو او نورو څارونکو ارګانونو او همدارنګه د کانګرس سره خپل کار ته ادامه ورکړم تر څو یقیني کړو چې د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د متحده ایالاتو عظیمه پانګونه نه ضایع کیږي.

په درناوی،



جان اف ساپکو
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش

**دا راپور د سیګار د څارنیزو کارونو یو لنډیز او د افغانستان د بیارغونې دریو لویو سکتورونو د پراختیا په اړه تازه اخبار وړاندې کوي. همدارنګه هغه خطرونه او شکونه تر څېړنې لاندې نیسي چې د دې محوري کال په ترڅ کې د پوځي او سیاسي لېږد څخه وروسته دا هیواد ورسره مخ کیږي. د راپور پدې دوره کې، سیګار د پلټنې، تفتیشاتو، خبرداری لیکونو، او نورو مسایلو 25 راپورونه خپاره کړي چې پدې کې د افغان امنیتي ځواکونو جوړولو، د حکومتولی د ودې، او د ټولنیز او اقتصادي پراختیا په برخو کې د متحده ایالاتو هڅې یې ارزولې دي. دا راپورونه د اداري او څارنې نواقص، کمزوری پلان جوړونه، د رغونې نواقص او د روغتیا او خوندیتوب د خطراتو په شمول یې یو شمیر ستونزو ته ګوته نیولې ده. پدې ربعه کې د سیګار د تحقیقاتو په نتیجه کې د متحده ایالاتو حکومت 1.7$ میلیونه ډالر خوندي شو، پداسې حال کې چې د جنایي جریمو او تاوانونو کچه چې د سیګار په واسطه اړول شوي دي تقریبا 5.3$ میلیونه ډالرو ته رسیږي. همدارنګه د سیګار تحقیقات په متحده ایالاتو کې د دریو جنایي معلوماتو، د پنځه دعواو تصدیق، او د شپږو کسانو د جرم ثابتولو لامل شو او په افغانستان کې د دوو کسانو د بندي کیدو او سزا ورکولو دوسیه روانه ده.**

## SIGAR عمومي کتنه

سیاسي او پوځي لیږد 2014 کال د افغانستان لپاره یو محوري کال جوړ کړی دی. په اپریل میاشت کې ملي ټاکنې د دولت د موثریت آزمایښت دی، چې د کامیابۍ په صورت کې قومي شخړې کموي، او د هیواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په مسالمت آمیزه توګه د اجرایوي ځواک د سپارلو څخه وروسته د دولت عامه مقبولیت او منښت هم زیاتیږي. په عین وخت کې، د بهرنیو پوځیانو د وتلو بهیر هم دوام لري. دا کال به امریکایانو ته په څرګنده توګه وښیي چې 12 کلنه جګړه او د 100$ میلیارده ډالرو په ارزښت بیارغونیزې هڅې —چې د امریکا تر ټولو څخه اوږده جګړه کې د څنګ په څنګ روان و— کومې پایلې درلودې. د سیګار کارونه د راپورونو د پراخې سروې، تحلیلونو، او د ماهرینو د نظریاتو سره یوځای د افغان خلکو د ژوند او ټولنې په ګڼو برخو کې خطرونه او شکونه په ګوته کړي چې ځینې یې دا دي: امنیت، ټاکنه، حکومتولي، مخدره مواد، اداري فساد، اقتصاد، او د بودیجې په چوکاټ کې د مرستو په شمول نړیوالې مرستې. تر ټولو اساسي پوښتنې دا دي چې آیا افغان امنیتي ځواکونه کولی شي د نړیوالو ځواکونو له وتلو څخه وروسته د جنګیالیو په وړاندې مقاومت وکړي، او آیا افغان دولت کولی شي د سیاسي ځواک مسالمت آمیزه لیږد او د عامه خلکو لپاره د منلو وړ دولت جوړولو او پدې سره د خپل مشروعیت او موثریت زیاتولو لپاره پرانیستی او ریښتونی ټاکنې ترسره کړي.

## پلټنې

سیګار پدې ربعه کې، د کړنو په اړه څلور پلټنې، اته مالي پلټنې، او درې تفتیشات ترسره کړي. د **کړنو په اړه پلټنو** لاندې نتایج لاسته راوړي:

- د تجارتي بانکونو په تنظیم کې د افغان مرکزي بانک ظرفیت لاهم ضعیف پاتې دی.
- د افغان قضایي سکتور څخه د حمایت لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت پروګرامونه غوره مدیریت او غښتلی څارنې ته اړتیا لري.
- د افغان ملي امنیتي ځواکونو د سواد زده کولو پروګرامونو د بریالیتوبونو سربیره، د نتایجو، د قرارداد څارنې، لیږد او د پایښت په برخو کې لاهم ځینې اندیښنې شته دي.
- د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداري (USAID) هغه معیارونه ندي تطبیق کړي چې د افغان دولت د هغه وزارتونو مهمې ستونزې یې هوارولې چې ټاکل شوې ده د 1$ میلیارده ډالرو څخه زیاتې پیسې په مستقیم ډول د دولت څخه دولت ته مرستې ترلاسه کړي.

**مالي پلټنو** معلومه کړه چې د داخلي تفتیش د نواقصو او د مقرراتو څخه د سرغړاوی په نتیجه کې 10.7$ میلیونه ډالر په مشکوکو مواردو کې مصرف شوي دي. دا نواقص او د مقرراتو سرغړاوی عبارت دي له: د لست شوي شیانو سربیره د نورو شیانو لپاره بودیجه ورکول، د پرسونل غیر قانوني مصارف، د زماني جدول ورکیدل، د قراردادي د تعلیق او مخنیوي څخه پاتې راتلل، د غلا او اور لګیدنې له امله د شتمنیو له منځه تلل، د اسنادو نیمګړی ثبت، د ملاتړو اسنادو نه درلودل، نا منل شوي نړیوال سفر یا د شتمنیو اخیستل، او د تدارکاتو له کړنلارې څخه سرغړونه کول.

د متحده ایالاتو په مرسته جوړ شوي تسهیلاتو د **تفتیش په راپور** کې لاندې ستونزې وموندل شوې:

- د شرنې په فارورد آپریټنګ بیس (د مخکښو عملیاتو مرکز) کې 5.4$ میلیونه ډالر د داسې سونځای لپاره مصرف شوي چې نه استفاده کیږي، او په سرخلاصه کندو کې د فاضله شیانو سوځول لا هم ادامه لري.
- په بلخ کې نږدې پنځه کاله وروسته د زده کړې یوه ودانۍ لاهم نیمګړې ده او استعمال یې خوندي ندی.
- په سالنګ روغتون کې د بریښنا، اوبو او نورو سترو نواقصو له امله افغان خلک نشي کولی روغتیایي خدماتو ته په خوندي او د اعتماد وړ شرایطو کې لاسرسی پیدا کړي.

# اجرايوي لنډيز

## نوې پلټنې

سيګار په دې ربعه کې د کړنې په اړه څلور نوي پلټنې او درې نوې مالي پلټنې پيل کړې دي. د کړنې څلور پلټنې چې په دې ربعه کې پيل شوې دي دا موارد ارزوي:

- د افغانستان د معلوماتو او مخابراتي ټکنالوژۍ له سکتور څخه د متحده ايالاتو ملاتړ
- د افغان هوايي ځواک څخه د متحده ايالاتو ملاتړ
- د انجينرانو ملي لواء د روزنې، تجهيز، او پايښت په برخه کې د امريکا د دفاع وزارت (DOD) هڅې
- د افغانستان د مخدره توکو د پوليسو د ولايتي څانګو د پراختيا او تقويې په برخه کې د متحده ايالاتو هڅې

درې نوې مالي پلټنې د امريکا دفاع وزارت قراردادونه معاينه کوي چې مجموعي قيمت يې 500.6$ ميليونه ډالرو ته رسيږي، او پدې سره د روانو مالي پلټنو شمير 20 ته رسيږي چې په مجموعي توګه 2.1$ ميلياره ډالر پکې شامل دي.

## ځانګړې پروژې

د راپور پدې دوره کې د ځانګړو پروژو دفتر لاندې راپورونه خپاره کړل:

- يو ځانګړی راپور د هغه حفاظتي اقداماتو په اړه چې د امريکا دفاع وزارت لخوا د هغه 4$ ميلياره ډالرو د خوندي ساتلو لپاره په نظر کې نيول شوي دي چې د افغانستان د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو ته په مستقيمه توګه چمتو شوي
- يو خبرداری ليک پدې اړه چې يو قرارداد کونکی چې د جنګياليو سره يې مرسته درلوده د ايتلافي ځواکونو يو مرکز ته لاسرسی موندلی دی
- د هغه احتمالي نواقصو په اړه يو خبرداری ليک چې د افغانستان د ملي بريښنا له صنعت سره د USAID د مستقيمه، دوه اړخيزه مرستو په څارنه کې موجود دي
- يوه معلوماتي پاڼه چې د USAID لوی پلي کونکي ملګري پکې ښودل شوي دي
- يوه معلوماتي پاڼه چې پدې کې هغه بيارغونيزې پروژې ښودل شوي چې په 2014 کال کې د متحده ايالاتو د سرتيرو له وتلو څخه وروسته به په اسانۍ سره د لاسرسۍ وړ نه وي تر څو څارنه او نظارت يې وشي
- هغه غيردولتي موسسو ته ليکونه استول چې په افغانستان کې د فيدرالي ادارو سره کار کوي تر څو غوره تجارب ورته په ګوته کړي
- درې ليکونه د امريکا دفاع وزارت ته: د قوماندان د بيړنی غبرګون پروګرام په اړه د معلوماتو غوښتنه کول؛ دا خبره اعلانول چې سيګار په هلمند ولايت کې د ليدرنيک کمپ د هغه ودانۍ په اړه خپل تحقيقات بيا شروع کوي چې په 64,000 فوټ مربع ځمکه کې جوړه شوه تر څو سرتيري ترې ګټه واخلي؛ او دا اعلانول چې سيګار افغان هوايي ځواک ته د G-222 ډوله الوتکو د چمتو کولو تړل شوې پلان په اړه خپله بياکتنه پيل کړې ده.

## تحقيقات

د راپور پدې دوره کې، د سيګار يو تحقيق د متحده ايالاتو حکومت د 1.7$ ميليونه ډالرو د خوندي کيدو لامل شو. همدارنګه د سيګار تحقيقات په متحده ايالاتو کې د درې جنايي معلوماتو، د پنځه دعواو تصديق، او د شپږو کسانو د جرم ثابتولو لامل شو. په افغانستان کې د دوو کسانو د بندي کيدو او سزا ورکولو دوسيه روانه ده. هغه جنايي جريمې او تاوانونه چې د سيګار په واسطه اړول شوي دي نږدې 5.3$ ميليونه ډالرو ته رسيږي. سيګار 51 نوي تحقيقات پيل او 39 يې تړلي دي، چې پدې سره د روانو دوسيو شمير 318 ته رسيږي. سربيره پردې، د هغه شواهدو له مخې چې د سيګار د تحقيقاتو په ترڅ کې په افغانستان او امريکا کې لاسته راغلي دي، سيګار د 10 کسانو او 24 شرکتونو نومونه د احتمالي تعليق يا مخنيونې لپاره وړاندې کړل.

د تحقيقاتو په عمده ټکو کې دغه موارد شامل دي:

- د متحده ايالاتو د پوځ يو پخوانی بريدمل د چل، دوکې، او د دولتي شتمنيو د تغير په تور تورن او جرم يې ثابت کړای شو
- د غزني ولايت په FOB کې د بيړني عمليات په ترڅ کې دوه تنه بنديان شول
- د متحده ايالاتو د پوځ لومړی بريدمل د رشوت او غلا په تور مجرم وپيژندل شو
- د چل او دوکې په اړه د يو تحقيق په ترڅ کې څلور کسان په جنايي تور تورن شو
- دوه کسانو ته د تيلو د غلا په جرم سزا ورکړ شوه
- د متحده ايالاتو د پوځ يو بريدمل د دولتي فنډونو په غلا تورن شو

## د فنډ برابرولو تازه اخبار

د 2014 مالي کال د متحده تخصيصاتو لايحه په افغانستان کې د سوکالۍ او بيارغونې لپاره 5.4$ ميلياره ډالر منظور کړه، چې پدې سره د 2002 مالي کال څخه تر اوسه پورې د تخصيصاتو مجموعي کچه نږدې 102$ ميلياره ډالرو ته رسيږي. په دې شمير کې هغه تخصيصات ندي شامل چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت او د USAID بانکي حسابونو ته تخصيص شوي دي، کوم چې د دې راپور تر خپريدو پورې نهايي شوي نه وې. د بيارغونې د اووه لويو برخو لپاره چې پدې راپور کې ښودل شوي دي، د تخصيص شوي فنډونو له جملې څخه د 2013 کال د دسمبر تر 31 پورې نږدې 19$ ميلياره ډالر يې ندي مصرف شوي.

# د منځپانګې جدول



## 1 برخه


**1 افغانستان عمومي کتنه**

3 2014: د خطر او نامعلومتیا یو ډېر مهم کال
4 امنیت
7 ټولټاکنې
8 حکومتولي
10 مخدره توکي
11 فساد
11 اقتصاد
12 نړیواله مرسته، د بودجې په اساس او له بودجې دباندې
15 پایله




## 2 برخه


**17 د سیګار د څارنې فعالیتونه**

20 سیګار د سنا د اړوندې کمیټې په وړاندې په افغانستان کې د مخدره توکو سره د مبارزې په اړه څرګندونې کوي
21 کانګرس د هغه مسایلو په اساس عمل کوي چې د سیګار لخوا په ګوته شوي
22 پلټنې
39 تفتیشات
43 ځانګړې پروژې
50 تحقیقات
59 د سیګار بودیجه
59 د سیګار کارکونکي




## 3 برخه


**61 د بیارغونې نوي معلومات**

63 لنډیز
65 د LOTFA او "پټو کارکوونکو" په اړه اندیښنې
66 د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته
69 د بسپنو وضعیت
83 امنیت
111 حکومتداري
145 اقتصادي او ټولنیزه پراختیا

# د منځپانګې جدول



## 4 برخه


185 د نورو ادارو نظارت
187 د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه
189 د نظارت یا څار روان فعالیتونه




## ضمیمې او پایلیکونه


200 ضمیمه الف: قانوني غوښتنو ته د راپور متقابل مراجعه
204 ضمیمه ب: د امریکا فنډونه د افغانستان د بیا رغونې لپاره
206 ضمیمه ج: د سیګار لیکل شوي محصولات
210 ضمیمه د: د سیګار تحقیقات او د تماس شمیره
215 هـ ضمیمه: مخففونه او لنډیزونه
220 پای لیکونه

”څومره چې د افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې
راتلونکې ژمنه په نامعلومه توګه دوام مومي،
اندېښنه ډېرېږي، او کېدای شي د ولسمشرۍ
راتلونکې ټولټاکنې تر اغېز لاندې راوړي،
او دا ډار لېدل کېږي چې د هېواد لپاره
دا تجربه د متحد کولو په ځای په بېلولو بدله شي.
د BSA په اړه دوامدارې نامعلومتیا سره به
د افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې لوی ملاتړ
هم له منځه ولاړ شي.“

— د افغانستان لپاره ځانګړی استازی جیمز دابینز

سرچینه: د امریکا د سنا بهرنیو اړیکو اوریدنه کې په افغانستان کې د سپارلو په اړه شهادت، د 2013، دسمبر 10.

# 1

# 2014: د خطر او نامعلومتیا
# **یو ډېر مهم کال**



# 2014: د یوه ډېر مهم کال منځپانګې


| | |
|---|---|
| **امنیت** | **4** |
| **ټولټاکنې** | **7** |
| **حکومتولي** | **8** |
| **مخدره توکي** | **10** |
| **فساد** | **11** |
| **اقتصاد** | **11** |
| **نړیواله مرسته، د بودجې په اساس او له بودجې دباندې** | **12** |
| **پایله** | **15** |


**عکس په تیر مخ کې**

د 2013 د سمبر په 4 په بروکسلز کې د ناتو په مرکز کې د ناتو بهرنیو چارو وزیران او غیر ناتو برخه اخیستونکي چې د نړیوال معاونت امنیتي ځواک (آیساف) کې دي د افغانستان امنیت مسلو باندې خبري کوي. د ملګرو ملتونو امنیت شورا پریکړو په اساس، ناټو د آیساف مشري کوي. امریکا په افغانستان کې د آیساف د 57,000 ځواکونو نږدې دوه - دریمه برخه برابروي. (د بهرنیو چارو وزارت عکس)

# 2014: د خطر او نامعلومتیا یو ډیر مهم کال

سیاسي او نظامي سپارل د افغانستان لپاره 2014 یو ډیر مهم کال جوړوي. په اپریل کې ملي ټولټاکنې به د افغانستان حکومت اغیزمنتیا لپاره یوه آزموینه وي او که بریالي وي، کیدای شي قومي اندیښنې لرې کړي او د هیواد په تاریخ کې د لمړي ځل لپاره د دیموکراتیک او سولیز اجرایي ځواک سپارلو برابرولو سره د عامه خلکو منل زیات کړي. په عین وخت کې، د بهرنیو نظامي ځواکونو کمیدل دوام لري. نږدې 39,000 امریکایي ځواکونه په افغانستان کې پاتې دي، او د 2013 له پیل څخه چې 66,000 و کم دي.[1] افغان ځواکونو په رسمي توګه په جون کې د محاربوي عملیاتو مشري په غاړه واخیستله او د امریکا او د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) ډیری نور ځواکونه به د 2014 په پای کې ووځي.

بهرني ځواکونه وځي، مګر د افغانستان ټولنیز او اقتصادي ستونزي، د راتلونکو کلونو لپاره د امریکا د میلیاردونو امریکایي ډالرو مرستې ژمنه، او سخته او دوامداره یاغیتوب ټول په ځای پاتې دي. د سپارلو دا ډیر مهم کال به امریکایانو ته نوي نښې ورکړي چې د 12 کلونو، له 100 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د بیارغونې هڅو ډالرونه، چې د امریکا تر ټولو اوږدې جګړې سره موازي پرمخ ځي تر کومې کچې ښه روان دي، او کیدای شي بریالی شوي وي. د پانګونې ګټې تخمینولو په ځای شته خطرونه ډیر دي. لکه څنګه چې د افغانستان په اړه د کانګرس تحقیقي خدماتو پخپل وروستنې راپور کې لیدلي:

> دا د افغانستان په جګړه کې د امریکا هڅو لپاره مهم وخت دی. ...پداسې حال کې چې د ځواکونو کچه کیدای شي مهمې خبرې خپلې کړي، هغه څه چې په اساسي توګه له خطر سره مخامخ دي هغه دا دي چې څه ته اړتیا ده ترڅو د اوږدې مودې لپاره په افغانستان او سیمه کې د امریکا ګټې خوندي کړي. هغه څه چې د خبرو وړ دي، کیدای شي په سیمه کې د امریکا یو شمیر ګټې له خطر سره مخامخ وي: د القاعدې او نورو سخت دریځو افراطیانو مخه نیول؛ د اټمي وسلو پراخیدلو مخه نیول؛ په اټمي وسلو سمبالو هیوادونو د اټمي جګړې مخه نیول؛ د امریکا ارزښتونو لپاره دریدل، پشمول د اساسي بشري حقونو او ښځو حقونو خوندي کول؛ او د امریکا توان ساتل ترڅو وکولای شي د نړی په کچې خپل مشرتوب څخه کار واخلي.[2]

د سیګار کار، د پراخو سروې راپورونه، تحلیلونه، او متخصص نظر شکونه او خطرونه رابرسیره کوي چې د افغانستان ژوند ډیری برخو او ټولنې په اړه دي، پشمول د دغو، مګر پدغو محدود ندي:

- امنیت
- ټولټاکنې
- حکومتولي
- مخدره توکي
- فساد
- اقتصاد
- نړیواله مرسته، پشمول د بودجې په چوکاټ کې مرسته

بیرنی پوښتني دا دي چې آیا د افغانستان امنیتي ځواکونه کولای شي په کلکه د یاغیتوب په وړاندي ودریږي سره لدې چې نړیواله مرسته محدودیږي، او آیا دا چې د افغانستان حکومت کولای شي رښې او مشروع ټولټاکنې ترسره کړي ترڅو د سولیز سیاسي سپارلو لپاره مرسته وکړي او د مشروعیت او اغیزمنتیا په اړه یې د عامو خلکو منل زیات کړي.

## امنیت

له نیمی څخه زیات د امریکا بیا رغونې میلیاردونه ډالرونه 59 — د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو جوړولو ته تللي ترڅو په افغانستان کې له امن ځایونو جوړولو څخه د القاعدې او نورو تروریستي ډلو مخه ونیسي. که څه هم د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه چې د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو څخه جوړ شوي، د 2013 په جون کې د امنیتي عملیاتو مشری مسولیت په غاړه واخیست، امریکا او ناټو ملګري یې پلان جوړ کړی ترڅو په افغانستان کې ځو زره نظامي کارکوونکي وساتي او د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره روزنه او ملاتړ برابر کړي، او له 2014 وروسته د تروریستانو په وړاندې کوچني عملیات ترسره کړي.

د اییتلاف چارواکي وایي وروسته لدې چې د نړیوالې ټولنې د محاربې ډیری ځواکونه ووتل د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه به د ناټو روزنې ته نوره هم اړتیا ولري. پدې برسیره، د افغانستان حکومت هغه مالي سرچیني نلري ترڅو معاشونه تادیه کړي، تجهیزات واخلي، تاسیسات وساتي، او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو عملیات ترسره کړي. ناټو اټکل کړی دی چې د افغانستان امنیتي ځواکونو ساتنې لپاره په یوه کال کې 5 میلیارده امریکایي ډالرو ته اړتیا ده.

له 2014 وروسته د امریکا او ناټو ماموریت تر ډیري کچې د افغانستان حکومت پورې اړه لري چې د امریکا او افغانستان ترمنځ په یوې نوي امنیتي موافقې (BSA) باندې موافقه وکړي چې د بهرنیو ځواکونو ونډه او حقوقي دریځ به تعریف کړي. یوه نوي امنیتي موافقه چې خبرې وربارندې شوي د هغې لویې جرګې له لورې تایید شوې چې ولسمشر کرزي راغوښتې وه، مګر تر اوسه هغه د دې موافقې له لاسلیک کولو ډډه کړې ده.

د امریکا دفاع وزیر، چک هیګل خبرداری ورکړی که افغانستان دوه اړخیزه امنیتي موافقه لاسلیک نکړي، کیدای شي د 2014 په پای کې د امریکا ټول عسکر ووځي، هغه څه ته چې د "صفر انتخاب" هم ویل کیږي.[3] د امریکا بهرنیو چارو وزارت یوه ویاندی د 2014 په جنوری کې وویل، "که مونږ ونشو کولای دوه اړخیزه امنیتي موافقه په چټکه توګه پای

# 2014: يو ډېر مهم کال



**د امريکا د 133 پياده کنډک عسکر** د افغانستان د 201 قول اردو سره په همغږی کې د افغانستان د ننګريش په غرونو کې ګزمه کوي. (د امريکا اردو عکس)

ته ورسوو، مونږ به له 2014 وروسته پلان کول پيل کړو چې پدې کې به د امريکا او يا ناټو هيڅ عسکر په افغانستان کې شتون ونلري.“ هغې اضافه کړل، ”که دا نور هم 2014 ته وغزول شي، د داسې يوې پايلې ډېر احتمال شته.“[4]

ناټو پلان لري ترڅو له 2014 وروسته په افغانستان کې له 8,000 تر 12,000 پورې عسکر پرېږدي، مګر د افغانستان او امريکا ترمنځ له لاسليک شوې امنيتي موافقې پرته چې وروسته به د ناټو او افغانستان ترمنځ تړون وي، د ناټو عمومي منشي، اندرس فوغ راسموسين وويل، ”مونږ يو مناسب حقوقي چوکاټ نلرو او دا به امکان ونلري ترڅو د افغانستان لپاره د روزنې، مشورې او مرستې ماموريت وګمارل شي.“[5] په عين وخت کې، د امريکا لوی درستيز، جنرال مارتين ديمپزي، خبرداری ورکړی دی چې بشپړ وتل کيدای شي په سيمه کې بې ثباتي منځ ته راوړي: ”مونږ به ټول د هغو ځايونو په اړه انديښنه ولرو چې کيدای شي تر اداري لاندې نه وي او د تروريستانو لپاره امن ځايونه جوړ کړي، پدې وجه ثبات په سيمه کې زمونږ د ملي ګټو لپاره دی.“[6]

هغه پايله چې له 2014 وروسته به د روزنې، مشورې، يا د تروريستانو په وړاندې محدود غبرګونونو لپاره په افغانستان کې د امريکا يا د ناټو نور عسکر نه وي، کيدای شي د افغانستان امنيت لپاره خطرناک وي. د 2013 په دسمبر کې راسموسن ملګرو ملتونو ته راپور ورکړ چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه ”د يوه بشپړ تيار ځواک جوړيدو په لور روان دي، که څه هم هغوی د محاربې توان له کبله تر اوسه پخپلو پښو ولاړ ندي.“ هغه اضافه کړل، ”مګر اوس هم ډېر کارونه شته چې بايد ترسره شي“ ترڅو يوه عصري اردو او ملي پوليسو ته وده ورکړ شي او وسائل شي، او د اردو او پوليسو په پلان کولو، بودجې، د عملياتو پروګرام، لوژستيک، او کارکوونکو پروسو کې د وزارتونو ظرفيتونو ته وده ورکړ شي.[7]

د بروکينګز انستيتوت يو تحقيق کوونکی، واندا فيلباب - براون، مشاهده کړي دي چې د افغانستان امنيتي ځواکونه اوس هم له غير مناسب لوژستيکي، ساتنې، او نورو ملاتړ

# 2014: يو ډېر مهم کال

کوونکو ظرفیتونو څخه رنځ وړي او په ډېر فساد، واسطې، او قومي خلاوو کې ککړ دي.[8] د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو اغېزمنتيا په وړاندې نورو ننګونو کې پراخه بې سوادي، د قرباني او وتلو لوړه کچه، او د هغوی د ياغي دښمنانو ټينګوالی دی.

ځکه چې امريکا د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو په جوړولو کې ډېره برخه اخيستې او د امريکا ماموريت برياليتوب لپاره دا ځواکونه مهم ګڼل کيږي، سيګار د هغو پروګرامونو پلټنو، تفتيش او تحقيق کارونو ته دوام ورکوي چې د افغانستان امنيتي ځواکونو د جوړولو لپاره دي. پدې ربع کې سيګار د پلټنې يو راپور او د ځانګړې پروژې يو راپور خپور کړی او د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو په اړه يې انديښنه ښودلې.

د ناټو په مشری د نړيوال معاونت امنيتي ځواک (آيساف) په تير کلونو کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د قطعاتو د کارکوونکو جلبولو، تجهيز کولو، او روزنې لپاره له يو شمير سيستمونو څخه کار اخيستی دی. د 2013 په جولای کې، آيساف د قوماندان قطعې ارزولو وسيله (CUAT) په سيمه ايزه قوماندانې/د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو درېځ راپور (RASR) باندې بدل کړ.

RASR د دې لپاره دی ترڅو د CUAT تر سيستم ډېر دقيق، دوامداره، او ګټوري پايلې توليد کړي. د سيګار يوه روانه پلټنه دا آزموينه کوي چې آيا هغه توپيرونه او غير منظم کارونه چې د CUAT ارزښت يې محدود کړی وو د RASR ترلاندې هم دوام لري. په دې برسيره، آيساف لا تراوسه دا پلان نلري لکه څنګه چې بهرنې ځواکونه وځي او د مشورې ټيمونه کميږي، د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ظرفيتونو په اړه معلومات ټولولو، تحليلونو، تاييد، او راپور ورکولو ته دوام ورکړي.[9] (د سيګار د نظارت راپورونو په اړه نور جزييات د دې ربعې راپور په 2 برخه کې راغلي؛ بشپړ متن د سيګار په ويب پاڼه کې شتون لري، www.sigar.mil)

د سيګار يوې بلې پلټنې چې د دې راپور ورکولو په موده کې خپره شوې د 200 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت د امريکا له لورې په تمويل شويو دريو قراردادونو کې چې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د سواد زده کړې لپاره دي يو شمير ستونزې موندلې.

سيګار موندلې چې هيڅ يوه قرارداد هم د سواد زده کړې آزموينو خپلواک تاييد اړتيا ندرلوده. پدې برسيره، د افغانستان په ټولو ملي امنيتي ځواکونو کې د سواد زده کړې اوسنی بشپړې کچې اندازې شتون نلري ځکه چې د سواد زده کړې روزنې پروګرام د فارغينو تعقيبولو آسانتيا نلري، ډېری استخدام شوي ساحې ته ليږل شوي چې لږ يا هيڅ روزنه نلري، او د ځواکونو اټکل شوې کميدلو کچه له 30–50% ده. په عين وخت کې، په افغانستان کې د ناټو روزنې ماموريت او د افغانستان د امنيت سپارلو ګډې قوماندانی (CSTC-A) لا تراوسه د سپارلو او ساتنې يوه نوې ستراتيژي ته وده نده ورکړې ترڅو له سپارلو وروسته د افغانستان د وزارتونو، ژمني، موخې، نښې، اندازې، او د سواد زده کړې مهال ويش تعريف کړي.[10]

په پراخه کچه کې، سيګار له 4 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات د افغانستان په دفاع او کورنيو چارو وزارتونو کې د ځواکونو د دوام لپاره د CSTC-A په ژمنه کې ستونزي ليدلي دي. که څه هم CSTC-A د خطر کمولو له ځينو وسيلو کار اخلي، اوسني کارونه په ځانګړو دفترونو باندې کار کوي، چې د ټول وزارت د بودجې پروسو نيمګړی انځور برابروي، او د خطر محدوده ارزونه کوي. د امريکا دفاع وزير دفتر د سيګار ځانګړو پروژو



**د امريکا** 82 مې هوايی فرقې يو پراشوټې سرتيری د افغانستان ملي پوليسو له غړو سره چای څښي. (د امريکا اردو عکس)

دفتر له نظر سره موافقه کړې چې دا دفتر دي د دواړو وزارتونو د مالي مدیریت ظرفیتونو هر اړخیزه ارزونه په پام کې ونیسي.[11]

سیګار د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د ظرفیتونو او د امنیتي ځواکونو لپاره د امریکا مرستو څخه کار اخیستلو په اړه اوس هم ډېره اندیښنه لري. د سیګار یوه راتلونکې پلټنه به د افغانستان هوایي ځواکونو ودې لپاره د امریکا ملاتړ آزموینه وکړي. د امریکا دفاع وزارت د 2014 مالي کال لپاره د 1 میلیارده امریکایي ډالرو تخصیص غوښتنه کړې ترڅو د افغانستان هوایي ځواکونو لپاره نوي تجهیزات واخلي؛ د قانون هغه مسوده چې د جنوری په منځ کې د کانګرس له لورې تایید شوې د مرستې اندازه یې له درېمې څخه ډېره کمه کړې، او دا هغه نښه ده چې د امریکا دفاع وزارت هغه پلان فسخه کړی ترڅو د افغانستان لپاره په روسیې کې جوړ شوي نور هلیکوپترونه واخلي. پلټنه به د افغانستان هوایي ځواکونو د توان ارزونه وکړي چې کولای شي اضافي الوتکې او تجهیزاتو څخه کار واخلي او وساتي. بله پلټنه به د امریکا دفاع وزارت د هڅو آزموینه وکړي چې د افغانستان ملي اردو د ملي انجنیرانو لوا روزنې، تجهیز او دوام لپاره دي، چې پدې لنډو وختونو کې به د ملاتړ کوونکو دندو ترسره کولو لپاره ډېر زیات تجهیزات لاسته راوړي.

امنیتي اندیښنې هم په نظارت باندې اغیز لري. د امنیت پرمختګ دوامداره نظارت اړین دی. د افغانستان پراخه بې امنیتي د عامه خدماتو رسولو په وړاندې خنډ دی، د پانګونې مخه نیسي، د انسانانو او پیسو وتل هڅوي، او په حکومت باندې د عامه خلکو ډاډ او ملاتړ کموي.

د امریکا اردو او ملکي کارکوونکو کمیدل، په هیواد کې دننه د نظارت چارواکو لپاره په امنیت، خوځښتونو، او روغتیا ملاتړ باندې نوي محدودیتونه وضع کوي.[12] په افغانستان کې د سیګار ټیمونه د سفر کولو په وخت کې په ځانګړې توګه په لرو پرتو سیمو کې له وړاندې له ستونزو سره مخامخ شوي دي. د افغانستان بیارغونې پروژو کې د تطبیق کوونکو ادارو او نظارت چارواکو ښکاره شتون، نه یوازې د امنیت لپاره، مګر د حکومتولي او اقتصادي پراختیا لپاره هم کیدای شي کموالی یې دوام ومومي.

د دې مسلې حلولو لپاره، سیګار او د امریکا د سولې انستیتوت (USIP) د 2014 د فبروری په 12 او 13 په ګډه یو سیمپوزیم جوړوي، ترڅو هغې لارې وڅیړي چې څنګه په یوه ناامنه چاپیریال لکه افغانستان کې د پروګرام او پروژو اغیزمن نظارت ترسره کړي. برخه اخیستونکي به په هغو ښو کارونو او نوښتونو، پشمول د په لرو پرتو سیمو کې په بیلابیلو نظارتونو باندې خبرې وکړي. سیګار به د سیمپوزیم پایلو په اړه کانګرس ته راپور ورکړي.

## ټولټاکنې

د افغانستان ولسمشرۍ ټولټاکنې چې د 2014 په اپریل کې ترسره کیږي، کیدای شي د هیواد په تاریخ کې د لمړي ځل لپاره په سولیزه او دیموکراتیکه توګه واک سپارلو لپاره لار برابره کړي. ټولټاکنې به د هیواد د 34 ولایتي شوراګانو جوړښت هم معلوم کړي. مګر، لکه څنګه چې پخوا وو، افغانستان به د رای ورکوونکو له ثبت، د ښځو رای ورکوونکو له برخې اخیستنې، د رای ورکوونکو پیژندلو، د رای ورکولو مرکزونو امنیت، لاس وهنې، تقلب او د یاغیانو له مداخلې سره به ستونزې ولري.



**د سپوږمکۍ عکس** 16 ترانسپورتي الوتکې ښیې چې د کابل په هوایي ډګر کې غیر فعاله ناستې دي. (دا عکس د امریکا بهرنیو چارو وزارت له لورې سیګار ته ورکړ شوی)

**د امریکا مالیه ورکوونکو د افغانستان هوایي ځواک لپاره نږدې نیم میلیارده امریکایي ډالر برابر کړي ترڅو له ایټالیا څخه 20 ترانسپورتي الوتکې واخیستل شي او ترمیم شي. کیدای شي الوتکې له منځه یوړل شي یا وپلورل شي ځکه چې هغه مهم سامانونه چې د ساتنې لپاره یې اړین دي شتون نلري، او ځکه چې د ساتنې قرارداد کیدای شو اضافي 200$ میلیونو نورو امریکایي ډالرو ته اړتیا درلوده. په ایټالیا کې ډیزاین شوي الوتکې (چې د G-222 یا C-27A په نوم دي) مستعمل اخیستل شوي. لدغو څخه 16 اوس په کابل کې بې کاره ناستې دي؛ څلور نورې یې په آلمان کې د امریکا په هوایي اډه کې ناستې دي، د 2013 د دسمبر په 5، سیګار د امریکا دفاع وزات او د اردو دوو قوماندانانو ته خبر ورکړی چې د سیګار د ځانګړو پروژو دفتر د G-222 د اخیستلو ارزونه پیلوي ترڅو دا وګوري چې څه کارونه په غلطه توګه ترسره شوي او لدې څخه د راتلونکي لپاره زده شي او یادښت شي.**

# 2014: یو ډېر مهم کال



د افغانستان د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د اپريل ټولټاکنو لپاره **چمتواليپيل شوی**. دلته، نظارت کوونکي د نړدو ټولټاکنو رای ورکولو نظارت کوي. (د USAID عکس)

سيت جونز، د رند کارپوريشن يو اکاډميک ليکوال، "تمه لري چې د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو راي ورکول به نږدې بې له شکه له تاوتريخوالي او فساد سره کګړ وي، لکه څنګه چې د 2009 د ولسمشرۍ په ټولټاکنو کې وو." مګر د هغه لويه انديښنه دا ده چې "ټولټاکنې کيدای شي نور هم حکومت کمزوری کړي که په ولايتونو کې چارواکي، په ځانګړې توګه د افغانستان په شمال او لويديځ کې زورواکان، په مرکزي حکومت باندې اعتماد له لاسه ورکړي او د بيا وسلو اخيستلو هڅې ګړندی کړي. دا بيلوالی به د افغانستان ملي اردو او نورو امنيتي ادارو يووالی کمزوری کړي، او د ګاونډيو هيوادونو د ملاتړ په کچې باندې به هم اغيز واچوي."[13]

د USIP يو راپور چې د اپريل د رای ورکولو د مسلو او انديښنو په اړه دی د يوه بريالي ټولټاکنو ترسره کولو لپاره يې خنډونه په لست کې راوړي:

- د رای ورکولو مرکزونو ځانګړي رای ورکوونکو ثبت نشتون، ترڅو د تقلب مخه ونيول شي.
- امنيتي ننګونې چې و به کولای شي د "پټو رای ورکولو مرکزونو" کارولو ته اجازه ورکړي چې ډيري تقلبي رايي به توليد کړي.
- د اړتيا وړ حقوقي مهال ويش چې په پسرلي کې چمتووالی او رای ورکول تحميلوي، کله چې د هوا حالات د هيواد ډيرې برخې ته لاس رسی له خنډ سره مخامخ کوي او کله چې د لرو پرتو سيمو رای ورکوونکي بايد خپلې کروندې د کرنې لپاره چمتو کړي.
- د نويو رايو لپاره يوه اړتيا که د ولسمشرۍ کوم کانديد د رای ورکولو له پايلو وړاندې مړ شي، دا به ياغيان وهڅوي ترڅو د وژنو لپاره پلان جوړ کړي.

د USIP راپور د پراخو نظرونو يوه نښه ده چې "د 2014 ټولټاکنو ناکامي به نه يوازې د افغانستان لپاره مګر د ټولې سيمې سولې او ثبات لپاره خطرناکې پايلې ولري."[14]

## حکومتولي

د يوه عصري او بيوروکراتيک افغانستان تاسيسولو لپاره امنيت اړين دی، مګر يو کافي شرط ندی. لکه څنګه چې کلير لاکهارت، د اغيزمن حکومت لپاره د انستيتوت رييس، ويلي دي:

> د يوه هيواد اداره کولو لپاره يو ښه کارکوونکی اردو کافي نده. د يوه حکومت په مهمو کارونو کې د عامه مالي سيستم ساتنه؛ د روغتيايي خدماتو او روزنې برابرول؛ د ترانسپورت، اړيکو، اوبو لګولو، او انرژۍ لپاره د زيربنا پلان کول؛ او د عوايدو، پشمول د ښاروالیو، داوطلبيو او ليسنسونو اداره کول شامل دي.[15]

که څه هم د امريکا رسمي پاليسي دا مني چې ښه حکومتولي بايد د افغانستان امنيتي ځواکونو جوړولو هڅو سره ملګرې وي، ځينو تحليل کوونکو دا انديښنه ښودلې چې د افغانستان اوږد مهالې حکومتولی بنسټونو جوړولو لپاره پوره پاملرنه نده شوي. د بيلګې په توګه، پولين بيکر، د سولې لپاره وجهي صندق، افتخاري رييس، په 2013 کې افغانستان ته له يوې ليدنې وروسته ليکلي:

> په تيرو دوولسو کلونو کې، آيساف د يوه حکومت څنګ ته بل حکومت تاسيس کړی چې دا به د محاربوي ځواکونو له وتلو وروسته تر ډيرې کچې کوچنی شي. دا به يو ډير نظامي او د مخدره توکو ډير مفسد کمزوری حکومت پريږدي چې کيدای شي کورنی جګړې ته ولاړ شي او امکان لري وويشل شي. مهمه پوښتنه دا

> ده چې آیا د لویدځ له لورې روزل شوي، تجهیز شوي او تمویل شوي افغان امنیتي ځواکونه به وکولای شي د طالبانو یاغیتوب لکه څنګه چې ویل کیږي کنټرول کړي. که څه هم هغوی دا کار وکولای شي، ډېره مهمه پوښتنه دا ده چې کله د لویدیځ ژوند کولو ملاتړ لرې شي آیا حکومت به پخپله یو ځای پاتې شي.[16]

دا ډېره مهمه پوښتنه د سولې لپاره وجهي صندق د 2013 د "ناکامو حکومتونو په لست" کې د امید وړ ځواب لاسته نه راوړي. دا لست د نمرو په اساس حکومتونه په لست کې راوړي چې پدې کې د وګړو میشت ځایونو فشارونه، مهاجرین یا بې ځایه شوي خلک، خفه شوي خلک چې د انتقام په لټه کې دي، غیر متوازنه اقتصادي پراختیا، بې وزلي، اقتصادي کمزوري، عامه خدمات، امنیتي جوړښت، او د قانون حاکمیت شامل دي. افغانستان له 171 څخه اووم خراب هیواد دی، چې یووازې سومالیا، کانګو، سودان، جنوبي سودان، چاد او یمن په لست کې شاته دي.[17]

سیګار او نورو سازمانونو معمولي او دوامداره ستونزې د افغانستان په وزارتونو کې لکه د بودجو پلان کول او تطبیقول، عامه خلکو ته په مناسبه کچه خدمات رسول، او له پیسو څخه له ګټه اخیستلو وروسته حساب ورکولو ستونزې یادښت کړې. د بیلګې په توګه، په 2013 کې د افغانستان د عامه مالي ادارې او حساب ورکولو په اړه د نړیوال بانک ارزونې د "پام وړ پرمختګ" لیدلی او دا یې موندلي چې افغانستان د 15 نورو "کمزورو هیوادونو" سره برابر یا ښه وو، مګر دایې هم ویلي چې د افغانستان مالي سیستم له کورنی پلټنې، د ستندرد کارونو نشتون، او اطاعت ارزونې له نه خپریدلو څخه رنځ وړي. عموماً، "د پالیسی مشورې او عملیاتو لپاره فعالیت اوس هم تر ډېرې کچې د مرستندوی له لورې په تمویل شوي تخنیکي ملاتړ پورې تړلی دی."[18]

د مرستندوی تخنیکي مرستې هرکلی هم تل نکیږي. پدې ربع کې، سیګار د افغانستان د بانکداری سیستم په اړه یوه پلټنه خپره کړې او دایې موندلي چې د مرکزي بانک مالي څارنې ریاست ظرفیت ترڅو بانکي سکتور منظم کړي "ډېر محدود ظرفیت لري او بهرنی تخنیکي مرستې ته اړتیا لري." مګر مرکزي بانک دا منلي نده چې د نورې بهرنی تخنیکي مرستې لپاره په ستندردونو موافقه وکړي. "دې نه منلو سیستم بې ثباته کړی او دا خطر لري چې بیا یو بل ناورین لکه د کابل بانک نړدې له منځه تلل بیا تجربه کړي."[19] (د 2010 کابل بانک آوازو په اړه چې تقلب پکې شوی وو او په سلهاوو میلیونو ډالر له لاسه تللي وو، د نویو معلوماتو لپاره یې د دې ربع راپور 3 برخه وګوری).

د افغانستان اغیزمنې حکومتولی ستونزو په اړه پوهه پراخه ده. د امریکا بهرنیو چارو وزارت کانګرس ته پخپل شپږمیاشتنې راپور کې د افغانستان په اړه یو صریح لنډیز لیږلی:

> اغیزمنه حکومتولي، د قانون حاکمیت، او دوامداره اقتصادي پراختیا ټول د یوه اوږد مهاله با ثباته افغانستان لپاره اړین دي. مګر، د دغو په وړاندې څو عاملونه لکه پراخ فساد، محدوده رسمي روزنه او مهارتونه، بې سوادي، لرو پرتو سیمو ته د چارواکو محدود لاس رسی، د افغانستان مرکزي حکومت، ولایتونو او ولسوالیو ترمنځ همغږی نشتون، او د افغانستان حکومت په څانګو کې د ځواک غیر متوازن ویش، شامل دي. ...د افغانستان حکومت ډېر مرکزي دی، او مرکزي حکومت په کابل کې د عوایدو، د بودجې جوړولو، لګولو او خدماتو رسولو صلاحیت لري. پدې کچه مرکزیت په ولایتونو او ولسوالیو کې د خدماتو رسولو اغیزمنتیا محدودوي. په سیمه ایزه کچه د ظرفیت لوړول د بشري قوا محدودیت



**د افغانستان په عامه خدماتو کې** د وردک په ولایت کې د غاښونو پاملرنې وړیا کلنیک شامل دي. یوه میرمن چې غواړي یو خراب غاښ یې وایستل شي. (د امریکا د هوایي ځواک عکس)



**د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې مبارزې پولیسو** غړي یو بل سره خبري کوي پداسې حال کې چې په ټنونو ضبط شوي تریاک، چرس، او مخدره توکو پورې اړوند کیمیاوي توکي د کابل په ولایت کې سوځي. (د امریکا بهرنیو چارو وزارت عکس)

سره ځنډنی ده او لدې سره هم ځنډنی ده چې مرکزي حکومت په جوړښت کې اصلاحات ځنډني کړي. ...پداسې حال کې چې افغانان کولای شي لنډ مهاله ستونزې حل کړي، هغوی اوس هم د سیستماتیک او فعاله پلان کولو، بودجې جوړولو او دوامداره پروسو لپاره طریقه نلري.[20]

## مخدره توکي

د کوکنارو کرنې له منځه وړلو لپاره د کلونو او ډېرو پیسو هڅو، د بدیل معیشت لپاره د بزګرانو هڅولو، د مخدره توکو ترانسپورت کولو مخه نیولو، او د مخدره توکو قاچاق او پیسو مینځلو برسیره، د مخدرده توکو او جرمونو لپاره د ملګروملتونو دفتر پدې ربع کې راپور ورکړی چې د کوکنارو کرنې لپاره ځمکه "ډېرې لوړې کچې" یعنې 209,000 هکتارو ته رسیدلې ده[21] — چې دا له نیم میلیون هکتاره ځمکې څخه زیاته ده، او د 2007 زیاتې اندازې په پرتله چې 193,000 هکتاره وه 8% زیاتوالی ښیي. پداسې حال کې چې د کوکنارو تولید ډېری بزګرانو ته تر قانوني حاصلاتو زیاتې پیسې برابروي، د کوکنارو کاروبار د یاغیانو لپاره هم عواید برابروي، جرمي شبکو ملاتړ کوي، اعتیاد ډېروي، او له ګټورو کارونو څخه هڅې او عواید راګرځوي.

د امریکا کانګرس په افغانستان کې د مخدره توکو سره مبارزې لپاره نږدې 7 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص ورکړی: له 4 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د امریکا بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو او قانون پلې کولو چارو بیورو لپاره، چې د نړیوال مخدره توکو کنترول او قانون پلې کولو حساب اداره کوي؛ او له 2.6 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د امریکا دفاع وزارت لپاره د مخدره توکو د مخنیوي او مخدره توکو مالي فعالیتونو مخنیوی فعالیتونو لپاره دي. پدغو کې هغې مرستې شامل ندي چې د کرنې پروګرامونو ډیزاین لپاره تخصیص شوي ترڅو افغان بزګران د بدیل معیشت جوړولو لپاره وهڅول شي. د امریکا دفاع وزارت مرستې پداسې حال کې چې د افغانستان قانون پلې کوونکو لپاره د مخدره توکو سره مبارزې لپاره روزنه، تجهیزات، او تاسیسات برابروي، د مخدره توکو قاچاق کوونکو په وړاندې نظامي عملیاتو ملاتړ هم کوي.

د دغو ټولو پیسو لګولو او فعالیتونو پایلو نیمګړتیاوې درلودې. ځانګړي عمومي مفتش، جان اف ساپکو، د 2014 په جنوری کې په کانګرس کې شهادت ورکړ چې د مخدره توکو سره د مبارزې هڅې له کمو لمړیتوبونو، د یوې هر اړخیزې ستراتیژۍ نشتون، او په افغانستان کې د امریکا قانون پلې کوونکو شتون له کمیدلو څخه رنځ وړي. هغه کانګرس ته ویلې، سره لدې چې امریکا د مخدره توکو سره مبارزې پروګرامونو کې ډېره پانګونه کړې:

د افغانستان مخدره توکو قاچاق د افغانستان مالي سکتور زهرجن کړی او د غیر قانوني اقتصاد پراختیا هڅوي. دا بیا فساد ډېروي، جرمي شبکې منځ ته راوړي، د طالبانو او نورو یاغي ډلو لپاره ډېر مالي ملاتړ برابروي، او د افغانستان حکومت مشروعیت کمزوری کوي. ...په لنډه توګه، د مخدره توکو کرنه او قاچاق یو ډېر مهم عامل دی چې د افغانستان په بیارغونه کې د امریکا او نړیوالو مرستندویانو ټوله پانګونه له خطر سره مخامخ کوي.[22]

## فساد

افغانستان اوس هم په نړۍ کې يو ډېر مفسد هيواد دی. فساد له اصلي موخو څخه پيسې راګرځوي، د قانون حاکميت کمزوری کوي او د افغانستان حکومت باندې عامه ملاتړ له منځه وړي.

د سيګار پلټنو د افغانستان مخدره توکو په وړاندې مبارزې بنسټونو او د کابل نړيوال هوايي ډګر څخه يې د ډېرو نغدو پيسو ليږلو څارنې ارزونې کړې دي. د سيګار په راپورونو کې په دوامداره توګه راغلي چې سره لدې چې فساد د ټولې بيارغونې هڅو په وړاندې ډېر لوی خطر دی، امريکا د فساد په وړاندې کومه هراړخيزه ستراتيژي نلري.[23] د افغانستان په شپږو ساحوي دفترونو کې د سيګار تحقيق کوونکي پدې لټه کې دي ترڅو هغه انفرادي کسان چې په رشوت او په زور پيسو اخيستلو کې لاس لري ونيسي. په عين وخت کې، سيګار د فساد په وړاندې مبارزه کې د افغانستان په ظرفيت او اراده کې ډېرې نيمګړتياوې موندلې دي.

تطبيقکوونکي اداري له نړيوالې ټولنې څخه غواړي ترڅو د افغانستان لپاره د بيارغونې مرستو باندې دا شرط کېږدي چې افغانستان بايد د خپل پراخ فساد لپاره د حل لار پيدا کړي. د بېلګې په توګه، د امريکا دفاع وزارت په افغانستان کې د امنيت او ثبات پرمختګ په لور پخپل وروستي راپور کې دا موندلي:

> که څه هم د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت څخه د مخدره توکو په ځينو هڅو کې وړاندې دي، د افغانستان حکومت په نورو ادارو کې سياسي ارادې نشتون ترڅو د دغو مهم مسلو لپاره د حل لار پيدا کړي، دا د حکومت مشروعيت له کواښ سره مخامخ کوي او په پای کې دا د آيساف [نړيوال معاونت امنيتي ځواک] ماموريت له ډېر خطر سره مخامخ کوي. په افغانستان کې د پام وړ فساد له منځه وړل ناشونې دی پرته لدې چې نړيواله ټولنه خپل کارونه همغږي کړي او د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت باندې شرطونه وضع کړي. په لنډه توګه، هغه شته وسله چې په اوضاع باندې اغيز کولای شي هغه د هغو "مرستو د مزو" کنټرولول دي چې د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت کارونه تمويلوي.[24]

## اقتصاد

په وچه کې پروت، تر ډېرې کچې کليوالي، کمه زيربنا، د انرژۍ واردولو ته اړ، او په جنګ کې افغانستان په نړۍ کې له ډېرو بې وزله هيوادونو څخه يو هيواد دی. په هر وګړي باندې ناخالص کورنی توليد يې نږدې 1,100 امريکايي ډالر دي پداسې حال کې چې د امريکا لپاره 51,700 امريکايي ډالر دي.[25] د امريکا ملاتړ د افغانستان امنيتي لګښتونو ډېره برخه تمويلوي، چې پدې کې له يونيفورم څخه نيولې تر وسلو، خواړو او تيلو شامل دي، مګر د افغانستان له حکومت څخه د عامه خدماتو او پراختيا غوښتنه هم کيږي چې حکومت يې نشي کولای له کورنيو عوايد څخه تمويل کړي.

د راپور ورکولو پدې موده کې، د افغانستان حکومت خپله بودجه پارلمان ته وړاندې کړه چې ټوله $7.9 ميلياره امريکايي ډالر وه. دا د حکومت د کلنی کورنيو عوايدو چې په يوه کال کې نږدې $2 ميلياروه امريکايي ډالر دي نږدې څلور چنده دي، چې دا د بالتيمور، ميرې لند (621,000 نفوس) د 2013 مالي کال تر عملياتي بودجې يو څه لږ ده.[26]

### د افغانستان لپاره د فساد په وړاندې مبارزې هڅو اغيز ندرلود

- د نړيوال شفافيت خپلواک سازمان په وروستي لست کې افغانستان، شمالي کوريا، او سوماليا د نړۍ د ډېرو مفسدو هيوادونو په توګه يوځای راغلي.
- د دې راپور لپاره د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د امريکا بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د افغانستان د فساد په وړاندې عالي اداره (HOO) د حکومت په لوړو پوړونو کې د سياسي ارادې له نشتون او د موخې له اهميت څخه رنځ وړي ترڅو له فساد سره مبارزه وکړي، په ځانګړې توګه که زورواکان او سياسي مشران شامل وي.
- د امريکا بهرنيو چارو وزارت او USAID موافقه کړې ده چې HOO پداسې حال کې چې له تخنيکي پلوه د فساد په وړاندې د يوې اغيزمنې اداري په توګه دنده په مخ وړای شي، ناتوانه دی، اغيز نلري او سياسي دی. په پايله کې، پدې ربع کې USAID له HOO څخه خپل ملاتړ ختم کړ.
- د امريکا بهرنيو چارو وزارت هم دې پايلې ته رسيدلې چې د افغانستان د مهمو جرمونو دندې ځواک کمه ليوالتيا يا توان نښيې ترڅو په لوړو پوړونو کې فساد تعقيب کړي، او دا چې د لوی څارنوال دفتر ډېر کم هغه خلک محاکمه کوي چې سياسي اړيکې لري، او د تفتيش عالي اداره د وزارتونو په تفتيش کولو کې ډېره محدوده اغيزمنتيا لري.
- افغانستان له نړيوالې ټولنې سره د فساد سره مبارزې نظارت او ارزونې خپلواکه کميټه جوړه کړې، مګر صلاحيت يې يوازې د فساد نظارت، د نښو جوړول او سپارښتنې، او راپور ورکولو پورې محدود دی.
- په عين وخت کې، سيګار موندلې دي چې د امريکا حکومت په افغانستان کې له فساد سره مبارزې لپاره کومه هر اړخيزه ستراتيژي نلري.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د اداري ځوابونه، د سيګار د هر ربع راپورونه.

# 2014: یو ډېر مهم کال



**د برسټنو جوړونکي** د افغانستان ښځو په ملکیت په یوه فابریکه کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره **برسټني جوړوي**. دا کار په افغانستان کې د ناټو روزنې ماموریت له لارې ملاتړ کیږي. (د امریکا هوایي ځواک عکس)

د افغانستان مالي کسر د کورنیو ناخالصو تولیداتو نږدې 9% دی، چې دا په نړی کې یو ډېر خراب دی.[27] ځکه نو، افغانستان د ملکي عملیاتو او پراختیایي بودجې ډېری برخې او د ډېرو امنیتي لګښتونو تمویل لپاره په نړیوالو مرستو باندې تکیه کوي.

د افغانستان اقتصادي نښې امید لرونکي ندي. د افغانستان اقتصاد په منځنۍ ډول په هر کال کې 9.2% وده کړې، که څه هم له 2003 - 2012 یې اساس ډېر کم وو، مګر نړیوال بانک د دې ودې ډېره برخه د نړیوالې ټولنې ډېرې کچې مرستې ته نسبت ورکوي. "نړیوال بانک وایي چې خصوصي پانګونې بیا پډې کې کمه ونډه اخیستې ده".[28] د آسیا پراختیایي بانک راپور ورکړی دی چې په افغانستان کې د ډېرو بارانونو له کبله کرنیز حاصلات زیات شوي، مګر وایي چې مالیه او د ګمرکونو عواید کم شوي دي پداسې حال کې چې د صنایعو او خدماتو کچه ټیټه شوې ده، او دا داسې ښکاري چې "په 2014 کې کورنیو ځواکونو ته د امنیتي مسولیتونو بشپړ سپارلو سره یاغیانو خپلې حملې ډېرې کړې او لدې کبله کاروبار او مصرفوونکي ډاډمن ندي."[29] او دا ټول امید لرونکي نه ښکاري.

په تیر کال کې، د امریکا د ملي استخباراتو رییس کانګرس ته ویلي وو چې "کابل کم امید لري ترڅو د لویدیځ مرستې او نظامي لګښتونو کمیدلو لپاره بدیل پیدا کړي، چې د بیارغونې او خدماتو په سکتورونو کې د ودې سبب شوي."[30] ځینې کتونکي تمه لري چې دا کمیدل به سختې پایلې ولري. نادر نادري، د نړیوالو له لورې تمویل شوی د افغانستان د تحقیق او ارزونې ادارې رییس، وړاندوینه کوي چې:

> د لویدیځ ځواکونو وتل به د نړیوالې ټولنې پراختیایي ادارو کمیدلو، د مرستو کموالي، او د پانګوونې نامعلومه چاپیریال سره یوځای شي. بیرنی اغیز به یې د پیسو وتل، د پانګونې لپاره لوړ خطر، او د اقتصادي ودې محرکونو لکه بیارغونې، لوژستیک، او ترانسپورت له منځه تلل وي.[31]

سفیر جیمز دابینز، د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي، پدې وروستیو کې ژورنالستانو ته ویلي چې هغه تمه لري د بهرنیو قدمونو له نښو سره به مرسته هم کمه شي: "زما قضاوت دا دی که ځواکونه نه وي، مرسته نشته، یا نږدې نه مرسته. د مرستې لپاره د /[مرستندویانو] سیاسي ملاتړ له نظامي شتون څخه راځي."[32]

نړیوال بانک وایي چې "افغانستان په مرسته باندې له متکي هیوادونو څخه دباندې دی." په ځینو وختونو کې د نړیوالې ټولنې مرستې د افغانستان له 100% ناخالصو کورنیو محصولاتو څخه زیاته وه. مګر، نړیوال بانک دا هم ویلي "چې 'په' افغانستان باندې د نړیوالې ټولنې ډېری لګښتونه په افغانستان کې 'دننه' لګول شوي ندي؛ او له اقتصاد څخه د وارداتو، د خارجي قراردادیانو له ګټو، او خارجي تادیاتو له لارو وځي." بانک وایي چې له بودجې څخه دباندې مرسته چې د بهرنیو مرستندویانو مرستې ډېره برخه ده، دا په ځانګړې توګه حقیقت لري. ځکه نو، بانک وایي چې د بودجې په اساس د مرستې حرکت سره به "په اقتصادي ودې باندې د ډېرې مرستې کموالي اغیز به تر تمې کم وي."[33]

## نړیواله مرسته، د بودجې په اساس او له بودجې دباندې

نړیوال بانک وړاندوینه کړې چې افغانستان به په راتلونکې لسیزه کې لږ تر لږه 7$ میلیاردو امریکایي ډالرو ته په یوه کال کې اړتیا ولري ترڅو د خپلو کورنیو عوایدو او

امنيتي، نورو عملياتو، او پراختيا لګښتونو ترمنځ مالي خلا ډکه کړې.[34] تمه کېږي چې امريکا به د مرستې لويه سرچينه وي، لکه څنګه چې له 2002 څخه وه. مګر، د افغانستان لپاره د نړيوالې ټولنې مرستې راتلونکې بې ثباته ښکاري.

يوه پوښتنه دا ده چې آيا افغانستان به د 2012 د ټوکيو حساب ورکولو کاري چوکاټ نښو لپاره مناسب فعاليت وښيي، چې د مرستندويانو په کنفرانس کې جوړ شوی وو او افغانستان ورسره موافقه کړې وه. کاري چوکاټ د اضافي ميلياردونو ډالرو سپارل د افغانستان د حکومتولی او پراختيا په ځانګړو پرمختګونو باندې، پشمول د ټولټاکنو، فساد، مخدره توکو، عامه مالي چارو، او بشري حقونو پرمختګونو پورې تړلي وو. نړيوالې ټولنې، پشمول د امريکا، په مشروط ډول تر 2015 پورې د 16$ ميلياردو ډالرو څخه زياتو ژمنه کړې، او "دوامداره ملاتړ، تر 2017 پورې، په يا نږدې د تيرې لسيزې په کچې،" او دا چې لږ تر لږه 50% مرسته به د "بودجې په اساس" د افغانستان حکومت ته وسپاري.[35]

امريکا د افغانستان لپاره له 2003 څخه د بودجې په اساس او له بودجې څخه د باندې مرسته برابره کړې ده. مګر، د مرستې ډېره برخه له بودجې څخه دباندې وه.

امريکا د افغانستان بودجې لپاره د مستقيم تادياتو (له حکومت څخه حکومت ته) لا لارې د افغانستان وزارتونو ته مرسته تاديه کوي او د کوربه هيواد قراردادونو تادياتو ملاتړ کوي؛ يا په وجهي صندوقونو کې لکه د افغانستان بيارغونې وجهي صندق (LOTFA) کې برخه اخلي چې د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام له لورې اداره کېږي، چې بيا د امريکا مرستې لپاره د منځګړې په توګه خدمت کوي.[36] په دواړو حالتونو کې، مرستې د افغانستان وزارتونو په بودجو کې پيژندل کېږي او د افغانستان حکومت پدې مرستو باندې يو څه کنترول لري. مګر د افغانستان کنترول کيدای شي له نورو هيوادونو سره د موافقو په اساس، يا له نړيوالو سازمانونو سره د موخو، پر مختګ نښو، اسنادونو لګښتونو، يا نورو اندازو او شرطونو په اساس محدود وي.

د امريکا غيرمستقيم د بودجې په مرسته کې داسې مرستې هم شته چې د افغانستان حکومت بودجې پروسې برخه کې نه راځي او د مرستندويانو له لورې کنترولېږي.
افغانستان ته د امريکا له بودجې څخه دباندې په مرسته کې دا شامل دي، د بيلګې په توګه سيمه ايزې پروژې چې د امريکا دفاع وزارت د قوماندان د بيړني غبرګون وجهي صندق (CERP) له لارې تطبيقيږي او د امريکا دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو د افغانستان د زيربنا وجهي صندق دی.[37] پروژې او پروګرامونه لکه تخنيکي مرسته او له مدني ټولنو سره مرسته چې د نړيوالې ټولنې او غير حکومتي سازمانونو له لورې تطبيقيږي دا هم عموماً له بودجې څخه دباندې وي، که څه هم د افغانستان له حکومت سره همغږې شوي وي او که د هغوی موخې او پايلې د افغانستان ملي لمړيتوبونو پروګرامونو سره "برابر" شوي وي.[38]

د امريکا بهرنيو چارو وزارت استدلال کوي چې له حکومت څخه حکومت ته د مرستو ډېرول د "اړتياوو پوره کولو او د حکومت د سيستمونو او ظرفيت لوړولو لپاره اړين" دي، ترڅو د عامه افغانانو په سترګو کې يې مشروعيت زيات شي، او دا په افغانستان کې د ملکي نظامي ستراتيژۍ يوه برخه ده."[39] د 2013 دسمبر تر 31 پورې، USAID له 1$ ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات د افغانستان له وزارتونو او نورو بنسټونو سره د مستقيمې مرستې ژمنه کړې ده.[40]

هغه ژمنه ترڅو د بودجې په اساس مرسته زياته شي، که دا مستقيمه وي يا د څو اړخيزو وجهي صندوقونو له لارې، د امريکا د مالي ورکونکو په پيسو باندې د امريکا



**نړیواله مرسته**، تر ډېرې کچې د امریکا مرسته، د تاسیساتو جوړولو ملاتړ کوي، لکه دغه 28 بستره روغتون، چې د هرات په ولایت کې دی. کله چې دغسې تاسیسات بشپړ شي، د افغانستان حکومت یې د ساتنې ډیرو لګښتونو لپاره هم په مرسته باندې تکیه کوي. (د امریکا انجنیرانو قول اردو عکس)

کنترول او لیدنه یې کموي. سیګار باور لري چې د افغانستان بنسټونو لپاره چې د بودجې په اساس مرسته لاسته راوړي مهمه ده چې د دې مرستو د اداره کولو او حساب ورکولو لپاره باید په مناسبه کچه ظرفیت ولري.

دا ظرفیت اوس په هغه ډول ندی لکه څنګه چې کیدای شي هغسي وي. د 2010 په پای کې، وروسته لدې چې امریکا ژمنه وکړه ترڅو د افغانستان لپاره د بودجې په اساس مرسته برابره کړې، USAID د محاسبې له دوو شرکتونو سره، ارنست این‌د ینګ او کا پي ام جي سره قرارداد وکړ، ترڅو د امریکا د مرستو اداره کولو لپاره د 16 وزارتونو توان ارزونه ترسره کړي. USAID بیا وروسته له 16 ارزول شویو وزارتونو څخه د اوو وزارتونو د کورني کنترول خطر ارزونه ترسره کړه.

پدې ربع کې، سیګار د وزارتونو د ارزونو او د USAID له لوري د اوو وزارتونو کورني کنترول ارزونو پلټنه بشپړه کړه. دواړو ارنست این‌د ینګ او کا پي ام جي دې پایلې ته ورسیدل چې هیڅ یوه وزارت هم چې د هغوی له لوري ارزول شوی نشي کولای مرستي په مناسبه توګه اداره کړي او حساب ورکړي پرته لدې چې د خطر کمولو هغه ګامونه واخلي لکه څنګه چې د محاسبینو د ارزونې په راپورونو کې یې سپارښتنه شوې.

سیګار وموندل چې محاسبینو ټولې 696 سپارښتنې کړې، او لدغو څخه 41% "مهمې" یا د "لوړ خطر" وي. د USAID تعقیبونکي داخلي ارزونې بیا په اوو وزارتونو کې 104 مهم خطرونه وموندل. پدې کې د نظارت او ارزونې مهمو معلوماتو پټول او د معاشونو نغدو پیسو په تادیه کولو کې اختلاس شامل وو. که څه هم USAID دې پایلې ته ورسید چې وزارتونه نشي کولای پرته لدې چې د خطر کمولو ستراتیژۍ ولري مستقیمه مرسته اداره کړي، USAID د مستقیمې مرستې پروګرامونو لپاره له هر یوه ارزول شوي وزارت سره موافقه امضا کړې ده.[41] پدې برسیره، USAID د خطر کمولو له سلهاوو سپارښتنو څخه چې د وزارتونو لپاره د مرستې لاسته راوړلو شرطونه وو، یوازې یوه وړه برخه یې وضع کړې ده.

سیګار موافق دی چې د افغانستان حکومت ته د زیاتو مستقیمو مرستو د تخصیص ورکولو، اداره کولو، او د مرستو تعقیبولولو مسولیت ورکول مهم دي، ځکه چې د افغانستان حکومت باید په پای کې د بیارغونې هڅو ته دوام ورکړي. په عین وخت کې، په افغانستان کې اوضاع دا اړینه کوي چې د امریکا تطبیق کوونکي اداري باید د خوندیتوب له هرې لارې ګټه واخلي ترڅو د امریکا مرستې خوندي کړي.

لکه څنګه چې د افغانستان بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي مفتش، جان اف ساپکو، تیر کال قانون جوړونکو ته وویل:

> د مرستو زیاته برخه به افغانانو ته ورځي، نه دا چې بهرني قرارداد کوونکو او غیر حکومتي سازمانونو ته ورشي، او کیدای شي پایله به یې په حکومت کې ډېر ظرفیت او لا زیاته دوامداره پراختیا وي. بل لوري ته، د افغانستان په وزارتونو کې د ظرفیت ننګوني، او هغې ستونزې چې د جنګ په ساحه کې چې په فساد ککړ دی د مستقیمې مرستې برابرول به د ضایعاتو له خطر سره مخامخ کړي. هر ډول مرسته چې امریکا برابروي، د امریکا حکومت چارواکي باید د بیارغونې هڅو په هره برخه کې چې ستونزې وي لکه غیر مناسب پلان کول، د کیفیت کمزوری ډاډ، کمزوری امنیت، تر پوښتنې لاندې ساتنه، او پراخ فساد لپاره باید د حل لار پیدا کړي.[42]

نړیوال بانک د افغانستان د حکومت توان په اړه اندیښنه ښودلې چې وکولای شي د بودجې په اساس مرسته جذب کړي. دې بانک ویلي چې د "بودجې په اساس د مرستې ډېرول او د افغانستان حکومت سیستم له لارې د [عملیاتو او ساتنې] اداره کول، به د مرستې اغیزمنتیا ډېره ښه کړي،" مګر د افغانستان حکومت باید د جذبولو ظرفیت ستونزو لپاره د حل لار پیدا کړي که وغواړي په هغه وضعیت کې وي چې ترڅو د بودجې په اساس د مرستندوی اضافي مرسته لاسته راوړي.[43] په ورته توګه، انتوني کوردزمن، د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو یو پخوانی چارواکی چې اوس د ستراتیژیکو او نړیوالو مطالعاتو له خپلواک مرکز سره کار کوي ویلي دي، چې "دا معلومه نده چې افغانستان هغه توان لري چې هغسې مرستې جذب کړي لکه څنګه چې لیدل شوي، او د مرستندوی تر ټولې ژمنې به کمي وي،" او یوه برخه یې دا ده چې د افغانستان په مرکزي حکومت کې تجربه نشته او په فساد ککړ دی.[44]

له بده مرغه، د اغیزمن نظارت په وړاندې ټولې ننګونې په افغانستان کې نه پیلیږي. سیګار او د امریکا د نظارت نورو ادارو د فیدرال ادارو له لورې د پروژو په مدیریت او د مرستو په حساب ورکولو کې یو شمیر نیمګړتیاوې یادښت کړې دي. پدې مسلو کې د حساب ورکولو او له شته مقرراتو او ستندردونو سره د مطابقت نشتون شامل دي چې د بیارغونې په پروژو باندې لکه هغه اړتیا چې له ساحې څخه لیدنه وشي، مستند شي، او تصدیق ورکړ شي اغیز لري.[45]

که د امریکا د مرستو پروګرامونو قضاوت لپاره د ښو شواهدو ټولول ستونزمن دي، دا کار که د هغو پروګرامونو لپاره ترسره شي چې د افغانستان وزارتونه یې د بودجې په اساس مرستې سره تطبیقوي او یوه برخه یې پټه وي، کیدای شي نور هم ستونزمن کار وي.

## پایله

د دې ډېر مهم کال په وخت کې، د ځواکمن امنیتي ځواکونو جوړول، حکومتولی ښه کول، او اقتصادي پراختیا زیاتولو لپاره به د امریکا بیارغونې هڅې له زیات خطر سره په یوه چاپیریال کې ترسره شي. لکه څنګه چې امریکا خپل نظامي او ملکي شتون کموي پداسې حال کې چې د بودجې مرسته زیاتوي، تطبیقوونکي ادارې او د نظارت بنسټونه به له تیر څخه د بیارغونې په پروګرامونو کې د لیدنې کم شتون ولري. سیګار له نورو ادارو سره کار کوي ترڅو هغې لارې پیدای کړي چې د امریکا په تاریخ کې د یوه واحد هیواد بیاجوړولو چې هڅه یې ډېر لګښت ته اړتیا لري کلک نظارت برابرولو ته دوام ورکړ شي.

کال د نوي دوه اړخیزې امنیتي موافقې د منلو د مهمو اندیښنو، د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د امنیت ساتلو د توان، او دا ډار چې راتلونکي ټولټاکنې به د مشروع په توګه و نه ګڼل شي، او ډېر شکونه په هغه اړه چې آیا د افغانستان حکومت به د نړیوالې ټولنې دوامدارې مرستې اړتیا لپاره اړین اصلاحات تطبیق کړي، پیل شو. د افغانستان راتلونکې بڼه به تر ډېرې کچې د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې له ګامونو سره تړلې وي لکه څنګه چې 2014 په مخ ځي، تر کومې کچې د دغو نامعلومتیاوو لپاره د حل لار پیدا کوي.

”د 2010 کال راپدیخوا سیګار د نړۍ په کچه
په فساد کې د مخکښ شکیل هیواد دننه د فساد
سره د مبارزې په برخه کې د یوې ستراتیژۍ د نشتون
په اړه خپله اندیښنه په ډاګه کړې. پداسې حال کې
چې د مخدره توکو تولید او فساد یو د بل سره نه
بیلدونکي اړیکه لري، مونږ پدې وروستیو کې راپور
ورکړ چې د امریکا متحده ایالات د مخدره توکو سره
د مبارزې په موخه یوه کره او جامع تګ لاره نلري.“

—ځانګړی عمومي پلټونکی جان اف سپوکو

سرچینه: د مخدره توکو د نړیوال کنترول په اړه سنا په وړاندې څرګندونې، 2014، د جنوري 15 مه.

# 2 د سیګار خارنیز فعالیتونه



# د سیګار د څار د چارو منځپانګې


سیګار د سنا د اړوندې کمیټې په وړاندې
په افغانستان کې د مخدره توکو سره
د مبارزې په اړه څرګندونې کوي 20

کانګرس د هغه مسایلو په اساس عمل
کوي چې د سیګار لخوا په ګوته شوي 21

پلټنې 22

تفتیشات 39

ځانګړې پروژې 43

تحقیقات 50

د سیګار بودیجه 59

د سیګار کارکونکي 59


**تصویر په تیر مخ**

ځانګړی عمومي پلټونکی ښاغلی جان سپوکو او د بهرنیو چارو او دفاع وزارت ناظر او د مخدره
توکو پر وړاندې د مبارزې د تطبیق ادارې د امریکا د سنا د نړیوال مخدره توکو سره د مبارزې
د کمیټې پر وړاندې چې مشری یې ښاغلی ډیانې فینستین کوي، چمتوالی نیسي.
15 جنوري، 2014. (د امریکا د سنا تصویر)

# د سیګار د څارنې فعالیتونه

پدې ربع کې سیګار 25 څېړنې، پلټنې، د خبرتیا لیکونه او نور راپورونه خپاره کړي دي. پدې کار کې د څارنې په چارو کې د پاتې راتلو، د رغونې په برخه کې د نیمګړتیا، کمزوري پلان ګذارۍ، او د افغانستان د وزارت خانو څخه بیا د افغان ملي امنیتي پوځ لپاره د ترسره کېدونکو بیارغونو چارو کې د کاركوونكو ته ورپېښو صحي او د خوندیتوب خطراتو په څېر ارزونې شاملې دي.

د یوې څېړنې په راپور کې د امریکا د نړیوالې پراختیا اداري لخوا د افغان حکومت سره په مستقیم ډول د 1 ملیارد ډالرو د ترسره کېدو په اړه د کافي تدابیرو نه نیولو په اړه خبرداری ورکړل شوی دی. په بل پلټنې راپور کې راغلي چې که څېرې د بهرنیو چارو وزارت د قضایی سکتور د پرمختیا پروګرام لپاره د مالیاتو ورکونکي 47.8 میلیون ډالره د خطر سره مخامخ کېدل نه غواړي باید خپل مدیریت او د څارنې چارې تقویت کړي. په درېیم څېړنیز راپور کې په ډاګه شوې چې د خصوصي بانکونو د کنترول او مدیریت په برخه کې لا هم د افغانستان د مرکزي بانک ظرفیتونه او ورتیاوې ټیټې دي، خو پدې هرڅه برسېره بیا هم پدې بانک کې امریکایی سلاکارانو ته د کار اجازه نه ورکول کېږي. همدا ډول په بل څېړنیز راپور کې د افغان ملي امنیتي پوځ د سواد د زده کړو د پروګرام د پایلو، د قراردادنو د څار، د امنیتي چارو د مسولیت د لیږد، او پایښت په اړه اندېښنې څرګندې شوې دي. د پلټنو په درېو راپورونو کې ښايي چې د شرنې په عملیاتي قرارګاه کې 5.4 میلیون ډالره په ناکارا د باطلو اشیاو د منځه وړلو په ماشینونو لګول شوي، همدا ډول د بلخ د معارف ودانۍ نا تکمیله او د کتې اخیستو وړ نه ده، او همدا ډول په ډاګه شوې چې د محدودو امکاناتو او د امنیتي اندېښنو زیاتوالي د سالنګ روغتون څخه ګټه اخیستل محدود کړي دي.

د سیګار د ځانګړو پروژو دفتر ته معلومه شوې چې د افغان دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت سره په مستقیم ډول د ترسره کېدونکو 4 میلیارد ډالرو ته ورپېښ خطر د څار د چارو په تقویت سره راټیټیدای شي. د ځانګړو پروژو دفتر د امریکا دفاع وزارت ته لیکلي ترڅو اعلان کړي چې یاد وزارت په کمپ لیترنیک کې د 64,000 متر مربع په مساحت د یوې غیر اشغال شوې ودانۍ د جوړښت په اړه د تحقیقاتو په پرېکړه بیاکتنه کوي، او همدا ډول یې یاد وزارت ته د چارو د پرمخ وړونکي قراردادي لخوا قرارګاه ته د مخالیفنو د نفوذ او داخلیدو په برخه کې د هغه د رول په اړه خبرداری ورکړی دی. د ځانګړو پروژو څانګې همدا ډول USAID ته د افغان ملي برېښنا شرکت سره د مستقمې مرستې د ترسره کولو په برخه کې د ناقص او نیمګړې څار په اړه هم لیکلی دي.

سیګار د امریکا حکومت لپاره تقریبا 1.7 میلیون ډالره سپمولي دي. همدارنګه د سیګار تحقیقات په متحده ایالاتو کې د درې جنایي معلوماتو، د پنځه دعواو تصدیق، او شپږو

## ورکړ شوې بیانیې

- TY-21-14 بیانیه: په افغانستان کې د مخدره موادو ضد د امریکا د هڅو وضعیت

## بشپړې شوې پلټنې

- AR-16-14 پلټنه: افغان بانکي سکتور
- AR-26-14 پلټنه: د افغان قضایي سکتور ملاتړ
- AR-30-14 پلټنه: د ANSF د سواد زده کولو پروګرامونه
- AR-32-14 پلټنه: د USAID وزارتي ارزونې
- اته مالي پلټنې، 32 مخ وګورئ

## بشپړ شوې تفتیشات

- IR-13-14 تفتیش: د شرنې د FOB سون ځایونه
- IR-24-14 تفتیش: د بلخ تحصیلي ودانۍ
- IR-31-14 تفتیش: د سالنګ روغتون

## د بشپړې شوې ځانګړې پروژو راپورونه

- SP-12-14 ځانګړې پروژه: د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د مالي اداري ظرفیت
- SP-22-14 ځانګړې پروژه: د CERP بررسي
- SP-25-14 ځانګړې پروژه: د 64K تعمیر تعقیب
- SP-27-14 ځانګړې پروژه: د افغانستان بیارغونې سره د USAID مرسته
- SP-28-14 ځانګړې پروژه: د څارنې د لاسرسی نقشه

## د ځانګړې پروژو خبرداری لیک

- AL-17-14 خبرداری لیک: د کجکی بند توربین

کسانو ته د سزا ورکولو لامل شو. په افغانستان کې دوه کسان بندي او سزا ورکړ شو. د جرمي جريمو او د مرستې د بيرته ورکولو په اړه د سيګار د ترسره شوو پريکړو ارزښت نږدې 5.3 ميليون ډالرو ته رسيږي. د سيګار د دندو او فعاليت څخه د ځنډولو او يا هم تعليق چارې لامل شوې چې 10 کسان او 24 کمپنی د هغه شواهدو په اساس چې تحقيقات يې په افغانستان او امريکا کې ترسره شوي اقدام وشي.

## سیګار د سنا د اړوندې کمیټې په وړاندې په افغانستان کې د مخدره توکو سره د مبارزې په اړه څرګندونې کوي

د 2014 کال د جنوري په 15 مه، ځانګړي عمومي پلټونکی جان ايف سوپکو د امريکا د سنا د اړوندې کميټې په وړاندې په افغانستان کې د امريکا لخوا د ملاتړ کېدونکو هغه هڅو په اړه څرګندونې وکړې چې د مخدره توکو د کنترول په برخه کې يې ترسره کوي. سوپکو يادې کميټې ته وويل چې وضعيت په افغانستان کې ويرونکې ده او په 2014 کال کې او تر هغې وروسته د ودې ډيرې لږې نښې ليدل کيږي. د کوکنارو د کرهنې او قاچاق وده د ډيرو مهمو فکتورونو څخه يوه ده چې د افغانستان د بيارغونې په برخه کې د امريکا او نړيوالو پانګونې له خطر سره مخ کوي. په عين وخت کې، امريکا او د افغانستان سره مرسته کونکي نور غربي ډونران، په داسې حال کې چې په 2014 کال کې د امريکا او ايتلافي ځواکونو له وتلو څخه وروسته په هيواد کې امنيتي خطرونه لا پسې زياتيږي د مخدره موادو په ضد مبارزې ته يې لږ لومړيتوب ورکړی.

د امريکا متحده ايالات د 2002 کال څخه راهيسې د ګڼو پروګرامونو لپاره يې لږ تر لږه 7 ميلیارده ډالر مرسته کړې ده تر څو د کوکنارو کرهنه کمه کړي، د مخدره موادو له توليد څخه مخنيوی وکړي، د مخدره موادو د معتادينو درملنه وکړی، او د مخدره موادو له قاچاق سره د مبارزې لپاره جنايي قضايي سيستم ته وده او پراختيا ورکړي. همدارنګه 3 ميلیارده ډالر نور يې د کرهنې او د ثبات پروګرامونو لپاره مرسته کړې، چې د متحده ايالاتو د اوسنی ستراتيژۍ په اساس يادې هڅې د مخدره موادو ضد فعاليتونو يوه مهمه برخه ګڼل کيږي. د دې عظيمه پانګونې سره اوس هم د 2002 کال په پرتله چې امريکا طالبان راوپرځول اوس د افغانانو ډيرې ځمکې د کوکنار تر کرهنې لاندې دي.

سوپکو ته، د يو لنډ سفر په ترځ کې چې افغانستان ته يې درلود، نړيوالو چارواکو، د قانون پلي کولو ادارو، او هغه تحليل کونکو چې په افغانستان کې د مخدره موادو د هڅو په اړه يې څېړنې کولې وويل چې دوی په دې اړه ډيره انديښنه لري چې امريکا او نور ايتلافي ملګري يې د مخدره موادو موضوع ته نوره کافي توجه نلري.

سوپکو همدارنګه اشاره وکړه چې د امريکا دفاع وزارت د سيګار د معلوماتو د غوښتنې په ځواب کې ويلی و چې د مخدره موادو د قانون پلي کولو اداره (DEA) به د پوځي ملاتړ څخه پرته يوازې کابل پورې محدود پاتې شي او د مرکز څخه بهر خپل عملياتونه نشي غزولی. همدارنګه د امريکا دفاع وزارت ويلي و چې د بهرنۍ پوځ له وتلو سره به د مخدره موادو په ضد د افغان ځواکونو وړتيا د پيچلو عملياتونو په ترسره کولو کې تر اغيزې لاندې راشي. ياد وزارت د 2011 کال څخه تر 2013 کاله پورې د ضبط شوي مخدره موادو په اندازه کې د پام وړ کموالی و ښوده، پدې ډول چې په 2011 مالي کال کې 98,327 کيلوګرام اپيم، په 2012 مالي کال کې 71,814 کيلو ګرام اپيم، او په 2013 کال کې 41,218 کيلوګرام اپيم ضبط شوي دي. همدارنګه د 2012 او 2013 مالي کلونو ترمنځ د کيمياوي

مقدماتي موادو په ممانعت کې 79% کمښت راغلی او د حشيشو په اندازه کې 73% کمښت راغلی دی. د 2012 او 2013 مالي کلونو ترمنځ د مخدره موادو ضد عملياتونو شمير هم 26% کم شوی دی. همدارنګه ده وويل، "ډېره ويرونکې خبره دا ده چې د امريکا دفاع وزارت زما مامورينو ته ويلي چې د 2014 کال په پای کې د جنګيالي عملياتونو له کميدو سره د ناټو په مشري روزنه، مشاورت، او د مرستې ماموريت (د ټينګ ملاتړ ماموريت يا RSM) به دومره سرچينې ونلري چې د مخدره موادو د قانون پلي کونکو ادارو سره خپل اوسنی مرستو ته دوام ورکړي".

سوپکو وويل هغه په ځانګړې توګه پدې اړه انديښمن دی چې د امريکا سفارت "د کارکونکو له کميدو" —د امريکا د پوځ د وتلو په نتيجه کې— سره به د قانون پلی کولو ځانګې خپل د پام وړ بشري ځواک له لاسه ورکړي او دا په داسې وخت کې ترسره کيږي چې په افغانستان کې د مخدره موادو کرهنه او قاچاق د ودې او لا توسعې په حال کې دي. ده وويل سيګار پدې اړه انديښنه لري چې د ملکي وګړو کميدل دا اړتيا نشي ښکاره کولی چې متحده ايالات په افغانستان کې د مخدره موادو په ضد د اغيزمنو فعاليتونو په لاره اچولو لپاره څومره پرسونل ته ضرورت لري.

سيګار پدې باور دی چې د مخدره موادو د تجارت مخه نيولو لپاره د قانون پلی کولو يوه غښتلې اداره ډېره مهمه ده. متحده ايالات د خپل سرتيرو له ويستلو سره د قانون پلي کولو اړخ يې هم کموي. دا ډېره مهمه ده چې امريکا هغه افغاني ادارو ته مشوره او مرستې برابرې کړي چې د مخدره موادو د تجارت مخه نيولو مسوليت په غاړه لري. دا بنسټونه يوازينی لارې دي چې د کوکنارو د کرهنې او توليد بهير بيرته کمولی شي، که نه دا بهير کولی شي د متحده ايالاتو هره لاسته راوړنه د خطر سره مخ کړي.

هغه کسان چې سوپکو ورسره په افغانستان کې د خپل وروستی څو سفرونو په ترځ کې خبرې کړې وې، د 2014 کال د ليږد څخه وروسته د افغانستان په اړه دوه نظريې درلودې: يا يو بريالی پرمختللی دولت جوړيږي، يا هم د جنګياليو په دولت بدليږي. پهرصورت، يو دريم احتمال هم شته: يو مخدره-جنايي دولت. د مخدره موادو په ضد د اغيزمنو پروګرامونو نشتون او د دې سترې ستونزې په هوارولو کې د افغانانو د سياسي ارادې نشتوالی دريم احتمال ته د حقيقت جامه ورکوي.



**ځانګړې عمومي پلټونکی** جان ساپکو د Iowa سناتور چارلس ګراسلی، د سنا د مخدره موادو نړيوال کنټرول د کميټې مرستيال، سره د 2014 کال د جنوري په يوه استماع کې چې د کانګرس په ودانۍ کې وه، روغبړ کوي. (د امريکا د سنا تصوير)

## کانګرس د هغه مسايلو په اساس عمل کوي چې د سيګار لخوا په ګوته شوي

سيګار د کانګرس غړو او کار کونکو ته د سيګار د پلټنو، تحقيقاتو، ځانګړو پروژو، او د خاصو انديښنو په اړه په منظم ډول لنډيزونه وړاندې کوي. کانګرس پدې ربعه کې د 2014 مالی کال د مجموعي تخصيصاتو لايحه او د 2014 مالي کال د ملي دفاع د واکمنۍ لايحې په شرايطو کې ډېر داسې مسايل ياد کړي چې د سيګار لخوا سپارښتنه شوې وې، لکه:

### د 2014 مالي کال د مجموعي تخصيصاتو لايحه

- د امريکا بهرنيو چارو وزارت او د افغانستان سره د USAID مرستو ته د 1.12 ميلیارده ډالرو فنډ ورکول، د 2013 مالي کال او د 2014 مالي کال لپاره د ولسمشر له وړانديز څخه 50% کمول. په يو شرط کې راغلي و چې د کانګرس د تخصيصاتو کميټه فنډونه "داسې ثابته کچې ته راټيټوي چې په مسولانه ډول پروګرام ورته جوړ شي او د موثره څارنې جوګه وي".

- یو بل شرط ویل چې کومې مرستې چې د متحده ایالاتو لخوا چمتو کیږي باید له مالیې څخه معاف وي، او که چیرته کوم بهرنی دولت د متحده ایالاتو څخه کوم مالیه اخیستې وي بیرته یې وسپاري. دا لایحه غوښتنه کوي چې د هغه مجموعي مالیې 200% چې یو بهرنی هیواد د متحده ایالاتو د 2014 مالي کال د فنډونو څخه اخیستې ده، نوموړي هیواد ته د 2015 مالي کال له مرستو څخه بیرته کم کړای شي. سیګار په خپل یو راپور کې هغه 1 میلیارد ډالرو ته د کانګرس توجه غوښتې وه چې د افغان دولت لخوا د متحده ایالاتو د فنډونو پر قرارداد کونکو اړول شوي و.
- په یو بل بند کې راغلي چې د اقتصادي ملاتړ فنډ او د نړیوالو مخدره توکو او د قانون پلي کولو حساب حق نلري په افغانستان کې داسې کوم نوی پروګرام، پروژه، یا فعالیت پیل کړي چې د هغې څخه، د ضرورت په وخت کې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او د USAID څارنه امکان نلري.
- په یوه بله فقره کې راغلي چې د دولت څخه دولت ته د مستقیمه مرستو په چوکاټ هغه وخت د 10 میلیون ډالرو څخه زیات فنډ ورکول کیږي چې تطبیق کونکي ادارې یا وزارتونه د دې فنډ د اداره کولو جوګه وګڼل شي، او همدارنګه هغه نواقص او نیمګړتیاوې چې د وزارتونو او ادارو په مالي اداره کې په ګوته شوي دي، لرې شوی وي.
- په یوه بله فقره کې د امریکا دفاع وزیر څخه غوښتل شوې دي چې د دې قانون له تصویب څخه تر 180 ورځو پورې د افغان ځانګړی ماموریتونو څانګې (SMW) د پرسونل، مراقبت، او لوژستیکي مهمو مسایلو په اړه د پارلمان او سنا د تخصیصاتو کمیټې ته راپور ورکړي، او همدارنګه تشریح کړي چې یاده څانګه څنګه کولی شي د خپلو الوتکو د چلولو او ساتلو جوګه شي. راپور باید هغه بدیلې تګلارې وڅیړي چې په اوږدمهال کې د SMW د ماموریت غوښتنې پوره کولی شي.

## د 2014 مالي کال د ملي دفاع د واکمنۍ لایحه

- د لایحې یوه برخه هغه قانون چې کوم قراردادیان د جنګیالیو سره مرسته او خواخوږي لري د امریکا د قراردادونو څخه منع دي، د امریکا د مرکزي قوماندې (CENTCOM) څخه، د جنګیالیو قوماندې ته هم وغزوله. د متحده ایالاتو مرکزي قومانده (CENTCOM).
- د امریکا دفاع وزیر څخه غوښتنه کوي چې د هغه مالیو په اړه د کانګرس د دفاع کمیټې ته راپور ورکړي چې تیر کال د امریکا پر دفاعي قراردادکونکو، فرعي قرارداد کونکو، او د امتیاز خاوندانو څخه اخیستل شوي دي. دا لایحه همدارنګه امر کوي چې د هغه مالیو 100% چې د افغان دولت لخوا پر امریکایي مرستو وضع شوې وي، د هغه فنډ څخه وګرځول شي چې په راتلونکی مالي کال کې د افغانستان لپاره تخصیص شوي دي.

## پلټنې

سیګار په افغانستان کې د بیارغونې پروژو او پروګرامونو په اړه د کړنې پلټنې، تفتیشات او مالي پلټنې ترسره کوي. سیګار کانګرس ته د خپل وروستی راپور څخه وروسته، د کړنو د څلور پلټنو، د درې تفتیشاتو، او د اته مالي پلټنو راپورونه خپاره کړي دي. سیګار پدې ربعه کې، د کړنو په اړه څلور نوې پلټنې پیل کړې، چې پدې سره د کړنې په اړه د روانو پلټنو شمیر 10 ته رسیږي. همدارنګه دریمالي پلټنې او درې تفتیشات یې پیل کړي. د کړنې

**د کړنې پلټنې:** د کافي او مناسب شواهدو په ارزولو سره چې د ویل شوي معیارونو په مقایسه یې ترسره کوي، ډاډ یا نتایج ترلاسه کوي. د کړنې پلټنې عیني تحلیل وړاندې کوي تر څو اړونده اداره او مسول کسان د نتایجو څخه یې د خپل پروګرام د کړنو په وده او د لګښتونو په کمولو کې استفاده وکړي، او مسولو کسانو ته د اصلاحي ګام پورته کول اسانه کوي تر څو د عامه حساب ورکونې جوګه شي. د کړنې پلټنې د دولت لخوا د پلټنې د منل شوي معیارونو (GAGAS) او د انسجام او اغیزمنتیا په اړه د عمومي مفتشینو د ټولنې د کیفیت د معیارونو (CIGIE) سره سم ترسره کیږي.

**تفتیش:** د یوې ادارې د عملیاتونو، پروګرامونو، یا پالیسیو د طرحې، تطبیق، او/یا نتایجو په اړه سیستماتیک او خپلواکه ارزونو ته تفتیش وایي. سیګار خپل تفتیشات د CIGIE د کیفیت له معیارونو سره سم ترسره کوي تر څو په ټول افغانستان کې د تعمیراتو او زیربناو د کیفیت په اړه کانګرس او عامه خلکو ته معلومات وړاندې کړي؛ او پدې اړه عمومي ارزونه کوي چې جوړ شوي تعمیرات تر کومه حده د قرارداد له شرایطو سره سم دي، د ټاکل شوي موخو لپاره استفاده کیږي، او له پایښت څخه برخمن دي.

د پلټنو خپور شوي راپورونه د نورو مواردو سربېره پدې اړه څېړنې کړې دي: د تجارتي بانکونو په تنظیم کې د افغان مرکزي بانک د ظرفیت په اړه اندېښنې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د قضایي سکتور پروګرامونه، د ANSF دسواده زده کولو پروګرامونه، او د افغان دولت سره د USAID مستقیمه مرستې. د کړنې پلټنو په مجموعي ډول 13 سپارښتنې وړاندې کړې. مالي پلټنو معلوم کړې چې د داخلي تفتیش د نواقصو او د مقرراتو څخه د سرغړاوی په نتیجه کې 10.7 میلیونه ډالر په مشکوکو مواردو کې مصرف شوي دي.

## د پلټنې خپاره شوي راپورونه

سیګار پدې ربعه کې د کړنې څلور راپورونه بشپړ کړ، چې دا موارد پکې څېړل شوي:
د تجارتي بانکونو په تنظیم کې د افغان مرکزي بانک ظرفیت، د قضایي سکتور سره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرسته، دANSF د سواد زده کولو د پروګرام نتایج، او د افغاني وزارتونو ارزونې.

### AR-16-14 پلټنه: د افغانستان بانکي سکتور

**د تجارتي بانکونو په تنظیم کې د افغان مرکزي بانک ظرفیت لاهم ضعیف پاتې دی**

د 2010 کال په سپتمبر کې، د کابل بانک بحران د مالي نظارت ریاست (FSD) له لارې د افغانستان د سوداګریزو بانکونو په تنظیم کې د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، د ظرفیت په اړه د متحده ایالاتو او نړیوالو ډونرانو اندېښنې زیاتې کړې. سیګار دا پلټنه په لاره واچوله تر څو معلومه کړي چې د متحده ایالاتو اداري او مهم نړیوال ډونران تر کومه حده داسې ګامونه پورته کړي چې د سقوط مرحلې څخه د افغانستان بانک تنظیمي ظرفیت پیاوړی کړي.

سیګار ومونده چې د افغانستان بانکي سکتور لا هم کمزوری دی او د افغانستان بانک ټینګ نظم ته اړتیا لري. علاوه پردې، د افغانستان د لوی تجارتي بانکونو په پلټنه کې وموندل شو چې د پرسونل د ظرفیت، داخلي کنټرول، محاسبه، د کریډیت تحلیل، او د مقرراتو سره د موافقې په شمول د حکومتولۍ او عملیاتونو په ګڼ شمیر ساحو کې سیسټمیک ستونزې شته دي. د افغانستان بانک (DAB) محدودیتونه او د پیاوړې څارنې د توان نه درلودلو په نتیجه کې داسې نواقص په افغاني بانکونو کې زیاتیږي او د بانک لړنې یو بل بحران ته لاره هواروي.

د 2011 کال څخه راهیسې چې ولسمشر کرزی د امریکا مشاورین یې منع کړل تر څو د افغانستان بانک سره کار وکړي، USAID، د امریکا د خزانې وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د امریکا دفاع وزارت د افغانستان بانک سره کومه تخنیکي مرسته نده کړې. پهرصورت، د افغانستان بانک د مالي څارنې ریاست د بانکي سکتور د تنظیمي دندې په ترسره کولو کې محدود ظرفیت لري او دې لپاره چې د نړیوالو معیارونو سره برابر شي تخنیکي مرستې ته اړتیا لري. د امریکا د خزانې وزارت او USAID د افغانستان بانک سره تخنیکي مرستې ته خپل چمتووالی ښودلی دی خو څېنې شرایط یې مطرح کړي چې د یادو ادارو د کار له پیل څخه وړاندې باید د افغان دولت لخوا عملي شي. افغان دولت تر اوسه پورې د مرستو په بدل کې له دې شرایطو سره خپله موافقه نه ده ښودلې.

**مالي پلټنې:** پدې اړه څېلواکه ارزونه او منطقي ډاډ وړاندې کوي چې آیا د اداري لخوا ورکړ شوی راپور، نتایج، او د سرچینو کارونه د منل شوي معیارونو سره سم دي. سیګار خپل مالي پلټنې د GAGAS سره سم ترسره کوي، چې پدې کې د پلټنې په اړه د منل شوي عامه محاسبینو د امریکایي انسټیټیوت له نظریاتو څخه استفاده شوې ده. همدارنګه سیګار هغه مالي پلټنې بیاکتنه کوي چې د څېلواکه عامه محاسبینو (IPA) لخوا ترسره شوی وي. کله چې یو IPA کومه مالي پلټنه ترسره کوي، سیګار د منطقي کړنلارو په مرسته د هغې موافقه له GAGAS سره ارزوي، البته دا کار د IPA د کار څخه د استفادې د حدودو او دا چې سیګار نوموړې اداري ته څومره مسولیت سپارلې دی، په نظر کې نیولو سره ترسره کیږي.

## د کړنې بشپړې شوې پلټنې

- AR-16-14 پلټنه: د افغانستان د بانک لړنې سکتور: د تجارتي بانکونو په تنظیم کې د افغان مرکزي بانک ظرفیت لاهم ضعیف پاتې دی.
- AR-26-14 پلټنه: د افغانستان د قضایي سکتور څخه ملاتړ: د امریکا د بهرنیو چارو وزارت پروګرامونه غوره مدیریت او پیاوړې څارنې ته اړتیا لري
- AR-30-14 پلټنه: افغان ملي امنیتي خواکونه: د سواد زده کولو پروګرامونو د بریالیتوبونو سربېره، د نتایجو، د قرارداد څارنې، لیږد او د پایښت په برخو کې لاهم څېنې اندېښنې شته دي.
- AR-32-14 پلټنه: مستقیمه مرسته: USAID د ډونرانو د فنډ اداره کولو په برخه کې د افغان وزارتونو د وړتیاو په ارزولو کې مثبت کارونه کړي، خو کمزورتیاوې لا هم شته دي

برسیره پردې، د نړیوالو موسسو تخنیکي مرستې هم ډیر محدود دي. د متحده ایالاتو اداري چارواکو ویلي چې د کابل بانک بحران څخه وروسته نړیوالې موسسې لکه نړیوال بانک، او د پیسو نړیوال صندوق (IMF)، د افغانستان بانک د مالي څارنې ریاست (DAB's FSD) ته د ظرفیت د لوړاوي پروګرامونه چمتو کاوه. پهرصورت، نړیوال بانک سیګار ته ویلي چې دوی د دوو پروګرامونو له جملې څخه چې د نوموړي بانک سره یې لري یوه یې د ناسمو نتایجو، تر یو حده پورې "د خراب امنیتي شرایطو"، له کبله پای ته رسوي، او IMF هیڅ مشاور فعلا د افغانستان بانک سره مرسته نه کوي.

د هغه کړکیچن حالت په نظر کې نیولو سره چې د افغانستان بانک سره د مرستې د پیل لپاره د امریکا او افغان دولت ترمنځ پیدا شوي، سیګار پدې اړه هیڅ کومه سپارښتنه نه کوي. پهرصورت، د بانکي سکتور د بې ثباته وضعیت او د هغه اهمیت په نظر کې نیولو سره چې دا سکتور د افغانستان په مجموعي ثبات کې لري، سیګار دا موضوع په دقت سره څاري.

## 14-26-AR پلټنه: د افغانستان د قضایي سکتور څخه ملاتړ

**د امریکا د بهرنیو چارو وزارت پروګرامونه غوره مدیریت او پیاوړی څارنې ته اړتیا لري**

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د 2005 کال څخه راهیسې، په افغانستان کې د قضایي سکتور د پراختیایي پروګرامونو لپاره لږ تر لږه 223 میلیون ډالره مرسته کړې ده. پدې کې د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو مخدره توکو او د قانون عملي کولو اداري (INL) هغه پروګرامونه هم شامل دي چې د قاضیانو، څارنوالانو، او مدافع وکیلانو په شمول د افغان قضایي سکتور پرسونل ته روزنه ورکوي. د قضایي سکتور ملاتړ پروګرام (JSSP) هم یو له دې پروګرامونو څخه دی چې درې اساسي برخې لري: د قضایي سکتور چارواکو ته سیمه ایزه روزنه، د قضیې په اساس مدیریت ته وده ورکول، او په افغاني وزارتونو کې د اداري ظرفیت لوړول.

INL د 2013 کال په جنوري کې، د قانون د پراختیا نړیواله موسسې (IDLO) سره، یوه عامه نړیواله موسسه ده چې په ټوله نړۍ کې د قانون د حاکمیت پر ترویج کار کوي، یو موافقت لیک لاسلیک کړ او د هغې په اساس یې د قاضیانو د سیمه ایزه روزنې پروژه د PAE څخه چې مخکې یې یاده پروژه تطبیق کوله، IDLO ته وسپارله.

دې پلټنه دا موارد وارزول (1) د INL لخوا د JSSP قرارداد اداره او دا چې د JSSP پروژه تر کومه حده د افغان قضایي سکتور په پرمختګ کې مرسته کوي، (2) دا چې INL د JSSP د قضایي سکتور د سیمه ایز روزنې پروژه یې —چې اوس د قضایي سکتور د انتقالی پروګرام په نوم یادیږي— د PAE څخه IDLO ته وسپارله د INL په څارنه کې څنګه بدلون راغلې ده، او (3) د امریکا د بهرنیو چارو وزارت څنګه په افغانستان کې د قضایي سکتور پروګرامونه د ټولو امریکایي ادارو تر منځ همغږی کوي.

سیګار ومونده چې د INL مدیریت او څارنه د PAE سره د JSSP قراداد په اساس ډیر محدود و او نه یې شو کولی چې د قرارداد کونکی کړنه وارزوي او د قضایي سکتور په پرمختګ کې د JSSP ونډه معلومه کړي.

د INL دا پریکړه چې د JSSP د قضایي سکتور د سیمه ایزه روزنې برخه یې IDLO ته ورکړه، پدې اړه اندیښنې پورته کړي چې INL به څنګه د 47.8 میلیون ډالرو څخه (چې د IDLO پروګرام بودیجه ده) څارنه کوي. دا برخه چې اوس د JTTP په نوم یادیږي د 2013 کال په جنوري کې د PAE څخه IDLO ته وسپارل شوه، سره له دې چې په هغه وخت کې IDLO له اداري او مالي ننګونو سره مخ و. سیګار همدارنګه وموندې چې INL



د قضايي سکتور د ملاتړ د پلټنې له ټیم څخه **د سیګار پلټونکي** د افغانستان د عدلیې وزارت له مرستیال حلیم سره لیدل کیږي. (د سیګار تصویر)

د JTTP د څارنې په برخه کې پر IDLO باندې خپل واک محدود کړې دی. په ځانګړې توګه، INL د IDLO سره په موافقه کې خپل هغه واک لرې کړې ده چې د IDLO اسنادو ته لاسرسي ولري، دا شرط له هغه واک سره مشابه ده چې د JSSP په اړه یې پر PAE باندې درلود.

سیګار سپارښتنه کوي چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر: (1) د JSSP راتلونکی او/یا تعقیبي پروګرام په قرارداد کې د قرارداد کونکی مسولیتونه په څرګندو شرایطو کې تشریح کړي همدارنګه د ابتدایي معلوماتو او تر هدف لاندې شاخصونو په اړه هم توضیحات ورکړی چې د پروګرام د بریالیتوب په ارزونه کې تر استفادې لاندې نیول کیږي؛ (2) PAE وهڅوي تر څو د JSSP د قضايي سکتور د سیمه ایزه روزنې ارزونې ته سرعت ورکړي او له بشپړیدو سره سم خپل نتایج فوراً IDLO ته وسپاري تر څو د څارنې کار په خپل وخت او اغیزمنه بڼه ترسره شي او د دې په څنګ کې د تیر پروګرام څخه زده شوي درسونه د JTTP په طرحه او تطبیق کې وکارول شي؛ (3) د IDLO سره د INL موافقت لیک تر بیاکتنې لاندې ونیسي تر څو هغه شرطونه بیرته په قرارداد کې ځای په ځای شي چې د هغې له مخې د امریکا دولت کولی شي د هغه فنډونو د اسنادو په اړه چې IDLO ته د JTTP لپاره ورکول کیږي پلټنه او تفتیش کړي، او د پروګرام د ارزونې په وخت کې هر ډول معلوماتو ته لاسرسي ومومي، او همدارنګه د متحده ایالاتو هغه پیسې خوندي وساتي چې د یاد پروګرام لپاره ځانګړي کیږي؛ او (4) د متحده ایالاتو د نورو ادارو سره یوځای چې په افغانستان کې د قانون د حاکمیت په برخه کې په کار بوخت دي، د متحده ایالاتو د 2009 کال د قانون د حاکمیت ستراتیژي. تازه راپور په درېو میاشتو کې نهایي کړي تر څو په افغانستان کې د قضايي سکتور اوسنی او راتلونکی پروګرامونو د پراختیا او همغږۍ په اړه په وخت تصمیم ونیول شي.

## AR-30-14 پلټنه: افغان ملي امنیتي ځواکونه

**د بریالیتوبونو سربیره، د سواد زده کولو پروګرامونو د نتایجو، د قرارداد څارنې، لیږد، او د پایښت په اړه لاهم اندیښنې پاتې دي**

د شمالي اتلانتیک تړون نهاد د روزنې ماموریت-افغانستان/د امنیتي لیږد ګډه قومانده-افغانستان (NTM-A/CSTC-A) د تکړه، مسلکي، او ثبات لرونکي افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزلو لپاره د سواد رول اساسي بولي. په 2009 کال کې نوموړې قوماندې موخه ونیوله چې د 2014 کال د دسمبر تر 31 پورې د ANSF پرسونل باید 100% د 1 درجې سواد زده کړي (ابتدایي سواد چې د لومړی درجې لیاقت سره برابر دی) او لږ تر لږه 50% پرسونل یې د 3 درجې سواد زده کړي (وظیفوي سواد چې د دریمې درجې لیاقت سره برابر دی).

دې موخې ته د رسیدو لپاره یادې قوماندې د متحده ایالاتو په فنډ د OT تریننګ سولوشن، انسایټ ګروپ، او د کاروان د لوړو زده کړو موسسې سره د سواد زده کولو د پروګرام درې قراردادونه لاسلیک کړ. دا قراردادونه چې د 2010 کال په اګست کې لاسلیک شو، د پنځو کلونو لپاره یې مجموعي ارزښت تر 200 میلیونه ډالرو پورې رسیده. NTM-A/CSTC-A پلان لري چې دا پروګرام د 2014 کال د دسمبر له 31 څخه وروسته د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ته وسپاري.

د دې پلټنې موخه دا وه چې معلومه کړي تر کومه حده پورې (1) د NTM-A/CSTC-A د سواد زده کولو پروګرام خپلې موخې تر لاسه کړې؛ (2) NTM-A/CSTC-A د قرارداد څخه موثره څارنه کړې ده؛ او (3) NTM-A/CSTC-A د روزنې پروګرام د لیږد او پایښت لپاره مناسب ګامونه پورته کړې دي.

NTM-A/CSTC-A راپور ورکړی چې د سواد زده کولو پروګرام یې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د اساسي او وظیفوي سواد زده کولو په برخه کې په عمومي ډول کامیابه و. نوموړې قوماندې راپور ورکړی چې د 2009 کال له نومبر څخه چې پروګرام پیل شوې ده د 2013 کال تر اکتوبر پورې د افغان ملي امنیتي ځواکونو 224,826 تنه پرسونل د 1 درجې اساسي سواد، او 77,700 تنه کسان یې د 3 درجې سواد زده کړې دي. یادې قوماندې اشاره کړې ده چې دا پروګرام به د 2014 کال تر پایه پورې د افغان ملي امنیتي ځواکونو 100% پرسونل ته د1 درجې او 50% ته یې د 3 درجې سواد زده کړي او پدې برخه کې به خپله موخه تر لاسه کړي. پهر صورت، دا موخې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د 2009 کال د شمیرې له مخې ټاکل شوي و چې 148,000 تنو ته رسیدل، نه د دوی اوسنی شمیر چې 352,000 تنه کسان دي. د NTM-A/CSTC-A ګڼ شمیر ماموریتو سیګار ته ویلي چې دوی نه پوهیږي د سواد زده کولو پروګرام موخې څنګه ټاکل شوي دي، خو د ANSF په اوسنی شمیر کې دې موخو ته رسیدل به "له حقیقت څخه لرې" یا "ناشونی" وي.

نوموړې قومانده د سواد زده کولو پروګرام د موثریت اندازه کولو او دا چې یاد پروګرام د ANSF د پرسونل وضعیت ته څومره وده ورکړې ده، محدوده وړتیا لري. د سواد زده کولو له دریو قراردادونو څخه په هیڅ یو کې د لیاقت د معلوملو په اړه یا د نوي ګومارل شوي کسانو د دقیقه تعقیبولو په اړه چې د پوځ یا د پولیسو واحدونو ته ځي، کومه خبره نده راغلې. همدارنګه سیګار وموندل چې NTM-A/CSTC-A په پیل



د کابل نظامي روزنیز مرکز کې **د دري ژبې سواد** زده کولو د روزنې مواد (د سیګار تصویر)



**د سواد زده کولو یو ښوونکی** چې د دارالامان په جولیان کمپ کې یو صنف ته لارښوونه کوي.
(د سیګار تصویر)

کې د درې واړو قراردادونو څخه هیڅ کومه موثره څارنه نده کړې، خو وروسته یې بیا ځینې ګامونه پورته کړي تر څو د پروګرام څخه خپله څارنه زیاته کړي.

د سواد زده کولو د پروګرام لپاره د NTM-A/CSTC-A ستراتیژي او پلان د نوموړې قوماندې څخه غواړي چې د 2014 کال تر پایه پورې پروګرام افغان حکومت ته وسپاري، پداسې حال کې چې د ساحې صنفونه یې د 2013 کال په جولای کې سپارل شوي دي. پهرصورت، NTM-A/CSTC-A د پلان په اړه د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د موافقې په لاسته راوړو کې ستونزې درلودې. په خاصه توګه، دوی علاقه نه درلوده تر څو د سواد زده کولو پروګرام نوي ګومارل شوي کسانو ته وغزوي او له اساسي پړاو څخه تر3 درجې پورې روزنه ورکړي.

سره له دې چې افغان حکومت ته د مسولیتونو د لیږد بهیر ورو دی، نور نړیوال ډونران د ANSF له سواد زده کولو پروګرام سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي دي. پهرصورت، NTM-A/CSTC-A تراوسه پورې د پروګرام د لیږد او پایښت لپاره نوې ستراتیژي نده جوړه کړې چې په هغې کې د برخه لرونکو مسولیتونه او ژمنې، د پروګرام موخې، مهم مراحل، احصایې، او زماني چوکاټ وښيي.

سیګار د نورو اړوندو ادارو سره یوځای د نړیوال سوله ساتي ځواکونو ګډې قوماندې ته شپږ سپارښتنې وړاندې کوي: دوې سپارښتنې د سواد زده کولو پروګرام د راپور ورکولو او د پرمختګ د معیارونو د ودې لپاره تر څو خپل اهدافو ته په رسیدلو کې ورسره مرسته وکړي؛ درې سپارښتنې د سواد زده کولو د دریو روانو قراردادونو د څارنې قوي کولو او یو نوی قرارداد د کیفیت یقیني کولو په اړه؛ او یوه سپارښتنه په دې اړه چې د لیږد او پایښت د رسمي او همغږي ستراتیژي په جوړولو او پلي کولو سره د سواد زده کولو پروګرام په بریالی توګه افغان حکومت ته وسپاري.

### AR-32-14 پلټنه: د افغان وزارتونو ارزونې

**مستقيمه مرسته: USAID د ډونرانو د فنډ اداره کولو په برخه کې د افغان وزارتونو د وړتياو په ارزولو کې مثبت کارونه کړي، خو کمزورتياوې لا هم شته دي**

USAID فعلا د 1 ميليارد ډالرو په ارزښت د مستقيمه مرستې ژمنه کړې، چې پدې کې د کوربه دولت قراردادونه او د دولت څخه-دولت ته قراردادونه شامل دي. د 2010 کال څخه راهيسې، کانګرس او USAID دواړو د مستقيمه مرستې د تنظيم لپاره خپلې پاليسۍ ټينګې کړي دي.

د حساب ورکونې د ودې او د کانګرس د شرايطو پوره کولو لپاره USAID د 2010 په وروستيو او د 2011 کال په لومړيو کې د ايرنست او يانګ او KPMG سره قراردادونه لاسليک کړل تر څو د متحده ايالاتو فنډونو د ادارې په برخه کې د 16 افغاني وزارتونو وړتياوې وارزوي. علاوه پردې، USAID په نړيواله کچې د مستقيمه مرستو د سم مديريت او تطبيق سره د مرستې لپاره د لارښونې اتومات سيسټم 220 جوړ کړ: د مرستو د مستقيم مديريت او تطبيق لپاره د يو اعتباري ملګرى دولت سيستمونو کارول د 2011 کال په اګست کې.

د دې پلټنې موخه دا وه چې (1) د وزارتونو په ارزونه کې ايرنست او يانګ او KPMG تر کومه حده د USAID د قرارداد شرايط په نظر کې نيسي، (2) د متحده ايالاتو فنډونو د ادارې په برخه کې د افغاني وزارتونو د وړتيا د ارزونې نتايج تشريح کړي او معلومه کړي چې USAID څنګه دا معلومات د افغان دولت سره د خپل مستقيمه مرستې په بهير کې کاروي يا د کارولو پلان لري، او (3) افغان دولت ته د مستقيمه مرستې برابرولو په اړه د کانګرس د شرايطو په ځواب کې د بهرنيو چارو وزارت تصديق او د USAID خبرتياوې معاينه کړي.

ايرنست، يانګ او KPMG په خپلو ارزونو کې وويل چې په ارزونه کې شامل ټول وزارتونه د دې وړتيا نلري چې د فنډونو اداره او حساب وکړي مګر په هغه صورت کې چې د دوی د راپور سپارښتنې په نظر کې ونيسي. د دې ارزونې د راپورونو له بشپړيدو سره سم USAID/افغانستان د افغاني وزارتونو څخه د وزارت د داخلي خطر بياکتنې بشپړې کړي— د عامې روغتيا وزارت؛ د کانونو او پتروليم وزارت؛ د کرهنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت؛ د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت؛ د معارف وزارت؛ د ماليې وزارت؛ او د افغانستان بريښنا شرکت. دا اووه وزارتونه د مستقيمه مرستې په اړه يا فعال پروګرامونه لري يا هم په پلان کې لري. که څه هم USAID/افغانستان د اووه وزارتونو د خطر د بياکتنې په ترڅ کې نتيجه ګيري کړې چې دا وزارتونه د خطر کمولو د ستراتيژۍ څخه پرته مستقيمه مرستې نشي اداره کولی او دا چې ياده اداره "په عادي شرايطو" کې له دې وزارتونو سره د مستقيمه مرستې قرارداد نه لاسليک کوي، همدارنګه اووه واړه وزارتونه د USAID/افغانستان سره موافقت ليکونه لاسليک کړي او د مستقيمه مرستې پروګرامونه يې منلي دي.

برسيره پردې، USAID په 2012 کال کې د 2013 مالي کال د ټولو مستقيمه مرستو لپاره يې د لارښوونې له اتومات سيستم (ADS) 220 څخه سترګې پټې کړې. ADS 220 د عامه مالي مديريت د خطر ارزونې لپاره کاري چوکاټ جوړ کړي ده — دا د خطر په اساس څو مرحله اي ميتودولوژي ده چې USAID د هغې په مرسته د مستقيمه مرستو په لاسته راوړو کې د خپل ملګرى هيواد د سيسټمونو ثبات ارزوي. نوموړى اداره د خپل سترګې پټونې په دليل کې د متحده ايالاتو د بهرنۍ پاليسي

دا پریکړه وړاندې کړه چې د هغې له مخې د افغانستان د خطر چاپیریال ارزونه په لومړي پړاو کې ضروري نده بلل شوی.

که څه هم ټولو افغاني وزارتونو ته د مستقیمه مرستې له ترلاسه کولو څخه وړاندې شرایط اینښودل شوي تر څو پوره یې کړي، سیګار وموندل چې USAID/افغانستان د یادو وزارتونو څخه غوښتې ده چې د فنډونو ترلاسه کولو څخه مخکې د خطر کمولو له 333 معیارونو څخه یوازې 24 معیار عملي کړي. USAID/افغانستان د 2013 کال په سپتمبر کې د سیګار د موندنو په اړه له لنډ تشریح څخه وروسته داسې اسناد وړاندې کړ چې د افغانستان بریښنا شرکت د خطرونو کمولو لپاره په نظر کې نیولي و. دا یو مثبت پرمختګ دی، خو USAID/افغانستان د شپږو نورو وزارتونو د خطرونو کمولو لپاره کوم پلان ندی جوړ کړی.

سیګار USAID ته درې سپارښتنې وړاندې کړې. په خاصه توګه د USAID رییس ته سپارښتنه کوي چې (1) د 2014 مالي کال او تر هغې وروسته په مستقیمه مرستو کې د 220 ADS ټول شرایط —د لومړي پړاو د عمومي کچې بیاکتنې څخه پرته— په نظر کې ونیول شي. سیګار همدارنګه USAID/افغانستان ته سپارښتنه کوي چې (2) د هغه ارزونو په اړه چې USAID یا قرارداد کونکي یې د وزارتونو په اړه کړي، د هغه کمونکي معیارونو په اړه چې افغاني وزارتونه عملي کړي؛ او د متحده ایالاتو د فنډونو په وړاندې د خطر په اړه کانګرس ته بشپړ معلومات ورکړي؛ او (3) د هغه وزارتونو لپاره چې د USAID بیاکتنه یې بشپړه کړې د افغانستان د بریښنا شرکت ته ورته پلان جوړ کړي او په هغې کې د هر خطر د کمولو لارې چارې روښانه کړي، او دغو وزارتونو ته تر هغې پورې مرستې وځنډوي چې دا پلان یې نه وي عملي کړی.

## پدې ربعه کې نوي اعلان شوي پلټنې

پدې ربعه کې سیګار د خپل سکتوري پلټنو په لړۍ کې یوه بله پلټنه پیل کړه. دا پلټنه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ سکتور (ICT) د بیارغونې او سوداګریز کولو په برخه کې د افغانستان سره د متحده ایالاتو مرستې تر څیړنې لاندې نیسي. همدارنګه یاده اداره د افغان هوایي ځواک او د افغان ملي پوځ د انجینرانو د لوا سره د متحده ایالاتو د مرستو په اړه هم یوه پلټنه پیل کړې ده. علاوه پردې، سیګار د افغانستان د مخدره توکو ضد پولیسو د ولایتي ځانګو د پراختیا او پیاوړتیا په برخه کې د متحده ایالاتو د مرستو په اړه هم یوه پلټنه پیل کړې ده.

### د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ سکتور

د ملي مخابراتو لپاره یو مناسب بنسټ جوړول د 2002 کال څخه پدیخوا د افغان دولت یو ستر لومړیتوب جوړوي. په تیرو لږو کلونو کې، د ICT سکتور د افغانستان ستر عایداتي سرچینه جوړه شوې ده، چې په کال کې نږدې 150 میلیون ډالر عاید لري او د دولت د مجموعي عایداتو تقریبا 12% جوړوي. د ICT د بیارغونې او سوداګریز کولو څخه د لارښونې لپاره USAID او ایساف له افغان دولت سره په لاندې موارودو کې مرسته کړې (1) د هیواد په کچه د مایکرو ویف شبکې پراخول تر څو د موبایل او وایرلس اړیکې سره مرسته وکړي او (2) د نوري فایبر ملي شبکه چې د ولایتونو مرکز، لوی ښارونه، او ګاونډي هیوادونه سره نښلوي. علاوه پردې، افغان دولت او د متحده ایالاتو نورې ادارې سره

### د کړنو نوې پلټنې

- د افغانستان هوایي سکتور (ICT) د بیارغونې او سوداګریز کولو په برخه کې د افغانستان سره د متحده ایالاتو د مرستو پلټنه
- د افغانستان هوایي ځواک سره د امریکا د مرستو پلټنه
- د افغان ملي پوځ د ملي انجینرانو لوا د انجینري تجهیزاتو پلټنه
- د افغانستان هوایي د مخدره توکو ضد پولیسو د ولایتي ځانګو د تقویې او پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د هڅو پلټنه

یوځای پر ګڼو هڅو کار کوي تر څو د مخابراتو په سوداګریز کولو یا لږ تر لږه کارولو سره حکومتولي او تجارت ته وده ورکړي. سیګار به په خپله بیاکتنه کې د افغانستان د ICT له بیارغونې او سوداګریز کولو سره د متحده ایالاتو هڅې او د دې هڅو نتایج وارزوي.

## افغان هوایي ځواک

سیګار د افغان هوایي ځواک سره د متحده ایالاتو د مرستې په اړه یوه پلټنه پیل کړې. دا پلټنه به د یو خپلواک افغان هوایي ځواک په جوړولو کې د متحده ایالاتو پانګونې، پلانونه، او روزنه معاینه کړي. یاده پلټنه به معلومه کړي چې افغان هوایي ځواک تر کومه حده د هغه الوتکې او تجهیزاتو د استفادې او ساتنې وړتیا ولري چې د ASFF سره اخیستل شوي او په پلان کې ده چې ورته وسپارل شي.

## د افغان ملي پوځ د ملي انجینرانو لوا

سیګار د انجینرانو ملي لوا (NEB) د روزنې، تجهیز، او پایښت په برخو کې د امریکا دفاع وزارت د مرستو په اړه یوه پلټنه پیل کړې. دا پلټنه د انجینري تجهیزاتو چې ټاکل شوې ده NEB ته وسپارل شي، د حساب ورکونې، ګومارنې، او چمتو کولو په برخه کې د متحده ایالاتو هڅې ارزوي. سیګار په خاصه توګه پلان لري چې (1) معلومه کړي د NEB روزنه او تجهیز په برخه کې د DOD هڅې به تر کومه حده پورې افغان ملي پوځ ته د یو خپلواک او تکړه انجینري ځواک په چمتو کولو کې ونډه ولوبوي او (2) د NEB د جوړولو او پایښت په وړاندې کومې ننګونې شته دي.

## د افغانستان د مخدره توکو ضد پولیس

سیګار د افغانستان د مخدره توکو ضد پولیسو (CNPA) د ولایتي څانګو د ظرفیت او پایښت د پراختیا او لوړاوي په برخو کې د متحده ایالاتو هڅو د ارزولو لپاره یوه پلټنه پیل کړې. دا پلټنه به معلومه کړي چې د CNPA د ولایتي څانګو د ظرفیت لوړاوي کارونه تر کومه حده د یو هر اړخیزه بین الاداري پلان په چوکاټ کې ترسره کیږي، هغه ودانۍ چې د CNPA د ولایتي څانګو لپاره جوړې شوي تر کومه حده د پلان سره سم کارول کیږي، او د متحده ایالاتو مرستې تر کومه حده د پایداره او تکړه ولایتي ځواکونو په جوړولو کې ونډه اخیستې ده.

## مالي پلټنې

سیګار د مالي پلټنو پروګرام په 2012 کال کې وروسته له هغه پیل کړ چې د پولې څخه اخوا احتمالي عملیاتونو د قراردادونو د مالي مصارفو په اړه د کانګرس او د ښار ټولنې اندیښنې زیاتې شوې. سیګار د مالي پلټنو لپاره په رقابتي ډول د مالي محاسبې خپلواک شرکتونه غوره کوي او ډاډ ورکوي چې د پلټنې کار یې د متحده ایالاتو حکومت د پلټنې له معیارونو سره سم ترسره کیږي. مالي پلټنې د فیدرال عمومي پلټونکی له ټولنې سره همغږی کیږي تر څو د پلټنې پوښښ ته اعظمي وسعت ورکړ شي او همدارنګه د تکراري هڅو مخه ونیول شي.

سیګار پدې ربعه کې د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د متحده ایالاتو په فنډ د قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او تعاوني موافقت لیکونو په اړه اته مالي پلټنې بشپړې کړې. همدارنګه سیګار د امریکا دفاع وزارت په فنډ د قراردادونو په اړه د درې نوي مالي پلټنو

اعلان وکړ چې شاوخوا 500.6 میلیون ډالر مصارف تر څېړنې لاندې نیول کېږي، پدې سره د روانو مالي پلټنو شمیر 20 ته رسیږي چې په مجموعي ډول د 2.1 میلیارد ډالرو څخه زیاتې پیسې تر څېړنې لاندې نیسي، په 2.1 جدول کې یې شمیرې ښودل شوي دي.

سیګار د مالي پلټنو وروستي راپورونه تطبیق کونکي ادارو ته سپاري چې د مشکوکو لګښتونو په اړه د پریکړې نیولو مسولیت په غاړه لري. د پروګرام له پیل څخه تراوسه پورې، د سیګار مالي پلټنې د 60.8 میلیون ډالرو څخه زیات مشکوک لګښتونه په ګوته کړي. که چیرته تطبیق کونکی اداره معلومه کړي چې مشکوک لګښت په قانوني ځای کې مصرف شوی، نوموړې اداره په دې اړه د تادیې سند ورکوي. تراوسه پورې فنډ ورکونکي اداري د 3.8 میلیون ډالرو څخه زیاتې مشکوکې پیسې قانوني بللي او اسناد یې ورکړي دي. تطبیق کونکي اداري ډېر وخت ته اړتیا لري چې د مشکوکو پیسو په اړه تصمیم ونیسي، تر اوسه لا د ګڼو مشکوکو مواردو وروستی فیصله پاتې ده.

د سیګار مالي پلټنې څلور ځانګړې موخې لري:

- په دې اړه خپل نظر ورکړي چې د فنډ د حساب ورکونې بیانیه په ټولو اړخونو کې لکه د عایداتو ټولول، مصارف، هغه شیان چې مستقیما د متحده ایالاتو دولت لخوا اخیستل شوي، او د عاید او مصرف بیلانس د قرارداد له شرایطو سره سم او د محاسبې د منل شوي اصولو یا د محاسبې د جامع اصولو په موافقې سره ترتیب شوې ده.
- د قرارداد په اړه د پلټنې لاندې اداري داخلي کنترول معلومه کړي او په اړه یې کافي پوهه لاسته راوړي؛ د خطر کنترول وارزوي؛ او د داخلي کنترول د ضعف په شمول نورې نیمګړتیاوې معلومې او په اړه یې راپور ورکړي.
- په دې اړه ازمیښتونه ترسره کړي چې آیا اړونده اداره د موادو په ټولو اړخونو کې د قرارداد شرایط او د عملي کیدو وړ قوانین او مقررات په نظر کې نیولي؛ او هغه موارد په نښه کړي چې د قرارداد او د عملي کیدو وړ قوانین او مقررات له شرایطو سره په ټکر کې دي او په اړه یې راپور ورکړي.
- دا معلومه کړي چې آیا نوموړې اداره هغه سپارښتنې او نتایج چې د مخکینیو پلټنو څخه وړاندې شوي وې په نظر کې نیولي او اصلاحي ګامونه یې پورته کړي که نه، او پدې اړه راپور ورکړي.

د دې درې میاشتنی راپور په ج ضمیمه کې د بشپړ شوي، نوي، او روانو مالي پلټنو لست موندلی شی.

## خپرې شوې مالي پلټنې

سیګار پدې ربعه کې د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د متحده ایالاتو په فنډ د قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او تعاوني موافقت لیکونو په اړه اته مالي پلټنې بشپړې کړې. دې مالي پلټنو معلوم کړې چې د داخلي تفتیش د نواقصو او د مقرراتو څخه د سرغړاوی په نتیجه کې 10.7 میلیونه ډالر په مشکوکو مواردو کې مصرف شوي دي. دا نواقص او د مقرراتو سرغړاوی عبارت دي له: د لست شوي شیانو سربیره د نورو شیانو لپاره بودیجه ورکول، د پرسونل غیر قانوني مصارف، د زماني جدول ورکیدل، د قراردادي د تعلیق او مخنیوی څخه پاتې راتلل، د غلا او اور لګیدنې له امله د شتمنیو له منځه تلل، د اسنادو نیمګړی ثبت، د ملاتړو اسنادو نه درلودل، غیرمجاز نړیوال سفر یا د شتمنیو اخیستل، او د تدارکاتو له کړنلارې څخه سرغړونه کول.

2.1 جدول

| **د سیګار د مالي پلټنې پوښښ** (په میلیارد ډالر) | |
| --- | --- |
| 20 بشپړې شوې پلټنې | 1.4 امریکایی ډالر |
| 20 روانې پلټنې | 2.1 امریکایی ډالر |
| **مجموعه** | 3.6 امریکایی ډالر |

یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. په پوښښ کې هغه د پلټنې وړ مصارف شامل دي چې په افغانستان کې د امریکا د بیارغونیزو قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او تعاوني موافقو له لارې مصرف شوي دي.

سرچینه: د سیګار د پلټنو ریاست.

**مشکوک مصارف:** هغه مصارف دي چې په بالقوه ډول غیر قانوني وي. پدې کې د نه منلو وړ مصارف (د قانون، مقرراتو، مرستې، یا تعاوني موافقې څخه سرغړونه، یا هر غیر ضروري یا غیر منطقي مصرف) او بې اسناده مصارف (هغه مصارف چې کافي اسناد ونلري یا هم د پلټنې په وخت کې د سموالی قناعت لاسته رانشي) شامل دي.

**د تادیې سند:** هغه خط یا فورمه ده چې قرضدار ته استول کیږي او د قرض اندازه، سود، اداري مصرف، او د ناوخته کیدلو جریمې په اړه معلومات ورکوي.

**د فنډ د حساب ورکوونې بیانیه:** یوه مالي بیانیه ده چې د ځانګړې موخې لپاره جوړیږي او په هغې کې د یو معلوم قرارداد په ټاکل شوی وخت کې ټول لاسته راغلي عایدات، لګول شوي مصارف او د دوی بیلانس تشریح کیږی.

سرچینه: USAID، "د ADS، 591 فصل: د USAID د قرارداد کونکو، فنډ اخیستونکو، او د کوربه دولت ادارو مالي پلټنې"، 7/31/2012.

## بشپړې شوې مالي پلټنې

- FA-9-14 مالي پلټنه: (په تیره ربعه کې بشپړه شوې وه خو د پلټنې لنډیز په لاس کې نه و) د USAID په افغانستان کې د قانون حاکمیت- غیر رسمي (ARL-I) پروژه او د پروګرام او پروژې دفتر تر سرپرستۍ لاندې د خدماتو د تعقیب پروژه (SUPPORT): د هغه لګښتونو پلټنه چې د چیکچي او کمپني کانسلټنګ، انکارپوریشن لخوا مصرف شوي
- FA-11-14 مالي پلټنه: په افغانستان کې د امریکا بهرنیو چارو وزارت د ماین پاکولو فعالیتونه: د هغه لګښتونو پلټنه چې د افغان تخنیکي مشاورینو لخوا مصرف شوي
- FA-14-14 مالي پلټنه: د کلیوالي پراختیا لپاره دUSAID مالي او تعاوني پروژه: د هغه لګښتونو پلټنه چې د ورلډ کونسل آف کریډیټ یونین، انکارپوریشن لخوا مصرف شوي
- FA-15-14 مالي پلټنه: د افغان مدني ټولنې پروژې د پرمختګ لپاره د USAID نوښت: د هغه لګښتونو پلټنه چې د کونټرپارټ انټرنیشنل، انکارپوریشن لخوا مصرف شوي
- FA-18-14 مالي پلټنه: د USAID د ښوونکو لپاره د تعلیمي سیسټم جوړولو پروژه او د ټولنې په اساس د ثبات د مرستو پروژه: د هغه لګښتونو پلټنه چې کریټیف اسوشیټس انټرنیشنل، انکارپوریشن لخوا مصرف شوي
- FA-19-14 مالي پلټنه: د USAID د ټولنیز پرمختګ پروګرام: د هغه لګښتونو پلټنه چې د مرسي کورپس لخوا مصرف شوي
- FA-20-14 مالي پلټنه: د USAID د ټولنیز پرمختګ پروګرام: د هغه لګښتونو پلټنه چې د مرکزي آسیا د پراختیایي ګروپ لخوا مصرف شوي
- FA-23-14 مالي پلټنه: د ښاري خلکو لپاره د USAID د خوړو نه خوندیتوب د مرستو پروګرام: د هغه لګښتونو پلټنه چې د ورلډ ویژن لخوا مصرف شوي
- FA-29-14 مالي پلټنه: د ښاري خلکو لپاره د USAID د خوړو نه خوندیتوب د مرستو پروګرام: د هغه لګښتونو پلټنه چې د پاملرنې نړیواله موسسې لخوا مصرف شوي

### FA-9-14 مالي پلټنه: د USAID په افغانستان کې د قانون حاکمیت-غیر رسمي (ARL-I) پروژه او د پروګرام او پروژې دفتر تر سرپرستۍ لاندې د خدماتو د تعقیب پروژه (SUPPORT): د هغه لګښتونو پلټنه چې د چیکچي او کمپني کانسلټنګ، انکارپوریشن لخوا مصرف شوي

#### (تیره ربعه بشپړه شوه، د مخکینۍ پلټنې لنډیز موجود ندی)

USAID د چیکچي او کمپني کانسلټنګ انکارپوریشن سره قرارداد لاسلیک کړ. (Checchi) دوه قراردادونه د USAID د دوه نوښتونو د ملاتړ لپاره: (1) په افغانستان کې د قانون حاکمیت-غیر رسمي (ARL-I) پروژه او د پروګرام او پروژې دفتر تر سرپرستۍ لاندې د خدماتو د تعقیب پروژه (SUPPORT). پلټنه د کروې هورواث لخوا ترسره شوه او 55,176,633 ډالر مصارف تر څیړنې لاندې ونیول شو.

د ARL-I قرارداد اصلي موخه دا وه چې د شخړو د هواررولو لپاره د سنتي دودونو ملاتړ وکړي، د دولت قضایي میکانیزمونو سره مرسته وکړي، او په افغانستان کې د دولت د قضایي سیستم ظرفیت لوړ کړي. د دې قرارداد په اساس چیکي د 2010 کال د مارچ له 19 څخه د 2011 کال د سپتمبر تر 15 پورې 14,380,884 ډالر مصرف کړي دي.

د SUPPORT قرارداد د دې لپاره لاسلیک شو چې د USAID/افغانستان د پروګرام او پروژې د پراختیا دفتر سره د څارنې په برخه کې د دریمې ډلې په توګه کار وکړي. په دې خدماتو کې د USAID/افغانستان د مدیریت معلوماتي سیستم تازه کول، وده ورکول او څارنه، د بین الاداري او بهرنیو چارو وزارت د شاخصونو په اساس د پروګرام نتایج څارل، د پروګرامونو او پروژې موقتي او وروستۍ ارزونې ترسره کول، او ورکشاپونو، کنفرانسونو، او غونډو ته د لوژستکې مرستې برابرول شامل دي. چیکچي د دې نوښت څخه د ملاتړ لپاره د 2006 د اکتوبر 9 څخه د 2012 د اګست تر 27 پورې 40,795,749 ډالر مصرف کړي دي.

کروې هورواث LLP ومونده چې د SUPPORT او ARL-I قراردادونو د فنډ حساب ورکونې بیانیه د پروګرام د عایداتو او مصارفو په ټولو اړخونو کې د قرارداد سره سم ترتیب شوې ده. پهرصورت، پلټونکو د داخلي نواقصو اووه موارد او د سرغړونې شپږ موارد په ګوته کړل. همدارنګه پلټنې 694,736 ډالر مصارف مشکوک وباله او 179 ډالر یې د متحده ایالاتو ګټه وشمیرله چې باید ورته وسپارل شي.

سیګار د قرارداد مامور ته څلور سپارښتنې وکړې:

- د 694,736 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي څېړنه وکړي او د غیرقانوني مصارفو په صورت کې بیرته لاسته راوړي.
- 179 ډالره ګټه چې د پرمختګونو څخه لاسته راغلي تر لاسه کړي.
- چیکچي ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنټرول په اړه اووه موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.
- چیکچي ته مشوره ورکړي چې د سرغړونې په اړه شپږ موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.

## FA-11-14 مالي پلټنه: په افغانستان کې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د ماين پاکولو فعاليتونه: د هغه لګښتونو پلټنه چې د افغان تخنيکي مشاورينو لخوا مصرف شوي

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت افغان تخنيکي مشاورينو (ATC) سره د پنځو مرستو قرارداد لاسليک کړ تر څو د افغانستان په بيلابيلو سيمو کې د ماين پاکولو فعاليتونه په لاره واچوي. د سيګار لخوا کروې هورواث د 2007 د اپريل 1 څخه د 2012 کال د اګست تر 31 پورې دوره تر پلټنې لاندې ونيوله. په دې پلټنه کې 13,422,356 ډالره مصارف شامل و.

د ATC پروګرام غوښتنه کوله چې د 2007 کال څخه تر 2012 کاله پورې د ماين موندلو ځانګړې سپيو په مرسته عملياتونه په لاره واچول شي. ATC راپور ورکړ چې د دې پروګرام له لارې دوه ميليون متر مربع ځمکې د انتي پرسونل ماين، ناچاوديدلي توکې، چړې، او د ټانک ضد ماينونو څخه پاک کړای شو. ATC د ماين پاکولو بشري ټيمونو او همدارنګه سپيو ته يې روزنه ورکړه او د دې کار لپاره يې 30 کسان وګومارل.

کروې هورواث ومونده چې د فنډ د حساب ورکونې بيانيه د عايداتو او مصارفو په شمول په ټولو مواردو کې د قرارداد سره سم ترتيب شوې او د مخکينيو پلټنو يا ارزونو په ځواب کې کوم تعقيبي يا اصلاحي ګام په ګوتو ورنغی. کروې هورواث د داخلي کنترول په اړه شپږ موارد او د مرستې يا د عملي کيدو وړ قوانينو له شرايطو څخه د سرغړونې په اړه پنځه موارد په ګوته کړل. دې موندنو پلټونکي دې ته وهڅول چې د 202,854 ډالرو پر مصارف شکمن شي. پلټنې هيڅ کوم غير قانوني لګښت په ګوته نه کړ.

سيګار د مرستو مامور ته څلور سپارښتنې وکړې:

- د 202,854 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي څيړنه وکړي او د غيرقانوني مصارفو په صورت کې بيرته لاسته راوړي.
- که مناسبه وي، 8,762 ډالره ګټه چې د پرمختګونو څخه لاسته راغلې ده، تر لاسه کړي.
- ATC ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه شپږ موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.
- ATC ته مشوره ورکړي چې د سرغړونې په اړه پنځه موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.

## FA-14-14 مالي پلټنه: د کليوالي پراختيا لپاره د USAID مالي او تعاوني پروژه: د هغه لګښتونو پلټنه چې د ورلډ کونسل آف کريډيټ يونين، انکارپوريشن لخوا مصرف شوي

USAID د کليوالي پراختيا لپاره د خپل مالي او تعاوني پروژې سره د مرستې لپاره د ورلډ کونسل آف کريډيټ يونين انکارپوريشن (WOCCU) سره يو قرارداد لاسليک کړ. د پروژې موخه دا وه چې د هيواد په سويلي او ختيځو سيمو کې د پور بازار ته د لاسرسي موندلو لپاره وړو سوداګريو، بزګرانو، د ټيټ او منځنی عايد کورنيو، او ښځو ته پور برابر کړي. دا هڅه د اسلامي پانګونې او د مالي تعاوني شبکې د پراخولو له لارې بشپړه شوه. د سيګار په پلټنه کې د 2009 د دسمبر 6 څخه د 2012 کال د دسمبر تر 5 پورې دوره شامله وه او د کروې هورواث لخوا ترسره شوه. پدې پلټنه کې 41,047,327 ډالره مصار ف تر څيړنې لاندې ونيول شو.

کروې هورواث ومونده چې د فنډ د حساب ورکونې بيانيه د عايداتو او مصارفو په شمول په ټولو مواردو کې د قرارداد سره سم ترتيب شوې او د مخکينيو پلټنو يا ارزونو په ځواب کې کوم تعقيبي يا اصلاحي ګام په ګوتو ورنغی. پهرصورت، کروې هورواث په داخلي کنترول کې درې مادي نواقص او درې مهمې نيمګړتياوې او د سرغړونې پنځه موارد په نښه کړې. دا موندنې پلټونکي وهڅولې تر څو په مجموعي ډول 97,363 ډالر په مشکوک مصارفو کې حساب کړي. پلټنې هيڅ کوم غير قانوني لګښت په ګوته نه کړ. علاوه پردې، کروې هورواث ومونده چې WOCCU په يو مورد کې 1,053 ډالره پيسې چې د USAID لخوا د رامنځته شوي پرمختګونو څخه لاسته راغلې وې، وسپارې.

سيګار د قرارداد مامور ته سپارښتنه کوي چې:

- د 97,363 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي څيړنه وکړي او د غيرقانوني مصارفو په صورت کې بيرته لاسته راوړي.
- که مناسبه وي، 1,053 ډالره ګټه چې د پرمختګونو څخه لاسته راغلې ده، تر لاسه کړي.
- WOCCU ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه شپږ موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.
- WOCCU ته مشوره ورکړي چې د سرغړونې په اړه پنځه موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.

### FA-15-14 مالي پلټنه: د افغان مدني ټولنې پروژې د پرمختګ لپاره د USAID نوښت: د هغه لګښتونو پلټنه چې د کونټرپارټ انترنيشنل، انکارپوريشن لخوا مصرف شوي

USAID د افغان مدني ټولنې د پروژې پرمختګ لپاره د کونټرپارټ انترنيشنل انکارپوريشن سره يو تعاوني موافقت لاسليک کړ. د دې پروژې موخه دا وه چې د تخنيکي مرستې او د ظرفيت لوړاوي په مرسته، د غير دولتی موسسو د تقويه کونکی قانون د عملي کولو له لارې، او د مدني ټولنې د موسسو سره د ورو مرستو قرارداد او اداره کولو له لارې "د غيرثابت افغان مدني ټولنو په پراختيا" کې مرسته وکړي. د سيګار په دې پلټنه کې د 2005 د جنورې 3 څخه د 2010 کال د سپتمبر تر 30 پورې دوره شامله وه او د مايرهوفمن ميکنن P.C. لخوا ترسره شوه. چې 27,179,524 ډالره مصارف پکې شامل و.

مايرهوفمن ميکنن P.C. ومونده چې د 815,317 ډالرو پرته چې احتمالن مشکوک مصارف دي د فنډ د حساب ورکونې بيانيه د عايداتو او مصارفو په شمول په ټولو مواردو کې د قرارداد سره سم ترتيب شوې. مايرهوفمن ميکنن P.C. د مخکينی پلټنې 25 موارد په ګوته کړل چې د بيانيې په موادو يې بالقوه اغيزه درلود. په دې ټولو مواردو کې مناسب اصلاحي ګامونه پورته شوي و. همدارنګه مايرهوفمن ميکنن P.C. د داخلي کنترول د نواقصو په اړه يو مورد او د مقرراتو څخه د سرغړونې په اړه يو مورد په ګوته کړ. دغه موندنې پلټونکو دې ته اړ کړ چې په مجموعي ډول 815,317 ډالر مشکوکو مصارفو کې وشميري. پلټنې هيڅ کوم غير قانوني لګښت په ګوته نه کړ.

سيګار USAID ته دوې سپارښتنې وړاندې کړې:

- د 815,317 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي څيړنه وکړي او د غيرقانوني مصارفو په صورت کې بيرته لاسته راوړي.
- کونټرپارټ انترنيشنل ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه يو مورد چې په راپور کې راغلی بررسي کړي.

## FA-18-14 مالي پلټنه: د USAID د ښوونکو لپاره د تعلیمي سیستم جوړولو پروژه او د ټولنې په اساس د ثبات د مرستو پروژه: د هغه لګښتونو پلټنه چې کریتیف اسوشیتس انترنیشنل، انکارپوریشن لخوا مصرف شوي

USAID د کریتیف اسوشیتس انترنیشنل (CAII) سره قرارداد لاسلیک کړ تر څو د ښوونکو لپاره د تعلیمي سیستم جوړولو پروژې (BESST) سره مرسته وکړي او د ټولنې په اساس د ثبات د مرستو پروژې (CBSG) د عملي کولو لپاره یې یو تعاوني موافقت لیک لاسلیک کړ. د سیګار په پلټنه کې د BESST پروژې د 2006 کال د جنوري 27 څخه د 2011 کال د اګست 31 پورې دوره او د CBSG پروژې د 2010 کال د مارچ 7 څخه د 2012 کال د مارچ 6 پورې دورې شاملې وې. دا پلټنه د مایرهوفمن .P.C لخوا ترسره شوه او 134,997,303 ډالره مصارف پکې شامل و.

د BESST پروژې موخه دا وه چې (1) په 11 ولایتونو کې ښوونکو ته د روزنې له لارې د زده کړې بهیر پیاوړی کړي، او (2) د ښوونې د وزارت مسلکي ظرفیت پیاوړی کړي تر څو د درسي کتابونو د کلنۍ چاپ او ویش په شمول د باکیفیته ښوونې جوګه شي. د پروژې موخه دا وه چې د زیربناو د رغونې او د ترمیمي خدماتو له لارې وړې مرستې د افغانستان په شمالي، غربي، او مرکزي سیمو کې عملي کړي تر څو د بې ثباته ټولنو خلکو او جنګیالیو ترمنځ فاصله جوړه شي.

مایرهوفمن میکنن .P.C ومونده چې د فنډ د حساب ورکونې بیانیه د عایداتو او مصارفو په شمول په ټولو مواردو کې د قرارداد سره سم ترتیب شوې. برسیره پردې، مایرهوفمن میکنن .P.C د BESST پروژې د مخکینی پلټنې څخه دوه سپارښتنې وموندلې چې د یوې په اړه یې مناسب اصلاحي ګام نه و پورته شوی. پاتې سپارښتنه د CAII د یو فرعي قراردادي د پلټنې غوښتنه کوله. مایرهوفمن میکنن .P.C د دې فوق العاده غوښتنې د بررسۍ لپاره د CAII فرعي قراردادي ځینې نمونې تر آزموینې لاندې ونیولې. مایرهوفمن میکنن .P.C په ازمویل شوې نمونو کې هیڅ پیدا نه کړه او پدې سره یې د پاتې سپارښتنې غوښتنه هم بنده کړه.

مایر هوفمن میکنن .P.C د داخلي کنترول د نواقصو په اړه یوه مورد (په BESST پروژه کې) او د سرغړونې په اړه درې موارد (دوه یې په BESST پروژه کې او یوه یې په CBSG پروژه کې) په ګوته کړل چې له امله یې په مجموعي ډول 344,479 ډالره لګښت مشکوک مصارف وباله. پدې مشکوکه مصارفو کې 342,846 ډالره غیر قانوني مصارف او 1,633 ډالره بې اسناده مصارف شامل و.

سیګار د USAID/افغانستان د ماموریت رییس ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- د 344,479 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي ځیړنه وکړي او د غیرقانوني مصارفو په صورت کې بیرته لاسته راوړي.
- CAII ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه یو مورد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.
- CAII ته مشوره ورکړي چې د سرغړونې په اړه درې موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.

## FA-19-14 مالي پلټنه: د USAID د ټولنیز پرمختګ پروګرام: د هغه لګښتونو پلټنه چې د مرسي کورپس لخوا مصرف شوي

USAID د ماشومانو د خوندیتوب فیدریشن سره یوځای د ټولنیز پرمختګ پروګرام څخه د ملاتړ لپاره له مرسي کورپس سره یو تعاوني موافقت لیک لاسلیک کړ. د سیګار په دې پلټنه کې د 2009 د مارچ 10 څخه د 2011 کال د دسمبر تر 31 پورې دوره شامله وه او د مایرهوفمن میکنن .P.C لخوا ترسره شوه. چې 69,050,785 ډالره مصارف پکې شامل و.

د ټولنیز پرمختګ پروګرام په ټول افغانستان کې د 11 ولایتونو خلکو ته د کار په بدل کې د پیسې پروګرام تطبیق کوي. دا پروګرام موخه لري چې د هیواد په ډېرو زیانمن کیدونکو برخو کې خلکو ته موقتي کارونه برابر کړي لکه د سړکونو ترمیم، د فاضله موادو لرې کول، یا هم د زیربناو بیارغول.

مایر هوفمن میکنن .P.C د فنډ د حساب ورکونې په بیانیه کې د 682,241 ډالرو مشکوک مصارفو موندلو څخه وروسته چې د فنډ حساب ورکونې په بیانیه کې د غلطو معلوماتو پر شتون دلالت کوي، خپل مسلکی نظر وړاندې کړ. همدارنګه مایر هوفمن میکنن .P.C دوه مخکینی سپارښتنې په ګوته کړې چې د فنډ د حساب ورکونې پر بیانیه یې مادي اغیزې درلودې او دا یې معلومه کړه چې د یوې سپارښتنې په ځواب کې مناسب اصلاحي ګام ندی پورته شوی. په خاصه توګه، مرسي کورپس د داخلي کنترول په اړه د یو ضعف په مقابل کې چې د ماشومانو د خوندیتوب فیدریشن له لوري د فیدرالي فنډ د کارونې د څارلو په اړه ویل شوی و، مناسب ګام ندی پورته کړی. علاوه پردې، مایر هوفمن میکنن .P.C د داخلي کنترول د نواقصو په اړه شپږ موارد او د سرغړونې په اړه درې موارد په ګوته کړل چې له امله یې په مجموعي ډول 682,241 ډالره لګښت مشکوک مصارف وباله. پدې مشکوک مصارفو کې 2,296 ډالره غیر قانوني مصرف او 679,945 ډالر یې بې اسناده مصارف دي.

سیګار د USAID/افغانستان د ماموریت رییس ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- د 682,241 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي څېړنه وکړي او د غیرقانوني مصارفو په صورت کې بیرته لاسته راوړي.
- مرسي کورپس ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه شپږ موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.
- مرسي کورپس ته مشوره ورکړي چې د سرغړونې په اړه درې موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.

## FA-20-14 مالي پلټنه: د USAID د ټولنیز پرمختګ پروګرام: د هغه لګښتونو پلټنه چې د مرکزي آسیا د پراختیایي ګروپ لخوا مصرف شوي

USAID د ټولنیز پرمختګ پروګرام څخه د ملاتړ لپاره له مرسي کورپس سره یو تعاوني موافقت لیک لاسلیک کړ. د سیګار په دې پلټنه کې د 2009 د مارچ 12 څخه د 2013 کال د جون تر 30 پورې دوره شامله وه او د مایرهوفمن میکنن .P.C لخوا ترسره شوه. چې 254,540,870 ډالره مصارف پکې شامل و.

د ټولنیز پرمختګ پروګرام (پخوا د ښاري خلکو لپاره د خوړو نه خوندیتوب د غبرګون په نوم یادیده) موخه دا وه چې د افغانستان په 16 ولایتونو کې تر هدف لاندې خلکو او ټولنو ته د کار په بدل کې د پیسو پروګرام له لارې موقتي کار برابر کړي.

مایرهوفمن میکنن .P.C ومونده چې د 7,853,478 ډالره مشکوک مصارف او د 9,613 ډالره ورک شوي ګټې پرته د فنډ د حساب ورکونې بیانیه د عایداتو او مصارفو په شمول په ټولو مواردو کې د تعاوني موافقت لیک سره سم ترتیب شوې. دوی د پخوانیو پلټنو څخه کومه سپارښتنه ونه مونده چې تعقیب یې کړی یا هم د اصلاحي ګام غوښتنه وکړي. پهرصورت، مایر هوفمن میکنن .P.C د داخلي کنترول د نواقصو په اړه نهه موارد او د سرغړونې په اړه پنځه موارد په ګوته کړل چې له امله یې په مجموعي ډول 7,853,478 ډالره لګښت مشکوک مصارف وباله. پدې مشکوک مصارفو کې 563,477 ډالره غیر قانوني مصرف او 7,290,001 ډالر یې بې اسناده مصارف دي.

سیګار د USAID/افغانستان د ماموریت رییس ته څلور سپارښتنې وړاندې کړې:

- د 7,853,478 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي څیړنه وکړي او د غیرقانوني مصارفو په صورت کې بیرته لاسته راوړي.
- 9,613 ډالره ګټې چې ورکې شوې دي بیرته ترلاسه کړي.
- CADG ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه نهه موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.
- CADG ته مشوره ورکړي چې د سرغړونې په اړه پنځه موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.

### FA-23-14 مالي پلټنه: د ښاري خلکو لپاره د USAID د خوړو نه خوندیتوب د مرستو پروګرام: د هغه لګښتونو پلټنه چې د ورلډ ویژن لخوا مصرف شوي

USAID د ورلډ ویژن سره یو تعاوني موافقت لیک لاسلیک کړ تر څو د ښاري خلکو لپاره د خوړو نه خوندیتوب د مرستو (FIRUP) له پروګرام سره مرسته وکړي. د سیګار په دې پلټنه کې چې کروې هورواث LLP لخوا ترسره شوې وه د 2009 د مارچ 11 څخه د 2011 کال د جنوري تر 15 پورې دوره شامله وه او 11,034,373 ډالره مصارف پکې شامل و.

د ورلډ ویژن سره د USAID د تعاوني موافقت لیک موخه دا وه چې د افغانستان په غربي ولایتونو کې لکه هرات، غور او بادغیس، د کار په بدل کې د پیسو کاري موقې په برابرولو سره د FIRUP پروګرام څخه ملاتړ وکړي، په یادو کارونو کې د زراعتي صنعت پراختیا، او د محلي زیربناو پراخونه او وده شامله ده.

کروې هورواث د نوموړي شرکت د فنډ د حساب ورکونې بیانیې په اړه خپل عدم مسولیت اعلان کړ د دې لپاره چې پلټونکو نشو کولی د ورلډ ویژن د فنډ د حساب ورکونې بیانیه کې د ملي دفتر هغه عملیاتي لګښتونه معلوم کړي چې یو ځل یې د FIRUP پروګرام په مستقیم مصرف کې شمیرلي او بیا یې د ګڼو قراردادونو په غیر مستقیم مصرف کې شمیرلي. ورلډ ویژن خپل مستقیم لګښتونه یې بیا په غیر مستقیمو لګښتونو کې شمیرلي تر څو د بودیجې له محدودیت څخه چې په تعاوني موافقت لیک کې وضع شوې ده زیات نشي. نو په نتیجه کې، ورلډ ویژن کیدای شي د غیر مستقیمو مصارفو له لارې د فیدرالي قراردادونو پیسې خپل نورو پروژو (د نورو فیدرالي پروژو په

شمول) ته چې په هغه وخت کې درلودې ليږدولې وي. د ورلډ ويژن دويم واري شميرنه د OMB Circular A-122 له قانون څخه سرغړونه ښيي چې د دې په اساس پيسې بايد د مناسبو مواردو څخه ترلاسه شي. علاوه پردې، د غيرمستقيمو مصارفو د موافقې II برخه غوښتنه کوي چې مشابه لګښتونو سره بايد سم چلند وشي. دا پلټنه يوازې د USAID د تعاوني موافقت ليکونو پورې محدوده وه، ځکه نو کروې هورواث نشو کولی تر څو د مصارفو د دويم واري شميرنې اغيزې پر نورو قراردادونو وڅيړي. دا موضوع د سيګار د تحقيقاتو رياست ته وسپارل شو.

کروې هورواث د FIRUP پروګرام پورې اړوند د مخکينی پلټنې دوې موندنې پيدا کړې چې د يوې سپارښتنې په اړه يې ورلډ ويژن کوم مناسب اصلاحی ګام نه و پورته کړی. کروې هورواث د داخلي کنترول د نواقصو په اړه اووه موارد او د سرغړونې په اړه نهه موارد په ګوته کړل چې له امله يې په مجموعي ډول 674,049 ډالره لګښت مشکوک مصارف وباله. پدې مشکوک مصارفو کې 667,795 ډالره غير قانوني مصرف او 6,254 ډالر يې بې اسناده مصارف دي.

سيګار د USAID/افغانستان د ماموريت رييس ته څلور سپارښتنې وړاندې کړې:

- د 674,049 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي څېړنه وکړي او د غيرقانوني مصارفو په صورت کې بيرته لاسته راوړي.
- که مناسبه وي، 295 ډالره ګټه چې د پرمختګونو څخه لاسته راغلې ده، تر لاسه کړي.
- ورلډ ويژن ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه اووه موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.
- ورلډ ويژن ته مشوره ورکړي چې د سرغړونې په اړه نهه موارد چې په راپور کې راغلي بررسي کړي.

## FA-29-14 مالي پلټنه: د ښاري خلکو لپاره د USAID د خوړو نه خونديتوب د مرستو پروګرام: د هغه لګښتونو پلټنه چې د پاملرنې نړيواله موسسې لخوا مصرف شوي

USAID د پاملرنې نړيواله موسسې سره يوه تعاوني موافقه لاسليک کړه تر څو د FIRUP څخه ملاتړ وکړي. دا پلټنه چې کروې هورواث لخوا ترسره شوې وه د 2009 د مارچ 8 څخه د 2011 کال د نومبر تر 30 پورې دوره شامله وه. پدې کې59,964,229 ډالره مصارف پکې شامل و.

د پاملرنې نړيواله موسسې څخه غوښتل شوي وه تر څو د کابل او د هغې شاوخوا کلو کې د FIRUP د پروګرام ملاتړ وکړي. نوموړي موسسې خپل کارونه د کار په بدل کې د پيسو فعاليتونو له لارې ترسره کول لکه د کندو تخليه او جوړول، د سړک د سطحې بياجوړول او جغل اچول، د کانالونو پاکول، د ميوو او انګورو باغونه يوی کول، او نور زراعتي کارونه.

کروې هورواث د فنډ د حساب ورکونې بيانيې د سموالی په اړه يو غير اصلاح شوې نظر وړاندې کړ. کروې هورواث د پروګرام په اړه د مخکينيو پلټنو څخه کوم پاتې اصلاحي ګام او همدارنګه د داخلي کنترول کوم نواقص ونه مونده. نوموړې پلټنې د مقرراتو څخه د سرغړونې يو مورد په ګوته کړ او هغه داسې چې د فيدرالي موافقې وروستی مالي راپور د ټاکلی نيټې څخه وروسته سپارل شوی وه، خو کروې هورواث د دې له امله کوم لګښت مشکوکه ونه باله.

سیگار د USAID/افغانستان د ماموریت رییس ته یوه سپارښتنه وړاندې کړې:

- د پاملرنې نړیوالې موسسې ته مشوره ورکړي تر څو د سرغړونې یو مورد چې په راپور کې راغلې دی بررسي کړي.

## تفتیشات

سیگار پدې ربعه کې د تفتیشاتو درې راپورونه خپاره کړل. په بشپړ شوي تفتیشاتو کې وموندل شو چې د شرنې په فارورډ آپریټنګ بیس (FOB) کې د 5.4 میلیون ډالرو په لګښت سونځایونه جوړ شوي خو تراوسه ندي کارول شوي او اضافي شیان لاهم په سرخلاصه کندو کې سوځول کیږي، په بلخ ولایت کې یوه غیرخوندي تعلیمي ودانۍ جوړه شوې ده، او د سالنګ روغتون د ساختماني نیمګړتیاو په څنګ کې د اوبو او بریښنا سیستم هم نلري چې له امله یې خدمات په شدیده توګه محدود شوي دي.

د روان کار په څنګ کې، سیگار د کابل په ختیځ کې د پلچرخي ولایتي زندان په اړه، په هلمند ولایت کې د ګرشک د یخ خونې او وچولو ځای په اړه، او د بغلان ولایت د ولایتي زندان په اړه هم تفتیشات پیل کړي.

### IP-13-14 تفتیش: د شرنې فارورډ آپریټنګ بیس: کمزوری پلان جوړونه او تعمیر د دې لامل شو چې 5.4 میلیونه ډالر د داسې سونځای لپاره مصرف شي چې نه کارول کیږي او اضافي مواد لا هم په سرخلاصه کندو کې سوځول کیږي

د متحده ایالاتو د پوځي انجینرانو قطعه (USACE) د 5.6 میلیونه ډالرو په لګښت د انترنیشنل هوم فاینس اینډ ډیولوپمنټ، یوه کمپنۍ چې دفتر یې د کولراډو په ډینور کې دی، سره د 2009 کال د سپتمبر په 18 یو قرارداد لاسلیک کړ تر څو د شرنې په FOB کې د جامدو فاضله موادو د مدیریت لپاره یو تعمیر جوړ کړي. د قرارداد په وخت کې، یاد مرکز د خپلو اضافي موادو له مینځه وړلو لپاره د سرخلاصو کندو څخه کار اخیسته. د آیساف چارواکو په ټول افغانستان کې د شرنې د FOB په شمول، د خپلو پوځي مرکزونو لپاره ګنو دلایلو له مخې د فاضله موادو سونځایونه جوړ کړي. د ځانګړې اندیښنې خبره هغه احتمالي خطرونه دي چې په ازاده هوا کې د جامدو موادو له سوځیدو ورسته خپریږي او د کارمندانو روغتیا له ګواښ سره مخ کوي.

سیگار ارزوي چې (1) آیا تعمیر د قرارداد شرطونو او د استعمال وړ معیارونو سره سم ترسره شوې دی، (2) آیا سون ځایونه او مرستندویه تسهیلات د کوم مقصد لپاره چې جوړ شوي کارول او ساتنه کیږي.

سیگار ومونده چې د سونځایونو له جوړیدو څخه نږدې درې کاله وروسته لا هم د شرنې په FOB کې دا تعمیرونه ندي کارول شوي. سره له دې چې په ودانۍ کې تعمیري او د خوندیتوب نواقص شته او د قرارداد په اساس سم کار ندی شوی بیا هم USACE سونځایونه د قرارداد کونکي څخه تسلیم شوي او پرته له دې چې د سونځایونو کار او فعالیت وازمویي 5.4 میلیون ډالره یې ورته سپارلي. برسیره پردې، که چیرته ومنو چې د سونځایونو عملیاتي کار سم دی، بیاهم د تعمیر کمزوری فیزیکي بڼه د پروسس وړتیا یې د هغه څخه په مقایسه چې قرارداد یې غوښتنه کړې 80% کمیږي، او د اضافي موادو د انتقال لپاره لا هم زیات بشري ځواک ته اړتیا لري.

#### بشپړ شوي تفتیشات

- IP-13-14 تفتیش: د شرنې فارورډ آپریټنګ بیس: کمزوری پلان جوړونه او تعمیر د دې لامل شو چې 5.4 میلیونه ډالر د داسې سونځای لپاره مصرف شي چې نه کارول کیږي او اضافي مواد لا هم په سرخلاصه کندو کې سوځول کیږي
- IP-24-14 تفتیش: د بلخ تحصیلي ودانۍ: تعمیر د پنځه کلونو له تیریدو څخه وروسته اوس هم نیمګړی او ناخوندي دی
- IP-31-14 تفتیش: د سالنګ روغتون: د بریښنا او اوبو نشتوالی د روغتون خدمات یې په شدیده توګه محدوده کړې او لوی تعمیراتي نواقص د خوندیتوب په اړه اندیښنې راپورته کړې



د شرنې FOB **کې دوهسون ځایونه چې هر یو یې 40 ټنه ظرفیت** لري. (د سیگار تصویر د رابرت ریواس لخوا)

که چیرته د پلان سره سم دا سونځای د 2010 کال په اګست کې کارول شوی و نو د شرنې FOB به اوس د سرخلاصه کندو څخه استفاده نه کوله. پهرصورت، د ځنډ او د نه کاریدونکی سونځای د منلو له امله د مرکز پرسونل لا هم د خطرناکو وړانګو سره مخ کیږي، او د متحده ایالاتو د مالیه ورکونکو 5.4 میلیونه ډالر کیدای شو چې په یو ګټور ځای کې مصرف شوی و.

سیګار د USACE عمومي قوماندان ته سپارښتنه وکړه چې: (1) د هغه شرایطو په اړه پلټنه وکړي چې د هغې په اساس د شرنې FOB سونځای د 5.4 میلیون ډالرو په لګښت اوسنی قرارداد کونکی څخه منل شوې ده او (2) د دې پلټنې د نتایجو په اساس وګوري چې آیا د قرارداد د مامور(ینو) په وړاندې کوم اقدام ته اړتیا شته که نه.

## IP-24-14 تفتیش: د بلخ تحصیلي ودانې: تعمیر د پنځه کلونو له تیریدو څخه وروسته اوس هم نیمګړی او ناخوندي دی



د سپټیک ذخیرې لاره نه **د چودن اوسپنې پوښ** لري نه هم یوه دایمي زینه لري، پداسې حال کې چې دواړه یې د قرارداد په شرایطو کې راغلي دي. (د سیګار تصویر د مایک تین-کیت لخوا)

د 2008 کال په می کې USAID د USACE سره د ادارو د مشترک پروګرام موافقه (PAPA) لاسلیک کړه تر څو په افغانستان کې د ښوونکو د روزنې لپاره ګڼ شمیر "تحصیلي ودانۍ" قرارداد او څارنه وکړي. د 2009 کال په فبروري کې چې دا پروګرام پیل شو، USACE د PAPA په اساس د افغانستان په درې شمالي ولایتونو کې د دریو تحصیلي ودانیو قرارداد لاسلیک کړ چې یوه یې د بلخ ولایت په مزار شریف ښار کې و. د 2013 کال په جنوري کې USAID د PAPA موافقه پای ته ورسوله او د دې ودانیو مسولیت یې پخپله غاړه واخیست.

سیګار د دې تفتیش په ترڅ کې د بلخ ولایت دا ودانۍ وڅیړله تر څو معلومه کړي (1) د تعمیرونو کار د قرارداد او د عملي کیدو وړ قوانینو سره سم ترسره شوی، او (2) یاد مرکزونه د کومو موخو لپاره چې جوړ شوي کارول کیږي.

سیګار ومونده چې د بلخ تحصیلي ودانۍ د قرارداد له شرایطو او تخنیکي مشخصاتو سره سم ندي جوړ شوي. په نتیجه کې، پنځه کاله وروسته له دې چې د ودانیو کار پیل شوی USAID نشي کولی دا تعمیرونه افغاني چارواکو ته وسپاري. او ګڼ شمیر موارد په ګوته کړل تر څو د قرارداد کونکي لخوا ترمیم شي لکه یوه څڅیدونکې کوټه، د بریښنا نیمګړې لین دواني، او د پرله پسې کوټو د بام ناسم میل. د USAID تخنیکي دفتر او د قرارداد مسولینو د تدارکاتو لپاره یوه بله ستراتیژي جوړه کړې تر څو د پاتې کار او ترمیمي مسایلو لپاره یې قرارداد کړي او تمه کیږي چې د 2014 کال په نیمایي کې بشپړ شي.



**د سیګار پلټونکو د دویم** چت داسې یوه کتاره ومونده چې د صنف دروازې خوا ته میلان لري، او د دې لپاره چې د باران اوبه له دې لارې څخه تویې نشي یو مانع ته اړتیا لري. (د سیګار تصویر د لیس تامسن لخوا)

سیګار ځینې نور موارد هم په ګوته کړل چې ترمیم ته اړتیا لري خو د USAID په اوسنی تدارکاتي پلان کې نیول شوي ندي. د مثال په ډول، د فاضله اوبو هغه پایپونو چې د پاکو اوبو د نلونو د پاسه تیریږي په کانکریټو ندي پوښ شوي، او همدارنګه د بهرنۍ زینو ابعاد د تعمیراتو د نړیوال قانون له شرایطو سره برابر ندي. همدارنګه سیګار وموندل چې USAID د تعمیر د چت او سپټیک ذخیرې د جوړښت محاسبه نده کړې؛ حال دا چې په ودانۍ کې د تعمیر د چت او د سپټیک ذخیرې محاسبه ضروري ده تر څو معلومه شي چې هغه وزن پورته کولی شي چې پر دوی راځي که نه. د داسې محاسبو نشتوالی د تعمیر د روغتیایي او خوندیتوب مسایلو په اړه اندیښنې زیاتوي ځکه چې USAID کافي اطمینان نلري چې آیا په کوم ځای کې د تعمیر د پریوتو امکان شته که نه.

همدارنګه سیګار وموندل چې، سره له دې چې تعمیر د اشغال لپاره ندی منل شوې خو بیا هم د افغان محصلینو لخوا کارول کیږي. د سیګار د تفتیش په اړه د لنډ تفصیل څخه وروسته، USAID د افغان لوړو زده کړو وزارت څخه غوښتنه وکړه چې تعمیر د وروستی ترمیم او رسمي سپارلو تر مودې پورې تش کړي.

د دې لپاره چې یقیني شي د بلخ تحصیلي ودانۍ د پوهنځي او محصلینو اړتیاوې پوره کوي او د خوندیتوب شرایط بشپړ کوي، او د متحده ایالاتو پانګونه خوندي پاتې کیږي، سیګار د USAID د ماموریت رییس ته سپارښتنه وکړه چې (1) د تدارکاتي پلان کاري حدود د تعمیر هغو نیمګړتیاو ته هم وغزوي چې د سیګار لخوا په ګوته شوي؛ او (2) د تعمیر د اسنادو، د کار د جریان تصویرونو، او د کیفیت د یقیني کولو راپورونو له مخې د تعمیر د چت او سپتیک ذخیرې جوړښت محاسبه کړي تر څو معلومه شي چې آیا د تعمیر اجزا د تعمیراتو نړیوال قانون د 2003 کال له بنې سره سم دي او د چا ژوند او شتمني ته زیان نه رسوي، او همدارنګه تر 90 ورځو پورې سیګار ته د دې تحلیل د نتایجو او د هر ډول پلان شوی اصلاحي ګام په اړه راپور ورکړي.

## IP-31-14 تفتیش: د سالنګ روغتون: د بریښنا او اوبو نشتوالی د روغتون خدمات یې په شدیده توګه محدوده کړې او لوی تعمیراتي نواقص د خوندیتوب په اړه اندیښنې راپورته کړي



د سالنګ په **روغتون کې یو څخیدونکی چت** چې له امله یې د کوټې په چت او دیوال کې چڼاسکو وده کړې ده. (د سیګار تصویر د بریان فلین لخوا)

د بګرام سیمه ایزه قراردادونو مرکز د 2009 کال د سپتمبر په 11 کې، د شفیع حکیمي کانسترکشن کمپني سره، چې یوه افغاني کمپني ده، د سالنګ 20 بستر روغتون د جوړولو قرارداد لاسلیک کړ. د دې قرارداد په اساس نوموړی شرکت د 597,929 ډالرو په لګښت د کارکونکو، موادو، او تجهیزاتو مسولیت په غاړه اخیستی و. د دې قرارداد په اساس چې د قوماندان د بیړنیو مرستو پروګرام (CERP) په فنډ ترسره شوی و او د کار موده یې 365 ورځې وې، ټاکل شوې وه ترڅو د شل بستر لرونکی روغتون سره د ایکسری ځای، درملتون، لابراتوار، د نارینه او ښځینه وارډونه، او د ماشومانو، غاښونو، او ذهني روغتیا د خدماتو لپاره ځایونه جوړ شي. د قرارداد یو شرط دا و چې د بریښنا، اوبو او د سپتیک سیستمونه جوړ شي، د تشنابونو لپاره بیل ځای په نظر کې ونیول شي او همدارنګه د محافظ خونه هم جوړه کړای شي. د 2012 کال په سپتمبر کې د پروان والي نوموړی روغتون تسلیم شو، او د 2013 کال په جنوري کې یې د ناروغانو په منلو پیل وکړ.

سیګار پدې تفتیش کې وارزول چې آیا (1) تعمیر د قرارداد او د عملي کیدو وړ قوانینو سره سم جوړ شوی، او (2) تعمیرات د کومې موخې لپاره چې جوړ شوي کارول کیږي که نه.

سیګار وموندل چې د سالنګ روغتون د قرارداد د شرایطو سره سم ندی جوړ شوی. د 2012 کال په منځ کې د متحده ایالاتو ځواکونه-افغانستان (USFOR-A) یو عملیاتي ځواک د ودانۍ په ترڅ کې له ساحې څخه لیدنه وکړه او د اوبو، فاضله اوبو، بریښنا، او د تودوخې په سیستمونو کې یې ځینې نیمګړتیاوې وموندلې چې ترمیم او بیارغونې ته یې اړتیا درلودې. نوموړی عملیاتي ځواک ویلي چې د دغو نیمګړتیاو د پوره کولو او د پاتې تجهیزاتو د چمتو کولو څخه پرته د سالنګ اوسیدونکي به روغتیایي خدماتو ته سمه لاسرسي پیدا نکړي. د 2012 کال په اکتوبر کې قرارداد کونکي ته ټولې پیسې ورکړ شوې.



**داسې یو یخچال چې د پروپان** په مرسته کار کوي د سالنګ په روغتون کې د واکسین د ساتلو یواځینی لاره ده، څکه چې نوموړی روغتون کافي بریښنا نلري. (د سیګار تصویر د بریان فلین لخوا)

پهرصورت، سیګار د 2013 کال د نومبر په تفتیش کې ومونده چې د عملیاتي ځواک لخوا په ګوته شوي نواقص لا تراوسه ندي سم شوي. د مثال په ډول، د اوبو څاه، د بریښنا سولر سیستم، او 30 کیلو واټه ظرفیت لرونکی دویم جنریټر چې په قرارداد کې غوښتل شوي و لا تر اوسه ندي برابر شوي. په روغتون کې د پاکو اوبو د نشتوالی له امله، د روغتون کارکونکو به نوي زیږیدلي ماشومان د سیند په ناپاکو اوبو مینځل. د سیګار مفتیشنو ځینې نورې ستونزې هم پیدا کړې. د مثال په ډول، د تعمیر په اصلي نقشه کې درې ودانۍ غوښتل شوي —یو 15 کوټې درلودونکی روغتون، یو تشناب چې څلور غرفې لري، او یوه د محافظ خونه— مګر قرارداد کونکی یوازې یوه دوه پوړیزه وداني جوړه کړې چې هغه هم نواقص لري.

سیګار همدارنګه په خپل تفتیش کې د دې دوه پوړیزه وداني د خوندیتوب په اړه هم مهمې ستونزې معلومې کړې. د درې انچو په اندازه یوه توسعه روغتون په منځ کې نیمايي کوي چې پدې سره د یو فلزي چت لاندې دوه پوړونه جوړیږي. د روغتون بهرنی دیوال د کانکریټي ستنو ترمنځ د خښتو دیوال جوړ شوی پداسې حال کې چې استحکام نلري. لکه څنګه چې د سالنګ ولسوالي د افغانستان په داسې زون کې ده چې زلزلې پکې زیاتې کیږي بناء د وداني داسې کمزوری جوړښت ډیر احتمال لري چې د یوې زلزلې په ترڅ کې پریوځي.

همدارنګه سیګار ومونده چې د سالنګ روغتون ډیر خدمات چې اټکل شوی و نه وړاندې کوي، د روغتون کار کونکي یوازې د تعمیر 35% ساحه کاروي، او دا چې روغتون د ټاکل شوې اندازې د 20% څخه هم لږ کارکونکي ګومارلي دي. د روغتون د ډاکترانو او نرسانو په وینا، د روغتون محدوده کارونه — د بریښنا، اوبه، فرنیچر، او تجهیزاتو د نشتوالی له کبله — دوی نه پریږدي چې خلکو ته مناسب طبي خدمات وړاندې کړي.

سیګار د USFOR-A عمومي قوماندان ته سپارښتنه کوي چې د USFOR-A اړوندو واحدونو ته امر وکړي تر څو لاندې ګامونه پورته کړی او تر 90 ورځو پورې سیګار ته راپور ورکړي: (1) د سالنګ روغتون د تعمیر د څارنې مسول قراردادي مامور(ین) په نښه کړي او معلومه کړي چې: (a) ولې روغتون د قرارداد د شرایطو او منل شوي معیارونو سره سم ندی جوړ شوی؛ (b) ولې اړین اسناد د CIDNE په ډیټابیس کې ندي ثبت شوي؛ او (c) د هغه قراردادي مامور په وړاندې کوم تادیبي اقدام ترسره شي چې د تعمیر د څارنې مسولیت یې په غاړه وه او خپل مسولیت یې ندی ترسره کړی؛ (2) د تعمیر فیزیکي بڼه تفتیش کړي، د انجینري اړوند ټیسټونه او تحلیلونه ترسره کړي په خاصه بیا دا موضوع چې روغتون په یوه زلزلیزه سیمه کې موقعیت لري بناء کومو اصلاحاتو ته اړتیا شته تر څو د تعمیر ساختماني انسجام او ټینګوالی یقیني شي.

## د سیګار د سپارښتنو وضعیت

د عمومي پلټونکی د 1978 کال لایحه د سیګار څخه غوښتنه کوي چې د خپل سپارښتنو د وضعیت په اړه راپور ورکړي. سیګار پدې ربعه کې 38 سپارښتنې وتړلې، چې د پلټنو او تفتیشانو په نهو راپورونو کې وړاندې شوې وې. دې سپارښتنو د امریکا د مالیه ورکونکو له 10 میلیونه ډالرو څخه زیات خوندي کړي.

هغه اصلاحي ګامونه چې د تړل شوي پلټنو د سپارښتنو په ځواب کې پورته شوي عبارت دي له:

- د بهرنیو چارو وزارت په فنډ د قراردادونو بیاکتنه چې د عملي کونکو ملګرو څخه غوارې تر څو یوازې د برېښنایي انتقال یا هم سند لرونکې حوالې له لارې پیسې ولیږدوي. (11-13 پلټنه)؛
- USACE ته د هغې له ډیفنس بیس اکټ انشورینس پروګرام څخه نږدې 9.9 میلیونه ډالر بېرته ترلاسه کول. بېرته اخیستل شوې پیسې د عملي کېدو وړ قراردادونو، قراردادیانو، او د تخصیصاتو بانکي حساب ته لیږدول شوی، یا که چیرته تخصیصات لغوه شوی وي د متحده ایالاتو خزانې ته سپارل شوي دي. (11-15 پلټنه)؛
- د امریکا دفاع وزارت څخه د بهرنیو چارو وزارت او ورپسې USAID ته 101 میلیون ډالر لیږدول تر څو د هیواد په شمال ختیځ کې د برېښنا د سیستم پروژه عملي کړي. (12-12 پلټنه)؛ او
- د 45,454 ډالرو بېرته اخیستل چې د USAID یو تطبیق کونکی ملګری لخوا په غیر قانوني ډول په بیل کې لیکل شوي و. (13-3 مالي پلټنه)

د 2009 کال څخه د 2013 کال تر دسمبر پورې، سیګار د 114 پلټنو، خبرداری لیکونو، او تفتیشاتو راپورونه خپاره کړي او د فنډ بېرته اخیستنې، د ادارو د څارنې د ودې، او د پروګرامونو د موثریت زیاتولو لپاره یې 366 سپارښتنې کړې دي. سیګار د دې سپارښتنو 69% تړلې دي. د یوې سپارښتنې تړل په عمومي ډول دا معنا ورکوي چې اړونده اداره یا خو سپارښتنه عملي کړې ده یا هم ویل شوي موضوع یې په مناسب ډول بررسي کړې ده. په ځینو مواردو کې یوه تړل شوې سپارښتنه د یوې تعقیبي پلټنې موضوع جوړوي.
همدارنګه د عمومي پلټونکی د 1978 کال لایحې اصلاح شوې بڼه، د سیګار څخه غوښتنه کوي چې د هغه سپارښتنو په اړه هم راپور ورکړي چې اړوندې ادارې کوم اصلاحي ګام نه وي بشپړ کړی. سیګار پدې ربعه کې د 30 پلټنې او تفتیشاتو د سپارښتنو په اړه د ادارو کړونه بیا تر څارنې لاندې نیولې وې.
پدې سپارښتنو کې هیڅ کومه سپارښتنه داسې نه وه چې له وړاندې کولو څخه یې د 12 میاشتو څخه زیات تیر شوی وي او اړونده اداره د هغې په اړه داسې اصلاحي ګام نه وي پورته کړی چې د سیګار په اند د ستونزې د حل سبب کیږي. په هرډول، د پنځه پلټنو او تفتیشاتو سپارښتې داسې دي چې د 12 میاشتو څخه زیات تیر شوي او سیګار د هغې په ځواب کې د اصلاحي ګام عملي کولو لپاره د یو وزارت یا ادارې موافقې ته اړتیا لري.

## څانګړې پروژې

د سیګار د ځانګړو پروژو ټیم د دې لپاره جوړ شوی چې رابرسیره کیدونکې مسایل وڅیړي او په اړه یې فیدرالي ادارو او کانګرس ته بیرنی، او د عملي کیدو وړ راپورونه وړاندې کړي. دا ډله بیلابیلې ارزونې کوي او د افغانستان د بیارغونې په ټولو برخو کې راپورونه جوړوي. په دې څانګه کې پلټونکي، تحلیل کونکي، محققین، قانونپوهان، د اړوند مسایل ماهرین، او نور متخصصین راټول شوي او کولی شي د رابرسیره کیدونکې مسایلو او پوښتنو په مقابل کې بیرنی او په ګډه سره د حل لارې وړومبي. د راپور په دې دوره کې، د سیګار د ځانګړې پروژو دفتر د امریکا دفاع وزارت هغه حفاظتي اقداماتو په اړه یو ځانګړی راپور خپور کړ چې د افغانستان دفاع او داخلې وزارتونو سره د 4 میلیارده ډالره مستقیمه مرستو د خوندي ساتلو لپاره په نظر کې نیول شوي دي. همدارنګه یاد دفتر د هغه قرارداد

### د بشپړ شوې ځانګړې پروژو راپورونه

- SP-12-14 ځانګړې پروژه: د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د مالي مدیریت د ظرفیت په وړاندې د خطر هر اړخیزه ارزونه کولی شي د 4 میلیارده ډالر مستقیمه مرستې څارنې ته وده ورکړي
- SP-22-14 ځانګړې پروژه: د قوماندان د بیړنیو مرستو پروګرام د فنډ بررسي
- SP-25-14 ځانګړې پروژه: په 64,000 فټ مربع ځمکه کې ودانۍ چې تراوسه ندی اشغال شوی
- SP-27-14 ځانګړې پروژه: د افغانستان د بیارغونې سره د USAID مرسته: د 2002 او 2013 کلونو ترمنځ 13.3 میلیارده ډالر مقید شوي
- SP-28-14 ځانګړې پروژه: جیوسپاشیل معلوماتي پانه: د امریکا د پوځي انجینرانو قطعې ټاکلې پروژو او همدارنګه د کجکي بند پروژې ته د څارنې لاسرسي

کونکی په اړه چې ويل کيده د جنګياليو سره مرسته کوي او د ايتلاف ځواکونو کوم مرکز ته يې لاره موندلې ده، او د USAID د هغه مرستو په قرارداد کې د څارنې د نواقصو په اړه خبرداری ليکونه خپاره کړ چې د افغانستان د ملي برېښنا سره د دوه اړخيزه مستقيمه مرستو په چوکاټ کې ورکول کېږي. په همدې ډول معلوماتي پاڼې يې خپرې کړې او پدې کې يې د USAID هغه ستر تطبيق کونکي ملګري او د بيارغونې پروژې ښودلې وې چې په 2014 کال کې د امريکا د سرتيرو له وتلو څخه وروسته په اسانۍ سره يې څارنه نشي کيدای. هغه غيردولتي موسسو ته يې ليکونه واستول چې په افغانستان کې د فيدرالي ادارو سره کار کوي تر څو په افغانستان کې خپل غوره تجارب په ګوته کړي. همدارنګه DOD ته يې يو ليک واستوله او د CERP په اړه يې د معلوماتو غوښتنه وکړه.

همدارنګه ځانګړې پروژې د يو ليک له لارې اعلان کړه چې سيګار په هلمند ولايت کې د ليدرنيک کمپ د هغه ودانۍ په اړه خپل تحقيقات بيا شروع کوي چې په 64,000 فټ مربع ځمکه کې جوړه شوه تر څو سرتيري ترې ګټه واخلي او افغان هوايي ځواک ته د G-222 ډوله الوتکو د چمتو کولو تړل شوې پلان په اړه خپله بياکتنه پيل کړې ده.

## SP-12-14 ځانګړې پروژه: د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د مالي مديريت د ظرفيت په وړاندې د خطر هر اړخيزه ارزونه کولی شي د 4 ميلیارده ډالر مستقيمه مرستې څارنې ته وده ورکړي

کانګرس د 2005 کال څخه ديخوا د امريکا دفاع وزارت ASFF ته 52 ميليارده ډالر تخصيص کړي تر څو د ANSF په تجهيز، روزنه، مرکزونو، او پايښت يې مصرف کړي. DOD راپور ورکړی چې د 2013 کال تر سپتمبر پورې يې د کورنيو چارو او دفاع وزارتونو سره د 4.2 ميلیارده ډالر مستقيمه مرستو ژمنه او 3 ميليارده ډالر يې تاديه کړي تر څو د ANSF په پايښت يې مصرف (د خوړو، شيانو، او خدماتو برابرول؛ د معاشونو فنډ ورکول؛ او د وړو تعميراتو فنډ ورکول) کړي. دا فنډونه د CSTC-A لخوا څارل کيږي، کومه اداره چې د ANSF د روزنې او پرمختيا مسوليت په غاړه لري.

سيګار د روانو هڅو په لړ کې چې د فيدرالي ادارو لخوا په افغانستان کې د مستقيمه مرستو د څارنې په اړه يې ترسره کوي، دا بياکتنه يې په لاره اچولې تر څو وګوري چې د امريکا دفاع وزارت د افغانستان کورنيو چارو او دفاع وزارتونو لپاره کوم اقدامات په نظر کې نيولي تر څو مستقيمه مرستې سم مديريت کړي او د ضايع کيدنې، درغلۍ او ناوړه کارونې احتمالات له منځه يوسي. دا راپور (1) هغه پروسه تشريح کوي چې د امريکا دفاع وزارت لخوا د مستقيمه مرستو د ادارې او حساب ورکونې په برخه کې د افغانستان کورنيو چارو او دفاع وزارتونو د ارزونې لپاره کارول شوي دي، او (2) هغه معيارونه معلوموي چې د امريکا دفاع وزارت لخوا د مالي مديريت او داخلي کنترول په برخو کې د افغانستان کورنيو چارو او دفاع وزراتونو د ستونزو د هوارولو لپاره کارول شوي دي. سيګار خپل مشاهدات هم وړاندې کړې او ځينې وړانديزونه يې درلودل چې د مستقيمه مرستو د څارنې لپاره ګټور دي.

سيګار د څارنې په برخه کې ځينې نواقص په ګوته کړ چې د هغه مستقيمه مرستو د ضايع کيدنې، درغلي، او ناوړه کارونې خطر زياتوي چې ANSF ته ورکول کيږي. د مثال په ډول، د CSTC-A د معاينې په پروسه کې د وزارتونو د دفاترو انفرادي ظرفيت او کنترول

ارزول کیږي، او هغه خطرونه په نظر کې نه نیول کیږي چې د وزارتونو ترمنځ د فنډونو د انتقال پر بهیر یا هم د افغان حکومت د بودیجې او اجرایي پروسو په چوکاټ د مرستو په وړاندې موجود دي. CSTC-A د رواني پروسې په مرسته نشي کولی د هر وزارت اساسي وظیفوي ظرفیت معلوم کړي، داسې ترینران او تصمیم نیونکي برابر کړي چې د هر وزارت د عمومي مالی ادارې د ظرفیت په اړه هر اړخیزه پوهه ولري، یا هم هغه خطرونه معلوم کړي چې د کمزوری ظرفیت له امله منځته راتلی شي. علاوه پردې، د مالي خطر هغه ارزونه چې د CSTC-A لخوا ترسره کیږي د ځانګړی اسباب یا خدماتو د تدارکاتو پورې محدوده ده.

که څه هم امریکا تر اوسه پورې د ANSF سره په میلیاردو ډالر مستقیمه مرسته کړې، او د امریکا دفاع وزارت پلان لري چې دا مرستې لاهم زیاتې کړي، خو تراوسه پورې د امریکا دفاع وزارت د خطر په اړه هیڅ کومه هر اړخیزه ارزونه نده ترسره کړې تر څو د مالي مدیریت ظرفیت یا هم دامریکا فنډونو په وړاندې احتمالي خطرونه په ګوته کړی. هغه کسان چې له نږدې نه د دې وزارتونو سره کار کوي —د CSTC-A مشاورین— د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د کمزوری ظرفیت څخه خبر دي، مګر دوی د وزارتونو د مالي مدیریت پر عمومي بهیر محدوده پوهه لري. د امریکا دفاع وزارت د خطر کمولو د هراړخیزه ارزونې څخه پرته نشي کولی د امریکا د فنډونو په وړاندې خطرونه معلوم کړي، نه هم د خطرونو کمولو لپاره مناسب معیارونه جوړولی شي. په نتیجه کې، DOD نشي یقیني کولی چې کومې مرستې افغان دولت ته په مستقیمه توګه د ANSF د فنډ او تجهیز لپاره ورکول کیږي په سمه توګه ساتنه او کارول شي.

سیګار د امریکا دفاع وزیر ته یو وړاندیز او د CSTC-A قوماندان ته دوه وړاندیزونه وکړ تر څو د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ته د مستقیمه مرستو په مالي اداره او داخلي کنترول کې د موجودو نواقصو په لرې کولو کې مرسته وکړي. د امریکا د دفاع وزیر دفتر زمونږ له دې وړاندیز سره موافقه وکړه چې د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د مالي مدیریت د ظرفیت معلومولو لپاره باید یوه هر اړخیزه ارزونه ترسره شي. د دې راپور د یوې مسودې په اړه د نظر پر مهال، CSTC-A د سیګار له دې وړاندیز سره موافقه وکړه چې د ارزونې په بهیر کې باید د کنترولر ځانګې مشاورین او سلاکاران شامل کړای شي. CSTC-A د سیګار دې وړاندیز سره هم موافقه وکړه چې د CJ8 د ګومارل شوي کارکونکو په اړه هم له سره ارزونه وکړي تر څو یقیني شي چې د څارنې ماموریت د ترسره کولو جوګه دي. پهرصورت، CSTC-A وویل چې دا اداره د خطر په اړه خپله ارزونه د وړتیا د مهمو مسایلو نمره ورکولو او همدارنګه د CSTC-A او نورو ادارو د راپورونو او پلټنو په بنه ترسره کوي. همدارنګه CSTC-A وویل چې پلان لري خپل مشاورت د دفتري بڼې څخه عملي بڼې ته واړوي او همدارنګه په وزارت کې د بودیجوي کنترول د ودې لپاره د "پورته وړونکی" پروګرام تطبیق کړي.

## SP-22-14 ځانګړې پروژه: د قوماندان د بیړنیو مرستو پروګرام د فنډ بررسي

سیګار د 2014 کال د جنوري په 16 نیټه DOD ته یو لیک واستول او په افغانستان کې د CERP د مالي او کاري مسایلو په اړه د معلوماتو غوښتنه وکړه. د سیګار په وینا دا معلومات به ورسره مرسته وکړي تر څو د CERP په اړه خپله روانه څارنه په سمه توګه

ترسره کړي، او د هغه راپور په جوړولو کې مرسته کوي چې کانګرس له سیګار څخه غوښتې ده د CERP څخه زده شوي درسونه او غوره تجارب په ګوته کړي.

د سیګار تحلیل کونکو په وروستیو کې وموندل چې د CERP د 2013 مالي کال د فنډ یوه برخه چې د کانګرس لخوا تخصیص شوی و هیڅکله و نه کارول شو. په خاصه توګه، د امریکا دفاع وزارت د 2013 کال د سپتمبر تر پایه پورې چې د یادو فنډونو وروستی تاریخ و د 200 میلیون ډالرو څخه چې د CERP لپاره تخصیص شوي و یوازې 43.5 میلیون ډالر یې مقید کړی و. سیګار وموندل چې دا کومه نوې خبره نده. په تیرو شپږو مالي کلونو کې د امریکا دفاع وزارت د CERP د هغه فنډونو څخه چې د کانګرس لخوا تخصیص شوي و، یوازې 59% یې کارولي دي.

## SP-25-14 ځانګړې پروژه: په 64,000 فټ مربع ځمکه کې وداني چې تراوسه ندی اشغال شوې

سیګار د امریکا دفاع وزارت ته یو لیک واستول چې د هغه تصامیمو په اړه خپل تحقیقات بیا پیل کوي چې د لیدرنیک کمپ په 64,000 فټ مربع ځمکه کې د یو تعمیر د جوړیدو لامل شو او تراوسه لا نه استفاده کیږي. سیګار په جولای کې لیکلي و چې په هلمند ولایت کې دا تعمیر، چې په اصل کې ویل کیده د سرتیرو لپاره د مرکزیت رول ولوبوي، جوړ شوی و.

پنځه میاشتې وروسته پداسې حال کې چې دا راپور د خپریدو په حال کې و د سیګار لومړی لیک ته ځواب ولیږل شو. سیګار لا د مخه د 64,000 فټ مربع تعمیر په اړه د پوځ یوه نیمګړې مقرره 6-15 (AR) ترلاسه کړې وه چې د ستر جنرال ایم.ریچارډسن، د USFOR-A د قوماندان مرستیال، لاسلیک پرې شوی و. د جنرال ریچارډسن راپور د موضوع په اړه پوښتنې ولاړې کړې او سیګار یې وهڅول څو خپل تحقیقات له سره پیل کړي. سیګار د 2013 د نومبر په 27 کې د یو لیک له لارې د دفاع وزیر ته خپل تصمیم اعلان کړ. سیګار په خپل لیک کې غوښتنه کړې وه چې د یاد تعمیر په اړه د ټولو پخوانیو تحقیقاتو اسناد، د 2013 کال د می د AR 6-15 تحقیق په شمول، سیګار ته وسپارل شي تر څو خپل څیړونکو ته یې ورکړي. د دې لیک پسې سیګار یو بل لیک واستو او د هغو اسنادو غوښتنه یې وکړه چې د AR 6-15 تحقیق په راپور ورته اشاره شوې ده.

**AR 6-15:** د امریکا د پوځ ګڼو څیړونکو لخوا د یو اساس په توګه کارول کیږي چې د حقایقو په اړه د تشریحي معلوماتو راټولولو او د واقعیتونو په اساس د سپارښتنې غوښتنه کوي. د AR 6-15 کړنلارې کیدای شي په مستقل ډول وکارول شي، لکه په یوه څیړنه کې تر څو حقایق او شرایط معلوم کړي، یا هم له دې کړنلارو څخه د داسې ځانګړو په چوکاټ کې استفاده وشي چې د مسایلو په اړه څیړنې کوي، لکه د سروې د راپور او د خدمت د ډول په اړه څیړنې.

سرچینه: د متحده ایالاتو د مشترکو ځواکونو مرکز، "د AR 6-15 د څیړونکې مامور لارښود،" 7/18/2008.

## SP-27-14 ځانګړې پروژه: د افغانستان د بیارغونې سره د USAID مرسته: د 2002 او 2013 کلونو ترمنځ 13.3 میلیارده ډالر مقید شوي

د USAID د معلوماتو څخه د سیګار د تحلیل په اساس، USAID د 2002 مالي کال له پیل څخه د 2013 کال تر جون پورې د افغانستان د بیارغونې لپاره 13.3 میلیارده ډالر مقید کړي دي.

USAID دا مرستې د څو اړخیزه موسسو، غیر دولتي موسسو، د ګټې لپاره شرکتونو، افغان دولتي ادارو، او د متحده ایالاتو دولتي ادارو په شمول بیلابیلو تطبیق کونکي ملګرو سره په قرارداد کې ورکړي دي. د افغانستان د بیارغونې لپاره د USAID د مرستو قانوني چوکاټونه قراردادونه، بلاعوضه مرستې، تعاوني موافقې، او له دولت سره د دولت (G2G) موافقې دي.

قراردادونه ډیر معمول قانوني چوکاټ و چې د مرستو له 50% څخه زیاته برخه له دې لارې کیده. د پروژو هغه سکتور چې د قراردادونو زیاته برخه یې ځانګړې کړې وه د رغونې او زیربناو سکتور و چې د 13.3 میلیارد ډالرو څخه یې 31% پدې کې لګیده.

USAID د افغان دولت له ادارو سره د G2G په چوکاټ کې نږدې 688 ميليون ډالرو په ارزښت قراردادونه کړي. د افغان دولت هغه اداره چې د USAID د بيارغونې فنډونو زياته برخه يې ترلاسه کړې ده د افغانستان بريښنا شرکت (DABS) دی. DABS د بريښنا د توسعې او اتصال د پراختيا پروژې د فنډ لپاره د USAID مرسته ترلاسه کړې، دا پروژه په افغانستان کې د بريښنا د انتقالي سيستم د پرمختګ لپاره تطبيق شوې ده، او همدارنګه د هلمند په کجکي بند کې د دويم توربين د نصب لپاره يې هم د USAID څخه فنډ اخيستې دی. د 203 موسسو څخه چې د USAID د بيارغونې قراردادونه يې اخيستي دي، د 13.3 ميليارد ډالرو څخه 58% يې د 10 شرکتونو سره قرارداد شوې دي. نړيوال بانک د USAID ستر قراردادي و چې په ټولو قراردادونو کې يې 1.7 ميليارد ډالر اخيستې دي. نړيوال بانک د افغانستان د بيارغونې خيريه صندوق (ARTF) اداره کوي کوم چې په افغانستان کې د نړيوال بانک رغونيزو پروژو ته بوديجه او مرسته برابروي. هغه ستر انتفاعي شرکت چې په مجموعي قراردادونو کې يې 1.1 ميليارد ډالر اخيستې دي د لوييس برګر انکارپوريټيد او د بليک ويچ سپيشل پروجيکټس کارپوريشن (B&V/LBG) ګډه اتحاده ده. د B&V/LBG ګډه اتحاديه په افغانستان کې د USAID زيربنايي او د سوکالۍ پروګرامونه (AIRP) تطبيق کوي. د AIRP پروګرام د افغانستان د انرژي او ترانسپورټيشن د زيربناو په پراختيا کې کار کوي. USAID د افغان دولت له ادارو سره د G2G په چوکاټ کې نږدې 688 ميليون ډالرو په ارزښت قراردادونه کړي.

د راپورونه په اساس کوم قراردادونه چې د 2002 مالي کال له پيل څخه د 2013 تر جون پورې، 73% يې چې 9.8 ميلياره ډالر پکې شامل دي د USAID د وينا په اساس ياخو بشپړ شوي يا هم غير فعاله دي.

## SP-28-14 ځانګړې پروژه: جيوسپاشيل معلوماتي پاڼه: د امريکا د پوځي انجينرانو قطعې ټاکلي پروژو او همدارنګه د کجکي بند پروژې ته د څارنې لاسرسي

دا راپور د يوې لړۍ لومړی راپور دی چې په افغانستان کې د امريکا د پروژو او پروګرامونو د څارنې په وړاندې ننګونې تر څېړنې لاندې نيسي. دا راپور معلوموي چې د USACE ګنو پروژو او د USAID يوه بيارغونيزه پروژه د 2014 کال له پای ته رسيدو سره سم چې امريکايي سرتيري وځي د امريکا ملکي څارونکو ته به په اسانه توګه د لاسرسۍ وړ نه وي. د سيګار پلټنې او تفتيش په واروار سره د پروژو ځنډونه په ګوته کړې.

سيګار پدې اړه انديښنه لري چې د ايتلاف ځواکونو له وتلو څخه وروسته به امنيت خراب شي او د امريکا په فنډ د بيارغونې هڅو د څارنې په وړاندې خنډونه زيات شي. د امريکا پوځي چارواکو سيګار ته ويلي چې دوی يوازې د يو پرمختللی طبي مرکز شاوخوا د يو ساعت لارو په اندازه امريکايي ملکيانو ته لاسرسي برابروي. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت چارواکو سيګار ته ويلي چې د دې په نتيجه کې به د بيارغونې ساحو ته زمونږ لاسرسی په شديده توګه محدوده شي. د دې راپور په راتلونکی مخ کې د 2.1 شکل د USACE پروژې او د بوديجې په چوکاټ کې د USAID د کجکي بند پروژه ښيي او همدارنګه د هغه سيمو سره يې اړيکه معلوموي چې ويل شوې ده د 2014 کال په پای کې به د څارنې لاسرسي ورته کمه شي.

2.1 شکل

**د افغانستان د احتمالي څار لاسرسی 2014**




یادونې: دا ګرافیک افغانستان کې د بیارغونې د پروژو او فعالیتونو د څار اټکل لاسرسی انځوروي. د څار د لاسرسي دا منطقې هغه دي چې لاسرسی ورته په بهترینو امکاني شرایطو کې دی او د سیمې، موسم، او امنیتي شرایطو محدودیتونه پکې نه دي شامل.

سرچینه: متحده ایالات د پوځ جغرافیایي مکاني مرکز، 10/29/2013.

**د ځانګړې پروژې**
**خبرداری لیک**

• AL-17-14 ځانګړې پروژه: د کجکي بند خبرداری لیک

## د ځانګړې پروژې AL-17-14 خبرداری لیک: د کجکي بند خبرداری لیک

د 2013 کال د دسمبر په 31 سیګار USAID ته یو لیک واستو تر څو د کجکي بند د دویم توربین د نصب پروژه کې د څارنې د نواقصو په اړه خبرداری ورکړي. یاده مرسته د USAID لخوا د DABS —د افغانستان د ملي بریښنا شرکت— سره د دوه اړخیزه مستقیمه مرستو په چوکاټ کې ترسره کیږي. د 2013 کال تر اګست پورې USAID له DABS سره د مستقیمه دوه اړخیزه مرستو په چوکاټ کې د دوه بیارغونیزو پروژو لپاره

338.3 میلیونه ډالر مقید کړې دي —د PTEC پروژه او د کجکي بند د توربین پروژه. د دې مبلغ څخه، 75 میلیون ډالر یې د کجکي بند د پروژې لپاره مقید شوې دي. د PTEC پروژه د افغانستان د برېښنا انتقالي سیستم د ودې لپاره او د کجکي بند پروژه د نوموړی بند د برېښنا د تولید زیاتولو په موخه په نظر کې نیول شوې ده.

USAID د PTEC او د کجکي بند پروژو لپاره دوه بیلابیلې موافقې کړې دي. پداسې حال کې چې دواړه موافقې تر ډېره حده د څارنې مشابه شرایط لري، سیګار ومونده چې د کجکي بند د PTEC په پرتله د څارنې لږ شرایط لري. هغه شرایط چې د PTEC په موافقه کې شته خو د کجکي بند په موافقې کې نشته دي، پدې ډول دي:

- د مهمو تدارکاتي کارونو څخه د USAID بیاکتنه
- د موسسو او مهمو افرادو په اړه د USAID بررسي
- د USAID لاسرسي

که څه هم د امریکا او اسلامي جمهوریت تر منځ د مرستو استراتیژیکو موخو د موافقې په اساس USAID کولی شي د دواړو پروژو څخه څارنه وکړي، خو بیاهم سیګار پدې باور دی چې د یوې پروژې په قرارداد کې د څارنې داسې شرایط لیکل چې په بل قرارداد کې نه وي د USAID د څارنې د حقونو په اړه ابهام منځته راوړي. بناء، سیګار د USAID څخه غوښته کوي چې د کجکی بند په موافقه کې هم نوموړي شرایط ځای په ځای کړي مګر دا چې د دې کار لپاره کوم جبري دلیل ولري.

## د امنیتي خطا خبرداری لیک

سیګار د 2013 د نومبر په 8 د امریکا دفاع وزارت ته یو لیک واستو تر څو د داسې یو قراردادي په اړه خبرداری ورکړي چې د CENTCOM قوماندان لخوا د جنګیالیو خواخوږی پیژندل شوی و او اوس یې د ایتلاف ځواکونو تر کنترول لاندې یو تعمیر ته لاره موندلې ده. سیګار دا موضوع هغه وخت پیدا کړه چې د پروان ولایت په قضایي ودانۍ کې د تعمیراتي نواقصو په څېړنه بوخت و. د تحقیقاتو په ترڅ کې سیګار پوه شو چې د دغه ودانۍ جوړونکی، د CLC کانسترکشن کمپنۍ (CLC)، د تعمیر د خوندیتوب د ټسټونو لپاره یې د زرمت د موادو د آزمویلو لابراتوار (ZMTL)، چې د زرمت ګروپ یوه څانګه ده، ګومارلی و. د هغه شواهدو له مخې چې سیګار ته په لاس ورغلي و معلومه شوه چې د 2012 کال په نومبر کې، د ZMTL کارکونکي د دوه ورځو لپاره پروان د قضایي مرکز ودانۍ ته راغلي و. پهرصورت، دې کسانو ته باید د ایتلاف ځواکونو تر کنترول لاندې تعمیر ته لاره نه وای ورکړ شوی، ځکه چې د امریکا دولت د 2012 کال په اپریل کې وروسته له هغه چې د تجارت وزارت نوموړی شرکت یې په خپل لست کې ونیو، اعلان وکړ چې زرمت ګروپ امریکا او ایتلافي ځواکونو ته خطر جوړوي.

سیګار اشاره وکړه چې دا امنیتي خطا ښیي چې داسې یو ساده بهیر ته اړتیا لرو چې یقیني کړي هغه کسان او شرکتونه د امریکا او ایتلاف تر کنترول لاندې تعمیرونو ته نشي ننوتلی چې د جنګیالیو خواخوږي پیژندل شوی وي. برسیره پردې، داسې کومه نښه نشته چې لومړنی قرارداد کونکی CLC ته خبر ورکړ شوی وي چې د زرمت ګروپ د ادارو په لست کې نیول شوې ده. دا پیښه هغه بالقوه نتایج هم رابرسیره کوي چې د سیګار په

مخکینی وړاندیز د پوځ د عمل نه کولو له امله رامنځته کیږي. سیګار په هغه راپور کې د زرمت په شمول د جنګیالو ټولو ملاتړو د منع کولو وړاندیز کړی و.

## د NGO د غوره تجربو لیک

سیګار د 2013 کال د دسمبر په 12 نیټه 89 غیر دولتي موسسو ته لیکونه واستول. په یادو موسسو کې د امریکایي ادارو تطبیق کونکي ملګري، مرسته اخیستونکي، یا قراردادیان شامل دي، یا هغه موسسې دي چې په افغانستان کې د فیدرالي ادارو د کارونو په همغږي بوخت دي. په دغه لیک کې سیګار غوښتنه کړې وه چې اړوندې ادارې د بیارغونې په برخه کې خپل تجارب او زده شوي درسونه ولیکي تر څو سیګار د هغوی لنډیز برابر کړي او همدارنګه د یادو ادارو د کارونو او پروسو په وده کې ترې ګټه واخلي. په لیک کې د غیر دولتي موسسو څخه غوښتل شوی و چې هغه پروګرامونه یا پروژې په ګوته کړي چې د دوی په اند مهم بریالیتوبونه یې ترلاسه کړي او همدارنګه داسې پروګرامونه ولیکي چې د ګټو ستونزو او موانعو له امله یې لږ بریالیتوب درلوده؛ هغه سترې ننګونې په نښه کړي چې په افغانستان کې ورسره مخ شوي دي؛ د اړوندو فیدرالي ادارو داسې کومه پالیسي، مقررات یا تجربې چې د ټاکل شوي موخو او مسولیتونو په پوره کولو کې خنډ جوړوي؛ او داسې وړاندیزونه چې د غیر دولتي موسسو سره د فیدرالي ادارو په اړیکو او کارونو کې وده راولي. سیګار غوښتې ده چې د 2014 کال د جنوري تر 23 پورې خپل لیکلي ځوابونه ولیږي. د NGOs ملاحظات د دوی په نوم نه خپریږي مګر دا چې د موسسو لخوا سیګار ته بل څه ویل شوی وي.

## تحقیقات

د راپور پدې دوره کې، د سیګار د روانو تحقیقاتو په نتیجه کې د امریکا شاوخوا 1.7 میلیونه ډالر خوندي شو. همدارنګه د سیګار تحقیقات په متحده ایالاتو کې د درې جنایي معلوماتو، د پنځه دعواو تصدیق، او شپږو کسانو ته د سزا ورکولو لامل شو. په افغانستان کې دوه کسان بندي او سزا ورکړ شو. هغه جنایي جریمې او تاوانونه چې د سیګار په واسطه اړول شوي دي نږدې 5.3 میلیونه ډالرو ته رسیږي. سیګار 51 نوي تحقیقات پیل او 39 یې تړلي دي، چې پدې سره د روانو دوسیو شمیر 318 ته رسیږي، لکه څنګه چې په 2.2 شکل کې ښودل شوي ده. سربیره پردې، د هغه شواهدو له مخې چې د سیګار د تحقیقاتو په ترڅ کې په افغانستان او امریکا کې لاسته راغلي دي، د سیګار د تعلیق او مخنیونې پروګرام د 10 کسانو او 24 شرکتونو نومونه د احتمالي تعلیق یا مخنیونې لپاره وړاندې کړل.

### د تحقیقاتو په نتیجه کې د امریکا دولت 1.7 میلیون ډالر خوندي شو

پدې ربعه کې د سیګار یو تحقیق د امریکا دولت 1,714,269 ډالره چې نږدې و د پروان ولایت د محکمې په یوه نیمګړې ودانۍ کې مصرف شي، خوندي کړ.

دا قضایي مرکز (JCIP) چې د پروان ولایت په بګرام هوایي میدان کې موقعیت لري ګڼ تعمیرونه لري چې فنډ یې د امریکا لخوا ورکړ شوی تر څو په افغانستان کې د قانون حاکمیت څخه ملاتړ وکړي او همدارنګه د خپل جنایي قضایي سیستم په درلودلو سره د افغانستان ملي حاکمیت وده ورکړي. JCIP د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال

2.2 شکل

**د SIGAR څېړنې: تر 31 دسمبر 2013 د پرانستو څېړنو شمېر**




سرچینه: د SIGAR د څېړنو رياست، 1/10/2014.

مخدره مواد او د قانون تقویه کولو اداري (INL) او د امریکا دفاع وزارت ترمنځ یوه ګډه پروژه وه. ټاکل شوې وه چې یاده وداني د عدلي لابراتوار، د طعام ځای، او د محکمې په شمول 11 تعمیرونه ولري. د دې تعمیرونو له جملې څخه د محکمې، د ابتدايي تعمیر، او د JCIP مرکزي برخې په شمول د شپږو تعمیرونو فنډ د INL لخوا ورکول کیده.

د JCIP هر تعمیر لپاره د مصارفو بیل اټکل چمتو شوی و چې د بګرام سیمه ایزه قراردادونو مرکز (BRCC) د پوځي تدارکاتو لخوا سره یوځای شول.

د دې محکمې پروژه د رقابتي داوطلبۍ له لارې قرارداد شو. BRCC د پروژې د کار تشریح چمتو کړه، چې پدې کې د تعمیر تخنیکي شرایط لیکل شوي و. CLC کانسترکشن کمپني (CLC) د 2011 کال د اپریل په 18 د 2,348,424 ډالرو په لګښت سره خپل تخنیکي وړاندیز تسلیم کړ. د CLC څښتنان براډ رودین، یو جیمیکایي چې د امریکا شین کارډ لري، مسیح الدین، یو هندي چې په دوبی کې اوسیږي، او محمد فیض، چې افغاني هویت لري، دي. BRCC د 2011 کال د جون په 13 د محکمې قرارداد د 2,381,456 ډالرو په لګښت سره CLC ته ورکړه. د محکمې د جوړولو کار د 2011 کال په جولای کې پیل شو.

د 2011 کال د نومبر په 11 د محکمې په قرارداد کې تغیر راوستل شو چې پدې سره د قرارداد مجموعي لګښت 2,667,495 امریکایي ډالرو ته ورسید.

یو کال وروسته، د 2012 په نومبر کې INL د JCIP محکمې د کار له بهیر څخه لیدنه وکړه. د INL انجینرانو د محکمې په بنسټ کې ځینې چاودې پیدا کړې. INL مشکوک شو چې CLC د پروژې د موادو په اړه BRCC ته غلط معلومات نه وي ورکړی، بناء موضوع یې د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (State OIG) او سیګار ته وړاندې کړه. د State OIG او سیګار او نړیوالو قراردادونو د اداري فساد عملیاتي ځواک نورو غړو د تحقیقاتو په نتیجه کې معلومه شوه چې CLC د نورو کارونو په څنګ کې د محکمې د تعمیر په اړه د نورو داوطلبینو او د دولت د اټکل په اړه یې په غیر قانوني ډول معلومات راغونډ کړي. د قراردادمامور وویل چې CLC دومره ناقص کار کړی و چې دا خبره په شک کې وه چې ګواکې د تعمیر کار په قانع کونکې بڼه ترسره کړای شي.

BRCC د 2013 کال د جون په 15 نیټه CLC ته د قرارداد د پای ته رسولو اعلان وکړ. په ځواب کې، د CLC رییس براډ روډین BRCC ته لیک واستو چې CLC د 1,714,269 ډالرو مستحق دی.

د 2013 کال د سپتمبر په 10 د سیګار او د فیدرالي تحقیق د ادارې (FBI) استازې د BRCC د قراردادونو رییس سره کتنه وکړه. دوی د روډین او د BRCC د سرچینې ټاکلو یو پخوانی مامور ترمنځ د بریښنالیکونو په شمول چې د محکمې د تعمیر خپلواکه بیه یې ښودلې وه، د تحقیق نتایج یې تر څیړنې لاندې ونیو. د قراردادونو رییس او د سیګار یو ځانګړی مامور د قوماندان مرستیال قاضی، CENTCOM، او د قراردادونو د ملاتړ ګډې قوماندې ته د بریښنالیکونو په اړه خبر ورکړ. هغه د معلوماتو په اساس، د 2013 کال د اکتوبر په 3 نیټه CLC ته د نواقصو له امله د کار پای ته رسولو حکم وکړ. کله چې کار د نواقصو له امله پای ته ورسول شي، دولت قرارداد کونکي ته هیڅ پیسې نه ورکوي.

## د امریکا د پوځ یو پخوانی بریدمل ته سزا ورکړ شوه

د 2013 کال په اکتوبر کې، فیلیپ ووټن ته چې د امریکا د پوځ یو پخوانی بریدمل و، د شمالي کارولینا د ختیځه سیمې په محکمه کې سزا ورکړ شوه. هغه د فلوریدا، پنساکولا په زندان کې په 15 میاشتې بند محکوم شو چې ورپسې به د 36 میاشتو لپاره تر څارنې لاندې آزاد وي. ووټن ته د بریښنایی درغلي، غلا، او د دولت د شتمنیو د بدلولو په جرم سزا ورکړ شوه. ووټن ته امر وشو چې 110,250 ډالره جریمه او د ځانګړې ارزونې لپاره 200 ډالره فیس ورکړي.

سیګار د 2011 کال په لومړیو کې، یوه هڅه پیل کړه تر څو د پیسو په هغه فرمایشاتو کې د درغلي موارد ولټوي چې په افغانستان کې د امریکا پرسونل لخوا د بیارغونې د فنډ په اړه کیږي. د 2011 کال په فبروري کې د هڅې له پیل څخه وروسته سیګار متوجه شو چې ووټن او یو بل ملګری یې د خپل دندې په ترڅ کې کیدای شي مشکوکې پیسې لیږدولې وي.

د زیاتو تحقیقاتو او تحلیل په نتیجه کې وموندل شو ووټن او ملګری یې چې د سپیشل فورس په اووم ګروپ کې ګومارل شوي او مرکز یې د شمالي کارولینا په فورټ براګ کې و، د امریکا هغه فنډونه یې غلا کړي چې د افغانستان په کندهار کې د بیارغونې لپاره ځانګړي شوې وې. دا دواړه د 2009 کال له جولای څخه د 2010 کال تر اپریل پورې د قراردادیانو په بیل او صورت حساب کې اضافي پیسې رسولې او هغو ته به یې اجازه ورکړه چې پیسې غلا کړي او له 215,000 ډالرو څخه زیاتې پیسې په امریکا کې د دوی شخو ته واستوي.



**د تحقیقاتو په برخه کې د عمومي پلټونکی** مرستیال شارون وودس په مزارشریف کې له یو افغان سره ملاقات کوي. (د سیګار تصویر د فیل کازین لخوا)

## د غزني ولایت په FOB کې د بیړني عملیات په ترڅ کې دوه تنه بندیان شول

د 2013 کال په دسمبر کې دوه افغانیان وروسته له هغه د غزني په FOB کې بندي او مجرم وګڼل شو چې د سیګار یو مامور هلته د بیړنی عملیات په ترسره کولو کې مرسته وکړه.

یاد تحقیق د 2013 کال د دسمبر په 9 وروسته له هغه پیل شو چې د امریکا یو سرتیری چې په مرکز کې د تیلو د تشولو مسولیت یې په غاړه درلوده د سیګار یو مامور ته وویل چې یو افغان موټر چلونکی چې د ډین لوژستیک او ټرانسپورټیشن کمپني پورې ارتباط لري ده ته په موټر کې د تیلو د پریښودلو په مقابل کې د رشوت وړاندیز کړېدی. سیګار فوراً د غزني له څارنوال سره اړیکه ونیوله او وړاندیز یې وکړ چې یو بیړنی عملیات باید ترسره شي. څارنوال او یاد شوی سرتیری موافقه وکړه چې په عملیات کې برخه واخلي.

په راتلونکی ورځ کې نوموړی موټر چلونکی، ګل آغا خیرالله، د غزني FOB ته د تیلو ټانکر راوست. د تیلو د تشولو په جریان کې خیرالله سرتیري ته وویل چې دویم ټانکر به ژر ورسیږي. هغه سرتیري ته وویل چې که چیرته په دویم ټانکر کې تیل پریږدي تر څو د غزني له FOB څخه یې بیرته یوسي نو ده ته به پیسې ورکړي.

لږ ځنډ وروسته دویم موټر چلونکی، حضرت نبي یار محمد، خپل ټانکر یې د تیلو تشولو ځای ته ودروله. کله چې د یار محمد ټانکر د تشیدو په حال کې و، خیرالله خپل ځان سرتیري ته ورساو او ویې ویل که چیرته لږ تر لږه 1000 ګیلنه تیل په ټانکر کې پریږدي نو ده ته به 500 ډالر ورکړي. نوموړي سرتیری فوراً د تیلو نل په داسې حال کې بند کړ چې

په کافي اندازه تیل په ټانکر کې پاتې و. خیرالله 500 ډالر سرتیري ته وړاندې کړ. سرتیری هم دا پیسې فوراً افغان څارنوال ته ورکړې چې په یو بل ټانکر کې په انتظار و.

د تیلو دواړه ټانکران او 500 ډالر ټول د شواهدو په توګه وساتل شو. د یار محمد ټانکر له تیلو څخه تش شو. افغاني پولیسو یار محمد او خیرالله د غزني ولایت توقیف ته یوړل، چې هلته بیا د افغان جزایی قانون په اساس د رشوت په جرم مجرم وګڼل شو. د 2013 کال د دسمبر په 16، ویلیام برون، د حوالدارو قوماندان (CSM)، د امریکا پوځ، د سپین باز عملیاتي ځواک، د غزني FOB، راپور ورکړ چې دواړه خیرالله او یار محمد د امریکا تاسیساتو ته د ننوتلو حق نلري.

## لومړی بریدمل د غلا او رشوت په تور مجرم وګڼل شو

د 2013 کال د دسمبر په 9 نیټه، جیمز ایدوارد تراویس ته د دولتي شتمنیو په بدل کې د رشوت اخیستلو، او منلو او د غلا په تور د شمالي کارولینا د ختیځه سیمې په محکمه کې مجرم وپیژندل شو.

تراویس د امریکا په پوځ کې لومړی بریدمل و، چې د الفا کمپني، څلورم لوا، د ځانګړو ځواکونو دریم ګروپ کې د عملیاتي انفصال-براوو لپاره استخدام شوی و. تراویس د 2012 د جنوري 3 څخه د 2012 د اکتوبر تر 4 پورې د شرنې FOB څخه د باندې په افغانستان کې د تادیاتو مامور او همدارنګه د قراردادي مامور د استازی په توګه په کار بوخت و. هغه د قراردادي مامور د استازی په توګه د قراردادونو د بشپړیدو د منلو او د تادیاتو د منلو مسولیت په غاړه درلود. تراویس همدارنګه د اکمالاتو او تجهیزاتو لپاره د کارګو موټرونو یا "جنګل ترک" د قراردادونو او همدارنګه د ورو رغونیزو پروژو مسولیت په غاړه درلوده. سیګار د تحقیق په ترځ کې ومونده چې نوموړی د مختلفو قراردادیانو څخه د پروژو د ورکولو په بدل کې تحفې او رشوت تر لاسه کړی. دا رشوتونه د هر قرارداد په بدل کې د 4,000 ډالرو څخه تر 7,000 ډالرو پورې و. تراویس په مجموعي ډول 211,890 ډالره د تحفو په بڼه ترلاسه کړې وه.

په تحقیقاتو کې دا هم وموندل شو چې تراویس، یو ځایي افغان، او یوبل امریکایي سرتیری دسیسه جوړه کړې وه تر څو د شرنې له FOB څخه تیل غلا کړي. ډیر ځلې داسې پیښ شوې ده چې تراویس یو سرتیري ته پیسې ورکړې تر څو یو افغان موټر چلونکی د شرنې FOB د تیلو ځای ته بوزي او ټانکر کې یې تیل واچوي او بیرته د غلا شوي تیلو سره یې د شرنې له FOB څخه وباسي. اټکل شوې ده چې د دې غلا په نتیجه کې د امریکا 422,302 ډالره پیسې ضایع شوی وي.

محکمه په جنایي معلوماتو کې امر ورکړی چې د تراویس مختلف مالي شتمني چې مجموعا 200,000 ډالره کیږي او یو موټر یې چې 46,131 ډالره ارزښت لري ضبط شي.

## د درغلي په اړه تحقیقات د څلور جنایي تورونو لامل شو

د 2013 کال د نومبر په 12 نیټه، کیت جانسن او انجیلا جانسن د هغه دسیسې په جرم چې غوښتل یې د رشوت او فرضي نومونو په وسیله د 10 میلیون ډالرو په ارزښت پوځي قراردادونه د خپل کنترول لاندې فرعي قراردادیانو ته ورکړي، د ویرجینا د شرقي سیمې په محکمه کې مجرم و پیژندل شو. دې ټونیسي ښځې او میړه د سکیم په ځینو برخو ځانته لوکس موټرونه اخیستي او په 191,000 ډالرو یې جواهر واخیستل.

سیګار، د دفاع وزارت د جنايي تحقیقاتو خدمات، FBI، او د پوځ د جنايي تحقیقاتو قومانده خپل تحقیقات وروسته له هغه پیل کړ چې د پوځ CID په خپل راپور کې پر کیت جانسن، چې د یو امریکایي قرارداد کونکی د پروګرام مدیر و، تور ولګاوه چې هغه او د کورنۍ غړي یې د قراردادونو مدیریت کوي او داوطلبي د داسې یو شرکت په ګټه ختموي چې د انجیلا جانسن او نورو خپلوانو لخوا یې اداره کیږي. کیت جانسن د خپل ښځې په نوم یو بیل شرکت جوړ کړی و او بیا یې خپله د شرکت د خرڅلاو مدیره وټاکله. د جانسن کورنۍ خپلوانو نور شرکتونه جوړ کړ تر څو په داوطلبۍ کې برخه واخلي او کیت جانسن ته دا موقه برابره شي چې قرارداد خپل شرکت ته ورکړي. دا شرکتونه بیا د قرارداد په بدل کې د یو شیل کمپني له لارې چې د جانسن د خپلوانو په نوم و، ده ته رشوتونه لیږل.

د 2013 کال په اکتوبر کې د جان ایزنر او جیری کیفیر په نوم دوه نورو کسانو لپاره هم چې په دې دسیسه کې شریک و، د ویرجینیا د شرقي سیمې په محکمه کې جنايي معلومات درج شو. دوی په ټکنالوژیکه درغلي او دسیسه کې د برخې لرلو په تور مجرم وپیژندل شول.

ایزنر او کیفیر ته د 2013 کال د دسمبر په 18 نیټه د ویرجنیا، د الکسندریې په فیدرالي محکمې کې سزا ورکړ شوه. کیفیر په شپږو میاشتو بند؛ دوه کاله تر څارنې لاندې آزادي، او 30,964 ډالرو جریمه محکوم شو. ایزنر ته د 12 میاشتو بند؛ دوه کاله تر څارنې لاندې آزادي، او د 2,240,120 ډالرو جریمه وټاکل شوه.

د کیت او انجیلا سزا د 2014 کال د فبروري 14 نیټې ته پاتې شوې ده. د نومبر د نیټې د فیصلې په اساس د 2,117,966 ډالرو جریمه به 12 پر دوی واړول شي.

## دوه کسانو ته د تیلو د غلا په جرم سزا ورکړ شوه

د 2013 کال د اکتوبر په 28 نیټه، د امریکا د پوځ بریدمل کریستوفر ویفر، ته د کولرادو د ډینور په سیمه ایزه محکمه کې سزا ورکړ شوه. ده ته د رشوت په جرم 37 میاشتې بند او د دسیسې په جرم 37 میاشتې بند سزا ورکړ شوه چې په یو وخت کې به یې تیروي. علاوه پردې، محکمې فیصله وکړه چې ویفر درې کاله تر څارنې لاندې آزاد وي او د



**د تحقیقاتو په برخه کې د عمومي پلټونکی** مرستیال شارون وودس په کندهار کې د مامورینو سره ملاقات کوي. (د سیګار تصویر)



**د سیګار یو مامور** د کابل په بازار کې د یو قراردادي سره خبرې کوي. (د سیګار تصویر د شارون وودس لخوا)

جوناتان هایټور، یو پخوانی قرارداد کونکی په افغانستان کې، او د امریکا د پوځ یو متخصص ستیفاني کاربونیو سره یوځای 1,225,000 ډالره جریمه اداره کیده.

په همدې ورځ، هایټور ته، د فلور کارپوریشن یو پخوانی کارکونکی، د رشوت په جرم 27 میاشتې بند، او د دسیسې په جرم 27 میاشتې بند سزا ورکړ شوه چې دواړه یې په یو وخت کې تیروي. د هایټور په سزا کې درې کاله تر څار لاندې آزادي او د ویفر او کاربونیو سره یوځای د 1,225,000 ډالرو جریمه هم شامله وه.

ویفر، هایټور، او کاربونیو درې واړه په 2010 کال کې، د افغانستان له FOB Fenty څخه د تیلو د غلا پخاطر په رشوت او دسیسه کې سره شریک و. هایټور د 2012 کال په اګست کې دوه ځلې د رشوت او دسیسې په جرم لاس پورې کړی و. هایټور د څارنوالانو سره په مرکه کې اعتراف وکړ چې په رشوتونو کې یې د 60,000 ډالرو څخه تر 80,000 ډالرو پورې اخیستې دی. ویفر هم د 2012 کال په اکتوبر کې په رشوت او دسیسې تورن شو او بیایې اعتراف وکړ چې د 80,000 ډالرو څخه تر 100,000 ډالره یې رشوت اخیستې دی. کاربونیو د 2013 کال په سپتمبر کې تورن شو.

## د امریکا د پوځ بریدمل د حکومتي فنډونو په غلا تورن شو

د 2013 کال د اکتوبر په 21، د امریکا پوځ د ځانګړو ځواکونو لومړی بریدمل رابرت س. فارمر ته، د شمالي کارولینا د شرقي سیمې په محکمه کې سزا ورکړ شوه. محکمې ورته امر وکړ چې درې کاله تر څارنې لاندې آزاد وي، د 15,400 ډالرو جریمه او د ځانګړې ارزونې 100 ډالره فیس ورکړي. فارمر ته همدارنګه امر وشو چې د معتادینو درملنه ترلاسه کړي.

فارمر د 2013 کال د جولای په 22 د فیدرالی قاضي په مخکې حاضر شو او اعتراف یې وکړ چې د 2008 کال د جولای څخه تر 2010 کاله پورې چې هغه په افغانستان کې دنده ترسره کوله د امریکا دولت له تخصیصاتو څخه یې د 15,000 ډالرو په غلا کې برخه اخیستې ده. هغه دا پیسې هغه وخت غلا کړي چې د پوځ د تادیاتو مامور و.

د 2012 کال په مارچ کې، DCIS داسې معلومات ترلاسه کړه چې د امریکا د پوځ د ځانګړو ځواکونو دریم ګروپ، فورټ براګ، شمالي کارولینا. ځینې غړي د FOB Fenty څخه د 1,000 ډالرو په بیه زیات فرمایشونه ترلاسه کړي او دا پیسې یې د دوی شخصي، بریښنایي بانکي حسابونو، یا نورو قراردادیانو ته استولې دي. فارمر او نور کسان پدې وخت کې له یو ټیم سره د افغانستان جلال آباد ته تلي و. د ټیم هر غړی د امریکا هغه بیارغونیزو فنډونو ته مستقیمه یا غیر مستقیمه لاسرسي درلوده چې د امریکا د پوځ لخوا اداره کیده. دا تورونه د دې لامل شو چې سیګار، DCIS، FBI، او CID په ګډه سره یو تحقیق ترسره کړي.

تحقیق روان دی.

## تعلیقات او مخنیونې

پدې ربعه کې د هغه شواهدو له مخې چې د سیګار د تحقیقاتو په ترځ کې په افغانستان او امریکا کې لاسته راغلي دي، د سیګار د تعلیق او مخنیونې پروګرام د لسو کسانو او 24 شرکتونو نومونه د تعلیق یا مخنیونې لپاره وړاندې کړل. د دې 34 قرارداد کونکو څخه، څلور کسان او لس شرکتونه په داسې قراردادونو کې د درغلۍ او د قرارداد له

2.3 شکل

**د SIGAR څېړنې: د شک او خنډ په خاطر ټولې لېږل شوې، مالي کال 2011 2مه درې میاشتنۍ – مالي کال 2014 1له درې میاشتنۍ**




سرچینه: د SIGAR د څېړنو ریاست، 1/10/2014.

شرایطو څخه د سرغړونې له امله د مخنیونې لپاره وړاندې شو چې مجموعي ارزښت یې 240,343,585 ډالرو ته رسیده. د دې کسانو په راجع کولو سره د هغه کسانو او شرکتونو شمیر چې د سیګار لخوا د 2008 کال څخه راهیسې راجع شوي دي 402 ته رسیږي —پدې کې 213 کسان او 162 شرکتونه شامل دي، لکه څنګه چې په 2.3 شکلکې ښودل شوې دي.

د 2013 کال د دسمبر تر پایه پورې، د سیګار د تعلیق او مخنیونې هڅې په افغانستان کې د درغلۍ، اداري فساد او کمزورۍ کارکولو په بررسي کې د 71 کسانو او شرکتونو د تعلیق او د 133 کسانو او شرکتونو د نهایي مخنیونې لامل شوي دي. البته دا هغه کسان او شرکتونه دي چې د امریکا په مرسته بیارغونیزو پروژو په کارونو کې بوخت دي.

تعلیقات او مخنیونې د دې خبرې یقیني کولو لپاره ډېر مهم وسایل دي چې د متحده ایالاتو اداري یوازې د مسولو شرکتونو سره قرارداد لاسلیک کوي. د سیګار پروګرام په افغانستان کې هغه درې ننګونې بررسي کوي چې د متحده ایالاتو پالیسي او د قرارداد احتمالي چاپیریال لخوا مطرح شوي دي: ګړندی کار ته اړتیا، پر افغاني وګړو او شرکتونو باندې د متحده ایالاتو محدود قضایي واک، او د ګڼو فرعي قراردادکونکو له امله د بررسۍ په وړاندې ننګونې. سیګار په افغانستان او متحده ایالاتو کې د معلوماتي سرچینو او څېړنیزو شتمنیو د ابتکاري کارونې له لارې هڅه کوي تر څو د دې ستونزو په وړاندې د حکومت غبرګونونو ته وده ورکړي. سیګار د خپلو بشپړو څېړنو په اساس د متحده ایالاتو ادارو ته د شرکتونو یا انفرادي کسانو د تعلیق یا مخنیونې —هغه اقدامات چې د امریکایي ادارو لخوا ترسره کیږي تر څو هغه افراد او شرکتونه فیدرالي قراردادونه ترلاسه نکړي چې په بدچلندۍ پیژندل شویدي— وړاندیز کوي. په اکثرو پیښو کې، سیګار خپله مراجعه

هغه وخت وړاندې کوي چې قرارداد کونکی دفتر د تور د څارنوالي تعقیب یا اصلاحي ګام لپاره کوم اقدام ونکړي، بناء د سیګار دغه کار د قرارداد کونکی د بدچلندۍ د بررسي لپاره لومړی غبرګون دی. سیګار یوې ادارې ته د مراجعې پرمهال، د تعلیق او مخنیونې د پریکړې اساس چمتو کوي او همدارنګه ټول هغه کمکي اسناد ادارې ته سپاري چې کیدای شي د قرارداد کونکي لخوا د پریکړې نه منلو په صورت کې وړاندې شي. په افغانستان کې د قرارداد د چاپیریال ودې ته په کتو سره او د داسې شواهدو په لرلو سره چې د قراردادیانو بدچلندي او/یا کمزوری فعالیت ښکاره کوي، سیګار دا ضروري بولي چې د قرارداد ادارې ځینې افراد او شرکتونه د تعلیق او مخنیونې لپاره په پام کې ونیسي.

سیګار د افغانستان د قرارداد چاپیریال ته په کتو سره په وروسته کلو کې یې د تعلیق او مخنیونې پر موضوع خپل ټینګار زیات کړې دی. دا موضوع له دې نه ښکاره کیږي چې د 402 مراجعو څخه چې تراوسه د دې ادارې لخوا تعلیق او مخنیونې ته وړاندې شوي، 375 هغو یې د 2011 کال د دویمې ربعې څخه وروسته وړاندې شوي. د 2013 کال په جریان کې، د سیګار د تعلیق او مخنیونې پروګرام د تعلیق او مخنیونې اداره دې ته اړ کړه چې 131 کسان او شرکتونه د امریکا دولت سره د قرارداد څخه منع کړي. په دې دوره کې د سیګار مراجعې د 509,274,215 ډالرو په ارزښت د بیارغونیزو قراردادونو د غلا، درغلي، نیمګړې کړنې، د جنګیالیو سره مالي مرستې، او ناسمه ادارې په تورونو ترسره شوي دي.

### آریا ټارګټ لوژستکس سرویس د مخنیونې لپاره وړاندې کول

د 2013 کال د دسمبر په 20، د سیګار د تعلیق او مخنیونې پروګرام د مراجعې په نتیجه کې هوایي ځواک، آریا تارګټ لوژستکس سرویسز (ATL) او د شرکت دوه اداري غړي یې د امریکا د قراردادونو څخه منع کړ. د دې کار دلیل دا و چې نوموړی شرکت په ټول افغانستان کې د زیاتو تیلو، خالي کارګو، او درانده کارګو د انتقال لپاره د افغان ملي بارچلانۍ (NAT II) قرارداد لپاره خپل وړاندیز تسلیم کړ. په خپل وړاندیز کې ATL ویلی و چې دا شرکت پخپله ګڼ شمیر نقلیه وسایل لري او کولی شي د فرعي قراردادیانو څخه پرته دا قرارداد تطبیق کړي. د سیګار د غوښتنې په اساس د 31 نقلیه وسیلو پلیټونه چې د ATL لخوا سپارل شوي و د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د ترافیک ریاست لخوا په کابل کې وکتل شو. په نتیجه کې، وموندل شو چې 25 نقلیه وسیلې د ATL څخه پرته د نورو شرکتونو په نوم ثبت شوي، او شپږ وسلې له سره ندي ثبت شوي. د ترافیکو ریاست څخه لاسته راغلي نتایج هغه وخت پیاوړي شو چې د انفرادي کسانو په وینا د ATL شرکت په درغلي سره د ټرکونو په اړه خپل وړاندیز کې غلط معلومات لیکلي و. نو په نتیجه کې، سیګار د ATL شرکت، اجرایی رییس یې، او د هغې د پروګرام مدیر د هوایي ځواک د تعلیق او مخنیونې چارواکو (SDO) ته د مخنیونې لپاره وړاندې کړ. پدې اړه د هوایي ځواک بیړنی پریکړه د دې لامل شو چې د ATL د NAT II قرارداد څخهوویستل شي، او پرې نه ږدي چې د امریکا د ترانسپورټیشن قوماندانې د 237,962,129 ډالرو په لګښت دا قراراد ورسره لاسلیک کړي.

### کلرک لوژستیکس کمپنې د مخینونې لپاره وړاندې کول

د 2013 کال د نومبر په 14، د سیګار د تعلیق او مخنیونې پروګرام د مراجعې په نتیجه کې پوځ د کلرک لوژستیکس سرویسز کمپنې او دوه نور مالکان یې د مخنیونې لپاره وړاندې کړ، ځکه چې دا شرکت د افغانستان د کندهار هوایي میدان د رڼا کولو د قرارداد په اړه دروغ ویلي او غلط اسناد یې چمتو کړي و. د سیګار د تحقیق په نتیجه کې، د کلرک لوژستکس سرویسز کمپنې مالکانو اعتراف وکړ چې دوی په درواغو ویلي و چې یو امریکایي تبعه یې استخدام کړې دی، په بریښنا څانګه کې د ماسټرۍ سند لري، پداسې حال کې چې دا شرکت یاد قرارداد یې یو افغاني فرعي قرارداد کونکي ته ورکړی یا د تکړه او سند لرونکی برقیانو په ځای یې د دریم هیواد وګړي ګومارلي دي. علاوه پردې، کلرک لوژستیک سرویسز کمپنې نه و توانیدلی چې د پرسونل حساب ورکونې او د نښې ایښودلو په اړه، د نقلیه وسیلو غیر تکتیکي ثبت، او د محیط او ځمکې د خوندیتوب کړنلارو په اړه مقررات عملي کړي، بناء یاد شرکت د 2013 کال د جولای په 30 د آیساف د تاسیساتو قوماندانۍ لخوا د کندهار هوایي میدان څخه لرې کړای شو. د سیګار د تحقیقاتو په اساس، کلرک لوژستیک سرویسز کمپنې او دوه مالکان یې د امریکا دولت له قراردادونو څخه ویستل شوي، او د مخنیونې وروستی پریکړه یې د پوځ د تعلیق او مخنیونې د چارواکو فیصلې ته انتظار کوي.

### د حکمت الله شادمان، د حکمت الله شادمان لوژستیک سرویسز کمپنې، او د اته اړوندو شرکتونو او افرادو تعلیق

د عدلې وزارت، د شتمنیو او پیسو د ضبط څانګې د فرمان په اساس چې د 2013 کال د نومبر په 20 یې صادر کړې، پوځ د 2012 کال د اکتوبر په 30، حکمت الله شادمان، د حکمت الله شادمان لوژستیک سرویس کمپنې، شپږ اړوند شرکتونه او د شادمان دوه د تجارت ملګري د امریکا له قراردادو څخه منع کړل. دا شکایت چې د سیګار د تحقیق په اساس درج شوی و، شادمان او په دسیسه کې د هغه شریک ملګري تورن کوي چې د بارچلانې فرعي قراردادونو د اخیستلو لپاره یې رشوت ورکړي او همدارنګه پخپل صورت حساب کې یې زیاتې پیسې لیکلي چې وروسته بیا په افغانستان کې د پوځي کارګو د لومړنی قرارداد کونکی لخوا د امریکا دولت ته سپارل شوي و. دا شکایت چې د عدلیې وزارت لخوا درج شوی و، حکمت الله شادمان، په دسیسه کې د هغه ملګري، او د حکمت الله شادمان لوژستیک سرویسز کمپنې تورن کوي چې د درغلي په وسیله یې د امریکا دولت څخه 77,920,605 ډالره پیسې ترلاسه کړي دي. د شکایت په ترڅ کې راغلي چې شادمان دولت ته د چل ورکولو په طرح کې ګڼ شمیر شرکتونه او بانکي حسابونه کارولي تر څو خپل غیر قانوني کارونه د هغوی تر پردې لاندې پټ کړي. د ملکي ضبط دا شکایت چې د تعلیق اساس جوړوي، اوسمهال د کولمبیا په سیمه ایزه محکمه کې د وروستی پریکړې په انتظار دی.

## د سیګار بودیجه

د 2014 کال د جنوري په 17، کانګرس سیګار ته د مجموعي تخصیصاتو په چوکاټ کې د 2014 مالي کال لپاره 49.65 میلیون ډالر بودیجه ورکړه. دا بودیجه د سیګار پنځه څانګو ته فنډ ورکوي چې پدې سره د سیګار د څارنیزو فعالیتونو او محصولاتو څخه ملاتړ کوي: (1) پلټنې او تفتیشات، (2) ځانګړې پروژې، (3) تحقیقات، (4) مدیریت او ملاتړ، او (5) د څیړنې او تحلیل ریاست.

د څیړنې او تحلیل ریاست (RAD) د سیګار د معلوماتو د مدیریت ریاست نوی نوم دی. سیګار د دې ریاست نوم بدل کړ تر څو سیګار، کانګرس، او عامه خلکو ته په افغانستان کې د دې ادارې د بیارغونیزو هڅو په اړه دقیقه پوهه ورکړي. RAD کانګرس ته د درې میاشتنی راپور جوړولو سربیره، د بیارغونې هڅو په اړه عامه خلکو او د سیګار نورو څانګو ته تحلیل او ارزونې هم وړاندې کوي.



**د سیګار د څیړنې او تحلیل ریاست کار کونکو**
د درې میاشتنی راپور لپاره د فیدرالي ادارو د فنډ ورکولو معلومات چمتو کوي. دا ریاست د اړوند موضوع لپاره تکره لیکوالان، تصحیح کونکي، د بصري معلوماتو متخصصین، او یو د پروګرام مدیر لري. (د سیګار تصویر د وانګ لیم په واسطه)

## د سیګار کارکونکي

سیګار کانګرس ته د وروستی رپوټ څخه تر اوسه پورې خپل کارکونکي زیات کړي چې پدې سره د فیدرالي کارکونکو مجموعي شمیر په 2014 مالي کال کې 197 تنو ته رسیږي.

سیګار پدې ربعه کې، 34 قانوني پرسونل په کابل کې د امریکا سفارت کې درلوده او 12 تنه قانوني پرسونل د سفارت څخه د باندې نورو ځایونو کې درلود. د سیګار اداري غړي د ټول هیواد په پنځو مرکزونو کې ځای په ځای شوي دي چې دا مرکزونه عبارت دي له: د کندهار او بګرام هوایي ډګرونه، مزار شریف، لیدرنیک کیمپ، په کابل کې د USFOR-A مرکزونه، د هرات دفتر په موقتي ډول بند شوی دی، ځکه چې د یاد ولایت قونسلګري د 2013 کال د جنګیالیو له حملې وروسته تر ترمیم لاندې ده. سیګار په کابل کې د خپل پلټنو او څیړنو سره د مرستې لپاره یو ځایي افغان استخدام کړی دی. برسیره پردې، سیګار په افغانستان کې د خپل کارونو پر مخ بیولو لپاره د لنډ مهال لپاره هم کسان استخداموي. سیګار په دې ربعه کې، 13 کسان د 220 ورځې لنډ مهال لپاره په افغانستان کې استخدام کړي و.

”هغې وندې ته چې امریکا او
ملګري یې په افغانستان کې له 2014
وروسته دوام ورکوي ترڅو د دغه هیواد
له خلکو سره مرسته وکړي، باید په
ښکاره توګه تعریف شي، او باید ژر
تعریف شي. د امریکا او افغانستان
ترمنځ دوه اړخیزه امنیتي تړون
باید ژر لاسلیک شي.“

— د دفاع وزیر چک هیګل

سرچینه: د دفاع وزارت مطبوعاتي کنفرانس، 2013 د دسمبر 19.

# 3 د بيارغونې
# نوي معلومات



# د بیارغونې نوي معلوماتو منځپانګې


| | |
|---|---|
| لنډیز | 63 |
| د LOTFA او "پټو کارکوونکو" په اړه اندیښنې | 65 |
| د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته | 66 |
| د بسپنو وضعیت | 68 |
| امنیت | 82 |
| حکومتداري | 110 |
| اقتصادي او ټولنیزه پراختیا | 144 |


**عکس په تیر مخ کې**

ولسمشر اوباما او ولسمشر کرزی په بیضوي دفتر کې له غونډې ورسته د سپیني ماڼی په پلیو لار کې خبري کوي. (د سپیني ماڼی عکس)

# د بیارغونې نوي معلومات

## لنډیز

لاندې برخه د امریکا د مرستو او پراختیایي پروژو دریځ په اړه لنډیز وړاندې کوي چې سیګار پدې ربع کې د افغانستان د امنیت، حکومتوالي، او اقتصادي بیارغونې برخو کې لیدلي. ولسمشر اوباما د 2014 مالي کال د ګډو تخصیصونو قانون لاسلیک کړ، چې د افغانستان بیارغونې لپاره یې اضافي 5.4 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړل، چې لدې سره به په افغانستان کې د امریکا بیارغونې ټوله پانګه اچونه 102 میلیارده امریکایي ډالرو ته ورسیږي. کله چې د امریکا بهرنیو چارو وزارت او USAID حسابونو لپاره د پای تخصیصونه معلوم شي د پیسو دا اندازه به زیاته شي. دا ربع د بیارغونې هڅې راتلونکې مخه په زیاتیدو نامعلوماتیا او د پروګرام په ډیرو پروژو کې د مخ په کمیدلو لیدنې شاهد وو. لکه څنګه چې ولسمشر کرزي له امریکا سره د دوه اړخیزې امنیتي موافقې له لاسلیک کولو څخه ډډه کړې، امنیتي اوضاع د بدلون په حالت کې وه، او د دې سبب شو چې امریکایي چارواکي خبرداری ورکړي چې کیدای شي له 2014 وروسته امریکا له هیواد څخه خپل ټول ځواکونه وباسي او مرسته ډیره کمه کړي. په عین وخت کې، د افغانستان اقتصاد د کمیدلو اغیز باندې پیل کړی او دا هیواد اوس پخپل تاریخ کې تر هر وخت ډیر کوکنار تولیدوي.

د مخکنیو عملیاتي پایګاوو دوامداره تړل او د ملکي نظامي ولایتي بیارغونې ټیمونو وتل دا معنی لري چې د امریکا چارواکي له ښارونو څخه دباندې لږ فرصت لري چې پروګرامونه تطبیق کړي او نظارت ترسره کړي. لکه څنګه چې د امریکا د ځواکونو پښو نښې کمیږي، د امریکا ادارو او تطبیق کوونکو ملګرو ته ستونزمن کار دی ترڅو ساحې ته ولاړ شي د پروژو نظارت وکړي او معلومات راټول کړي.

که څه هم امریکا د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د کارکوونکو شمیر په اساس مرسته برابروي، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د شمیر راپور کولو تصدیق په اړوند د امریکا توان مخ په کمیدو دی. پدې برسیره، د افغانستان ملي اردو او د افغانستان ملي پولیسو لخوا برابر شوي معلومات په هر وخت کې د هغوی د عملیاتي توانمندیو په اړه پریکړه ستونزمنه کوي. د بیلګې په توګه، د افغانستان ملي پولیس د هغو پولیسو په اړه راپور نه ورکوي چې رخصت دي، اوږدې مودې لپاره غیر حاضر دي، ناروغ دي، یا په لنډمهاله دنده ګمارل شوي دي.

د حکومتوالی په برخه کې، د امریکا ادارو ونشو کولای هغه معلومات برابر کړي چې په تیرو ربعونو کې وړاندي شوي دي. سیګار غوښتنه کړې، مګر د افغانستان په سویل او ختیځ کې یې د پنځو ولایتونو د ولایتي، ښاروالی، او ولسوالیو د حکومتي کارکوونکو نوي شمیرې

په اړه معلومات لاسته ندې راوړي. کله چې له هغوی څخه غوښتنه وشوه ترڅو د دغو ولایتونو حکومتوالی ارزونه وکړي، دواړو د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو یوازې دا وویل چې د ولایتي بیارغونې ټیمونه تړل شوي دي. که څه هم د ملکي کارکوونکو شتون د سیمه ایزې حکومتوالی لپاره یو اړین اساس دی، داسي نه ښکاري چې USAID دي نور دا توان ولري ترڅو دا نښې تعقیب کړي.

د نړیوال بانک په وینا، لکه څنګه چې عامه لګښت زیات شوی، په اقتصادي ساحه کې د افغانستان حکومت عواید په 2013 کې کم شوي. لکه څنګه چې افغانستان خپل ډیری توکي له بهر څخه واردوي د تجارت له کسر څخه رنځ وړي، ډیر کم د سوداګری وړ توکي یا خدمت تولیدوي؛ پیسي یې کمزوري دي؛ او د ترانسپورت زیربنا نلري. که څه هم د سوداګرۍ نړیوال سازمان غړیتوب د توکیو د دوو اړخیزو حساب ورکولو کاري چوکاټونو له نښو څخه دي چې افغانستان یې باید لاسته راوړي. هغه ګټه چې افغانستان په نږدې راتلونکي کې لدې څخه لاسته راوړي، د بحث وړ ده.

USAID راپور ورکړی چې امنیت د دې ادارې د یو شمیر پروګرامونو بشپړ تطبیقولو په وړاندې اوس هم یوه ننګونه ده. د بیلګې په توګه، د باغیانو ډلې په ځانګړې توګه د کندهار، هلمند، زابل، وردګ، لوګر او غزني په ولایتونو کې د باغداری او زراعتي بازارموندنې په پروګرام (CHAMP) کې کارکوونکي او بزګران ګواښي. د امنیتي اوضاع بدلون هم د ګټې په اساس اقتصادي بدیلونه په شمال، ختیځ او لویدیځ کې (IDEA-NEW) او د روغتیا پالیسی پروژې (HPP) د پروګرامونو په وړاندې هم یو خنډ دی.

د روغتیا په برخه کې، USAID ویلي سره لدې چې په 14 ملي روغتونونو کې پرمختګونه شوي، د روغتون کارکوونکي اوس هم کم ظرفیت لري ترڅو په خپلواکه توګه کار په مخ یوسي. پدې ربع کې USAID دا راپور هم ورکړی چې د دې ادارې له اصلي پروګرامونو څخه یو د زده کړې وزارت له لورې له ننګونې سره مخامخ شوی ترڅو وکولای شي په وخت سره د بودجې په اساس فعالیتونه ډیزاین، تدارک، او تطبیق کړي، او له حکومت څخه حکومت ته د مرستې اړتیاوو څخه اطاعت وکړي.

پدې ربع کې، سیګار خپل کارونو ته د هغو مرستو تعقیبولو ته دوام ورکړ چې د بودجې په اساس افغانستان ته ورکړ شوي او مخ په زیاتیدو دي. امریکا د افغانستان لپاره د مستقیمو تادیاتو له لارې د بودجې په اساس مرسته برابروي یا د څو هیوادونو په وجهي صندقونو کې د برخې اخیستنې له لارې د افغانستان بنسټونو لپاره مرسته برابروي. امریکا له 2002 څخه د بودجې په اساس 8.5 میلیارده امریکایي ډالر مرسته برابره کړې ده. پدې کې د افغانستان وزارتونو او بنسټونو لپاره 5.4 میلیارده امریکایي ډالر، او نږدې 3.6 میلیارده امریکایي ډالر د څو هیوادونو وجهي صندق لپاره، چې د نړیوال بانک افغانستان بیارغونې وجهي صندق (ARTF)، د مګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د افغانستان د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA)، او د آسیا پراختیایي بانک د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AIFT) دي، شامل دي. جدول 3.1 د افغانستان حکومتي نهادونو لپاره د بودجې په اساس د امریکا مرسته ښیي.

د راپور ورکولو پدې ربع کې سیګار له اروپایي مرستندویانو او د نظارت له ادارې سره هم غونډه کړې ترڅو د بودجې په اساس د مرستو اړوندو ننګونو او د نظارت، آزموینې، او د بیارغونې پروژو د نظارت او د څو هیوادونو د مرستې وجهي صندقونو په اړه خبري وکړي. د راتلونکې پاڼې رنګ شوې برخه د LOTFA د روانو اندیښنو په اړه ده.

جدول 3.1

**افغانستان ته د امریکا د بودجې په اساس مرسته، 2013–2002** (ملیونونه ډالر)

| | |
|---|---|
| **له حکومت څخه حکومت ته** | |
| د دفاع وزارت | 4,240 امریکایی ډالر |
| د بهرنیو چارو وزارت | 92 امریکایی ډالر |
| USAID | 1,060 امریکایی ډالر |
| **څو اړخیزه وجهي صندقونه** | |
| LOTFA | 1,210 امریکایی ډالر |
| ARTF | 1,960 امریکایی ډالر |
| AITF | 412 امریکایی ډالر |

سرچینې: د سیګار پلټنې راپور AR-32-14: مستقیمه مرسته: USAID مثبت ګامونه اخیستي ترڅو د ډونرانو د مرستو اداره کولو توان په اړوند د افغانستان وزارتونو ظرفیتونو ارزونه وکړي، مګر کمزوریانې پاتې دي، 1/2014؛ د سیګار ځانګړې پروژې راپور SP-12-14: د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو مالي چارو اداري ظرفیتونو خطر ارزونه کیدای شي د 4 میلیاردو امریکایي ډالرو مستقیمې مرستې نظارت بنه کړي، 12/2013؛ نړیوال بانک، "ARTF: د 2013 د دسمبر تر 21 پورې د مالي دریځ په اړه د مدیر راپور (د 1392 مالي کال د 12مې میاشتې پای)،" p. 5؛ UNDP، "د LOTFA VI برخي د ربع پرمختګ راپور Q3/2013،" 12/31/2013، مخونه. 80-81؛ د سیګار له لورې د UNDP د هر ربع او کلنی LOTFA راپورونو ارزونه، 1/22/2014.

# د LOTFA او ”پټو کارکوونکو“ په اړه اندېښنې

څو کلونه کېږي، چې سيګار د افغانستان ملي پوليسو د معاشونو په لست کې د ”پټو کارکوونکو“ په اړه اندېښنه لري. په 2011 کې، د سيګار يوې پلټنې راپور د ملګرو ملتونو پراختيايي اداري له لورې د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA) چې د افغانستان ملي پوليسو معاشونو لپاره ورڅخه کار اخيستل کيږي، پوښتنې راپورته کړې. د سيګار پلټونکو وموندل چې نه د افغانستان کورنيو چارو وزارت او نه د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام کولای شي د معاشونو معلومات تاييد کړي. سيګار دې پايلې ته ورسيد چې ”محدود ډاډ شتون لري چې يوازې د افغانستان ملي پوليس هغه کارکوونکي معاش اخلي چې کار کوي او د LOTFA مرستې د مستحقو لګښتونو لپاره کارول کيږي.“[46]

له هغه وخته څخه چې سيګار خپل راپور خپور کړی، د پټو کارکوونکو په اړه اندېښنې ډېرې شوې. په 2012 کې، د LOTFA مرستو ناسمې اداره کولو په اړه له تورونو وروسته، د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام د LOTFA پروژې مدير او درې نور لوړ پوړي چارواکي د تدارکاتو تقلب او ناسمې ادارې لپاره له دندو لرې کړل.

له 2002 څخه، نړيوالې ټولنې د LOTFA لپاره 3.17 ميلیارده امريکايي ډالر برابر کړي دي. امريکا 38% برابر کړي دي، چې د دې ټول نږدې 1.21 ميلیارده امريکايي ډالر دي. اروپايي ټولنې 14% برخه اخيستې ده. (د LOTFA مرستې جزييا‌تو لپاره 81 مخ وګورئ.)

پدې ربع کې، د اروپايي کميسيون او د تقلب په وړاندې د اروپا دفتر چارواکو سره د نظارت مسلو خبرو په وخت کې، سيګار پدې پوه شو چې اروپايي ټولنې په LOTFA کې ټولې برخې څخه چې €200 ميليونه يورو ده، €100 ميليونه يورو يې ساتلې، ترڅو کميسيون پريکړه وکړي چې مناسب کنټرولونه شتون لري او دا وګوري چې د LOTFA مرستې د موخو لپاره لګول کيږي.

په تېر نومبر کې له افغانستان څخه د درې مياشتنۍ مودې په يوه ليدنه کې، د افغانستان بيارغونې لپاره ځانګړې عمومي مفتش د افغانستان لپاره د امنيت سپارلو ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) سره چې په LOTFA کې د امريکا د برخې اخيستلو يوې برخې مسوليت لري د LOTFA او پټو کارکوونکو په اړه يې د اروپايي کميسيون اندېښنې راپورته کړې. د CSTC-A له لوړ پوړو چارواکو څخه هيڅ يو هم چې له سيګار سره ليدلي له تحقيقونو يا له هغې پريکړې څخه چې له LOTFA څخه مرستې وساتل شي خبر نه وو. دا له LOTFA څخه د CSTC-A د نظارت په اړه او تر هغې کچې چې نړيوال مرستندويان له يو بل سره معلومات شريکوي يو شمير اندېښنې راپورته کوي.

سيګار د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو کارکوونکو معلوماتو او دقيقوالي د ارزونې په اړه يوه روانه پلټنه لري. سيګار اميد لري ترڅو پدې پوه شي چې د افغانستان ملي اردو او افغانستان ملي پوليس خپل کارکوونکي څنګه شميري. د دغو شميرو دقيقوالی د افغانستان امنيتي ځواکونو دوامداره مرستې په اړه پريکړې لپاره به يوه مهمه اندازه وي. د سيګار پلټنه پدې لټه کې ده ترڅو دا معلومه کړې چې څنګه امريکا او د افغانستان حکومت د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو کارکوونکو شمير معلوموي، او ترکومې کچې دا معلومات په دقيقه توګه د ګمارل شويو او دندې لپاره حاضرو کارکوونکو دقيق شمير معلوموي، او دا چې د امريکا حکومت د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو کارکوونکو له معلوماتو څخه د مالي دوام فعاليتونو، پشمول د معاشونو تاديا‌تو لپاره څنګه کار اخلي.



**د افغانستان يو پوليس افسر** د افغانستان هلمند په ولايت کې روزنه کوي. په مرکز کې زده کوونکي د سواد زده کړې، وسايطو تلاشۍ، د چاودېدونکو توکو (د سړک غاړې ماينونو) له منځه وړلو، جمع نظام، او لمړنۍ مرستې مضمونونو کې روزنه لاسته راوړي. (د امريکا دفاع وزارت عکس)

## د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته

د 2014 د جنوری په 17، ولسمشر اوباما د 2014 ګډو تخصیصونو قانون لاسلیک کړ، اولدې سره له 2002 څخه په افغانستان کې د امریکا بیارغونې زیاتیدونکي مرستې 102 میلیاردو امریکایي ډالرو تر ورسیدلي د افغانستان لپاره د 2014 مالي کال بیارغونې تخصیصونه تر ډیرې کچې تر هغه څه چې ولسمشر د 2014 مالي کال په بودجه کې وړاندیز کړی، نږدې 12 میلیارده امریکایی ډالر کمې شوې. د وضاحت ګډه اعلامیه (JES) چې له قانون سره ضمیمه ده ویلي چې د مرستې کموالی د هغه حقیقت نښه ده چې ادارې اوس هم د مکلفیت او توزیع لپاره ډیره مرسته د تیر کال له تخصیصونو څخه په اختیار کې لري.

## د امریکا دفاع وزارت پروګرامونه

د امریکا کانګرس د پنځو بیارغونو حسابونو لپاره چې د امریکا دفاع وزارت له لورې اداره کیږي 5.34 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي دي. دا له 8.5 میلیارده امریکایي ډالرو څخه چې د امریکا دفاع وزارت یې غوښتنه کړې وه د 37% کموالي استازیتوب کوي. ډیری مرسته، نږدې 4.7 میلیارده امریکایي ډالر، د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF) لپاره ده، ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه وروزل شي، تجهیز شي، کاغوشونه ورته جوړ شي او وسائل شي. د امریکا دفاع وزارت د ASFF لپاره د نږدې 7.73 میلیاردو امریکایي ډالرو غوښتنه کړې وه. پدې کې اصلي غوښتنه 5.11 میلیارده امریکایي ډالر او د توانمندی 2.62 میلیارده امریکایي ډالر شامل دي. JES ویلي چې د امریکا دفاع وزارت د "توانمندی" لپاره پخپلې غوښتنې باندې بیا کتنه کړې او موندلې یې چې له اوسنی اړتیا څخه یې اضافه ده. د امریکا دفاع وزارت د خپلې غوښتنې دا برخه تر 60% کمه کړې. پدې برسیره، د JES په وینا، کانګرس د 365 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت ASFF نور هم ځکه کم کړی چې د امریکا دفاع وزارت ویلي چې نور نه غواړي د افغانستان لپاره Mi-17 هلیکوپترونه واخلي.

JES ویلي چې د امریکا وزارت د تیرو څلورو کلونو بودجې غوښتنو د اړتیاوو په اړه مبالغه کړې وه او دا اضافې تخصیصونه په دوامداره توګه د راتلونکو مالي کلونو مکلفیتونو لپاره سپارل شوي دي. "پرته لدې چې JES د تیر کال تخصیصونه بیرته واخلي، JES ویلي چې قانون د سږکال غوښتنه د یوه میکانزم په توګه کموي ترڅو په پروګرام کې انډول وساتې او دا د سږکال له اړتیا سره له تبعیض څخه پرته ترسره کیږي."

## د امریکا بهرنیو چارو وزارت او USAID پروګرامونه

د 2014 د ګډو تخصیصونو قانون د امریکا بهرنیو چارو وزارت عملیاتونو لپاره 49 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړي. د JES په وینا، پدې کې د افغانستان لپاره 1.12 میلیارده امریکایي ډالر مرسته شامله ده. JES ویلي چې دا د 2013 مالي کال تخصیصونو او 2014 مالي کال غوښتنې څخه 50% کموالي استازیتوب کوي. د JES په وینا، "تخصیص ورکونکي مناسب ګام اخیستی ترڅو د افغانستان لپاره د نوي بودجې صلاحیت تر هغې کچې کم کړي چې د دوام وړ وي او په مسؤلانه توګه پروګرام شي او ورځخه اغیزمن نظارت وشي."

د امریکا بهرنیو چارو وزارت او USAID بیارغونې پروګرامونو مرستو په اړه تر اوسه پریکړه نده شوې. د امریکا بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان د بیارغونې مرستو آخرې اندازه، پشمول د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق (ESF) او د نړیوال مخدره توکو کنترول او قانون پلي کولو (INCLE) حساب لا تر اوسه بشپړ شوي ندي.

جدول 3.2 زیاتیدونکي تخصیصونه، مکلفیتونه، او توزیعات ښیي. جدول 3.3 او جدول 3.4 د 2012 او 2013 مالي کلونو لپاره تخصیصونه، مکلفیتونه، او توزیعات ښیي.

جدول 3.2

**له 2002–2014 د مرستو زیاتیدونکې تخصیص شوې، مکلف شوې، او توزیع شوې اندازه** (ملیاردونه ډالر)

| | تخصیص شوي | مکلف شوي | توزیع شوي | ختم شوي |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF) | $57.50 | $47.88 | $45.38 | $1.08 |
| د قومندان د بیړني غبرګون پروګرام (CERP) | $3.67 | $2.29 | $2.24 | $1.19 |
| د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AIF) | $1.22 | $0.90 | $0.20 | $0.03 |
| د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) | $0.78 | $0.69 | $0.52 | $0.03 |
| د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنیوی او مخدره توکو په وړاندې مبارزې فعالیتونه (DOD CN) | $2.94 | $2.48 | $2.48 | $0.00 |
| د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق (ESF) | $16.69 | $14.67 | $11.50 | $0.40 |
| د مخدره توکو نړیوال کنټرول او د قانون پلي کول (INCLE) | $4.18 | $3.54 | $2.85 | $0.09 |
| **ټول او لوی وجهي صندقونه** | **$86.99** | **$72.45** | **$65.17** | **$2.83** |
| د بیارغونې نور وجهي صندقونه | **$7.09** | | | |
| عملیاتونه او نظارت | **$8.05** | | | |
| **ټول** | **$102.13** | | | |

جدول 3.3

**د 2012 مالي کال لپاره هغه اندازه پیسې چې تخصیص شوې، مکلف شوې، او توزیع شوې** (میلیونونه ډالر)

| | تخصیص شوي | مکلف شوي | توزیع شوي | ختم شوي |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF) | $9,200 | $8,837 | $7,909 | $363 |
| د قومندان د بیړني غبرګون پروګرام (CERP) | $400 | $112 | $99 | $288 |
| د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AIF) | $400 | $376 | $94 | $24 |
| د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) | $242 | $233 | $195 | $9 |
| د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنیوی او مخدره توکو په وړاندې مبارزې فعالیتونه (DOD CN) | $423 | $423 | $423 | $0 |
| د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق (ESF) | $1,837 | $1,779 | $151 | $58 |
| د مخدره توکو نړیوال کنټرول او د قانون پلي کول (INCLE) | $359 | $358 | $89 | $0 |
| **ټول او لوی وجهي صندقونه** | **$12,860** | **$12,119** | **$8,959** | **$741** |
| د بیارغونې نور وجهي صندقونه | **$309** | | | |
| عملیاتونه او نظارت | **$1,493** | | | |
| **ټول** | **$14,662** | | | |

جدول 3.4

**د 2013 کال لپاره هغه اندازه پیسې چې تخصیص شوې، مکلف شوې، او توزیع شوې** (میلیونونه ډالر)

| | تخصیص شوي | مکلف شوي | توزیع شوي | ختم شوي |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF) | $5,124 | $1,316 | $972 | $0 |
| د قومندان د بیړني غبرګون پروګرام (CERP) | $200 | $43 | $23 | $157 |
| د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AIF) | $325 | $236 | $0 | $0 |
| د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) | $137 | $135 | $66 | $0 |
| د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنیوی او مخدره توکو په وړاندې مبارزې فعالیتونه (DOD CN) | $307 | $168 | $168 | $0 |
| د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق (ESF) | $1,623 | $0 | $0 | $0 |
| د مخدره توکو نړیوال کنټرول او د قانون پلي کول (INCLE) | $569 | $13 | $8 | $0 |
| **ټول او لوی وجهي صندقونه** | **$8,286** | **$1,911** | **$1,238** | **$157** |
| د بیارغونې نور وجهي صندقونه | **$172** | | | |
| عملیاتونه او نظارت | **$1,348** | | | |
| **ټول** | **$9,805** | | | |

د سرچینو او یادښتونو لپاره د دې راپور ب ضمیمه وګورئ.

# د فنډونو د وضعیت منځپانګې


د افغانستان لپاره د امریکا بیا رغونېزې مرستې 70

د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ 72

د افغان امنیتي ځواکونو بودجې فعالیتونه 73

د قوماندان بیړنی غبرګون پروګرام 74

د افغانستان زیربنا وجهي صندق 75

د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک 76

د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنیوی او مخدره توکو سره مبارزې فعالیتونه 77

د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق 78

نړیوال مخدره توکو کنترول او د قانون پلي کول 79

د افغانستان لپار نړیوالې ټولنې بیارغونیزه مرسته 80

# د بسپنو وضعیت

د سیګار د قانون جوړوني ماموریت د تر سره کولو لپاره، دا برخه د افغانستان د بیا رغوني فعالیتونو لپاره د امریکا د تخصیص شویو، ژمنه شویو، او تادیه شویو فنډونو په اړه توضیحات ورکوي. د 2014 د جنوری تر 17 پورې، امریکا د افغانستان مرستې او بیارغوني لپاره له 2002 مالي کال څخه شاوخوا 102.13 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي دي.

دا ټولې مرستې په لاندې توګه ټاکل شوې دي:

- 59.03 میلیارده امریکایي ډالر د امنیت لپاره
- 25.05 میلیارده امریکايي ډآلر د حکومتوالی او پراختیا لپاره
- 7.32 میلیارده امریکايي ډالر د مخدره توکو په وړاندې مبارزې هڅو لپاره
- 2.68 میلیارده امریکايي ډالر د بشر دوستانه مرستې لپاره
- 8.05 ملیارده امریکایی ډالر د عملیاتو او نظارت لپاره

شکل 3.0 د امریکا لوی مرستې ښيي چې پدې هڅو کې برخه اخلي.

**ASFF:** د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق
**CERP:** د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام
**AIF:** د افغانستان زیربنا وجهي صندق
**TFBSO:** د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک
**DOD CN:** د دفاع وزارت مخدره توکو مخنیوي او مخدره توکو په وړاندې مبارزې فعالیتونه
**ESF:** اقتصادي ملاتړ وجهي صندق
**INCLE:** نړیوال مخدره توکو کنټرول او قانون پلې کول
**نور:** نورې مرستې

شکل 3.0

**د افغانستان د بیارغونې د هڅو د ملاتړ بودیجې** (ملیاردونه ډالر)




یادونې: ارقام برابرې کړای شوې دي. هغه ارقام پکې شامل دي چې د 2014 د اضافي اختصاص په قانون کې اختصاص شوي دي.

[1] په بېلابېلو ادارو کې شاملې دي د عدلیې، بهرنیو چارو، دفاع وزارتونه، یو ایس آیي ډي، د خزانې محکمه، USDA، DEA، BBG، او SIGAR.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/22/2014، 1/2/2014، 12/30/2013، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/13/2014، 1/9/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ خزانه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/2/2014؛ OMB، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ یو ایس آیي ډي، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/7/2014، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009، عدلیه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 7/7/2009، USDA، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، "AR(M) 1002 د دسمبر 2013 د مالي کال د پروګرام او ضمني حسابونو د اختصاص حالت،" 1/18/2014؛ H.R. 3547، "د 2014 د اضافي اختصاصونو قانون،" 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ مالي کال 2010 د دفاع وضاحتي بیان.




**له 2002 مالي کال څخه په افغانستان کې د بیارغونې ټولو مرستو څخه، هغه اندازه مرستې چې د امریکا اوو مهمو وجهي صندقونو لپاره برابرې شوې د نږدې 85.2% (نږدې 86.99 میلیاردو امریکایي ډالرو) ستازیتوب کوي. لدې مرستو څخه، نږدې 83.3% (له 72.45میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات) مکلف شوي دي، او له 74.9% څخه زیات (نږدې 65.17 میلیارده امریکایي ډالر تادیه شوي دي. نږدې 2.8 میلیارده امریکایي ډالر له پخوانیو تخصیص شویو مرستو څخه ختم شوي دي.**

## د افغانستان لپاره د امریکا بیا رغونیزې مرستې

د 2014 د جنوری په 17، ولسمشر اوباما د 2014 کال د ګډو تخصیصونو قانون لاسلیک کړ، چې د پاتې مالي کال لپاره د متحده ایالاتو حکومت مرسته او د افغانستان بیارغونې لپاره ډیریدونکي مرستې یې نږدې 102.13 میلیارده امریکایي ډالرو ته زیاتې کړې، لکه څنګه چې په شکل 3.1 کې ښودل شوي. کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ورغی، د امریکا بهرنیو چارو وزارت او USAID د 2014 مالي کال تخصیصونو اندازې حسابونه لا تر پریکړې لاندې وو. د 2014 مالي کال مرستو اندازه به زیاته شي کله چې د مرستو دغې اندازې معلومې شي.[47] څنګه چې د 2014 مالي کال تخصیصونو قانون مطبوعاتو ته د دې راپور له تللو وړاندې وضع شوی وو، پدې برخه کې هغه اندازه تخصیصونه شامل دي چې په قانون کې تخصیص شوي؛ مګر، مکلف شوي او تخصیص شوي اندازې د 2013 د دسمبر تر 31 پورې دي. د متحدو ایالتونو د ځانګړو شویو مرستو په اړه د بشپړو معلوماتو لپاره د ب ضمیمه وګورئ.

شکل 3.1

**له 17 جنوري 2014 سره سم د بودیجو د کټګوریو په حساب ټول اختصاصونه** (په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوې دي. دفاع وزارت د مالي کال 2011 د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. دفاع وزارت د مالي کال 2012 د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. P.L. 113-6 د مالي کال 2012 د ASFF یو ملیارد ډالر لغوه کړل. دفاع وزارت د مالي کال 2011 د AIF 101 ملیونه ډالر مالي کال 2011 لپاره ESF ته انتقال کړل تر څو یوه د یو ایس آیي ډي لخوا پلې کېدونکې د برېښنا پروژې ته بودیجه ورکړل شي.

[I] هغه ارقام پکې شامل دي چې د 2014 د اضافي اختصاصونو په قانون کې اختصاص شوي.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/22/2014، 1/2/2014، 12/30/2013، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/13/2014، 1/9/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ خزانه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/2/2014؛ OMB، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ یو ایس آیي ډي، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/7/2014، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ عدلیه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 7/7/2009؛ USDA، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، "AR(M) 1002 د دسمبر 2013 د مالي کال د پروګرام او ضمني حسابونو د اختصاص حالت،" 1/18/2014؛ H.R. 3547، "د 2014 د اضافي اختصاصونو قانون،" 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ مالي کال 2010 د دفاع وضاحتي بیان.

د 2014 د جنورۍ په 17، د 2014 مالي کال لپاره د تخصیصونو اندازه له 5.42 میلیارده امریکایي ډالرو څخه زیاته وه، لکه څنګه چې په شکل 3.2 کې ښودل شوي. لدغې اندازې مرستې څخه، نږدې 4.73 میلیارده امریکایي ډالر د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق ته تخصیص شوي.[48] د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق او د افغانستان بیارغونې نورو حسابونو لپاره د پای تخصیصونه تر ډېرې کچې د 2014 مالي کال له وړاندیز شوې بودجې څخه کم شوي، لکه څنګه چې په جدول 3.5 کې ښودل شوي. د 2014 د ګډو تخصیصونو قانون ګډه توضیحاتي اعلامیه، وایي چې دا قانون "هغه اړین ګامونه اخلي چې د افغانستان لپاره د نوي بودجې صلاحیت د ډېر دوام وړ کچې ته کموي ترڅو وکولای شي په مسولانه توګه پروګرام شي او ورڅخه نظارت وشي...د مرستو ډېری پروګرامونه د مرستو ډېر چلونه لرې چې کیدای شي د مکلفیت او تادیه کولو لپاره ډېر کلونه ونیسي."[49] جدول 3.4 د دې راپور په 67 پاڼه کې د 2013 مالي کال د تخصیصونو اندازه ښیي چې تر اوسه مکلف شوي ندي.

جدول 3.5

**د بودجې غوښتنې په پرتله د 2014 مالي کال تخصیصونه** (ملیونونه ډالر)

| | **غوښتل شوې** | **تخصیص شوې** | **بدلون** |
|---|---|---|---|
| ASFF | $7,726 | $4,726 | %-39 |
| CERP | $60 | $30 | %-50 |
| AIF | $279 | $199 | %-29 |
| TFBSO | $121 | $64 | %-47 |
| DOD CN [د] | $321 | $321 | %0 |
| **ټول** | **$8,508** | **$5,340** | **%-37** |

یادښتونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت او د USAID لپاره د پای تخصیص اندازو باندې پریکړه نده شوې.
[د] DOD CN لپاره ټول 376 میلیونه امریکایي ډالر چې د بهرنیو بیړنیو عملیاتو لپاره یې غوښتنه شوې تخصیص شوي؛ لدغو څخه 318 میلیونه امریکایي ډالر د افغانستان لپاره و. د DOD CN اساسی مرستو د افغانستان لپاره نور 3 میلیونه امریکایي ډالر برابر کړې.

سرچینې: د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه، د امریکا دفاع وزارت ځواب، 1/22/2013؛ HR. 3547، 1/17/2014؛ OSD کنترولر، د امریکا دفاع وزارت د بودجې تعدیل د 2014 مالي کال د بهرنیو بیړنیو عملیاتونو (OCO) لپاره د ولسمشر بودجې غوښتنه: عملیات او ساتنې پروګرامونه (O-1) د ګرځیدلو او اداري مرستې (RF-1)، 5/2013، مخونه. 1-3.

شکل 3.2

**اختصاصونه د مالي کال، رقم، او کټګورۍ په حساب** (په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. دفاع وزارت د مالي کال 2011 د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. دفاع وزارت د مالي کال 2012 د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. P.L. 113-6 د مالي کال 2012 د ASFF یو ملیارد ډالر لغوه کړل. دفاع وزارت د مالي کال 2011 د AIF 101 ملیونه ډالر مالي کال 2011 لپاره ESF ته انتقال کړل تر څو یوه د یو ایس آیي ډي لخوا پلي کېدونکې برېښ بناو پروژې ته بودیجه ورکړل شي.

[I] هغه ارقام پکې شامل دي چې د 2014 د اضافي اختصاصونو په قانون کې اختصاص شوي.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/22/2014، 1/2/2014، 12/30/2013، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/13/2014، 1/9/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ خزانه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/2/2014؛ OMB، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ یو ایس آیي ډي، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/7/2014، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ عدلیه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 7/7/2009؛ USDA، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، "AR(M) 1002 د دسمبر 2013 د مالي کال د پروګرام او ضمني حسابونو د اختصاص حالت،" 1/18/2014؛ H.R. 3547، "د 2014 د اضافي اختصاصونو قانون،" 1/17/2014؛ P.L. 113-6, 3/26/2013; P.L. 112-74, 12/23/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011; P.L. 111-212, 10/29/2010; P.L. 111-118, 12/19/2009؛ مالي کال 2010 د دفاع وضاحتي بیان.




## د ASFF مرستو اصطلاحات

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د ASFF فنډونه څنګه تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګیدلې دي

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتنې ته، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2010.

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ

د امریکا کانګرس د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF) جوړی کړی ترڅو د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره تجهیزات، مواد، خدمات، روزنه، تاسیسات، د زیربنا ترمیم، بیارغونه، او ساختماني کارونه برابر کړي.[50] هغه اصلي سازمان چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو تاسیساتو جوړولو مسولیت لري په افغانستان کې د شمالي اتلانتیک تړون سازمان ماموریت/د افغانستان لپاره د امنیت سپارلو ګډه قوماندانی ده.[51]

د 2014 ګډو تخصیصونو قانون، د 2014 مالي کال لپاره د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق لپاره یې نږدې 4.73 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي چې ټولټال مجموعه 57.50 ملیارد ډالرو څخه ډیر ته لوړوي.[52] د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو له ټولې مرستې څخه له 47.88 ملیلیارده امریکایي ډالرو څخه زیات مکلف شوي دي، لدغو څخه نږدې 45.38 میلیارده امریکایي ډالر تادیه شوي دي.[53] عکس 3.3 هغه اندازه مرسته ښیي چې د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق د هر مالي کال لپاره یې شتون درلود.

دفاع وزارت راپور ورکړی چې د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، مجموعي مکلفیتونه د 2013 د اګست تر 31 پورې مجموعي مکلفیتونو څخه، تر 894.63 میلیون امریکایي ډالرو ډیر زیات شوي. د 2013 د دسمبر تر 31 پورې زیاتیدونکي تادیاتو، د 2013 د اګست

شکل 3.3

**د مالي کال په حساب د ASFF اختصاص شوي بودیجې** (په ملیاردونو ډالرو)




شکل 3.4

**د ASFF بودیجې، مجموعي پرتلنه** (په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي.

ا دفاع وزارت مالي کال 2011 لپاره د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل.

ب دفاع وزارت مالي کال 2012 لپاره د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل؛ نور یو ملیارد ډالر په P.L. 113-6 کې لغوه کړای شول.

ت د مالي کال 2014 شکل د ASFF هغه رقم شامل دی چې د 2014 د اضافي اختصاص په قانون کې اختصاص شوی و.

سرچینې: DFAS، "AR(M) 1002 د دسمبر 2013 د مالي کال د پروګرام او ضمني حسابونو د اختصاص حالت،" 1/18/2014؛ دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 10/09/2013؛ H.R. 3547، "د 2014 د اضافي اختصاصونو قانون،" 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013.

تر 31 پورې تر زیاتیدونکو تادیاتو، 1.84 میلیارده امریکایي ډالر ډېر زیات شوي.[54] شکل 3.4 د هغو زیاتیدونکو مرستو اندازې پرتله کول ښيي چې د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق لپاره یې شتون درلود، مکلف شوي، او تادیه شوي.

## د افغان امنیتي ځواکونو بودجې فعالیتونه

د امریکا دفاع وزارت په ASFF کې د بودجې د فعالیتونو دریو ډلو ته مرستې ورکوي:

- دفاعي ځواکونه (د افغانستان ملی اردو)
- کورنیو چارو ځواکونه (د افغانستان ملی پولیس)
- اړوند فعالیتونه (اصلا د توقیف شویو عملیاتونه)

**د بودجې فعالیت ډلې:** هغې برخې چې د هر تخصیص یا مرستو حسابونو په منځ کې چې د فعالیتونو موخې، پروژې، یا ډولونه چې د تخصیص

**یا مرستې فرعي فعالیت ډلو لخوا تمویلیري:** د محاسبې ډلې چې د قوماندانی تادیات په کاري ساحو باندې ویشي

سرچینې: د امریکا د دفاع وزارت، "لارښود 7110.1-M د امریکا د دفاع وزارت د بودیجې لارښود منول،" لاس رسی 9/28/2009؛ د بحري ځواکونو اداره، "د روغتیا د تاسیساتو د اداره کولو لارښود،" p. 5 لاس رسی 10/2/2009.

هر کاری یا فعالیتی ګروپ ته ځانګړی شوی بودجه بیا په څلور فرعی فعالیت کاری ګروپ باندی ویشل شوی دی: زیربنا، تجهیزات او ترانسپورت، روزنه او عملیاتونه، او ساتنه.[55]

د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، د امریکا دفاع وزارت د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو نوښتونو لپاره نږدې 45.38 میلیارده امریکایي ډالر تادیه کړي دي. لدغې اندازې څخه، له 30.11 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د افغانستان ملي اردو لپاره تادیه شوي، او نږدې 14.92 میلیارده امریکایي ډالر د افغانستان ملي پولیسو لپاره تادیه شوي؛ پاتې نږدې 347.98 میلیونه امریکایي ډالر نورو اړوندو فعالیتونو ته لیږل شوي.[56]

لکه څنګه چې په شکل 3.5 کې ښودل شوي، د مرستو ډېره برخه د افغانستان ملي اردو لپاره تادیه شوي، له 11.30 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات، د تجهیزاتو او ترانسپورت ملاتړ کړی دی. له هغو مرستو څخه چې د افغانستان ملي پولیسو لپاره تادیه شوي، ډېره برخه یې له 5.35 ملیاردو امریکایي ډالرو څخه زیاتو د ساتنې ملاتړ کړی، لکه څنګه چې په 3.6 عکس کې ښودل شوي.[57]

شکل 3.5

**د ضمني-فعالیت د ډلې له لارې ملي اردو لپاره د ASFF مصارف، مالي کال 2005-31 دسمبر 2013** (په ملیاردونو ډالرو)




شکل 3.6

**د ضمني-فعالیت د ډلې له لارې ملي پولیسو لپاره د ASFF مصارف، مالي کال 2005-31 دسمبر 2013** (په ملیاردونو ډالرو)




یادونه: ارقام برابر کړای شوي دي.

سرچینې: DFAS، "AR(M) 1002 د دسمبر 2013 د مالي کال د پروګرام او ضمني حسابونو د اختصاص حالت،" 1/18/2014؛ دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 10/09/2013.

## د قوماندان بیړنی غبرګون پروګرام

د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام (CERP) په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندانان په دې توانوي چې د هغو پروګرامونو په ملاتړ کولو سره چې د سیمه ایزې ابادۍ سمدستي مرسته وکړي، د خپل مسوولیت په برخو کې بیړنیو بشري مرستو او د بیا رغونې غوښتنو ته ځواب ووايي. د دې پروګرام لاندې مرستې د هغو وړو پروژو لپاره دي چې د هرې پروژې تخمین شوی لګښت له 500,000 امریکايي ډالرو څخه کم وي.[58] هغې پروژې چې تخمین شوی لګښت يې له 1 میلیونو امریکايي ډالرو څخه زيات وي اجازه لري، مګر د امریکا مرکزي قوماندانی قوماندان تایید ته اړتیا لري؛ هغې پروژې چې له 5 میلیونو امریکايي ډالرو څخه زیاتې وي د امریکا د دفاع وزیر د معاون لخوا تایید ته اړتیا لري. د CERP لخوا تمویل شوي پروژې باید له 20 میلیونو امریکايي ډالرو څخه زیاتې نشي.[59]

د 2014 د ګډو تخصیصونو قانون، 30 میلیونه امریکايي ډالر د CERP لپاره تخصیص کړي، چې د ټولو زیاتیدونکو مرستو اندازه نږدې 3.67 میلیاردو امریکايي ډالرو ته رسیږي.[60] لدغې اندازې څخه، د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې نږدې 2.29 میلیارده امریکايي ډالر مکلف شوي دي، لدغو څخه د 2013 د دسمبر تر 31، له 2.24 میلیاردو امریکايي ډالرو څخه زيات تادیه شوي.[61] شکل 3.7 د هر مالي کال په اساس د CERP تخصیصونه ښيي، او شکل 3.8 د CERP پروژو لپاره د تخصیص شویو، مکلف شویو، او تادیه شویو مرستو اندازې ښيي.




### د CERP مرستو اصطلاحات

د امریکا د دفاع وزارت د CERP مرستو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوي، ژمنه شوي او تادیه شوي راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګیدلي دي

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتنې ته، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/14/2010.

شکل 3.7

**د مالي کال په حساب د CERP اختصاصونه**

(په ملیونونو ډالرو)




شکل 3.8

**د CERP بودیجې، مجموعي پرتلنه**

(په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. په ډاټا کې ښنايي بین الاداري لېږدونې شاملې وي.

ا د مالي کال 2014 په شکل کې هغه رقم شامل دی چې CERP لپاره د 2014 د اضافي اختصاصونو په قانون کې اختصاص شوی.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/22/2014 او 10/23/2013؛ OMB، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/4/2013؛ H.R. 3547، "د 2014 د اضافي اختصاصونو قانون،" 1/17/2014؛ P.L. 113-6, 3/26/2013; P.L. 112-74, 12/23/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011.




## د AIF د مرستو اصطلاحات

د امریکا د دفاع وزارت د AIF د مرستو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوي، ژمنه شوي، یا تادیه شوي راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګیدلې دي

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتنې ته، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2012.

# د افغانستان زیربنا وجهي صندق

د اکي سکيلټن دفاع ملي تجويز قانون د 2011 مالي کال لپاره د لوړ – لومړيتوب، لوی مقياس زيربنای پروژو ته د ورکړې لپاره د افغانستان زيربنا پانګه يا تمويل (AIF) جوړه کړې، چې د متحده ايالاتو ملکي نظامي هڅه ملاتړوي. د کانګرس غوښتنه ده چې د AIF لخوا تمويل شوي پروژې به د امريکا د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو لخوا په ګډه غوره او اداره کيږي. ديرش ورځې وړاندې ترذې چې د افغانستان زيربنا وجهي صندق پروژې باندې مرستې مکلف شي يا ولګول شي، د امريکا دفاع وزير او د امريکا بهرنيو چارو وزير اړتيا لري ترڅو کانګرس د وړانديز شوي پروژې له جزيياتو، پشمول د پروژې له دوام او دا چې څنګه دا پروژه په افغانستان کې د ياغيانو په وړاندې له ستراتيژۍ څخه ملاتړ کوي، خبر کړي.[62]

د 2014 ګډو تخصيصونو قانون، د افغانستان زيربنا وجهي صندق لپاره 199 مليونه امريکايي ډالر مکلف کړي، او لدې سره د زياتيدونکو مرستو ټوله اندازه له 1.22 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زياته شوې.[63] پدې اندازه مرسته کې د افغانستان زيربنا وجهي صندق د 2011 مالي کال 101 مليونه امريکايي ډالرو مرستې شامل ندي، چې د 2011 مالي کال اقتصادي ملاتړ وجهي صندق ته سپارل شوي ترڅو د USAID د افغانستان زيربنا وجهي صندق زيربنا پروژه تمويل کړي. د 2013 دسمبر تر 31 پورې، د افغانستان زيربنا وجهي صندق له ټولې مرستې څخه نږدې 902.26 مليونه امريکايي ډالر مکلف شوي دي، لدغو څخه نږدې 195.60 مليونه امريکايي ډالر تاديه شوي دي.[64] شکل 3.9 د افغانستان زيربنا وجهي صندق د مالي کال په اساس تخصيصونه ښيي، او شکل 3.10 د افغانستان زيربنا وجهي صندق پروژو تخصيص شويو، مکلف شويو، او تاديه شويو زياتيدونکي پرتله کول ښيي.

شکل 3.9

**د مالي کال په حساب د AIF اختصاصونه**

(په مليونونو ډالرو)




شکل 3.10

**د AIF بوديجې، مجموعي پرتلنه**

(په مليونونو ډالرو)




يادونې: ارقام برابر کړای شوي دي.

[ا] د مالي کال 2011 په شکل کې هغه 101 مليونه ډالر نه دي شامل چې يو ايس آيي ډي ته د AIF د يوې پروژې لپاره لېږدل شوي وو.

[ب] د مالي کال 2014 شکل د AIF هغه رقم شامل دی چې د 2014 د اضافي اختصاص په قانون کې اختصاص شوی دی.

سرچينې: DFAS، "AR(M) 1002 د دسمبر 2013 د مالي کال د پروګرام او ضمني حسابونو د اختصاص حالت،" 1/18/2014؛ دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 7/22/2013؛ H.R. 3547، "د 2014 د اضافي اختصاصونو قانون،" 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.




## د TFBSO د مرستو اصطلاحات

د امریکا د دفاع وزارت د TFBSO د مرستو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګیدلې دي

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتنې ته، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2010.

## د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک

په 2010 کال کې د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) په افغانستان کې د بې کارۍ د کچې د کمولو، افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو د رامنځ ته کولو او همدا ډول د اقتصادي لاملونو د رامنځ ته شوي تاوتریخوالي سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات په موخه خپل فعالیت پدې هیواد کې پیل کړ. د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو لپاره کاري ځواک په فعالیتونو کې د خصوصي پانګونې لپاره آسانتیا، صنعتي پراختیا، بانکداری او مالي سیستم پراختیا، کرنې کې تنوع راوړل، او د انرژۍ پراختیا شامل دي.[65]

TFBSO د تمویل دوه جلا امواج لري. د ملي دفاع صلاحیتونو په قانون کې د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک له مرستو څخه یوازې د هغو فعالیتونو لپاره کار اخیستل کیدای شي چې په مستقیم ډول د افغانستان له بیارغونې سره تړاو ولري. هغه مرسته چه TFBSO یې د عملیاتو او حفظ او مراقبت او پوځ څخه ترلاسه کوي د امریکا د متحده ایالاتو د اجناسو، ملکي کارکوونکو، سفر، امنیت او نورو عملیاتي لګښتونو لپاره کارول کیږی.

د 2014 ګډو تخصیصونو قانون، له 91.24 میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډیر د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو کاري ځواک لپاره تخصیص کړي، چې لدې سره دې ځواک لپاره د زیاتیدونکو تخصیصونو اندازه له 783.39 میلیونو څخه زیات شوي.[66] لدغو مرستو څخه، نږدې 693.56 میلیونه امریکایي ډالر مکلف شوي دی او نږدې 517.68 میلیونه امریکایي ډالر تادیه شوي دي.[67] شکل 3.11 هغه مرستې ښیې چې د دې ځواک لپاره په هر مالي کال کې تخصیص شوي، او شکل 3.12 د دې ځواک پروژو لپاره د شته، مکلف شویو، او تادیه شویو مرستو پرتله کول ښیې.

شکل 3.11

**د مالي کال په حساب د TFBSO اختصاصونه**

(په میلیونو ډالرو)




شکل 3.12

**د TFBSO بودیجې، مجموعي پرتلنه**

(په میلیونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. NDAA = د ملي دفاع د اختیار ورکولو قانون. د NDAA بودیجې هغو فعالیتونو ته د پیسو ورکولو لپاره کارول کیږي چې نېغ په نېغ یې د افغانستان د بیارغونې سره تړون وي. OMA = عملیات او اهتمام، پوځ. د OMA بودیجې د متحده ایالاتو د اثاثو د دوامدارۍ، ملکي کارکوونکو، سفر، امنیت او نورو فعالیتونو د لګښتونو لپاره کارول کیږي.

[I] د مالي کال 2014 په شکل کې TFBSO لپاره د 2014 د اضافي اختصاصونو په قانون کې اختصاص شوی رقم شامل دی.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 1/22/2014، 10/1/2013، او 10/4/2011؛ H.R. 3547، "د اضافي اختصاصونو قانون، 2014،" 1/17/2014؛ P.L. 113-6, 3/26/2013؛ P.L. 112-74, 12/23/2011؛ P.L. 112-10, 4/15/2011.

# د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنیوی او مخدره توکو سره مبارزې فعالیتونه

د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنیوی او مخدره توکو سره مبارزې فعالیتونو مرسته (DOD CN) د مخدره توکو قاچاق او اړوندو فعالیتونو سره د مبارزې له لارې د هغو هڅو ملاتړ کوي ترڅو افغانستان باثباته کړي. د امریکا دفاع وزارت له DOD CN څخه کار اخلي ترڅو د مخدره توکو قاچاق کوونکو په وړاندې له نظامي عملیاتو څخه ملاتړ کولو، د افغانستان د مخدره توکو مخنیوی عملیات پراخولو؛ او د افغانستان قانون پلي کوونکو بنسټونو ظرفیت لوړولو، پشمول د افغانستان سرحدي پولیسو لپاره د ځانګړو روزنو او تجهیزاتو، او تاسیساتو برابرولو سره د مخدره توکو په وړاندې مبارزې هڅو لپاره مرسته برابره کړي.[68]

د DOD CN فنډونه د اردو ټولو خدماتو ته د یوې بودجې په توګه د کانګرس لخوا تخصیص ورکول کیږي. د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره مبارزې د سپارلو مرکزي حساب (CTA) مرستې د اردو خدماتو او دفاع ادارو ته بیرته پروګراموي، چې هغوی بیا د سپارل شویو مرستو مکلفیتونه تعقیبوي. د امریکا دفاع وزارت د افغانستان لپاره د DOD CN د هر مالي کال لپاره حسابونو په اړه د یوې شمیرې په توګه راپور ورکړی.[69]

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې DOD CN د 2014 مالي کال لپاره د افغانستان لپاره نږدې 320.79 میلیونه امریکایي ډالر لاسته راوړي، چې له 2004 مالي کال څخه د DOD CN زیاتیدونکي مرستې 2.94 میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي. لدغې اندازې څخه، د 2013 د دسمبر تر 31، له 2.48 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډیر د DOD CN پروژو لپاره د اردو خدماتو او دفاع ادارو ته سپارل شوي دي.[70] شکل 3.13 د هر مالي کال لپاره د DOD CN تخصیصونه ښیي، او شکل 3.14 له DOD CN څخه CTA ته د زیاتیدونکو تخصیصونو سپارلو اندازو پرتله کول ښیي.

شکل 3.13

**د مالي کال په حساب د DOD CN اختصاصونه** (په ملیونونو ډالرو)




کشل 3.14

**د DOD CN بودیجې، مجموعي پرتلنه**

(په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي.

[ا] د مالي کال 2014 په شکلونو کې هغه رقم شامل دی چې DOD CN لپاره د 2014 د اضافي اختصاصونو په قانون کې اختصاص شوی و.

[ب] DOD د نظامي خدمتونو او دفاعي ادارو ته د ټولو بودیجو د منلو او مصرف لپاره له سره پروګرام جوړوي.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/22/2013، 12/30/2013، او 9/30/2013.




## د DOD CN د مرستو اصطلاحات

د امریکا د دفاع وزارت د DOD CN د مرستو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګیدلې دي

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتنې ته، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2010.




## د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق اصطلاحات

USAID د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګیدلې دي

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتنې ته د USAID ځواب، 4/15/2010.

# د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق

د اقتصادي مرستو فنډ (ESF) پروګرام بېلابېلو هېوادونو ته د اقتصادي، سیاسي او امنیتي غوښتنو له مخې د اوږمهالو او لنډمهالو سفرونو د برابرولو په موخه د متحد ایالتونو له ګټو سره مرسته وکړه. د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق د تروریزم په وړاندې مبارزې ملاتړ کوي؛ ملي اقتصاد ته پراختیا ورکوي؛ او د شفاف او حساب ورکوونکي حکومت لپاره د حقوقي سیستمونو پراختیا لپاره چې اغیزمن او د لاس رسي وړ وي، مرسته کوي.[71]

کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ورغی، د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق لپاره د 2014 مالي کال مرستو بشپړې کچې په اړه پریکړه نه وه شوې. USAID راپور ورکړی چې د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق لپاره زیاتیدونکي مرستې نږدې 16.69 میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسیدلې. لدغو څخه، نږدې 14.67 میلیارده امریکایي ډالر مکلف شوي دي، او لدغو څخه له 11.50 میلیارده امریکایي ډالر تادیه شوي دي.[72] شکل 3.15 د هر مالي کال لپاره د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق تخصیصونه ښیي.

USAID راپور ورکړی چې د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، زیاتیدونکي مکلفیتونه د 2013 د سپتمبر له 30 څخه تر 379,921 امریکایي دالرو پورې زیات شوي. د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، زیاتیدونکي تادیاتو نږدې 329.10 میلیونه امریکایي ډالر د 2013 د سپتمبر 30 تر زیاتیدونکو تادیاتو زیات شوي.[73] شکل 3.16 د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق پروګرامونو لپاره د تخصیص شویو، مکلف شویو او تادیه شویو زیاتیدونکې پرتله کول ښیي.

شکل 3.15

**د مالي کال په حساب د ESF اختصاصونه**

(په ملیونونو ډالرو)




شکل 3.16

**د ESF بودیجې، مجموعي پرتلنه** (په ملیاردونو ډالر)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. په مالي کال 2011 کې هغه 101 ملیون ډالر شامل دي چې ESF ته د افغانستان د بېخ بناو د بودیجې لخوا لیږدول شوي وو.

سرچینې: یو ایس آیي ډي، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014 او 10/10/2013؛ بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 6/27/2013.

## نړیوال مخدره توکو کنټرول او د قانون پلي کول

د امریکا نړیوال مخدره توکو او قانون پلي کولو چارو بیورو (INL) د قانون حاکمیت ښه کولو او مخدره توکو تولید او قاچاق سره مبارزې حساب اداره کوي، چې د نړیوال مخدره توکو کنټرول او قانون پلي کولو (INCLE) حساب دی. INCLE د INL یو شمیر پروګرامونه، پشمول د پولیسو، مخدره توکو په وړاندې مبارزې، او قانون حاکمیت او عدالت پروګرامونو ملاتړ کوي.[74]

کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ورغی، د INCLE لپاره د 2014 مالي کال مرستو د پای مرستو اندازو باندې پریکړه شوې نه وه. د امریکا بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د INCLE لپاره زیاتیدونکي مرستې له 4.18 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډیرو ته رسیدلي. لدغې اندازې څخه، نږدې 3.54 ملیارده امریکایي ډالر مکلف شوي دي، چې لدغو څخه نږدې 2.85 میلیارده امریکایي ډالر تادیه شوي دي.[75] شکل 3.17 د هر مالي کال په اساس د INCLE تخصیصونه ښیي.

د امریکا بهرنیو چارو وزارت د 2013 د دسمبر تر 31 پورې زیاتیدونکو مکلفیتونو په اړه راپور ورکړی، چې د 2013 د سپتمبر تر 30 پورې په زیاتیدونکو مکلفیتونه باندې نږدې 3.62 میلیونه امریکایي ډالر زیات شوي. د 2013 د دسمبر تر 31 پورې زیاتیدونکي تادیات، د 2013 د سپتمبر تر 30 په زیاتیدونکو تادیاتو له 57.52 میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډیر زیات شوي.[76] شکل 3.18 د INCLE لپاره د تخصیصونو، مکلفیتونو او تادیاتو زیاتیدونکي پرتله کول ښیي.




### د INL د مرستو اصطلاحات

INL د INCLE او نورو INL مرستو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوي، مکلف شوي یا تادیه شوي راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګیدلې دي

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتنې ته، د امریکا بهرنیو چارو وزارت ځواب، 4/9/2010.

شکل 3.17

**د مالي کال په حساب د INCLE اختصاصونه**

(په میلیونونو ډالرو)




شکل 3.18

**د INCLE بودیجې، مجموعي پرتله**

(په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. په ډاټا کې بنسټیې بین الاداري لیږدونې شاملې وي.

سرچینې: د بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/13/2014 او 10/18/2013.

## د افغانستان لپار نړیوالې ټولنې بیارغونیزه مرسته

د امریکا د متحده ایالاتو د مرستو برسیره، نړیواله ټولنه د افغانستان د بیارغونې او هوساینې په برخه کې په پراخه کچه د پام وړ مرستې ترسره کړي دي. لکه څرنګه چه د سیګار په تیرو راپورونو کې هم راغلي وو، د افغانستان سره ترسره کیدونکي ډیری نړیوالې مرستې د باوري فنډونو له لارې سمبال او اداره کیږي. د باوري پانګو له لیارې چمتو شوي اعانې یوځای شوي او وروسته د بیارغونې کړنو باندې لګول شوي. دوه مهم وجهي صندقونه د افغانستان بیارغونې وجهي صندق (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) دي.[77]

## د افغانستان بیارغنیز باوري فنډ ته مشارکت

د افغانستان عملیاتي او پرمختګ بودیجو ته د نړیوالو مرستو خورا لوی سهم د ARTF له لیارې راځي. له 2002 څخه د 2013 دسمبر تر 21 پورې، نړیوال بانک راپور ورکړی چې 33 مرستندویانو له 7.03 ملیاردو امریکایي ډالرو څخه زیاته ژمنه کړې ده، لدغو څخه نږدې 6.91 میلیارده امریکایي ډالر وجهي صندق ته تادیه شوي دي.[78] د نړیوال بانک په وینا، د افغانستان 1392 مالي کال لپاره چې د 2012 دسمبر له 21 د 2013 دسمبر تر 20 پورې دوام مومي، مرستندویانو د ARTF لپاره نږدې 916.70 میلیونه امریکایي ډالرو ژمنه کړې وه.[79] شکل 3.19 په 1392 مالي کال کې د ARTF لپاره ترټولو 11 لوی مرستندویان ښیي.

شکل 3.19

**له 21 دسمبر 2013 سره سم، مالي کال 1392 لپاره ډونر لخوا ARTF ته ورکړې** (په ملیونونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. مالي کال 1392 = 12/21/2012–12/20/2013.

سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: له 21 دسمبر 2013 سره سم (د مالي کال 1392 د دولسمې میاشتې پای) د مالي حالت په اړه راپور،" مخ 1.

شکل 3.20

**ARTF ته د ډونرانو لخوا ورکړل شوې پيسې لمريز کال 1381 (2002)-21 دسمبر، 2013** (اوسنی)

**ټولې ورکړل شوې پيسې:** $6.9 ملياره




يادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. په "نورو" کې 29 ډونران شامل دي.

سرچينې: نړيوال بانک، "ARTF: له 21 دسمبر 2013 سره سم (د مالي کال 1392 د دولسمې مياشتې پای) د مالي حالت په اړه راپور،" مخ 5.

شکل 3.21

**له 30 سپتمبر 2013 سره سم، له 2002 راهيسې LOTFA ته د ډونرانو ورکړې** (اوسنی)

**ټولې ورکړل شوې پيسې:** $3.1 ملياره




يادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. EC/EU = اروپايي کميسيون/اروپايي اتحاديه په "نورو" کې 18 ډونران شامل دي.

سرچينې: سرچينې، "LOTFA پنځم پړاو د دريو مياشتو د پرمختګ راپور 3مه درې مياشتنۍ/2013،" 12/31/2013، مخونه 80-81؛ د UNDP د درې مياشتنيو او د LOTFA کلنيو راپورونو د SIGAR تحليل، 1/22/2014.

د 2013 دسمبر تر 21 پورې، امريکا د 2.02 ميلياردو امريکايي ډالرو ژمنه کړې وه او له 2002 څخه يې له 1.96 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات وجهي صندق ته تاديه کړي.[80] امريکا او انګلستان د ARTF دوه لوی مرستندويان دي، هغوی دواړه يوځای د ټولو مرستو 46% برخه اخيستونکي دي، لکه څنګه چې په شکل 3.20 کې ښودل شوي.

په ARTF کې برخې اخيستنې د مرستو په دوو چينلونو چې د روان لګښتونو (RC) کړکی او د پانګونې کړکی دي، ويشل شوي.[81] د 2013 دسمبر تر 21 پورې، د نړيوال بانک په وينا، د ARTF له مرستو څخه نږدې 2.93 ميلياره امريکايي ډالر د افغانستان حکومت ته د روانو لګښتونو له لارې تاديه شوي ترڅو د روانو لګښتونو لکه د ملکي کارکوونکو معاشونه ورکړ شي.[82] د روانو لګښتونو کړکی د افغانستان د عملياتي لګښتونو ملاتړ کوي څکه چې د افغانستان کورنی لګښتونه اوس هم کافي ندي ترڅو د روانو لګښتونو ملاتړ وکولای شي. دې لپاره ترڅو دا وکتل شي چې د روانو لګښتونو کړکی په مناسبه توګه مرستې لاسته راوړي، په ARTF کې مرستندويان کېدای شي د خپلو کلنيو برخو اخيستنو له نيمی څخه زيات د "خوښې" پروژو لپاره په نښه نکړي.[83]

د پانګونې کړکۍ د پرمختيايي پروګرامونو بيې ورکوي. د 2013 دسمبر تر 21 پورې، د نړيوال بانک په وينا، د پانګونې کړکی له لارې د 3.06 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډير د پروژو لپاره ژمنه شوې دي، لدغو څخه له 2.29 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات تاديه شوي دي. نړيوال بانک د 22 فعالو پروژو راپور ورکړی چې د ګډو ژمنو ارزښت يې نږدې 1.89 ميلياره امريکايي ډالر دی، لدغو څخه نږدې 1.11 ميلياره امريکايي ډالر تاديه شوي دي.[84]

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم باوري فنډ ته مرستې

د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP)، LOTFA اداره کوي ترڅو د افغانستان ملي پوليسو معاشونه تاديه شي او د افغانستان کورنيو چارو وزارت ظرفيتونو ته وده ورکړ شي.[85] د وروستيو شته معلوماتو په وينا، له 2002 څخه، مرستندويانو د LOTFA لپاره د نږدې 3.18 ميلياردو امريکايي ډالرو ژمنه کړې او لدغو څخه له 3.17 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات تاديه شوي دي.[86] د LOTFA د شپږمې دورې ملاتړ د 2011 د جنورې په 1 پيل شوی. د 2013 د مارچ په 20، د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام LOTFA رهبرۍ کميټې VI دوره وغزوله ترڅو دغې دورې ته له پلان شوې پای نېټې څخه چې د 2013 مارچ 31 ده، د 2013 د دسمبر تر 31 پورې دوام ورکړ شي. په 33 مياشتو کې کله چې VI دوره پيل شوې، د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام له LOTFA څخه د افغانستان حکومت ته 1.39 ميلياره امريکايي ډالر سپارلي ترڅو د افغانستان ملي پوليسو او مرکزي بنديخانو رياست کارکوونکو معاشونه تاديه کړي او 33.44 ميليونه امريکايي ډالر يې د ظرفيت لوړولو او د LOTFA نورو نوښتونو ته سپارلي.[87] د 2013 د سپتمبر تر 30 پورې، مرستندويانو د LOTFA VI دورې لپاره نږدې 1.65 ميلياره امريکايي ډالرو ژمنه کړې ده. لدغو مرستو څخه، امريکا نږدې 659.11 ميليونه امريکايي ډالرو ژمنه کړې ده او جاپان له 614.76 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زياتو ژمنه کړې ده. د هغوی ګډې ژمنې د LOTFA د VI دورې له 77% څخه د زياتو ژمنو استازيتوب کوي. د دې وجهي صندق له پيل څخه امريکا په LOTFA کې نږدې 1.21 ميلياره امريکايي ډالر برخه اخيستې ده.[88] شکل 3.21 له 2002 څخه د وروستيو شته معلوماتو په اساس، د LOTFA څلور لوی مرستندويان ښيي.

# د امنیت منځپانګې


پدې ربع کې مهمې مسلې او پیښې 83

د امریکا د مرکزي قوماندانی 85

د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو شمیر 85

د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ارزونه 85

د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې 88

د افغانستان سیمه ایز پولیس 90

د افغانستان د عامه خوندیتوب ځواک 90

د افغانستان ملي اردو 91

د افغانستان هوایي ځواک 97

د افغانستان ملي پولیس 98

د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو طبي/روغتیایی پاملرنه 102

د هغو مهماتو لرې کول چې چاودلې ندي 102

د قرارداد د اداري نظارت 103

د مخدره توکو په وړاندي مبارزه 104

# امنیت

د 2014 د جنورۍ تر 17 پورې، د امریکا کانګرس د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) ملاتړ لپاره له 59 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات تخصیص کړي دي. د دغو مرستو ډېره برخه (57.5 میلیارده امریکایي ډالر) د افغانستان د امنیتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF) له لارې تخصیص شوې او د افغانستان لپاره د امنیت سپارلو ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) ته ورکړ شوې. د دغو مرستو موخه دا ده ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه جوړ کړي، تجهیز کړي، او ساتنه یې وکړي، چې د افغانستان له ملي اردو (ANA) او د افغانستان له ملي پولیسو (ANP) څخه جوړ شوې. د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، له هغو 57.5 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه چې د افغانستان وجهي صندق لپاره تخصیص شوې، نږدې 47.9 میلیارده امریکایي ډالر مکلف شوي دي او 45.4 میلیارده امریکایي ډالرو توزیع شوي.[89]

دا برخه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو او د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو په اړه ده؛ او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو جوړول، تجهیز کول، روزنه ورکول، او ساتنې لپاره د امریکا د کارول شویو مرستو به اړه لنډیز وړاندې کوي؛ او په افغانستان کې د غیر قانوني مخدره توکو کرنې او تجارت په وړاندې مبارزې په اړه د هغو نوي معلومات وړاندې کوي. دا برخه د 2014 په پای کې د افغانستان په مشرۍ د امنیت سپارلو په اړه هم خبري کوي.

## پدې ربع کې مهمې مسلې او پیښې

د دې ربع په مهمو مسلو او پیښو کې د دوه اړخیزې امنیتي موافقې لاسلیک کولو په اړه د امریکا اندیښنو دوام، د کوکنارو د کرنې او تریاکو تر پخوا ډېر تولید (پدې اړه د "مخدره توکو په وړاندې مبارزه" پدې برخه کې په 104 پاڼه کې وګورۍ)، او د افغانستان د ملي اردو د حقیقي شمیر په اړه پوښتنې شاملې دي.

### دوه اړخیزه امنیتي موافقه

د امریکا او نړیوالې ټولنې راتلونکې پانګونه کیدای شي په افغانستان کې د 2014 کال سیاسي پیښو په پرمختګونو پورې اړه ولري. د 2014 په پای کې وورسته لدې چې د امریکا ځواکونه کم شول، د امریکا او ایتلاف ځواکونو د کچې په اړه یوې دوه اړخیزې موافقې (BSA) رسیدلو ته د امریکا او افغانستان اوسنیو هڅو پایله به د بیا رغونې پروګرامونو تمویل دوام لپاره د امریکا په لیوالتیا او د افغانستان په توان ترڅو په امنیت، حکومتوالي، او اقتصادي برخه کې پرمختګ وساتي، ډیره اغیز ولري. پدې ربع کې، د امریکا او افغانستان حکومتونو د دوه اړخیزې امنیتي موافقې د مسودې په متن باندې موافقه وکړه او لویه جرګې دا سند تایید کړ. مګر، ولسمشر کرزي د دې سند له لاسلیک کولو ډډه کړې. د واشنګټن پوسټ په وینا، په افغانستان کې د امریکا سفیر، جیمز بې کنینګهام، د اوباما ادارې ته خبرداری ورکړی چې دا احتمال شته چې ولسمشر کرزی به په اپریل کې د ولسمشرۍ له ټولټاکنو وړاندې دا موافقه امضا نکړي.[90]

دوه اړخیزه امنیتي موافقه به د امریکا اردو سلاکارانو او د تروریزم په وړاندي ځواکونو ته اجازه ورکړي ترڅو د دې کال له پای څخه وروسته په افغانستان کې پاته شي.[91] د امریکا د هغو ځواکونو کچې په اړه چې پاته کیږي، لا تر اوسه پریکړه نده شوې. د مطبوعاتي راپورونو په وینا، د نړیوال معاونت امنیتي ځواک (ISAF) قوماندان، جنرال جوزیف دنفورد، له 2014 کال وروسته د 12,000 ځواکونو سپارښتنه کړې ده: 8,000 د امریکا او 4,000 د نړیوالې ټولنې ځواکونه. پداسې حال کې چې د دغو ځواکونو ډیری برخه به د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته روزنه او مشوره ورکړي، نږدې 2,000 ځواکونو به د تروریزم په وړاندې عملیات ترسره کړي.[92]

د امریکا چارواکو خبرداری ورکړی چې له موافقې پرته، کیدای شي له 2014 وروسته لکه څنګه چې یې په 2011 کې په عراق کې وکړل، امریکا به پریکړه وکړي ترڅو خپل ټول ځواکونه وباسي. هغوی دا هم ویلې چې موافقې ته د نه رسیدلو په صورت کې کیدای شي د افغانستان لپاره د امریکا او نړیوالې ټولنې مرسته له خطر سره مخامخ کړي. که امریکا هغه څه ته چې د صفر اختیار وایې پلې کړي، او له 2014 وروسته په افغانستان کې ځواکونه پرې نږدې، کیدای شي په ایتلاف کې ملګري هیوادونه به هم خپل پاته ځواکونه وباسي، او دا به د افغانستان تر فشار لاندې ځواکونه پریږدې ترڅو یووازې له یاغیانو سره مخامخ شي. پردې برسیره، لکه څنګه چې نړیوال مرستندویان خپلو پانګونو لپاره مخ په ډیریدو خطر ګوري، کیدای شي په میلیاردونو ډالر له خطر سره مخامخ کړي.

## د افغانستان ملي اردو شمیر او شتون په اړه پوښتنې

د هغو معلوماتو په اساس چې د افغانستان ملي اردو لخوا CSTC-A ته برابر شوي، پدې ربع کې، د افغانستان ملي اردو 178,816 کارکوونکي درلودل (پدې کې د افغانستان هوایي ځواکونو کارکوونکي شامل ندي). لدغو څخه 126,658 د افغانستان محاربې ځواکونو، د ملي اردو شپږو قول اردوګانو ته، د مرکز 111 فرقې، او د ځانګړو عملیاتو ځواکونو ته ګمارل شوي. نور 25,992 کارکوونکي د افغانستان دفاع وزارت لوی درستیز او لنډ مهالو قوماندانیو ته ګمارل شوي (دا له تیر ربع څخه 7,695 کموالی ښیي). CSTC-A د افغانستان ملي اردو په لوی درستیز او لنډ مهاله قوماندانیو کې د 30% کموالی په اړه توضیحات ندي ورکړي، مګر دا یې ویلې چې 1,139 له رخصتې پرته غیر حاضر (AWOL) وو.[93]

د محاربې له 126,658 پرسونل څخه، 9,043 له رخصتي پرته غیر حاضر وو او 15,915 تر روزنې لاندې وو، واړه ضابطان وو، یا په تمه وو ترڅو د افغانستان ملي اردو کومې قطعې ته ولیږل شي. نور پاته د "دندې لپاره حاضر وو" یا یې "شتون ندرلود." پدې ربع کې، 62,753 کارکوونکي د "دندې لپاره حاضر وو." د CSTC-A په وینا، د "دندې لپاره حاضر" اصطلاح د محاربې له شمیر سره برابره ده او هغو عسکرو ته راجع کیږي چې له "ګمارل شوي قطعه سره په فیزیکي ډول رسم ګذشت کوي، روغ دي، د امر لپاره چمتو دي، او / د محاربې په شمیر کې شمیرل کیږي."[94]

نور 63,905 (له 50% څخه زیاتو) "شتون ندرلود." د هغو کارکوونکو په کتګوری کې چې "شتون یې ندرلود" هغه کارکوونکي شامل وو چې هغوی نشو کولای د اردو اوسنی دنده ترسره کړي ځکه چې هغه ورک دي، نیول شوي، په روغتون کې دي، تر روزنې لاندې دي، پلان شوي رخصتی باندې تللي، او نور دلیلونه، مګر هغه کارکوونکي هم شامل دي چې په دنده کې دي او د ملي اردو تر کنترول لاندې دي، مګر په ساحه کې ګمارل شوي.[95] د بیلګې په توګه، په یوه روانه پلټنه کې د CSTC-A لخوا د برابر شویو معلوماتو په اساس، د ملي اردو 39,249 کارکوونکي په "محاربه" کې وو.[96] دا معلومه نده چې ولې د محاربې

### د سیګار پلټنه

د سیګار یوه روانه پلټنه د افغانستان امنیتي ځواکونو د تایید شویو، ګمارل شویو، او روزل شویو کارکوونکو د شمیر د معلوماتو اعتبار او کټې ارزونه کوي. د دې هڅې په یوې برخه کې، سیګار د افغانستان د امنیتي ځواکونو هغه کارکوونکي چې "شتون نلري" او د "دندې لپاره حاضر دي" کتنه کوي ترڅو د افغانستان امنیتي ځواکونو د عملیاتي توان په بنه توګه معلوم شي.

په شمیر کې هغه عسکر شامل ندي چې په "محاربه" کې دي او په ځای یې هغوی د هغو عسکرو په توګه شمیرل شوي چې "شتون یې ندرلود." د "ملي اردو شمیر" د هغو عسکرو په اړه چې "شتون یې ندرلود" د لا نور بشپړ لست په اړه پدې برخه کې 91 پاڼه وګورئ.

پردې برسیره، د سیګار یوې پلټنې چې اوس روانه ده د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د کارکوونکو د شمیر د راپور ورکولو کیفیت آزموینه کوي، چې دا د دواړو د ځواکونو د توان او د امریکا د مرستو دوام د لګښتونو لپاره مهمه مسله ده، چې یوواژې دا د کارکوونکو د شمیر راپور ورکولو دنده ده.

## د امریکا د مرکزي قوماندانی

(CENTCOM) په وینا، د 2013 د نومبر تر 30 پورې، په افغانستان کې د امریکا 55,000 ځواکونو خدمت کاوو. لدغو څخه، نږدې 400 په افغانستان کې د ناتو روزنیز ماموریت سره په دنده ګمارل شوې، 300 له CSTC-A سره، او 32,000 له آیساف سره وو.[97] د 2014 د جنوری تر 3 پورې، په 2001 د عملیاتو له پیل څخه، ټول 2,164 د امریکا اردو کارکوونکي په افغانستان کې مړه شوي دي، د هغوی 83% په محاربه کې مړه شوي، او 19,558 ټپیان شوي.[98]

## د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو شمیر

پدې ربع کې، د CSTC-A لخوا د برابر شویو معلوماتو په اساس، د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ګمارل شویو ځواکونو شمیر 334,852 وه.[99] دا د هغې موخې له شمیرې څخه کمه ده چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو شمیره باید د 2012 تر اکتوبر پورې 352,000 وای. دا موخه د امریکا د دفاع وزارت د 2012 اپریل په افغانستان کې د امنیت او ثبات پرمختګ په لور په راپور کې وه.[100] کله چې د پای دا شمیره پوره شوې نده، د امریکا دفاع وزارت د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د 352,000 شمیر موخه تر 2014 پورې تعدیل کړه (د 2012 تر دسمبر پورې د ملي اردو 187,000 او د 2013 تر فبروری پورې د ملي پولیسو 157,000 و د 2014 تر دسمبر پورې د هوایي ځواکونو 8,000).[101] د تعدیل شوې پای نیټې پورې نه ملي اردو او نه هم ملي پولیسو د پای تعدیل شوې شمیرې موخه نده پوره کړې، لکه څنګه چې پدې جدول 3.6کې شودل شوي.

جدول 3.6

**د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ګمارل شویو ځواکونو شمیر، د 2013 د اګست 20**

| د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو برخې | اوسنی موخه | تر 12/2013 پورې درېځ | د ځواکونو اوسني شمیر او د پای موخو ځواکونو شمیر ترمنځ توپیر |
|---|---|---|---|
| د افغانستان ملي اردو | تر 12/2012 پورې 187,000 پرسونل | 178,816 | -8,184 |
| د افغانستان ملي پولیس | تر 2/2013 پورې 157,000 پرسونل | 149,466 | -7,534 |
| افغان هوایي ځواک | تر 12/2014 پورې 8,000 پرسونل | 6,570 | -1,430 |
| **د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه ټولټال** | **352,000** | **334,852** | **-17,148** |

سرچینې: د امریکا دفاع وزارت، "په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لور د پرمختګ راپور،" 12/2012، p. 56؛ د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 12/30/2013؛ د سیګار ارزونې په اړه د امریکا مرکزي قوماندانی ځواب، 1/15/2014.

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ارزونه

د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو ارزونې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د جوړولو، روزنې، تجهیز او ساتنې په اړوند د امریکا او د ایتلاف د هڅو اغیزمنتیا نښې دي. لکه څنګه

# امنيت

چې سپارل دوام لري او افغانستان د خپل امنيت مسوليت په غاړه اخلي، دا ارزونې د امريکا او د افغانستان اړوندو ادارو لپاره هم د دغو ځواکونو د دريځ په اړه معلومات برابروي. د 2013 د اګست له 15 څخه، آيساف د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د توان ارزونې لپاره د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د سيمه ايزې قوماندانی ارزونې راپور (RASR) څخه کار اخيستی دی.[102]

سيګار په فعاله توګه د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ارزونو نظارت کړی او په 2010 کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د توان ارزونې په اړه د سيستمونو او پروسو په اړه د پلټنې يو راپور خپور کړی. سيګار اوس د آيساف د ګډې قوماندانی (IJC) د قوماندان د قطعي ارزونې وسيلي (CUAT) پلټنه کوي.[103] کله چې RASR د CUAT ځای ونيو، دا له 2005 څخه د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د توان ارزونې لپاره د کار اخيستلو دريمه وسيله شوه.[104]

د IJC په وينا، RASR د "افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو په اړه يوه ټوله استخباراتي، عملياتي، او ساتنې ارزونې راپور ورکولو يو ميکانيزم" دی.[105] د افغانستان د لوا په کچه د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د توان په اساس د قطعو ارزونې لپاره، RASR د ارزونې تعريف له اندازو (RDLs) څخه کار اخلي.[106] RDLs د ارزونې له ساده اندازو څخه کار اخلي چې د ځانګړو قطعو ډول لپاره جوړ شوي (د بيلګې به توګه پياده، کشف، مخابره) او هغه توانونه معلوموي ترڅو يوه قطعه د "پوره توان لرلو" په توګه و ارزول شي. د IJC په وينا، "دا ساده شوی سيستم په آسانی ليدل کيدای شي، او لکه پخوانی سيستم ډيرو کارکوونکو ته اړتيا نلري او پيچلی ندی، او لکه څنګه چې د آيساف کميدل دوام مومي، کيدای شي دا د افغانستان پخپله راپور ورکولو اساس جوړ کړي."[107]

د سيګار روانه پلټنه دا هم ګوري چې څنګه د ايتلاف ځواکونو کميدل به د آيساف په توان اغيز وکړي ترڅو په دقيقه توګه د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ارزونه وکړي. پردې برسيره، پلټنه به د آيساف د پلانونو دا ارزونه وکړي (1) دا وګوري چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو توان ارزونو ټولول، تحليل، تاييد، او راپور ورکول دوام ومومي او (2) او د هغو ننګونو لپاره د حل لار پيدا کړي چې د ارزونو ترسره کولو لپاره کمه شميره سلاکاران شتون لري.[108]

RASR په شپږو ساحو کې د افغانستان ملي اردو لواو توان ارزونه کوي:[109]

- ګډې وسلې (د څو ډولو وسلو په کار اخيستلو سره د ګډو عملياتو ترسره کولو پلان کول)
- مشري
- سوق او اداره
- ساتنه
- روزنه (روزنې ترسره کول)
- د کارکوونکو کميدل

د افغانستان ملي اردو لپاره، د RASR وروستی راپور د 24 لواوو ارزونې برابروي (د قول اردو 22 لواوې او د 111 مرکزې فرقې 2 لواوې). لدغو څخه، 88% د پلان کولو او د ګډو وسلوالو عملياتو ترسره کولو پوره توان يا توان درلود، لکه څنګه چې پدې عکس 3.22 کې ښودل شوي. د RASR د وروستي راپور په اساس، "د افغانستان د ملي اردو د ځمکنيو ځواکونو په قوماندانی (GFC) کې د / چمتووالي ښه والی دوام لري." مګر، کميدل اوس هم د ملي اردو لپاره يوه مهمه ننګونه ده ځکه چې د لواوو 71% داسې ګڼل کيږي چې د "پرمختګ" په حال کې دي او دا پدې معنی چې په هره مياشت کې د دغو لواوو کميدلو اندازه 3% ده. په نورو ساحو کې، د ملي اردو ډيري لواوې "پوره توان" يا "توان" لرل يې ارزول شوې، پشمول د مشری (96%)، سوق او اداره (100%)، ساتنه (88%)، او روزنه (83%).[110]

شکل 3.22




یادښت: Bde = لوا

سرچينه: IJC، د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو سيمه ايز دريځ راپور، د 2013 دسمبر.

RASR په شپږو ساحو کې د ملي اردو د توان ارزونه کوي:[111]

- د قانون پلي کولو عملياتونه (نيول او د دغو نيولو محاکمه کول)
- مشري
- سوق او اداره
- ساتنه
- روزنه (روزنې ترسره کول)
- د کارکوونکو کميدل

د افغانستان ملي پوليسو لپاره، د RASR وروستی راپور په اوو بيلا بيلو زونونو کې د ملي پوليسو له 21 څخه د 16 سيمه ايزو برخو، د افغانستان يونيفورم پوليس، د افغانستان سرحدي پوليس، او د افغانستان ملي عامه نظم پوليس، ارزوني وړاندي کوي. لدغو 16 څخه چې ارزول شوي، 94% د "پوره توان" يا "توان" په توګه ارزول شوي چې نيول کولای شي او دغه نيول محاکمه کولای شي، لکه څنګه چې په 3.23 عکس کې په راتلونکې پاڼه کې ښودل شوي. د RASR وروستي راپور په اساس، "د افغانستان په ملي پوليسو کې چمتووالی اوس هم د اندیښنې یو ټکی دی" او "ملي پوليس اوس هم د اداري وړ تجهیزاتو چمتووالي دوام ورکولو کې ستونزې لري." پردې برسيره، د کارکوونکو کميدل اوس هم د افغانستان ملي پوليسو لپاره يوه ننګونه ده ځکه چې د سيمه ايزې برخې 50% اوس هم داسې ګڼل کيږي چې د ودې په حال کې او دا پدې معنی چې د کارکوونکو کموالی پدغو قطعو کې 2% زياته ده. په نورو ساحو کې، د افغانستان ملي پوليسو سيمه ايزو قوماندانيو برخې تر ډيرې کچې "پوره توان" يا "توان" لري: مشری (94%)، سوق او اداره (94%)، ساتنه (94%)، او روزنه (88%).[112]

## د سيګار پلټنه

د سيګار يوه روانه پلټنه د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د آيساف د ګډې قوماندانی د توان درجې ورکولو آزموينه کوي.

شکل 3.23

**د افغانستان ملي پولیسو د RASR ارزوني، د 2013 دسمبر**

| | شمال بلخ | | | شمال ختيځ ننګرهار | | | مرکزي کابل | | | سويل ختيځ پکتيا | | | سويل کندهار | | | سويل لويديځ هلمند | | | لويديځ هرات | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | AUP | ABP | ANCOP | AUP | ABP | ANCOP | AUP | ABP | ANCOP | AUP | ABP | ANCOP | AUP | ABP | ANCOP | AUP | ABP | ANCOP | AUP | ABP | ANCOP |
| د قانون پلي کول | ور | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | ور | په بشپړ ډول ور | ارزول شوي ندي | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | ور | په بشپړ ډول ور | ور | ور | ور | ور | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | په بشپړ ډول ور | تر یوې کچې ور | په بشپړ ډول ور |
| مشري | تر یوې کچې ور | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | ارزول شوي ندي | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | ور | ور | په بشپړ ډول ور | ور | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | په بشپړ ډول ور | ور | په بشپړ ډول ور |
| سوق او اداره | تر یوې کچې ور | په بشپړ ډول ور | ور | ور | ور | ارزول شوي ندي | ور | ور | ور | په بشپړ ډول ور | ور | ور | ور | ور | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | په بشپړ ډول ور | ور | په بشپړ ډول ور |
| ساتنه | ور | ور | ور | ور | ور | ارزول شوي ندي | ور | په بشپړ ډول ور | ور | ور | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | ور | تر یوې کچې ور | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | په بشپړ ډول ور | ور | په بشپړ ډول ور |
| روزنه | د پرمختګ په حال کې | ور | ور | ور | په بشپړ ډول ور | ارزول شوي ندي | ور | ور | ور | ور | په بشپړ ډول ور | ور | ور | تر یوې کچې ور | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | ارزول شوي ندي | په بشپړ ډول ور | ور | په بشپړ ډول ور |
| د کارکوونکو کمیدل | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | په بشپړ ډول ور | د پرمختګ په حال کې | ور | په بشپړ ډول ور | ارزول شوي ندي | د پرمختګ په حال کې | په بشپړ ډول ور | د پرمختګ په حال کې | په بشپړ ډول ور | د پرمختګ په حال کې | ور | د پرمختګ په حال کې | د پرمختګ په حال کې | ور | د پرمختګ په حال کې | د پرمختګ په حال کې | د پرمختګ په حال کې | د پرمختګ په حال کې |

د ډول په اساس ټولي درجې: په بشپړ ډول ور 39 · ور 45 · تر یوې کچې ور 5 · د پرمختګ په حال کې 11 · ارزول شوي ندي 26

یادښتونه: AUP = د افغانستان یونیفورم پولیس؛ ABP = د افغانستان سرحدي پولیس؛ ANCOP = د افغانستان ملي عامه نظم پولیس

سرچينه: IJC، د افغانستان ملي امنيتي خواکونو سيمه ايز دريځ راپور، د 2013 دسمبر.

## د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو پدې ربع کې د مهم دندو ترسره کولو لپاره خپلو ظرفیتونو زیاتولو ته دوام ورکړی. د دغو وزارتونو د عملیاتي توان اندازه کولو لپاره، NTM-A د توان موخو (CM) اندازه کولو له سیستم څخه کار اخلي. دا سیستم د کارکوونکو برخو ارزونه کوي (لکه هغه دفترونه چې مشري یې معاون لخوا کیږي) او ګډې کاري ساحې (لکه د لوی درستیز دفترونه) چې له څلورو اصلي او دوو ثانوي اندازه کولو څخه کار اخیستل کیږي:[113]

- 1A-CM: د خپلواک عملیاتونو توان
- 1B-CM: یوازې د ایتلاف نظارت سره د دندو ترسره کولو توان لري
- 2A-CM: د ایتلاف له کمې مرستې سره د دندو ترسره کولو توان لري
- 2B-CM: کولای شي ماموریت ترسره کړي مګر د ایتلاف ځینو مرستو ته اړتیا لري
- 3-CM: د ایتلاف له ډیرې مرستې پرته نشي کولای ماموریت ترسره کړي
- 4-CM: شتون لري مګر نشي کولای ماموریت ترسره کړي

پدې ربع کې، سیګار ته د افغانستان دفاع وزارت د یوازې 37 کارکوونکو برخو او ګډو کاري ساحو د CM اندازه کول وړاندې شوي، او دا د تیر ربع له 46 څخه کم دي. د امریکا مرکزي قوماندانۍ په وینا، پدې ربع کې د افغانستان دفاع وزارت له 37 لاسته راغلو ارزونو څخه، اتو پرمختګ ښودلی او یوه د اندازه کولو ټیټه درجه لاسته راوړې. په ځانګړې توګه، د کشف لپاره د دفاع وزیر معاون دفتر له 4-CM (تر ټولو ټیټه درجې) څخه دوه درجې 2B-CM ته زیاته شوې. لکه څنګه چې بدې عکس 3.24 کې ښودل شوي، د افغانستان دفاع وزارت هیڅ برخې د 4-CM درجه لاسته نده راوړې. هغو دفترونو چې پدې ربع کې لوړه درجه لاسته راوړې دا دي:[114]

- لوی درستیز – د مخابرې ملاتړه قطعه (1A-CM)
- لوی درستیز – مخابره (1B-CM)
- د پرسونل لپاره د دفاع وزیر معاون (1B-CM)
- د لوی درستیز معاون – هوایي ځواک (2B-CM)
- د اردو د قطعې قرارګاه معاون (2B-CM)
- لوی درستیز – لوژستیک (2B-CM)
- د جندر یووالي دفتر (3-CM)

هغه دفتر چې ټیټې اندازې ته راغلی د ستراتیژۍ او پالیسی د دفاع وزیر معاون وو چې 2B-CM ته را ټیټ شوی.[115]

د امریکا مرکزي قوماندانی په وینا، د افغانستان کورنیو چارو په وزارت کې د کارکوونکو ټولې 32 برخې ارزول شوي؛ اوو پرمختګ کړی او هیڅ را ټیټ شوې ندي. د افغانستان کورنیو چارو وزارت هیڅ برخې د 4-CM درجه لاسته نده راوړې، لکه څنګه چې پدې شکل 3.24 کې ښودل شوي. هغې برخې چې پدې ربع کې یې درجه زیاته شوې دا دي:[116]

- د ستراتیژۍ او پالیسی لپاره د وزیر معاون – ستراتیژیک پلان کول (CM-1B)
- د امنیت لپاره د وزیر معاون – د افغانستان یونیفورم پولیس (CM-1B)
- د امنیت لپاره د وزیر معاون – د جنایي مبارزې پولیس (CM-1B)
- د امنیت لپاره د وزیر معاون – د غیر پلان شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې مبارزه (2A-CM)
- د اداري لپاره د وزیر معاون – د روزنې مدیریت (2A-CM)
- د جندر په چارو کې د دفتر رییس (2B-CM)
- د امنیت لپاره د وزیر معاون – اطفایه (2B-CM)

شکل 3.24

**د دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو د ظرفیت د درجه بندی مقیاس، درې میاشتنی بدلون**




سرچینې: CSTC-A، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 10/1/2013 او 12/30/2013.

## د سیګار ځانګړې پروژه

د سیګار د ځانګړې پروژې په یوه راپور کې چې پدې ربع کې خپره شوې، سیګار موندلې چې CSTC-A د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د ظرفیتونو د خطر هر اړخیزې ارزونې ترسره کړې ندي ترڅو وکولای شي د امریکا د مستقیمو مرستو ډالر اداره او حساب ورکړي، لدغو څخه 4.2 میلیارده امریکایي ډالرو ژمنه شوې او 3 میلیارده امریکایي ډالر توزیع شوي دي. د نورو معلوماتو لپاره، د 2 برخې، 44 پاڼه وګورئ.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د کارکوونکو برخو د 1A-CM درجه ورېي (د خپلواکو عملیاتونو توان): د عامه چارو د کارکوونکو د دفتر ریس او د افغانستان د ملي عامه نظم پولیس د امنیت لپاره د وزیر معاون.[117]

## د افغانستان سیمه ایز پولیس

د امریکا مرکزي قوماندانی په وینا، د 2014 د جنوری تر 4 پورې، د افغانستان په سیمه ایزو پولیسو کې 25,477 کارکوونکي وو. اوسنی موخه د 2014 تر دسمبر پورې 30,000 کار کوونکي دي. سیمه ایز پولیس د افغانستان له 34 ولایتونو څخه په 29 ولایتوو او 126 ولسوالیو کې کار کوي.[118]

د 2013 د دسمبر تر 31 پورې ، د سیمه ایزو پولیسو د ملاتړ لپاره د افغانستان امنیتي ځواکونو له وجهي صندق څخه له 190 میلیون امریکایي ډالر څخه زیات مکلف شوي دي او له 184 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات توزیع شوي دي. د امریکا مرکزي قوماندانی په وینا، د سیمه ایزو پولیسو ساتني لګښت به په هر کال کې 117 میلیون امریکایي ډالر وي کله چې د موخې شمیرې ته ورسیدل. تر اوسه پورې، 23,496 کلاشنکوف AK-47 وسلې (چې ټول لګښت یې 6.77 میلیونه امریکایي ډالر دي) او PKM، 4,149 ماشیندارې (9.42 میلیونه امریکایي ډالر) سیمیزو پولیسو برابر شوي دي. پردې برسیره، 9.4 میلیونه د کلاشنکوف مرمی او 4.5 د ماشیندار مرمی (چې ټول لګښت یې 5.07 میلیونه امریکایي ډالر دي) برابر شوي دي. د امریکا مرکزي قوماندانی ویلي چې سیمه ایز پولیس پلان لري ترڅو نور 7,000 کلاشنکوف AK-47 وسلې (چې لګښت یې 2.02 میلیونه امریکایي ډالر دي) توزیع کړي او په 2014 کې د مهماتو لپاره یې 13.3 میلیونه امریکایي ډالر بودجه جوړه کړې. د سیمه ایزو پولیسو د ترانسپورت لپاره 2,127 فورد رنجر پیک اپ موټرونه برابر شوي دي. د دغو هر یوه فورد رنجر لګښت د پلورلو په ځای کې 21,980 امریکایي ډالر دی، مګر د هر یوه لګښت له رسولو سره 45,000 امریکایي ډالر دی (د ټولو لګښت 95.7 میلیونه امریکایي ډالر دي).[119]

## د افغانستان د عامه خوندیتوب ځواک

د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک (APPF) د دولت په ملکیت یوه تصدي ده چې د افغانستان د کورنیو چارو وزارت تر صلاحیت لاندې ده او په افغانستان کې د کاروانونو لپاره اسانتیاوې او امنیتي خدمات برابروي. د ولسمشر کرزي د 2010 فرمان څخه وروسته چې شخصي امنیتي کمپنۍ لغوه شوې او د خوندیتوب مسولیتونه د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک ته وسپارل شول، د افغانستان حکومت د عامه امنیتي شرکت ته په پړاونو کې د سپارلو لپاره د وصلولو یوه ستراتیژي تطبیق کړه.[120]

د دې ستراتیژۍ په اساس، ټاکل شوي وو ترڅو د اردو تاسیساتو امنیت د 2013 په مارچ کې د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک ته وسپارل شي. د 2013 د دسمبر تر 30 پورې، د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک لخوا یوولس پایګاوې د اردو درې مخکنۍ عملیاتي پایګاوې خوندي شوې؛ 43 پایګاوې اوس هم د شخصي امنیتي کمپنیو لخوا خوندي کیږي. د CSTC-A په وینا، د 2013 د نومبر تر 30 پورې، د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک 20,005 کار کوونکي درلودل. پدې ربع کې، د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک د خپلو خدماتو لپاره 480 فعاله قراردادونه درلودل.[121]

د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک د افغانستان له ملي پولیسو څخه ظابطان او واړه ظابطان استخداموي. نوي استخدام شوي د تاسیساتو، کاروان، او شخصي امنیت په اړه د عامه خوندیتوب ځواک د روزنې په سیمه ایزو مرکزونو کې په کورسونو کې برخه اخلي. په ځینو حالتونو کې، روزل شوي محافظین له شخصي امنیتي شرکتونو څخه مستقیماً د عامه خوندیتوب ځواک ته ځي. د CSTC-A په وینا، د عامه خوندیتوب وروستی ارزونه

ښيي چې هغوی ”د ایتلاف له ملاتړ سره تر یوې کچې په پوره توګه د امنیتي خدماتو ترسره کولو توان لري.“ امریکا د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک لپاره له 51 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات برابر کړي دي.[122] دا ښکاره نده چې دا برابر شوي پیسې د امنیتي خدماتو رسولو تادیه کولو لپاره وي یا د عامه خوندیتوب د ملاتړ لپاره وي.

## د افغانستان ملي اردو

د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، امریکا د افغانستان د ملي اردو جوړولو، روزلو، او ساتنې لپاره د افغانستان امنیتي ځواکونو له وجهي صندق څخه 31.7 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي، او 30.1 میلیونه امریکایي ډالرو توزیع کړي دي.[123]

### د افغانستان ملي اردو شمیر

د CSTC-A په وینا، د 2013 د دسمبر تر 30 پورې، د افغانستان د ملي اردو د پرسونل ټوله شمیره 185,386 وه (178,816 اردو او 6,529 هوایي ځواک). له تیر ربع څخه، د افغانستان د ملي اردو د پای شمیرې کم زیاتوالی ښوودلی (1%)، لکه څنګه چې پدې جدول 3.7 کې ښودل شوي. د CSTC-A په وینا، په ټوله شمیره کې 10,251 د ملي اردو کارکوونکي او 41 د هوایي ځواک کارکوونکي له رخصتی پرته غیر حاضر وو، 10,905 تر روزنې لاندې، زده کوونکې، او هغه چې د دندې ګمارلو لپاره په تمه وو، او پدې کې 5,010 محصلین هم شامل وو. د افغانستان ملي اردو د پای په شمیره کې 9,336 ملکیان هم شامل دي (د ملي اردو او هوایي ځواک کارکوونکي).[124] د سیګار د ملي اردو د پای شمیرې په راپور ورکولو کې دا ملکیان شامل ندي، مګر د اردو هغه کارکوونکي چې په دندو ګمارل شوي ندي او محصلین شمیرل شوي.

### د سیګار پلټنه

د سیګار یوې پلټنې چې د تیر ربع په پای کې خپره شوې دا موندلي چې د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک د امنیت سپارلو په پروژو باندې کم اغیز درلود، مګر دا یووازې لدې کبله وو چې تطبیقوونکو ملګرو د خطر اداره کولو شرکتونه استخدام کړي وو ترڅو د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک خلاوې ډکې کړي او مهمې دندې ترسره کړي. د لا نورو معلوماتو لپاره، د سیګار 13-15 پلټنه وګورئ.

جدول 3.7

**د افغانستان ملي اردو کارکوونکو شمیر، د هر ربع بدلون**

| د افغانستان ملي اردو برخې | تایید شوي Q3 2013 | تایید شوي Q4 2013 | تایید شوي د هر ربع بدلون | ګمارل شوي Q3 2013 | ګمارل شوي Q4 2013 | ګمارل شوي د هر ربع بدلون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 201 قول اردو | 18,130 | 18,130 | هیڅ | 18,636 | 18,749 | +113 |
| 203 قول اردو | 20,798 | 20,798 | هیڅ | 20,220 | 21,098 | +878 |
| 205 قول اردو | 19,097 | 19,097 | هیڅ | 19,331 | 18,963 | -368 |
| 207 قول اردو | 14,879 | 14,879 | هیڅ | 13,753 | 14,320 | +567 |
| 209 قول اردو | 15,004 | 15,004 | هیڅ | 14,681 | 15,364 | +683 |
| 215 قول اردو | 17,555 | 17,555 | هیڅ | 17,640 | 18,132 | +492 |
| 111 د مرکز فرقه | 9,174 | 9,174 | هیڅ | 9,492 | 9,276 | -216 |
| د ځانګړو عملیاتونو ځواک | 11,013 | 11,013 | هیڅ | 10,925 | 10,756 | -169 |
| له قول اردو پورته کچه[a] | 36,275 | 36,002 | -273 | 33,687 | 25,992 | -7,695 |
| [b]TTHS | - | - | - | [c]18,453 | [d]15,915 | -2,538 |
| [e]AWOL | - | - | - | [f]8,797 | 10,251 | +1,454 |
| **د افغانستان ملي اردو ټولټال** | **161,925** | **161,652** | **-273** | **176,818** | **178,816** | **+1,998** |
| افغان هوایي ځواک (AAF) | 7,097 | 7,370 | +273 | 6,616 | 6,529 | -87 |
| د افغانستان هوایي ځواک له رخصتی پرته غیر حاضر | - | - | - | - | 41 | |
| **افغان ملي اردو + افغان هوایي ځواک ټولټال** | **169,022** | **169,022** | **هیڅ** | **183,434** | **185,386** | **+1,952** |

یادښتونه: Q3 معلومات تر 8/20/2013 پورې؛ Q4 معلومات تر 12/30/2013 پورې.
a پدې کې د افغانستان دفاع وزارت، لوی درستیز، او لنډ مهالې قوماندانی شامل دي
b تر روزنې لاندې، لنډ مهاله، ساتل شوي، او زده کوونکي؛ د تایید شویو پرسونل په شمیر کې شامل ندي
c پدې کې 4,667 محصلین شامل دي
d پدې کې 4,736 محصلین شامل دي
e له رخصتی پرته غیرحاضري
f په تیر ربع کې له رخصتی پرته غیرحاضر پرسونل د ګمارل شویو په شمیر کې شمیرل شوي

سرچینې: د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 10/1/2013 او 1/6/2014؛ د CSTC-A چاړواکو سره تلویزیوني کنفرانس، 1/4/2014.

## هغه کارکوونکي چې "شتون نلري" او د دندې لپاره "حاضر" دي

د افغانستان امنیتي ځواکونو د کارکوونکو شمیره، د فعالیت له ارزونې سره یوځای او د راپور ورکولو نور میکانیزمونه، هغې اصلي اندازې دي چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو جوړولو لپاره د امریکا د پروګرامونو اغیزمنتیا معلوموي. سیګار د افغانستان امنیتي ځواکونو شمیر له پیل څخه تعقیب کړې ده.

د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د شمیر معلومول اوس هم یوه ننګونه ده. د 2012 په جولای کې، د سیګار له یوې غوښتنې وروسته، CSTC-A دوې مهمې اصطلاحوې منځ ته راوړې، "شتون نلري" او د "دندې لپاره حاضر"، لدغو څخه د ملي اردو د کارکوونکو دریځ ښودلو لپاره کار اخیستل کیږي. د 2013 د جولای د معلوماتو غوښتنې په ځواب کې، CSTC-A ویلي چې "ملي اردو هغه کارکوونکي چې 'په ساحه' کې دي یا په فعاله توګه په محاربوي عملیاتو کې بوخت دي د شتون نلري په توګه شمیري، او حاضر کارکوونکي هغه دي چې په بارکونو کې حاضر دي. دا د هغو قول اردوګانو په اړه چې په فعاله توګه په عملیاتونو کې بوخت دي د کمې شمیرې په دنده کې حاضر تشریح کوي." [125]

پدې ربع کې، د ملي اردو د "شتون نلري" کارکوونکو سلنه د 215 قول اردو لپاره د 70.1% او د 209 قول اردو لپاره د 20.5% په حدودو کې وو. نږدې 1.7% د افغانستان هوایي ځواک 6,529 کارکوونکو شتون ندرلود. [126]

که څه هم پدې ربع کې د هغو 126,658 کارکوونکو چې ملي اردو ته ګمارل شوي د شمیر په اړه یې محدودو معلوماتونو شتون درلود، سیګار پریکړه وکړه چې دغه کارکوونکي د دغو لاندې برخو دي: [127]

- د دندې لپاره حاضر یا د "محاربې شمیر": 62,753 (50%)
- شتون نلري (پشمول د هغو کارکوونکو چې په محاربه کې دي او رخصت دي، مګر هغه کارکوونکي نه له رخصتۍ پرته غیر حاضر دي): 54,862 (43%)
- له رخصتۍ پرته غیر حاضر: 9,043 (7%)

مګر، د یوې رواني پلټنې په یوه برخه کې، سیګار ته د 2013 د اکتوبر تر 21 پورې د ملي اردو د کارکوونکو شمیر په اړه معلومات ورکړ شوي، چې کولای شي مرسته وکړي ترڅو دغې شمیرې تعریف کړي. پدغه وخت کې، 72,641 کارکوونکو "شتون ندرلود"، پشمول د دغو (نیمګړې لست): [128]

- په محاربه کې: 39,249
- رخصت: 19,570
- له رخصتۍ پرته غیر حاضر: 8,489
- د افغانستان په سرحدونو کې، په لنډ مهالې دندې ګمارل شوي: 3,541
- د افغانستان له سرحدونو څخه بهر، له TAD څخه بهر، په لنډ مهالو دندو ګمارل شوي: 2,116
- کورس، اوسني عسکر له قطعې څخه بهر په تایید شوي کورس کې رسم ګذشت کوي: 2,503
- په روغتون کې، عسکر د اردو په روغتون کې دی: 699
- په محاربه کې زخمي شوي: 645
- توقیف شوی، هغه عسکر چې نیول شوی او د اردو په بندیخانو کې دي: 264
- د قطعې ناروغ، هغه عسکر چې د قطعې په ساحوي کلنیک کې دی: 35
- په قطعه کې توقیف شوی، عسکر د نظامي پولیس په توقیف کې دی: 21
- له اجازې پرته غیر حاضر او له وسلې پرته: 7
- له اجازې پرته غیر حاضر له وسلې سره: 1
- د دښمن لخوا نیول شوی: 1

## د افغانستان ملي اردو د کارکوونکو کميدل

د افغانستان ملي اردو د کارکوونکو کميدل اوس هم يوه لويه ننګونه ده. د 2013 د جنورى او نومبر ترمنځ، د افغانستان ملي اردو 38,916 کارکوونکو دنده پرې ايښې. د افغانستان ملي اردو په جنګ کې هم ډيري قرباني ورکړي دي. د 2011 د دسمبر او 2013 د نومبر تر منځ، د افغانستان ملي اردو 2,055 کارکوونکي په محاربه کې قرباني شوي او 10,484 په محاربه کې ټپيان شوي.[129]

## د افغانستان ملي اردو ساتنه

د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، امريکا د افغانستان ملي اردو ساتنې لپاره د افغانستان امنيتي ځواکونو وجهي صندق له مرستو څخه 11.4 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف کړي او 11.1 ميلیارده امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[130]

## د افغانستان ملي اردو معاشونه، خواړه او مکافات

د 2013 د دسمبر تر 30 پورې، CSTC-A راپور ورکړى چې له 2008 مالي کال څخه امريکا د افغانستان امنيتي ځواکونو وجهي صندق له لارې نږدې 2 ميلیارده امريکايي ډالر د ملي اردو د معاشونو، خواړو، او مکافاتو لپاره ورکړي دي. CSTC-A دا اټکل هم کړى چې د ملي اردو د اساسي معاشونو او مکافاتو لپاره په هر کال کې 542 ميليونو امريکايي ډالرو ته اړتيا ده.[131] دا د تير ربع له هغه اټکل څخه چې په هر کال کې 931 ميليونو امريکايي ډالر وو، کموالى ښيي.[132] CSTC-A ويلي چې د تير ربع اټکل د هغو حقيقي لګښتونو په اساس وو چې د افغانستان دفاع وزارت پدغو ساحو کې لګولي. وروستى شميرې د هغو توزيعاتو په اساس دي چې د امريکا دفاع وزارت د مالي دفاع او محاسبې خدماتو د افغانستان بانک يا د افغانستان مرکزي بانک ته په 1392 مالي کال کې توزيع کړي (د 2012 دسمبر – 2013 دسمبر).
CSTC-A ويلي چې مرستې د هغه اټکل په اساس ورکول کيږي چې ګمان کيږي د افغانستان ملي اردو د تاييد شوې شميره 100% کارکوونکي لري.[133] لکه څنګه چې وړاندې ښودل شوي، دا ګمان عموماً له راپور ورکړ شويو معلوماتو سره برابر نه وي.

## د ملي اردو تجهيزات، ترانسپورت، او ساتنه

د افغانستان ملي اردو د برابر شويو تجهيزاتو د لګښت اندازې معلومول اوس هم يوه ننګونه ده. د 2013 له اپريل څخه، CSTC-A راپور ورکړى چې د وسلو د لګښت سمولو له کبله د افغانستان ملي اردو لپاره د اخيستل شويو وسلو ټول لګښت د کميدلو په حال کې دى. د 2013 د اپريل او دسمبر ترمنځ، د افغانستان ملي اردو لپاره د ټولو راپور ورکړ شويو وسلو لګښت له 878 ميليونو امريکايي ډالرو څخه 439 ميليونو امريکايي ډالرو ته را ټيټ شوى دى.[134]

CSTC-A د اخيستل شويو وسلو د لګښت کموالي په اړه بيلابيلا توضيحات وړاندې کړي دي: د سيګار د تکراري پوښتنې په ځواب کې، "چې د اخيستل شويو وسلو او وسلو پورې اړوندو تجهيزاتو چې تر اوسه په ساحه کې ورځخه کار اخيستل شوى د ټول لګښت" غوښتنه يې کړې، CSTC-A د 2013 په اپريل کې ويلي چې امريکا د افغانستان ملي اردو لپاره د 878 ميليونو امريکايي ډالرو وسلې اخيستي دي.[135] د 2013 په جولاى کې، CSTC-A راپور ورکړى چې د ځينو تجهيزاتو د 153 ميليونو امريکايي ډالرو د سموالې او د 102 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت د مرسته شويو تجهيزاتو چې د امريکا لخوا تمويل شوې نه وو، د وسلو حقيقي لګښت 623 ميليونه امريکايي ډالر وو.[136] د 2013 په اکتوبر کې، CSTC-A ويلي چې د ملي اردو لپاره د اخيستل شويو ټول حقيقي لګښت 447 ميليونه امريکايي ډالر وو. د CSTC-A په وينا، "له تير ربع څخه د اخيستلو شويو په شمير کې کموالى د پراخو کورنيو پلټنو پايله ده چې دا يې ښوودلې چې ځينې تجهيزات

دوه ځلي محاسبه شوي."[137] پدې ربع کې، ټول لګښت یو ځل بیا 439 میلیونو امریکایي ډالرو ته کم شوی. CSTC-A ویلي چې "په ټول لګښت کې کموالی د کورنی / پلټنې په وخت کې د نا سم لګښت پیدا کیدلو له کبله وو." پردې برسیره، CSTC-A ویلي چې که څه هم د مرسته شویو وسلو لګښت شامل شوی نه وو، "د مرسته شویو وسلو بیارغوني او ترانسپورت کولو لګښت شامل وو ځکه چې د / له مرستو څخه کار اخیستل شوی وو."[138]

د اخیستل شویو تجهیزاتو لګښت سموالی، د زیاتیدونکو ټول کچه باید زیاته شي پرته لدې په هر ربع کې کمه شي، د امریکا د مرستو حساب ورکولو په اړه د افغانستان ملي اردو لپاره کارول شوي پوښتنې راپورته کوي. سیګار د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د وسلو حساب ورکولو په اړه اوس یوه پلټنه ترسره کوي.

CSTC-A دا هم ویلي چې د افغانستان ملي اردو د هغو تجهیزاتو لګښت چې باید واخیستل شي له 27 میلیونو امریکایي ډالرو په تیر ربع کې 99 میلیونو امریکایي ډالرو ته پدې ربع کې زیات شوی، ځکه چې اړتیاوې زیاتي شوي.[139]

د 2013 د دسمبر تر 30 پورې، امریکا د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق څخه د افغانستان ملي اردو د تجهیزاتو او ترانسپورت لپاره 11.3 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي او توزیع کړي دي.[140] د دغو مرستو ډیره برخه د وسلو او اړوندو تجهیزاتو، وسایطو، مخابرې تجهیزاتو، الوتکو، او هوایي چارو تجهیزاتو اخیستلو لپاره کارول شوي. پدې برخه کې د امریکا له 80% څخه زیاته مرسته د وسایطو او ترانسپورت اړوندو تجهیزاتو لپاره وه، لکه څنګه چې پدې جدول 3.8 کې ښودل شوي.

## د سیګار پلټنه

د پلټنې په یوه راپور کې چې په تیر ربع کې خپور شوی، سیګار موندلي چې CSTC-A د وسایطو لپاره د فالتو سامانونو فرمایش ورکاوو پرته لدې چې د اړتیا وړ سامانونو او هغه سامانونو چې شتون درلود په اړه دقیق معلومات ولري. CSTC-A د افغانستان په ملي اردو باندې تکیه کوي ترڅو د وسایطو د شته فالتو سامانونو او راتلونکو اړتیاوو سندونه وساتي. مګر، د افغانستان ملي اردو په منظمه توګه خپل سندونه ندي نوي کړي.

جدول 3.8

| د افغانستان ملي اردو لپاره د امریکا لخوا د تمویل شویو تجهیزاتو لګښت | | |
|---|---|---|
| **د تجهیزاتو ډول** | **اخیستل شوي** | **د اخیستلو لپاره پاته دي** |
| وسلې | 439,229,147 امریکایی ډالر | 32,390,974 امریکایی ډالر |
| وسایط | 4,385,763,395 امریکایی ډالر | 14,784,960 امریکایی ډالر |
| د مخابرې تجهیزات | 612,205,922 امریکایی ډالر | 51,610,799 امریکایی ډالر |
| **ټولټال** | **5,437,198,464 امریکایی ډالر** | **98,786,733 امریکایی ډالر** |

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 12/30/2013.

امریکا د ملي اردو د ساتنې لپاره د نږدې 1.3 میلیاردو امریکایي ډالرو مهمات او د 7 میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت نور تجهیزات او توکي هم اخیستي دي. د CSTC-A په وینا، دا وروستی اندازه پیسې د تجهیزاتو او ساتنې له ټولو لګښتونو څخه د وسلو، وسایطو، مخابرې، او مهماتو د فرعي قرارداد کولو له لګښت څخه معلوم شوي.[141] په تیر ربع کې، CSTC-A ویلي چې امریکا نږدې 774 میلیونه امریکایي ډالر په نور تجهزاتو لکه په کالیو او شخصي البسې باندې لګولي دي.[142]

## د افغانستان ملي اردو زیربنا

د CSTC-A په وینا، د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، امریکا د افغانستان امنیتي ځواکونو له وجهي صندق څخه د افغانستان ملي اردو زیربنا لپاره 6میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 4.8 میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړي دي.[143] پدغه وخت کې، امریکا د زیربنا 255 پروژې (د 2.9 میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت) بشپړې کړې دي، 123 پروژې تر کار لاندې دي (د 2.5 میلیارده امریکایي ډالر) او درې پلان شوي (22 میلیونه امریکایي ډالر).[144]

پدې ربع کې، د افغانستان ملي اردو د زيربنا تر ټولو لويه پروژه په کونړ کې د 201 قول اردو د لوا ګارنيزيون پروژه وه (د 115.8 ميليونو امريکايي ډالرو په لګښت)، په کابل کې د افغانستان د دفاع وزارت قرارګاه لمړی برخه (108 ميليونه امريکايي ډالر) او د 205 قل اردو کندهار کې د ليوا يو ګارنيزون (89.1 مليون ډالر).[145] پردې برسيره، پدې ربع کې 15 پروژې بشپړې شوي چې لګښت يې 236 ميليونه امريکايي ډالر و، 9 قراردادونه د 258 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت فسخه شوي، او 10 قراردادونه د 360 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت سپارل شوي.[146]

د CSTC-A په وينا، له 2015 مالي کال څخه تر 2019 مالي کال پورې، د افغانستان ملي اردو د زيربنا د عملياتو او ساتنې، دوام، بيارغونې، او واړه ساختماني لګښتونو اټکل شوی لګښت 966 ميليونه امريکايي ډالر دي:[147]

- 2015 مالي کال: 209 ميليونه امريکايي ډالر
- 2016 مالي کال: 199 ميليونه امريکايي ډالر
- 2017 مالي کال: 186 ميليونه امريکايي ډالر
- 2018 مالي کال: 186 ميليونه امريکايي ډالر
- 2019 مالي کال: 186 ميليونه امريکايي ډالر

CSTC-A ويلي چې له سپارلو وروسته هر اټکل شوی لګښت د اوسنی ظرفيت کچې په اساس ده او د راتلونکې پاليسي پريکړې يې په پام کې ندي نيولي چې کيدای شي د لګښتونو په اټکل باندي اغيز ولري.[148]

## د افغانستان ملي اردو او دفاع وزارت روزنه او عملياتونه

د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، امريکا د افغانستان امنيتي ځواکونو له وجهي صندق څخه د افغانستان ملي اردو او دفاع وزارت د عملياتونو او روزنې لپاره 2.9 ميليارده امريکايي ډالر مکلف کړي او توزيع کړي دي.[149] پدې ربع کې د ملي اردو 17,706 کارکوونکي په يو ډول روزنه کې ثبت وو، چې دا د تير ربع له 43,942 څخه کمه شميره ده. د NTM-A په وينا، لدغې شميرې څخه، 844 د سواد په زده کړې کې ثبت وو، دا له 31,850 څخه کم شوې.[150] NTM-A د روزنې له کورسونو څخه د دغې زياتې شميرې کميدلو په اړه توضيحات ندي ورکړي.

د افغانستان ملي اردو له هغو کارکوونکو څخه چې په روزنه کې دي، 3,795 په لست کې کارکوونکي د محاربې په اساسي کورسونو کې ثبت وو، 5,010 روزنه کوله ترڅو بريدمنان شي، او 2,680 تر روزنې لاندې وو ترڅو واړه ظابطان شي. د روزنې په نورو پروګرامونو کې په امريکا کې د محاربې، ترانسپورت او د ډريورۍ کورسونه، او د وسلو د سيستمونو روزنه شامله ده.[151]

د NTM-A په وينا، امريکا د افغانستان دفاع وزارت او ملي اردو د روزنې لپاره بيلابيل قراردادونه تمويلوي. د دغو تر ټولو لوی قرارداد د افغانستان دفاع وزارت لپاره د 285 ميليونو امريکايي ډالرو د مشورې، روزنې، او ملاتړ قرارداد دی؛ د 203 ميليونو امريکايي ډالرو قرارداد ترڅو د دواړو ملي اردو او ملي پوليسو د استخباراتو ټولولو ته وده ورکړي؛ او د 31 ميليونو امريکايي ډالرو قرارداد د ملي اردو د جنايي تحقيقات د روزنې قرارداد دی.

د NTM-A په وينا، په 2013 کې 188 ميليونه امريکايي ډالر د روزنې لپاره مکلف شوي وو.[152] NTM-A د ملي اردو او ملي پوليسو د سواد ښه کولو لپاره درې قراردادونه د 200 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت تمويلوي.[153]

### د سيګار پلټنه

د پلټنې په يوه راپور کې چې په تير ربع کې خپور شوی، سيګار 52 ساختماني پروژې پيژندلي چې کيدای شي د آيساف د 2014 د دسمبر د ساختماني کارونو بشپړولو پای نيټه پوره نکړي او د نظارت او زياتيدونکو لګښتونو نشتون له کبله به له خطر سره مخامخ وي. پردې برسيره، سيګار پوه شوی چې CSTC-A د افغانستان امنيتي ځواکونو لخوا د جوړ شويو تاسيسات کار اخيستنه نه تعقيبوي او نشي کولای دا ووايي چې آيا اوسنی يا پلان شوي تاسيسات د افغانستان امنيتي ځواکونو اړتياوې پوره کوي او د موخو لپاره ورڅخه کار اخيستل کيږي.



**د افغانستان د ملي اردو** د سرتيرو يو ټيم د روزنې پرمهال د ننګرهار په ولايت کې د يوې دروازې د ماتولو لپاره تياريږي. (د امريکا دفاع وزارت عکس)

## د افغانستان ملي اردو د سواد زده کړه

له 2009 څخه، NTM-A د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو جوړولو، توانمندی، تخصص، او دوام لپاره د سواد زده کړه مهمه ګڼلي ده. د NTM-A یوه قوماندان داسي اټکل کړی چې په 2010 کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د سواد زده کړې ټوله کچه 14% وه.[154] په هغه وخت کې، NTM-A یوه موخه وټاکله ترڅو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه د 1 درجه سواد زده کړې 100% او د 3 درجه سواد زده کړې 50% مهارت لاسته راوړي.[155]

د 1 درجې سواد زده کړه د واحدو کلمو لوستل او ليکل دي، تر 1,000 پورې شميرل، او د ساده جمع او تفريق کول دي. په 2 درجه کې، یو انفرادي کس کولای شی کلمې ولولي او وليکي، ساده ضرب او تقسيم وکړي، او د اندازه کولو واحدونه وپيژني. په 3 درجه کې، یو انفرادي کس عملي سواد زده کړه لاسته راوړي او کولای شي "چاپ شوي او ليکل شوي مواد وپيژني، پوه شي، وژباړي، جوړ کړي، اړيکي ونيسي، محاسبه کړي او ورڅخه ګټه واخلي."[156]

پدې ربع کې د پلټنې په يوه خپور شوي راپور کې، سيګار موندلي چې د NTM-A موخې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د 2009 د 148,000 تاييد شويو کارکوونکو شميرې په اساس وې نه دا چې د اوسني 352,000 کارکوونکو شميرې په اساس وې. پلټنې دا هم وموندل چې د سواد زده کړې پروګرام د اغيز اندازه کولو په اړه د NTM-A ظرفيت محدود دی ځکه چې هيڅ قرارداد د مهارت آزموينې لپاره خپلواکې ارزونې ته اړتيا نلري يا دا چې استخدام شوي وپيژندل شي ترڅو هغوی د اردو يا پوليسو قطعو کې د خدمت په وخت کې تعقيب شي.[157]

د 2013 د دسمبر تر 30 پورې، NTM-A راپور ورکړی چې هغو کارکوونکو چې د سواد زده کړې پروګرامونه بشپړ کړي دا دي:[158]

- 148,738 د 1 درجې فارغ شوي
- 43,651 د 2 درجې فارغ شوي
- 41,182 د 3 درجې فارغ شوي

که څه هم NTM-A وړاندې راپور ورکړی چې د سواد زده کړې پروګرامونو خپلې موخې لاسته راوړي او د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو 50,000 کارکوونکو د 3 درجې يا "عملي سواد زده کړه" لاسته راوړي، NTM-A ونشو کولای سيګار ته ووايي چې د افغانستان ملي اردو د 3 درجې څومره فارغ شوي اوس هم په ملي اردو کې دي. NTM-A ويلي چې د افغانستان ملي اردو نشي کولای دا تعقيب کړي.[159] پدې ربع کې، NTM-A د سواد زده کړې دوې نوې موخې خپرې کړې: په 2014 کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د 3 درجې 30,000 کارکوونکي وروزي، او د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو 2,500 استادان وروزي/ فارغ شي (1,500 د ملي اردو لپاره او 1,000 د ملي پوليسو لپاره) ترڅو د افغانستان ملي امنيتي ځوکونه وکولای شي د سواد زده کړې خپل پروګرامونه ترسره کړي. پداسې حال کې چې NTM-A پدې ربع کې يوځل بيا ويلي چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو سواد زده کړې کچې ته رسيدل "ناممکنه" دي، او راپور يې ورکړی چې په تيرو شپږو مياشتو کې د ملي اردو 9,200 کارکوونکي له 3 درجې روزنې فارغ شوي.[160]

له 2010 څخه، امريکا د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د سواد زده کړې درې قراردادونه تمويل کړي دي. هر قرارداد د يوه کال لپاره دی او د پنځو کلونو حدود لري، د هرکال په اګست کې کيدای شي د بل کال له اختيار څخه کار واخيستل شي، او د پای لګښت يې 200 ميليونه امريکايي ډالر دی.[161] د NTM-A په وينا، دا قرارداد کوونکي د دواړو ملي اردو او ملي پوليسو لپاره سواد زده کړه برابروي. دغو قرارداد کوونکو د ملي اردو لپاره د سواد زده کړې 699 روزونکي ګمارلي دي:[162]

### د سيګار پلټنه

د پلټنې په يوه راپور کې چې پدې ربع کې خپور شوی، سيګار موندلې چې د افغانستان امنيتي ځواکونو لپاره د NTM-A/CSTC-A موخې د افغانستان د امنيتي ځواکونو د تيرو اټکلونو په اساس وو، ځکه نو کيدای شي دا د امکان وړ نه وي. پردې برسيره، د سواد زده کړې روزنې د پروګرام اغيزمنتيا اندازه کولو په اړه د CSTC-A توان محدود وو. او د سواد زده کړې روزنې ټول درې قراردادونه د مهارت آزموينې لپاره خپلواک تاييد اړتيا نلري يا دا چې لکه څنګه چې استخدام شوي خپلو قطعو ته ځي هغوی وپيژندل او تعقيب شي. پردې برسيره، قراردادونه دا په مناسبه توګه نه تعريفوي چې د سواد زده کړې کورس څه ته وايي. يوه قراردادي حکومت ته د هغو کورسونو لپاره بيل ليری چې په يوه مياشت کې دوه ساعته وو. د لا نورو معلوماتو لپاره، د 2 برخې 26 پاڼه وګوری.

- د OT ټریننګ سلوشنز، د امریکا یو شرکت؛ 271 روزونکي برابر کړي.
- انسایت ګروپ، یوه افغاني شرکت، 208 روزونکي برابر کړي.
- د کاروان د لوړو زده کړو انستیتوت، یو افغاني شرکت، 220 روزونکي برابروي.

په 2014 کې د دغو قراردادونو اټکل شوی لګښت، پشمول د ملي پولیسو سواد زده کړې، 25 میلیونه امرکایي ډالر دي. ناتو د دغو قراردادونو د پای کال لپاره 31 میلیونه اضافي امریکایي ډالر ساتلي دي.[163]

## د افغانستان په ملي اردو او هوایي ځواک کې میرمنې

پدې ربع کې، CSTC-A د افغانستان په ملي اردو او هوایي ځواک کې د میرمنو د شمیر په اړه د دوو شمیرو راپور ورکړی. لمړی شمیره د ملي اردو لخوا CSTC-A ته ورکړ شوې. د ملي اردو د شمیرې په اساس، د افغانستان په ملي اردو او هوایي ځواک کې 684 میرمنې خدمت کوي. لدغو څخه، 633 په ملي اردو کې خدمت کوي، 219 ظابطان، 209 واړه ظابطان، 50 ثبت شوي کارکوونکي، او 155 محصلین، او 51 د افغانستان په هوایي ځواک کې خدمت کوي، 21 ظابطان، 13 واړه ظابطان، 8 ثبت شوي کارکوونکي، او 9 محصلین دي.[164]

مګر په ساحه کې سلاکاران، په ملي اردو کې یوواژې 491 میرمنې تاییدوي، 273 افسران، 147 بریدملان، 28 ثبت شوي کارکوونکي، او 43 محصلین دي. د CSTC-A په وینا، دا توپیر "کیدای شي د هغو میرمنو ښکارندوی وي چې هغوی د موادو رسولو په برخه کې (لکه د ګنډلو فابریکو کې) کار کوي." CSTC-A ویلي چې په راتلونکو له 6 تر 8 اونیو کې، د ملکي کارکوونکو یو لست به جوړ شي "چې دا به د ملکي او اردو کارکوونکو په منځ کې لیدنه زیات کړي." دا معلومه نده چې آیا اوس هم نارینه ملکي کارکوونکي د افغانستان د ملي اردو د پای په ټوله شمیره کې شمیرل کیږي.[165]

د افغانستان د ملي اردو د میرمنو د استخدام او ساتلو اوسنی موخه، پشمول د هوایي ځواکونو لپاره 10% ده.[166] مګر، پر پرمختګونو برسیره، دې موخې ته رسیدل ستونزمن دي. میرمنې د ځواکونو له 1% څخه کم جوړوي.



د افغانستان هوایي ځواک د پیلوټۍ له روزنې څخه **فارغ شوي** د شینډنډ په هوایي ډګر کې په یوې غونډه کې د خپلې پیلوټۍ وزر لاسته راوړلو په تمه دي. (د امریکا دفاع وزارت عکس)

## د سیګار پلټنې

پدې ربع کې، د افغانستان هوایی ځواک لپاره د امریکا د ملاتړ یوه پلټنه پیلوي ترڅو د افغانستان هوایی ځواکونو لپاره د امریکا پانګونې، پلان کولو، او روزنې آزموینه وکړي.

د پلټنې په یوه راپور کې چې په تیر کال کې خپور شوی، سیګار موندلي چې د امریکا دفاع وزارت غوښتل ترڅو د ځانګړې ماموریت وزر لپاره د 771.8 میلیونو امریکایي ډالرو الوتکې واخلي سره لدې چې د ځانګړې ماموریت وزر تر یوه خلورم د اړتیا وړ کارکوونکي نلري، د استخدام او روزنې له ستونزمنو ننګونو سره مخامخ دی، او هغه ورتیا نلري ترڅو وکولای شي اوسنی الوتکې وساتي.

## د افغانستان هوایي ځواک

پدې ربع کې، د امریکا مرکزي قوماندانی راپور ورکړی چې د افغانستان هوایي ځواک 103 الوتکې لري، پدې کې هغه الوتکې نه راځي چې "نور په خدمت کې ندي (رالویدلي)" او 10 Mi-17 هلیکوپترونه چې د افغانستان ځانګړي ماموریت وز ته په پور ورکړ شوي.[167]

امریکا د افغانستان په هوایي ځواک کې ډیره پانګونه کړې ده. یوواژې د 2010 مالي کال او 2012 مالي کال ترمنځ، امریکا د 6,529 کسانو د افغانستان د هوایي ځواک ملاتړ او پراختیا لپاره 5 میلیارده امریکایي ډالر پشمول د تجهیزاتو او الوتکو لپاره له 3 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات برابر کړي. پردې برسیره، لکه څنګه چې پدغه جدول 3.9 په راتلونکې پاڼه کې ښودل شوي، د امریکا دفاع وزارت د 2.9 میلیاردو اضافي امریکایي ډالرو، پشمول د تجهیزاتو او الوتکو لپاره د 1.24 میلیاردو امریکایی ډالرو غوښتنه کړې.

د امریکا د مرکزي قوماندانی په وینا، د افغانستان هوایي ځواک 103 الوتکې لري:[168]

- 58 Mi-17 ترانسپورتي هلیکوپترونه (له تیر ربع څخه 18 زیاتي)
- 6 Mi-35 د محاربې هلیکوپترونه (5 د پرواز توان لري)
- 26 C-208 سپکې ترانسبورتي الوتکې
- 6 C-182 د ثابت وزر روزنې الوتکې

جدول 3.9

**د امریکا مرستې ترڅو د افغانستان هوايي ځواک جوړ شي، 2014-2010** (زرګونو ډالر)

| د مرستو کټګورۍ | 2010 مالي کال | 2011 مالي کال | 2012 مالي کال | 2013 مالي کال (غوښتنه) | 2014 مالي کال (غوښتنه) |
|---|---|---|---|---|---|
| تجهيزات او الوتکې | 461,877 | 778,604 | 1,805,343 | 169,779 | 1,068,329 |
| روزنه | 62,438 | 187,396 | 130,555 | 188,262 | 192,354 |
| ساتنه | 143,784 | 537,650 | 571,639 | 473,946 | 777,748 |
| زيربنا | 92,200 | 179,600 | 113,700 | 0 | 0 |
| **ټولټال** | **760,299 امریکایی ډالر** | **1,683,250 امریکایی ډالر** | **2,621,237 امریکایی ډالر** | **831,987 امریکایی ډالر** | **2,038,431 امریکایی ډالر** |

سرچینې: د امریکا دفاع وزارت، د 2012 مالي کال بودجه، د 2012 مالي کال لپاره د افغانستان امنيتي ځواکونو د مرستې بهرنيو بيړنيو عملياتونو لپاره دليل، 2/2011، .pp 8، 19، 30 او 44؛ د امريکا دفاع وزارت، د 2013 مالي کال بودجه، د 2013 مالي کال لپاره د افغانستان امنيتي ځواکونو د مرستې بهرنيو بيړنيو عملياتونو لپاره دليل، 2/2012، .pp 5، 13، 19، او 32؛ د امريکا دفاع وزارت، د 2014 مالي کال بودجه، د 2014 مالي کال لپاره د افغانستان امنيتي ځواکونو د مرستې بهرنيو بيړنيو عملياتونو لپاره دليل، 5/2013، .pp 5، 11، 20، او 37.

- MD-530F 5 د څرخې وزر هليکوپترونه
- C-130H 2 د ترانسپورت منځنی الوتکې

په لست کې له تير ربع څخه توپيرونو کې دا شامل دي: د 18، Mi-17 هليکوپترونه او د دوو C-130H الوتکو اضافه کيدل، او د يوه MD-530F هليکوپتر لرې کول (کله چې د روزنې په وخت کې په يوې غير پلان شوي چاوديدونکي وسيلې باندې را کښته شوه، له منځه يوړل شوه)، پنځه Mi-35 هليکوپترونه (نور د عملياتونو وړ ندي)، او 16، G-222 د کارګو الوتکې (چې د C-27A په نوم هم پيژندل کيږي).[169] وروسته لدې چې د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر چاراوکې کانګرس ته وويل چې دا الوتکې نور په خدمت کې ندي، سيګار د افغانستان د هوايي ځواک په لست کې د 16، G-222 الوتکو د راپور ورکولو په اړه انديښنه ښودلې ده.[170] سيګار هغه عکسونه هم لاسته راوړي چې 16، G-222 الوتکې غير فعاله ښيي او سيګار دا انديښنه لري چې الوتکې نور په خدمت کې ندي يا د راتلونکې خدمت لپاره چمتو ندي. څلور نورې G-222 د آلمان په يوې پايګاه کې ناستي دي. د امريکا مرکزي قوماندانی په وينا، د الوتکو ملکيت د افغانستان حکومت ته هيڅ نه وو سپارل شوی؛ د دغو الوتکو لپاره پروګرام فسخه شو ځکه چې قرارداد کوونکې خپل مکلفيتونه ندي پوره کړي.[171] د 2013 په نومبر کې، سيګار د افغانستان هوايي ځواکونو لپاره د امريکا ملاتړ په اړه يوه پلټنه پيل کړه. دغه پلټنه اوس روانه ده.

**د سيګار ځانګړې پروژه**

پدې ربع کې، سيګار يوه ځانګړې پروژه پيل کړې ترڅو د G-222 (C-27A) الوتکو د فسخه شوي پروګرام د 486.1 ميليونو امريکايي ډالرو اخيستلو او ساتنې لګښتونو ارزونه وکړي.

## د افغانستان ملي پوليس

د 2013 د نومبر تر 31 پورې، امريکا د افغانستان امنيتي ځواکونو له وجهي صندق څخه د افغانستان ملي پوليسو د جوړولو، روزنې، او ساتنې لپاره 15.8 ميلياروه امريکايي ډالر مکلف کړي او 14.9 ميلياروه امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[172]

### د افغانستان ملي پوليسو شمير

د 2013 په نومبر کې، د افغانستان ملي پوليسو ځواکونو په ټوله شميره کې 149,466 کارکوونکي وو، پشمول د 106,784 افغانستان يونيفورم پوليس (AUP)، 20,902 د افغانستان سرحدي پوليس (ABP)، 13,597 د افغانستان عامه نظم پوليس (ANCOP)، 2,850 د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پوليس (CNPA)، او 5,333 تر روزنې لاندې زده کوونکي وو. له تير ربع څخه، د افغانستان ملي پوليسو د ځواکونو ټوله شميره تر 3,191 پورې کمه شوې ده، لکه څنګه چې پدې جدول 3.10 کې ښودل شوي. د CSTC-A په وينا، د افغانستان کورنيو چارو وزارت د افغانستان ملي اردو په څير د هغو کارکوونکو په اړه چې رخصت دي، له رخصی پرته غير

حاضر دي، ناروغه دي، یا په لنډ مهالو دندو ګمارل شوي راپور نه ورکوي. څکه نو دا معلومه نده چې په هر وخت کې د افغانستان ملي پولیسو د حقیقي عملیاتي ځواکونو شمیر څومره دی.[173]

جدول 3.10

**د افغانستان د ملي پولیسو د کارکوونکو شمیر، د هر ربع بدلون**

| د افغانستان ملي پولیسو برخې | تایید شوي | | | ګمارل شوي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | Q3 2013 | Q4 2013 | د هر ربع بدلون | Q3 2013 | Q4 2013 | د هر ربع بدلون |
| د افغانستان یونیفورم پولیس | 110,369 | 110,369 | هیڅ | 109,574 | 106,784 | -2,294 |
| د افغانستان سرحدي پولیس | 23,090 | 23,090 | هیڅ | 21,399 | 20,902 | -497 |
| د افغانستان عامه نظم پولیس | 14,541 | 14,541 | هیڅ | 14,516 | 13,597 | -919 |
| NISTA[a] | 6,000 | 6,000 | هیڅ | 4,905 | 5,333 | +428 |
| **د افغانستان ملي پولیس ټولټال** | **154,000** | **154,000** | **هیڅ** | **150,394** | **146,616** | **-3,282** |
| د افغانستان مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس | 2,247 | 2,243 | -4 | 2,759 | 2,850 | +91 |
| **افغان ملي پولیس + مخدره توکو په وړاندې مبارزې پولیس ټولټال** | **156,247** | **156,243** | **-4** | **153,153** | **149,466** | **-3,191** |

یادښتونه: د Q3 معلومات د 8/20/2013 پورې دي؛ د Q4 معلومات د 11/2013 پورې دي؛ AUP = د افغانستان یونیفورم پولیس؛ ABP = د افغانستان سرحدي پولیس؛ ANCOP = د افغانستان ملي عامه نظم پولیس.
[a] NISTA = پرسونل په روزنه کې

سرچینې: د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 10/1/2013 او 12/30/2013؛ د سیګار ارزونې په اړه د CENTCOM ځواب 1/15/2014.

## د افغانستان ملي پولیسو ساتنه

د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، امریکا د افغانستان امنیتي ځواکونو له وجهي صندق له مرستو څخه 5.5 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 5.4 میلیارده امریکایي ډالرو توزیع کړي دي.[174] د CSTC-A په وینا، امریکا د افغانستان د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA) ته 1.1 میلیارده امریکایي ډالر د افغانستان د ملي پولیسو ملاتړ لپاره ورکړي دي.[175]

## د افغانستان ملي پولیسو معاشونه

CSTC-A راپور ورکړی چې له 2008 څخه د 2013 د دسمبر تر 30 پورې، د امریکا حکومت د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق له لارې 939 میلیونه امریکایي ډالر د افغانستان ملي پولیسو د معاشونو، خواړو، او مکافاتو (د هغو کارکوونکو لپاره چې په محاربه کې یا په ځانګړو ساحو کې دي اضافي پیسې) تادیه کولو لپاره برابر کړي دي.[176]
د CSTC-A په وینا، کله چې د افغانستان ملي پولیس د خپلې پای شمیرې 157,000 کارکوونکو ته ورسید، په هر کال کې به نږدې 628.1 میلیونو امریکایي ډالرو ته اړتیا ولري ترڅو معاشونه (265.7 میلیونه امریکایي ډالر)، مکافات (224.2 میلیونه امریکایي ډالر)، او خواړه (138.2 میلیونه امریکایي ډالر) تمویل شي. CSTC-A ویلي چې د دغو مرستو ملاتړ د LOTFA، د افغانستان حکومت او CSTC-A لخوا ترسره کیږي.[177]

### د افغانستان ملي پولیسو معاشونه ورک دي

**د افغانستان په وزاتونو کې د یوې وروستی تیروتنې له کبله کیدای شي د وزارت د توان او د امنیتي ځواک د لیوالتیا په اړه پوښتنې زیاتې کړي. نویارک ټایمز راپور ورکړی دی چې د افغانستان کورنیو چارو وزارت د هیواد پولیسو لپاره د معاشونو سندونه د مالیې وزارت ته ناوخته رسولي. پداسې حال کې چې د مرستندویانو مرستې د افغانستان په خزانه کې وي، د 2013 په دسمبر کې یا په نومبر کې په شپږو ولایتونو کې په لسګونو زرو پولیسانو ته معاشونه تادیه شوی ندی. د کورنیو چارو وزارت وایي چې یو شمیر چارواکي له دندې لرې شوي، معاش به تادیه شي، او "دا به بیا تکرار نشي."**

سرچینه: نویارک ټایمز، "د افغانستان پولیس، ډیری وختونه مسخره کیري، له بلې ستونزې سره مخامخ: ورک معاش،" 1/12/2014.

## د افغانستان ملي پولیس تجهیزات، ترانسپورت، او ساتنه

د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، امریکا د افغانستان امنیتي ځواکونو د وجهي صندق له مرستو څخه 3.6 میلیارده امریکایي ډالر د ملي پولیسو د تجهیزاتو او ترانسپورت لپاره مکلف کړي او توزیع کړي دي.[178] د دغو مرستو زیاته برخه د وسلو او اړوند تجهیزاتو، وسایطو، او مخابرې تجهیزاتو اخیستلو لپاره لګول شوې.[179] د مرستو ډیره برخه د وسایطو او وسایطو اړوندو تجهیزاتو لپاره وه، لکه څنګه چې پدې جدول 3.11 کې په راتلونکي پاڼه کې ښودل شوي.

جدول 3.11

| د امریکا لخوا تمویل شوي د افغان ملي پولیسو تجهیزات | | |
|---|---|---|
| **د تجهیزاتو ډول** | **اخیستل شوي** | **د اخیستلو لپاره پاته دي** |
| وسلې | 187,251,477 امریکایی ډالر | 4,691,866 امریکایی ډالر |
| وسایط | 1,966,075,183 امریکایی ډالر | 3,744,582 امریکایی ډالر |
| د مخابرې تجهیزات | 211,062,672 امریکایی ډالر | 845,223 امریکایی ډالر |
| **ټولټال** | **2,364,389,332 امریکایی ډالر** | **9,281,671 امریکایی ډالر** |

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A خواب، 12/30/2013.

لکه د افغانستان ملي اردو په څیر، د افغانستان د ملي پولیسو د برابر شویو تجهیزاتو لګښت ټاکل اوس هم یوه ننګونه ده. پدې برخه کې د CSTC-A راپور ورکول توپیر لرونکي دي، او د افغانستان ملي پولیسو لپاره د امریکا کارول شویو مرستو څخه د تجهیزاتو اخیستلو لیدنې په ا ړه پوښتنې راپورته کوي. د بیلګې په توګه، CSTC-A اټکل کړی چې د امریکا لخوا تمویل شوي د افغانستان ملي پولیسو لپاره د اخیستل شویو وسلو ټول لګښت چې په تیرو دوو ربعونو کې 369 میلیونه امریکایي ډالر وو په وروستي ربع کې 137 میلیونه امریکایي ډالر ته را کم شو.[180] پدغه وخت کې، CSTC-A وویل چې "له تیر ربع څخه په ټول لګښت کې کموالی لدې کبله وو چې د تجهیزاتو په قرارداد کې حقیقي لګښت له اټکل شوي لګښت څه کم وو."[181] پدې ربع کې، CSTC-A ویلي چې د افغانستان ملي پولیسو لپاره د اخیستل شویو وسلو ټول لګښت 187 میلیونه امریکایي ډالر وو، دا ډیروالی "لدې کبله وو چې پدې کې هغه وسلې شاملې دي چې د مرستو له نورو لارو اخیستل شوې وې."[182]

د CSTC-A په اټکل د افغانستان ملي پولیسو لپاره د اخیستل شویو وسایطو ټول لګښت هم را کم شوی دی. د 2013 په جولای کې، CSTC-A ویلي وو چې د وسایطو ټول لګښت 2.65 میلیارده امریکایي ډالر وو.[183] په تیر ربع کې، CSTC-A ویلي وو چې د اخیستل شویو وسایطو حقیقي لګښت 2.03 میلیارده امریکایي ډالر وو. د CSTC-A په وینا، "له تیر ربع څخه د اخیستلو شویو په شمیر کې کموالی د هر اړخیز کورنی پلټنې له کبله وو چې دا یې معلومه کړه چې ځینې تجهیزات دوه ځله شمیرل شوي وو."[184] پدې ربع کې، د افغانستان ملي پولیسو د اخیستل شویو وسایطو ټول لګښت بیا راټیټ شو، او دا ځلې 1.97 میلیارده امریکایي ډالر وو. د CSTC-A په وینا، له تیر ربع څخه د کموالی دلیل "لدې کبله وو چې د قرارداد شویو تجهیزاتو حقیقي مکلف شوی لګښت لوړ وو."[185] دا معلومه نه وه چې ولې لوړ لګښت به تر اوسه د اخیستل شویو وسایطو په هر اړخیز لګښت کې کموالی راوړي.

امریکا د افغانستان ملي پولیسو لپاره د 312 میلیونو امریکایي ډالرو مهمات هم اخیستي او د افغانستان ملي پولیسو د ساتنې لپاره د 1.4 میلیاردو امریکایي ډالرو نور تجهیزات او مواد هم اخیستي دي. د CSTC-A په وینا، دغه وروستی اندازه پیسي د ټولو تجهیزاتو او ساتنې له ټولو لګښتونو څخه د وسلو، وسایطو، مخابرې تجهیزاتو، او مهماتو منفي کولو څخه معلوم شوي.[186]

## د افغانستان ملي پولیسو زیربنا

د CSTC-A په وینا، د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، امریکا د افغانستان امنیتي ځواکونو له وجهي صندق څخه د افغانستان ملي پولیسو زیربنا لپاره 3.3میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 2.6 میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړي دي.[187] پدغه وخت کې، امریکا د زیربنا 599 پروژې (د 2.1 میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت) بشپړې کړې دي، 136 پروژې تر کار لاندې دي (776 میلیونه امریکایي ډالر) او درې پلان شوي (21 میلیونه امریکایي ډالر).[188]

پدې ربع کې، 20 پروژې د 77 مليونو امريکايي ډالرو په ارزښت بشپړې شوې او 19 د 84 مليونو امريکايي ډالرو په ارزښت فسخه شوې. د افغانستان ملي پوليسو د زيربنا تر ټولو لويې پروژې، اداري تاسيسات (59.5 ميليونه امريکايي ډالر)، د کورنيو چارو وزارت په قرارګاه کې ساختماني چارې او اوليه سهولتونه (34.3 ميليونه امريکايي ډالر)، او د هلمند په ولايت کې د افغانستان عامه نظم د پوليسو د ګزمې قرارګاه (28.5 ميليونه امريکايي ډالر) وو.[189]

## د افغانستان ملي پوليسو روزنه او عملياتونه

د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، امريکا د افغانستان امنيتي ځواکونو له وجهي صندق څخه د افغانستان ملي پوليسو او کورنيو چارو وزارت د عملياتونو او روزنې لپاره 3.4 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف کړي او 3.3 ميليارده امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[190] د NTM-A په وينا، پدې ربع کې د ملي پوليسو 9,513 کارکوونکي په يو ډول روزنه کې ثبت وو. لدغو څخه، 1,422 په روزنه کې وو ترڅو بريدمنان شي او 3,404 په روزنه کې وو ترڅو واړه ظابطان شي.[191]

NTM-A/CSTC-A له داين کور انترنيشنل سره قرارداد کړی ترڅو په ټول هيواد کې د روزنې په څو مرکزونو کې روزنه، د استادی روزنه، او ملاتړ خدمات برابر کړي. د افغانستان امنيتي وجهي صندق لخوا تمويل شوی قرارداد د سيمه ايزو مرکزونو او د ملاتړ سيارو ټيمونو لپاره 356 استادان او روزنکي او 1,045 ملاتړ کارکونکي برابروي. د دې قرارداد ارزښت 1.21 ميليارده امريکايي دالر دی.[192]

## د افغانستان ملي پوليسو سواد زده کړه

د افغانستان ملي پوليسو لپاره د NTM-A سواد زده کړې قرارداد له دريو ورته قراردادکونکو څخه کار اخلي، ورته نصاب تعقيبوي، لکه څنګه چې پدې برخه کې وړاندې تشريح شو د افغانستان ملي اردو په څير د سواد زده کړې له ورته ستندرد څخه کار اخلي.[193]

د 2013 د دسمبر تر 30 پورې، د افغانستان ملي پوليسو په کارکوونکو کې چې د سواد زده کړې پروګرام يې بشپړ کړی دا شامل دي:[194]

- 84,905 د 1 درجې فارغ شوي
- 54,997 د 2 درجې فارغ شوي
- 35,652 د 3 درجې فارغ شوي

د NTM-A په وينا، قراردادیانو د افغانستان ملي پوليسو لپاره 531 روزونکي برابر کړي:[195]

- د OT ټريننګ سلوشنز، د امريکا يو شرکت، 297 روزونکي برابر کړي.
- انسايت ګروپ، يوه افغاني شرکت، 112 روزونکي برابر کړي.
- د کاروان د لوړو زده کړو انستيتوت، يو افغاني شرکت، 122 روزونکي برابروي.

## د افغانستان په ملي پوليسو کې ميرمنې

لکه په تيرو ربعو کې، د افغانستان په ملي پوليسو کې د ميرمنو شمير ډيريږي، مګر هغې موخې ته چې د 2014 تر پايه د افغانستان ملي پوليس 5,000 ميرمنې ولري پرمختګ څنډنی دی. CSTC-A ويلي چې "د افغانستان ملي پوليس په اوس وخت کې زيات پدې کار کوي ترڅو د نويو استخدام شيو لپاره خوندي ځايونه پيدا کړي ( د بيلګې په توګه د ميرمنو لباره مناسب بستونه له مناسبو تاسيساتو سره) او پدې کار نکوي ترڅو د موخې شمير ته ورسيږي." [196] پدې ربع کې په زياتوالي برسيره، ميرمنې د ځواک 1% جوړوي.

د CSTC-A په وينا، د 2013 تر دسمبر پورې، د افغانستان په ملي پوليسو کې 1,592 ميرمنې شامل وې، 232 ظابطان، 636 واړه ظابطان، 724 ثبت شوي کارکوونکي وو.[197] دا په دوو کلونو کې د 388 ميرمنو زياتوالی ښيي (د 2011 له اګست22 څخه).[198]

### د سيګار پلټنه

د پلټنې په يوه راپور کې چې پدې ربع کې خپور شوی، سيګار موندلې چې د افغانستان امنيتي ځواکونو لپاره د NTM-A/CSTC-A موخې د افغانستان امنيتي ځواکونو د تيرو اټکلونو په اساس وو، څکه نو کيدای شي دا د امکان وړ نه وي. د لا نورو معلوماتو لپاره، د 2 برخې 26 پاڼه وګورئ.



**د افغانستان ملي اردو یو عسکر** د لغمان په ولایت کې په یوه ملکري عسکر باندې د ټپونو د پاملرنې په روزنه کې پټۍ ږدي. (د امریکا دفاع وزارت عکس)

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو طبي/روغتیایی پاملرنه

د 2013 د دسمبر تر 31 پورې، امریکا د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د 175 روغتیایي تاسیساتو ساختماني چارې تمویل کړې دي چې ارزښت یې 134 میلیونه امریکایي ډالر وو، او 12 اضافي رواني پروژې د 36 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت دي. د CSTC-A په وینا، پردې برسیره، د ایتلاف ځواکونو 10 میلیونه امریکایي ډالر د قراردادونو لپاره مکلف کړي ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د روغتیا روزنه برابره کړي. له 2006 څخه، د ایتلاف ځواکونو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د 41 میلیونو امریکایي ډالر روغتیایي تجهیزات اخیستي اوو سپارلي دي.[199]

پدې ربع کې، CSTC-A راپور ورکړی چې د افغانستان امنیتي ځواکونو د روغتیا پاملرنې سیستم له 1,263 تایید شویو ډاکټران څخه 1,087 ډاکټران درلودل. لدغو څخه، 603 ملي اردو ته ګمارل شوي او 484 ملي پولیسو ته ګمارل شوي. د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه له 8,337 تایید شویو څخه 7,793 د روغتیا نور کارکونکي لري (پشمول د نرسانو او پارامیډیک).[200]

## د هغو مهماتو لرې کول چې چاودلې ندي

له 2002 څخه، امریکا د وسلو د لرې کولو او له منځه وړلو سیاسي-اردو چارو بیورو (WRA/PM) په وینا، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د وسلو له منځه وړلو او د افغانستان مینونو پاکولو مرستې لپاره له 283 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات برابر کړي دي.[201] د امریکا بهرنیو چارو وزارت د اساسي وسلو له منځه وړلو پروګرام له لارې د افغانستان پنځه غیر دولتي سازمانونه، پنځه نړیوال سازمانونه، او د امریکا حکومت یو قراردادي تمویلوي. دا مرستې د هغو ساحو د پاکولو سبب کیږي چې د جنګ په وخت کې په چاودیدونکو توکو ککړې شوي او د پرې ښودل شویو وسلو لرې کول او له منځه وړلو ملاتړ کوي چې کیدای شي یاغیان ورڅخه د غیر پلان شویو چاودیدونکو توکو په توګه ورڅخه کار واخلي.[202]

د WRA/PM د وروستیو معلوماتو په وینا، د 2012 د اکتوبر له 1 څخه د 2013 د سپتمبر تر 30 پورې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت لخوا تمویل شویو تطبیقونکو ملګرو له 25 میلیونو متر مربعې (نږدې 10 میله مربع) څخه زیاته د مینونو ساحه پاکه کړې.[203] او نږدې 537 میلیونه متر مربع (له 200 میل مربع څخه ډیره) لا ککړه ساحه اوس هم پاته ده چې باید پاکه شي، لکه څنګه چې پدې جدول 3.12 کې ښودل شوي. WRA/PM هغې ساحې ته د "مینونو ساحه" وایي چې د ځمکې په مینونو ککړه وي، او "ککړه ساحه" هغې ساحې ته وایي چې په دواړه د ځمکې او د جنګ په پاته شویو چاودیدونکو توکو باندې ککړه وي.[204]

جدول 3.12

**د اساسي وسلو له منځه وړلو پروګرام اندازه کول، د 2012 د اکتوبر 1، د 2013 د سپتمبر 30**

| د نیټې حد | AT/AP له منځه وړل شوي | UXO له منځه وړل شوي | SAA له منځه وړل شوي | ټوټې پاکې شوي | د مینونو ساحې پاکې شوي (m²) | اټکل شوي ککړې ساحې چې پاته دي (m²) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 12/31/2012–10/1 | 2,146 | 62,449 | 22,373 | 3,672,661 | 7,265,741 | 570,000,000 |
| 3/31/2013–1/1 | 1,984 | 100,648 | 105,553 | 3,722,289 | 7,978,836 | 552,000,000 |
| 6/30/2013–4/1 | 1,058 | 18,735 | 49,465 | 1,079,807 | 5,586,198 | 537,000,000 |
| 9/30/2013–7/1 | 1,243 | 21,192 | 98,306 | 1,673,926 | 4,229,143 | 521,000,000 |
| **ټولټال** | **6,431** | **203,024** | **275,697** | **10,148,683** | **25,059,918** | **521,000,000** |

یادښتونه: AT/AP = د ټانک ضد/پرسونل ضد مهمات. UXO = مهمات چې چاودلې ندي. SAA = د وړو وسلو مهمات. د ټوټو په اړه راپور ورکړ شوی څکه چې د هغوی د ماهیت معلومولو تر وخته پورې لکه نور مهمات د هغوی پاکول ورتې پاملرنې ته اړتیا لري.

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکا بهرنیو چارو وزارت، WRA/PM ځواب، 12/30/2013.

## د قرارداد د ادارې نظارت

CSTC-A راپور ورکړی چې CSTC-A/NTM-A اوس د قرارداد کولو افسرانو 71 استازي (CORs) لري، پشمول د امریکا او ایتلاف اردو کارکونکي او ملکي کارکونکي، چې د افغانستان امنیتي ځواکونو د 155 خدمت قراردادونو چې ارزښت یې 2.4 میلیارده امریکایي ډالر دی، د فعالیت نظارت کوي. د CSTC-A په وینا، دا "یوه مناسبه شمیره ده ترڅو د خپلو قراردادونو له شمیر، پیچلتیا، د ماموریت اهمیت، او جغرافیایي موقعیت سره معامله وکړي."[205] CSTC-A ویلي چې دا له تیرو شپږو میاشتو څخه کموالی دی کله چې یې 99 استازي درلودل ترڅو د 206 قراردادونو نظارت وکړي. CSTC-A/NTM-A پنځه قراردادونه هم لري چې د دفاع قرارداد ادارې لخوا اداره کیږي او 50 اضافي روزل شوي استازي لري او د قرارداد فعالیت نظارت لپاره په دندو ګمارل شوي.[206]

NTM-A/CSTC-A د دغو استازو نظارت کوي او له بیلابیلو طریقو او وسیلو څخه د استازو د قرارداد پوښښ ګوري. پدې کې د قرارداد ادارې معلوماتو کارول، د قراردادونو تعقیبول، او په هره میاشت کې د افسرانو په کچه د جلسو جوړول شامل دي، ترڅو د پرمختګ، د استازو پوښښ، او نورو مسلو باندې خبرې وشي.[207]

د استازو د روزنې لپاره، NTM-A/CSTC-A د امریکا د اردو قرارداد کولو قوماندانی او د امریکا مرکزي قوماندانی ګډو کارونو ملاتړ قرارداد کولو قوماندانی لارښونه تعقیبوي. استازي اړتیا لري ترڅو په انترنت کې د دفاع د اخیستلو پوهنتون درې کورسونه بشپړ کړي. پردې برسیره، استازي باید د هغوی د قوماندانی چارواکو لخوا وټاکل شي، د قرارداد کولو لخوا په شخصي توګه روزنه لاسته راوړي، او مالي راپور بشپړ کړي. د CSTC-A په وینا، د استازو د کار وخت د خدمت په اساس توپیر لري، مګر په منځني ډول یو استازی باید د دومره وخت لپاره خدمت وکړي:[208]

- د امریکا هوایي ځواک: 6 میاشتې
- د امریکا اردو، بحري ځواک، بحري عسکر، او ایتلاف: 9 میاشتې
- د امریکا دفاع وزارت ملکیان: 12 میاشتې

CSTC-A راپور ورکړی چې د امنیت نشتون به د بیارغونې د قراردادونو د بشپړولو، اداره کولو، او نظارت لپاره یوه دوامداره ننګونه وي. CSTC-A ویلي چې پدې کار کوي ترڅو د قراردادونو لوژستیکي مسولیتونه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته وسپاري. CSTC-A ویلي چې "د افغانستان امنیتي ځواکونو ته یې ډېره روزنه ورکړې ترڅو د تدارکاتو او قرارداد نظارت پروسې ښه کړي."[209] IJC د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو سازمانونو ته هم روزنه ورکوي، لکه د موادو د خوځښت مرکز، ترڅو د تیلو د فرمایش ورکولو او راپور ورکولو پروسو نظارت وکړي. CSTC-A مرسته کړې ده ترڅو د افغانستان د دفاع اخیستلو او سرچینو ادارې انستیتوت په پښو ودریږي، چې د 2013 په جون کې یې خپل لمړي ټولګي پیل کړ. پردې برسیره، په تیر کال کې، CSTC-A/NTM-A په ټول افغانستان کې په شپږو بیلابیلو سیمو کې د قرارداد مشورې او مرستې شپږ ټیمونه او درې تر څلورو قرارداد شوي استادان ځای په ځای کړي چې د قرارداد کولو تجربې لري. دا ټیمونه د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو د قول اردو او ولایتونو په کچو د استادی روزنه او مشوره برابروي.[210]

## د مخدره توکو په وړاندې مبارزه

که څه هم امريکا په ميلياردونه ډالر د کوکنارو کرنې او غيرقانوني مخدره توکو قاچاق کولو کمولو لپاره لګولي دي، مګر د افغانستان کوکنارو کرنه او توليد اوس هم د زياتيدو په حال کې دي. د افغانستان د کوکنارو په سروې کې، چې په نومبر کې خپره شوې، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر (UNODC) ويلي "په افغانستان کې د کوکنارو کرنه په 2013 کې ډيرې لوړې کچې ته رسيدلې." د UNODC د سروې په وينا، ډيره لوړه کچه 209,000 هکتاره په 2013 کې د کوکنارو تر کرنې لاندې وه، چې دا له 2012 څخه 36% زياتوالی دی. پخوانی لوړه کچه چې په 2007 کې وه 193,000 هکتاره وه. پردې برسيره، په 2013 کې 5,500 ترياک توليد شوي، او دا تر 2012 کال 49% زياتوالی دی. او له کوکنارو څخه خلاص دوه ولايتونه، فارياب او بلخ پدې کال کې خپل دريځ له لاسه ورکړ، او لدې سره د افغانستان له 34 ولايتونو څخه 15 ولايتونه تر کرنې لاندې دي.[211]

په نړۍ کې تر نورو هيوادونو افغانستان د کوکنارو او ترياکو ډېر کرنه او توليد لري، او کيدای شي په 2013 کې يې د نړۍ تر 90% پورې توليد درلود. د کوکنارو کرنې اغيز ډير زيات دی. دا د افغانستان قانوني اقتصاد کمزوری کوي، فساد ډيروي، ياغيتوب تمويلوي، او د مخدره توکو اعتياد زياتوي. وروستی معلومات دا ښيي چې د ترياکو او له ترياکو څخه جوړ شوي محصولات لکه هيروين او مورفين د صادراتو ارزښت له 30% څخه ډير زيات شوی او په 2013 کې نږدې 3 ميلياره امريکايي ډالر وو.[212] د امريکا د ځواکونو کموالي له کبله د افغانستان په اقتصاد کې هر کموالی کيدای شي پايله به يې د نړيوالې مرستې کموالی وي او کيدای شي پايله به يې د ترياکو د تجارت ډيروالی او د افغانستان د اقتصاد زياته برخه به ونيسي.

په 2013 کې، د زياتې انديښنې وړ خبره دا وه چې د هلمند په ولايت کې 48% د کوکنارو ځمکو موقعيت درلود، او دا ولايت د امريکا د ياغيتوب ضد هڅو مهم ولايت دی. له 2012 څخه تر 2013 پورې، په هلمند کې د کوکنارو کرنه 34% زياته شوه يعنی له 75,176 هکتارو څخه 100,693 ته زياته شوه.[213] د راپورونو په اساس د طالبانو پنځه اويا سلنه عوايد يووازې له 12 ولسواليو څخه راځي. لدغو څخه اته ولسوالی د هلمند په ولايت کې دي.[214]

د امريکا د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې ستراتيژي تر ډيرې کچې د مخدره توکو او ياغيتوب په اړيکو کار کوي.[215] د ستراتيژۍ په اصلي برخو کې د امريکا لخوا تمويل شوی د کوکنارو له منځه وړل، د بديل معيشتونو هڅول، د عامه پوهاوي نوښتونه، او د مخنيوی عمليات شامل دي. د 2014 د جنوری تر 17 پورې، امريکا په افغانستان کې د مخدره توکو د نوښتونو لپاره په 2002 کې د نوښتونو له پيل څخه 7.3 ميلياره امريکايي ډالر مکلف کړي دي. د دغو مرستو ډيره برخه د دوو چينلونو له لارو تخصيص شوي: د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د نړيوال مخدره توکو کنترول او قانون پلي کولو (INCLE) حساب (4.2 ميلياره امريکايي ډالر)، او د امريکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنيوي او مخدره وکو په وړاندې نوښتونو (DOD CN) مرسته (2.9 ميلياره امريکايي ډالر).[216]

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د نړيوال مخدره توکو او قانون پلي کولو چارو بيورو (INL) د افغانانو په مشرۍ د کوکنارو له منځه وړلو، بديل معيشتونو، او عامه پوهاوي پروګرامونو اصلي مسوليت لري. د امريکا دفاع وزارت او INL په افغانستان کې د مخدره توکو ملاتړ هڅې همغږې کوي.[217] د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت، له UNODC سره په ملګرتيا کې، د کوکنارو د کرنې او له منځه وړلو تاييد مسوليت لري.[218]

### د سيګار شهادت ورکول

پدې ربع کې، ځانګړي عمومي مفتش، جان ساپکو، په افغانستان کې د امريکا د بهرنيو چارو وزات د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې د امريکا د دريځ په اړه د سنا د عمومي غونډې په وړاندې شهادت ورکړی. د لا نورو معلوماتو لپاره، د 2 برخې 20 پاڼه وګورئ.



**د امریکا بحري ځواکونو یو پرکمشر** د امریکا بحري ځواکونو او د افغانستان د ملي مخنیوی قطعې غړو لپاره امنیت برابروي پداسې حال کې چې هغوی د هلمند په ولایت کې د مخدره توکو مخنیوی عملیات ترسره کوي. (د امریکا بحري قول اردو عکس)

## د والي په مشرى د له منځه وړلو پروګرام

INL د افغانستان حکومت د والي په مشرى د کوکنارو له منځه وړلو (GLE) پروګرام ملاتړ کوي. د له منځه وړلو کچه د UNODC او د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې د وزارت لخوا تاییدیږي. د 2013 د سپتمبر د بشپړ راپور په وینا، د والي په مشرى د له منځه وړلو پروګرام د 18 ولایتونو په 842 کلیو کې د 7,323 تایید شویو هکتارو له منځه وړلو مسولیت درلود. د 2012 په پرتله، کله چې 9,672 هکتاره له منځه وړل شوي وو، په 2013 کې په له منځه وړلو کې 24% کموالی وو. د INL په وینا، د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت دا کموالی د له منځه وړلو په برخه کې د افغانستان امنیتي ځواکونو د هڅو کموالي، د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې په پولیسو باندې د طالبانو حملو، د هیواد په لرو پرتو او ناامنو سیمو کې د کوکنارو کرنې او د ګرمې هوا له کبله ګڼي، ځکه چې بزګران کولای شي د نورو کلونو په پرتله خپل حاصلات ژر واخلي.[219]

د INL په وینا، د والي په مشرى د کوکنارو له منځه وړل د کال په بیلابیلو وختونو کې ترسره کیږي او د ولایت په هوا پورې اړه لري. پایلې د مخدره توکو وزارت لخوا د زیاتوالي په اساس تعقیبیږي، او د توپیر په اساس د UNODC لخوا باید تایید شي. د له منځه وړلو ډیره برخه په جنوبي ولایتونو کې ترسره کیږي. د بیلګې په توګه، د هلمند په ولایت کې 2,162 هکتاره کوکنار او په کندهار کې 1,083 هکتاره کوکنار له منځ وړل شوي، مګر په فراه کې 262 هکتاره کوکنار، په ننګرهار کې 447 هکتاره، او په ارزګان کې 352 هکتاره له منځه وړل شوي. په ختیځ کې یووازې په بدخشان کې ډیر کوکنار له منځه وړل شوي: 2,798 هکتاره.[220]

## د ښه فعالیت نوښت

د INL په ونیا، د افغانستان د مخدره توکو د ښه فعالیت نوښت چې د INL لخوا تمویلیږي د هغو والیانو لپاره چې پخپلو ولایتونو کې د کوکنارو کرنه ډیره کموي د مکافاتو په توګه د دغو والیانو لپاره پراختیایي مرستې برابروي. هغه ولایتونه چې له کوکنارو څخه خلاص دریځ لاسته راوړي، د کوکنارو کرنه له 10% څخه زیاته کموي، یا د مخدره توکو په وړاندې د بیلګو هڅې ښیي، د سیمه ایزو پراختیایي لمړیتوبونو لپاره پراختیایي مرستې ملاتړ لاسته راوړي. یو ولایت هغه وخت له کوکنارو خلاص دریځ لري کله چې UNODC د افغانستان مخدره توکو په وړاندې مبارزې له وزارت سره په همغږی کې دا تایید کړي چې پدغه کال کې دغه ولایت له 100 هکتارو څخه کم د کوکنارو کرنه درلوده. په 2013 کې، د افغانستان 15 ولایتونه له کوکنارو څخه خلاص د والي ښه فعالیت مرستې لپاره مستحق ګڼل شوي، او دا له 2012 څخه دوه کم وو.[221]

د والي ښه فعالیت نوښت کې د اعتیاد معالجه کول او سیمه ایزه پراختیا هم شامل دي، لکه د سړکونو او اوبو لګولو جوړښتونو ښه کول چې بزګران وکولای شي اوبو او مارکیټونو ته لاس رسی پیدا کړي. د والي ښه فعالیت نوښت د سیمه ایزو ټولنو لپاره د کار لندمهاله فرصتونه هم برابروي. د INL په وینا، د پروګرام له پیل څخه، په افغانستان کې له کوکنارو څخه خلاص ولایتونو شمیر له شپږو څخه 15 ته زیات شوي.[222]

په 2007 کې د والي ښه فعالیت نوښت له پیل څخه، د افغانستان په ټولو 34 ولایتونو کې له 200 څخه زیاتې پراختیایي پروژې بشپړې شوي یا رواني دي، پشمول د دغو: د ښوونځي جوړول، د سړک او پل پروژې، د اوبو لګولو جوړښتونه، د فارم ماشینونو پروژې، او روغتون او کلنیک ودانی. INL ویلي چې پداسي حال کې چې د والي ښه فعالیت

نوښت ډېرو پاته کارونو له کبله د ځینو پروژو تطبیق کم شوی، د مخدره توکو په وړاندي د مبارزې وزارت لکه څنګه چې د دې وزارت ظرفیت د ودې په حال کې دی او پروسې یې ښه کېږی، پروګرام یې ځنډیدلی. د هیواد په ډېرو ناامنو خطرناکو سیمو کې د امنیت ننګونو له کبله د ساختماني پروژو په تطبیق کې هم ځنډ شتون لري.[223]

## د مخدره توکو په وړاندي مبارزې له ټولنو سره کار

د مخدره توکو په وړاندي مبارزې له ټولنو سره د کار پروګرام د عامه پوهاوي له لارې په ولایتونو کې له کوکنارو خلاص دریځ هڅوي او د مطبوعاتو کمپاین له لارې د کوکنارو کرنې په سیمو کې بزګران په نښه کوي. د INL په وینا، له ټولنو سره د کار پروګرام د مخدره توکو سره د مبارزې له وزارت سره په نږدې همغږی تطبیقیږي، او دا کتل کیږي ترڅو پیامونه د مطبوعاتو، ولایتي کنفرانسونو، شوراګانو، اکادمیکو غونډو، او ځوانانو پوهاوی غونډو له لارو ورسول شي. پدې پروګرام کې د وزارت د برخو د ظرفیت لوړول شامل دي ترڅو دا وکتل شي چې دا پروګرام کولای شي د مخدره توکو په وړاندي د مطبوعاتو اړیکو، عامه پوهاوي، او چلند بدلون فعالیتونو لپاره زیات مسولیت په غاړه واخلي، او د پروګرام له پای څخه وروسته یې هم اغیز پاته وي.[224]

## د آغاخان بنسټ مرسته

INL د آغاخان بنسټ یوه مرسته اداره کوي ترڅو په شپږو مهمو ولایتونو کې د کوکنارو له کرنې وتلو ساتنې ملاتړ ته دوام ورکړي: بامیان، تخار، بدخشان، دایکندي، سمنګان، او بغلان. دا مرسته دې بنسټ ته اجازه ورکوي ترڅو له پراختیایي شوراګانې، سیمه ایزو غیرې دولتي سازمانونو، او د ولایتونو اړوندو ریاستونو سره د قانوني معیشتي فرصتونو زیاتولو لپاره کار وکړي او غواړي ترڅو د افغانستان مخدره توکو کنترول ستراتیژۍ او د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ ترمنځ د ټولنو په کچه اړیکي زیاتي کړي.[225]

## نظارت، تایید، او سیمه ایزه همکاري

د INL په وینا، پدې ربع کې، UNODC دوه کاري ګروپونه سره همغږي کړي چې د مخدره توکو د غوښتنې کمولو لپاره کار کوي او د اړوندو کیمیاوي توکو شتون په وړاندي مبارزه کوي. دا کاري ګروپونه د پاریس نوښت تړون یوه برخه ده، یوه څو اړخیزه ملګرتیا ده ترڅو د افغانستان تریاکو تجارت په وړاندي مبارزه وکړي. د امریکا حکومت، 57 نور هیوادونه او 21 نړیوال سازمانونه د دې نوښت ملاتړ کوي. د پاریس تړون د افغانستان لپاره د مرستندویانو په اوږدمهاله مرسته ټینګار کوي او د سیمي په سرحدونو کې د تجارت او له غیر قانوني مخدره توکو څخه ناوړې ګټې اخیستنې باندې کار کوي.[226]

د 2013 په اکتوبر او نومبر کې، INL د افغانستان او پاکستان افسرانو لپاره د UNODC لخوا تطبیق شوی د ناتو - روسیې شورا له لارې د مخدره توکو په وړاندي د مبارزې د دوو اونیو ګډه روزنه تمویل کړي. دې روزنې د افغانستان د مخدره توکو په وړاندي د مبارزې 12 پولیسان او د پاکستان د ګمرکونو 12 چارواکي د ترکیې په انقره کې د ترکیې د مخدره توکو په وړاندي د مبارزې او سازمان شویو جرمونو نړیوالې اکادمی کې د تخصصي تحقیقي رزونې لپاره یوځای کړل. د ترکیې او امریکا د مخدره توکو په وړاندي د پولیس په مشری روزنه.[227]

## د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت ظرفیت لوړولو پروګرام

د دې وزارت د ظرفیت لوړولو پروګرام په روزنې، د تجهیزاتو په اخیستلو، او پدې وزارت کې د تاسیساتو په ښه کولو باندې کار کوي. پدې ربع کې، د INL سلاکارانو چې لدې وزارت سره کار کوي په کابل کې د دې وزارت له 30 څخه زیاتو ولایتونو د نږدې 160 کارکوونکو لپاره د دوو اونیو لپاره د روزنې غونډې جوړې کړې. د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت سلاکارانو هم پدې وزارت کې د INL د تمویل شویو پوستونو د کارکوونکو د کلنې فعالیت په ارزونه کې برخه واخیستله. پدې ربع کې، INL یو قرارداد وړاندې کړی ترڅو دې وزارت لپاره نوې وسایط برابر شي، او د وزارت په قرارګاه کې د لمړنیو خدماتو شپږ واسطې او د وزارت د 34 ولایتي ریاستونو لپاره د ډیزل یوه لارې هم شامل دي. د INL په وینا، پدې ربع کې INL د دې وزارت د ولایتي دفترونو لپاره د معلوماتي تیکنالوجی تجهیزات هم برابر کړي.[228]

## د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس

د CSTC-A په ونیا، پدې ربع کې، د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیسو په قطعه کې 2,850 کارکوونکي ګمارل شوي.[229] د امریکا مرکزي قوماندانی په وینا، د قانون په اساس، د پولیسو دا قطعه په افغانستان کې د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې یووازینی قطعه ده. د دې قطعې قرارګاه په کابل کې ده او په ټولو 34 ولایتونو کې ولایتي قطعې لري چې د ولایت د امنیه قوماندان تر کنترول لاندې کار کوي، مګر د عملیاتو لپاره هدایت د کابل له مرکزي قرارګاه څخه اخلي.[230]

د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې مبارزې د پولیسو په روزنه او د استادی په روزنه کې DEA مهمه ونډه اخیستې، او د مخدره توکو په وړاندې یې مهم استخباراتو ته وده ورکړې او د مخدره توکو د مخنیوی مشرې یې کړې. DEA د پولیسو پدې قطعه کې د استادی دوه تخصصي برخې روزي چې د NIU او SIU برخې دي. دغه قطعه چې د مخنیوی عملیاتو ترسره کول او د قاچاق کولو مهمو سازمانوو په نښه کولو لپاره تاسیس شوي، ځینې بریاوې هم لري. د DEA په وینا، د دې کال په لمړیو نهو میاشتو کې د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیسو د 2,490 عملیاتونو مشري کوله. دغه عملیاتونه، چې عموماً د DEA او اردو له ملاتړ سره ترسره کیږي، پایله یې د 2,258 نیولو، 55 مخدره توکو لابراتوارونو له منځه وړل، او له 121 میتریک ټنو څخه د زیاتو مخدره توکو ضبطول وو.[231] مګر، لکه څنګه چې د امریکا دفاع وزارت پخپل وروستي راپور کې ویلي، د مخدره توکو په وړاندې د مخنیوی ټولې هڅې د مخدره توکو له قاچاق څخه د یاغیانو عواید تر ډیرې کچې کم کړي ندي. پردې برسیره، د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې، ”د امریکا او ایتلاف اردو ځواکونو اوسنی کمیدل د امریکا او نړیوالو قانون پلي کوونکو پرسونل باندې یې اغیز کړی ترڅو په ټول افغانستان کې عملیاتونه ترسره کړي.“[232]

څکه چې د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس د مخدره توکو په وړاندې د ټولې مبارزې مهمه برخه ده، سیګار د دې قطعې او په ځانګړې توګه د دې قطعې د ولایتي برخو د جوړولو په اړوند د امریکا د هڅو یوه پلټنه اعلان کړې. دا پلټنه به دا ارزونه وکړي چې تر کومې کچې د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیسو د ولایتي برخو د ظرفیت لوړول د څو ادارو د هر اړخیز پلان په اساس دي؛ د دې

### د سیګار پلټنه

پدې ربع کې، سیګار د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیسو د ولایتي قطعو جوړولو لپاره د امریکا د هڅو یوه پلټنه اعلان کړې. د لا نورو معلوماتو لپاره، د 2 برخې 30 پاڼه وګورئ.

قطعې لپاره په ولایتونو کې تاسیسات د موخو لپاره کارول کیږي؛ او د امریکا حکومت مرستو په ولایتونو کې د دغو ځواکونو د ظرفیت لوړولو او ساتنې کې برخه اخیستې ده.

د امریکا مرکزي قوماندانی په وینا، CSTC-A/NTM-A د افغانستان کورنیو چارو وزارت لپاره مرستې برابروي ترڅو د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیسو لګښتونه لکه معاشونه، تجهیزات، وسلې، او مهماتو لګښتونه ورکړي.[233]

## د مخدره توکو په وړاندې د عملیاتونو په اړه د ایتلاف ځواکونو کمیدلو اغیز

د دفاع وزارت د CNPA او نورو افغان حکومت CN ادارو وړتیا وړاندوینه کوي چې په هغه ساحو کې به د CN عملیاتو پرمخ تګ کم شي چیرې چې د اییتلاف شتون کم شوی او متحده ایالات او اییتلافي ځواکونه تري وځي. مګر، د امریکا دفاع وزارت ویلي چې د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې قطعې پشمول د ځانګړې ماموریت وزر، د ملي مخنیوی قطعه، او د حساسو تحقیقونو قطعه، روزل شوي او ځواکمنې قطعې دي چې پخپله یې خپلواک عملیاتونه یا د امریکا او ایتلاف له محدود ملاتړ سره ترسره کړي دي.[234]

INL د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیسو او د امریکا مخدره توکو قانون پلې کولو اداره (DEA) تاسیساتو عملیاتونو او ساتنې لپاره ملاتړ برابروي. د INL په وینا، د دغو قطعو خوځښت چې د والي په مشري د له منځه وړلو پروګرام له لارې تمویلیږي د نړیوالو ځوکونو له کمیدلو څخه به په منفي توګه اغیز ووینې. پردې برسیره، د نا امنی او د کوکنارو ترمنځ د اړیکو له کبله، د ځواکونو کمیدلو پایله کیدای شي د کرنې لوړې کچې سبب شي.[235]

## د مخنیوی عملیاتونه

د امریکا دفاع وزارت په وینا، د 2013 د اکتوبر له 1 څخه د دسمبر تر 15 پورې، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د مخدره توکو په وړاندې 69 خپلواک عملیاتونه، منظمې ګزمې، د محاصرې او تلاشی عملیاتونه، د وسایطو مخنیوی، او پلان شوي توقیف عملیاتونه ترسره کړي. د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د عمومي کارکوونکو ریاست د پولیس ځانګړو قطعاتو د دغو هڅو مشري کړې ده. دغه ریاست په 17 عملیاتونو کې برخه اخیستې چې نږدې 11,420 کیلوګرامه بیلابیل مخدره توکي او کیمیاوي توکي یې ضبط کړي. پدغه موده کې، د افغانستان ګډو عملیاتونو 9,992 کیلوګرامه تریاک، 182 کیلوګرامه مورفین، 872 کیلوګرامه هیروین، 220 کیلوګرامه چرس، او 4,404 کیلوګرامه اړوند کیمیاوي توکي ضبط کړي، او 96 انفرادي کسان یې نیولي هم دي.[236]

د امریکا دفاع وزارت په وینا، د امریکا د مخنیوی نږدې ټول فعالیتونه د افغانستان له ځواکونو سره ملګري شوي وو. د دغو فعالیتونو ډیری برخه د افغانستان په جنوب او جنوب لویدیځ کې ترسره شوي، چیرته چې د کوکنارو ډیره برخه کرل کیږي، پروسس کیږي او بهر ته قاچاق کیږي. د راپور ورکولو پدغه موده کې، د امریکا ځواکونو د مخدره توکو درې خپلواک عملیاتونه ترسره کړي، پدغه کې یې دوه انفرادي کسان نیولي، اته کیلوګرامه هیروین او یو کیلوګرام تریاک ضبط کړي. د څو ادارو برخې، پشمول د څو ادارو د ګډو دندې ځواک اړیکي (CJIATF-N) او د څو ادارو عملیاتونو د همغږۍ مرکز (IOCC)، د افغانستان او آیساف د مخنیوی د هڅو ملاتړ ته یې دوام ورکړی. دواړو CJIATF-N او

IOCC له اردو او قانون پلي کولو سرچینو څخه خپل معلومات سره یوځای کړي ترڅو د مفسدو او مخدره توکو یاغي عناصرو په وړاندې عملیاتونه ترسره شي. ټول عملیاتونه په ساحه کې د امریکا او ایتلاف اردو قوماندانانو سره همغږي شوي او د هغوی ملاتړ یې لاسته راوړی.[237]

INL د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د پولیسو، د NIU او د SIU د ځانګړو ارزول شویو قطعو مخنیوی د هڅو ملاتړ کوي. د INL لخوا د ملاتړ په فعالیتونو کې د ضبط ساحو ته او بیرته د تحقیق او ستراتیژیک استادی روزنه، لوژستیک، هستوګن ځای، خواړه او تیل، او ترانسپورت شامل دي. د INL تطبیق کوونکی ملګری، DEA د تحقیق په مهارتونو لوړولو او له دواړو NIU او آیساف سره د ګډو عملیاتونو ترسره کولو کې د SIU/NIU افسرانو ته د استادی روزنه ورکوي.[238]

## د مخنیوی پایلې

له 2008 څخه، د افغانستان او ایتلاف لخوا د ټولو 2,564 عملیاتونو پایله، د 2,604 توقیفونو او د دغو لاندې غیر قانوني مخدره توکو ضبطول وو:[239]

- 729,109 کیلوګرام چرس (1 کیلوګرام = نږدې 2.2 پونډه)
- 364,705 کیلوګرامه تریاک
- 47,214 کیلوګرامه مورفین
- 27,037 کیلوګرامه هیروین
- 411,787 کیلو ګرامه کیمیاوي توکي

**د مخدره توکو اړوند کیمیاوي توکي:**
هغه توکي دي چې کیدای شي د مخدره توکو یا رواني ناروغی درمل د تولید، او/یا چمتو کولو لپاره ورڅخه کار واخیستل شي.

سرچینه: UNODC، "د خو ژبو د کیمیاوي توکو قاموس،" 2009، p. viii.

## هوایي ملاتړ

د 2013 د اکتوبر له 1 څخه د دسمبر تر 16 پورې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت، په افغانستان کې د "سفارت هوا"، 322 پروازونه برابر کړي، 164 تلاشی ترسره کړي، 509 مسافرین وړي، او د DEA او INL د هڅو ملاتړ لپاره یې 58,737 پونډه کارګو ترانسپورت کړي. د INL په وینا، د DEA د مخدره توکو په وړاندې ملاتړ لپاره د استخباراتو، څارنې، او کشف ماموریتونو لپاره 34 ساعتونو پروازونه، د مخنیو هڅو لپاره 199 ساعتونو پروازونه، د NIU او DEA مسافرینو ترانسپورت کولو لپاره 55 ساعتونو پروازونه (لدغو څخه 15 ساعتونو د NIU وسلو او کارګو لپاره وو) شامل وو. د بیلګې په توګه، پدې ربع کې د سفارت هوا د مخنیوی یوه عملیات ترسره کړل او په پایله کې یې د مخدره توکو څلور فعاله لابراتوارونه، 478 کیلوګرامه تریاک، 700 کیلوګرامه مورفین، 13 کیلوګرامه هیروین، 5,800 لیتر د مورفین محلول، 650 کیلوګرامه په کور کې جوړ شوي چاودیدونکي توکي، او د اور لګوني یوه چاودیدونکې وسیله، ضبط شوي.[240]

# د حکومتدارۍ منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 111 |
| ټاکنې | 112 |
| ملي حکومتداري | 117 |
| سیمه ایزه حکومتداري | 120 |
| پخلاینه او مجدد استقرار | 129 |
| د فساد ضد او قانون حاکمیت | 132 |
| بشري حقونه | 141 |

# حکومتداري

د 2014 د جنوري تر 17، متحده ایالاتو تر 25 میلیارد ډالرو ډېره مرسته چمتو کړه تر څو په افغانستان کې له حکومتداري او اقتصادي ودې ملاتړ وکړي. ډېری مرسته شاوخوا 17 میلیارد ډالره د اقتصادي ملاتړ مرستې یا (ESF) ته ځانګړې شوې وو چې د بهرنیو چارو وزارت او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې (USAID) له خوا اداره شویدي.[241]

## مهمې پېښې

په دې ربع کې د 2014 د اپریل ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټاکنو ته چمتوالې دوام درلود. آسیا فوندیشن خپله هغه کلنۍ سروې په ډاګه کړه چې پکې راپور ورکړل شویدی چې تر نیمی ډېر (56%) افغانان وایي چې دوی فکر کوي د ولسمشریزو ټاکنو پایلې به د دوی په ژوند کې ښه والی راولي. په سروې کې همداشان په ډاګه شویده چې د افغانانو مطلق اکثریت (90%) په دې موافق دي چې د قانون په وړاندې باید هر څوک که نارینه وي او که ښځینه مساوي حقونه ولري. د ټاکنو د رای ورکولو په اړه دری راپورونه هم خپاره شول چې پکې ویل کیږي یو کاندید هم تر 50% ډېرې رایې نشي خپلولی چې دا به رایه ورکول دوهم پړاو ته ولیږدوي.[242]

د افغانستان پارلمان پنځو نوماند وزیرانو او د سترې محکمې دوو غړو ته د باور رایه ورکړه.[243]

په جنوري کې، افغان حکومت په ډاګه کړه چې دوی نیت لري هغه 72 پیژندل شوي بندیان خوشي کړي چې د امریکایي او افغان ځواکونو په وژنه تورن دي، سره له دې چې متحده ایالات او د امنیت مرستندویه نړیوالو ځواکونو (ISAF) د دوې په خوشې کیدا ناخوښې وښوده او دا یې په افغانستان کې د قانون حاکمیت او د افغانستان او متحده ایالاتو د اړیکو په زیان وباله. متحده ایالاتو تیرکال 88 زندانیان افغان محبسونو ته په دې نیت ولیږدول چې په افغان قضایي سیستم خپل اعتماد په ډاګه کړي. په داسې حال کې چې د حامد کرزي یوه ویاند وویل چې یواځې 16 تنه به پکې محکمې ته وړاندې شي. ویاند وویل چې افغان حکومت د افغان استخباراتي اداري او متحده ایالاتو د پوځ هغه شواهد ناکافي وبلل چې له مخې یې 72 تنه لاهم په بند کې ساتل کیدای شوای.[244]

په دې ربع کې ګڼې نظرپوښتنې او سروې ګانې په ډاګه شوې چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالې د له منځه وړلو د قانون (EVAW) د تطبیق په اړه راپور هم شامل وو. د EVAW د تطبیق په اړه د ملګرو ملتونو راپور په داسې حال کې خپریږي چې په دې برخه کې هم ستونزې او هم پرمختګونه تر سترګو کیږي، د راپور شویو پیښو په ثبت کې 28% زیاتوالی ښودل شویدی، خو د تورنولو په برخه کې قانوني بنسټ کارول یواځې 2% زیاتوالی ښیي.[245]

## ټاکنې

افغانستان او پاکستان ته ځانګړی استازی سفیر جیمز دوبینز په دې ربع کې هم د 2014 کال د اپریل په 5 تر سره کیدونکو ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو پر ارزښت ټینګار وکړ او دا یې د 2014 کال یوه "حیاتي پیښه" وبلله.[246] په دسمبرکې د ملګرو ملتونو سرمنشي وویل چې د منلو وړ او په وخت ټاکنې د نړیوال او ملي مشروعیت تر ټولو ډاډمن بنسټ دی.[247]

د ټاکنیزو شکایتونو نوي تاسیس شوي کمیسیون (ECC)، 1,056 نیوکې او شکایتونه د ولسمشرۍ د 27 ټکټونو د غوره کیدو په تړاو چې هر یو دوه معاونین لري او د ولایتي شوراګانو د 3,057 کاندیدانو په تړاو تر لاسه کړیدي، چې د اکتوبر له 22 پیل شویدي.[248] ECC تر غور وروسته د نومبر په 20 ولسمشریزو ټاکنو ته 11 تنه او د ولایتي شوراګانو هغې ته 2,713 اعلان کړل.[249] د ولسمشرۍ 11 کاندیدان د رای ورکولو په پاڼه کې د ترتیب له مخې، دا دي: عبدالله، داود سلطانزوی، عبدالرحیم وردګ، عبدالقیوم کرزی، محمد اشرف غنی احمدزی، سردار محمد نادر نعیم، زلمی رسول، قطب الدین هلال، محمد شفیق ګل آغا شیرزی، عبدرب الرسول سیاف او هدایت امین ارسلا. د ولشمسریزو نوماندانو درې معاونین او د ولایتی شوراګانو لپاره 308 نوماندان ښځې دي.[250]

سره له دې چې د نومبر د 20 لست وروستی بلل کیږي، خو کیدای شي د کاندیدانو لست کې نور بدلون هم راشي. د ECC رییس طلوع نیوز ته په دسمبر کې وویل چې "د ولسمشریزو کاندیدانو په منځ کې جنګي جنایتکاران هم شامل دي." د ECC رییس نور توضیحات ورنکړل خو ویې ویل چې کیدای شي نور کاندیدان هم د جنګي جنایاتو، فساد، د ځمکې د غصب، یا دوه ګونې تابعیت له کبله له لسته وویستل شي.[251] ECC په جنوري میاشت کې روښانه کړه چې دوی به د ولسمشریزو کاندیدانو په وړاندې جنايي شکایتونه لویې څارنوالۍ ته محول کړي.[252] په داسې حال کې چې دوه اونۍ وروسته لویې څارنوالۍ په ډاګه کړه چې د کاندیدانو په وړاندې د ځانګړو تورونو د نشتوالې له کبله به دوی په دې اړه تحقیقات ونکړي.[253]

ملي ډموکراټیک بنسټ (NDI) په دسمبر کې افغانستان ته یو اوه ورځنی سفر درلود او راپور یې ورکړ چې وروستني ټاکنیز سمونونه د دې لامل شویدي چې "مدني او سیاسي ډلې د 2014 کال ټاکنو ته په زغرده خوشبینه شي او تر تیرو انتخاباتو یې پیاوړې وبولي." NDI په یوې څرګندونې کې ویلي دي چې سمون باید په ریښتوني بنه پلی شي تر څو ټاکنیزه پروسه پیاوړې شي. NDI روښانه کړه چې له دې کبله چې ولسمشر کرزی په دې سیالیو کې شامل ندی، "یوه نوې سیاسي سیالۍ کیدونکې ده."[254]

د NDI په وینا، په لویه کچه دا خبره منل شویده چې د ولسمشریزو رایې ورکونې دوهم دور به اړین وي.[255] په دسمبر میاشت کې د رایو په اړه درې پایلې په ډاګه شوې چې د ځینو بسپنه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ورکړې وه او داسې اټکل رامنځ ته کوي چې: مخکښو کاندیدانو کې هیڅوک هم تر 50% ډیرې رایې تر لاسه کولای نشي.[256] له دې دریو څخه یوه قرارداد کونکې ملي عامه راډیو ته وویل چې له دې کاره موخه د رای ورکونکو او کاندیدانو خبرول دی تر څو وکولای شي بالقوه ټاکنیزې درغلي کمې شي. په همدې مطلب کې د افغانستان د څیړنې او ارزونې له واحد سره یوه څیړونکې خبرداری ورکړ چې له دې کبله چې په افغانستان کې رای ورکونه نوې ده، ځینې وخت افغانان مرکه کونکو ته داسې ځواب ورکوي چې فکر کوي هغوی یې غواړي.[257]

# حکومتداري

شکل 3.25

**د هغو افغانانو فیصدي چې له یو څه یا زیاتې ویرې سره به په ملي یا ولایتي ټولټاکنو کې برخه واخلي**




سرچینه: آسیا بنیاد، افغانستان په 2013 کې: د افغانستان د خلکو یوه سروې، 12/2013، مخ 94.

شکل 3.26

**د افغانانو په ژوند د 2014 د ولسمشرۍ د ټاکنو متوقع اغېز** (فیصدي)




سرچینه: آسیا بنیاد، افغانستان په 2013 کې: د افغانستان د خلکو یوه سروې، 12/2013.

د آسیا فونډېشن د 2013 د افغانستان د خلکو سروې هم په دسمبر کې خپره شوه، په لویه کې افغانانو د راتلونکو ټاکنو په اړه مثبت نظرونه درلودل. تر نیمې ډېرو (56%) مرکه شویو کسانو ویلي وو چې دوی فکر کوي د ولسمشریزو ټاکنو پایلې به یې ژوند کې ښه والی راولي، لکه په 3.26 شکل کې چې ښودل شویده.[258] د 2009 کال په ټاکنو کې د پراخې درغلۍ د شواهدو سره، 61% خلکو ویلي چې په عمومي ډول ټاکنې په افغانستان کې آزاد او عادلانه دي. ډېری ځواب ورکونکو د دې په اړه چې ولې فکر کوي ټاکنې آزاد او عادلانه ندي له فساد څخه اندیښمن دي: د بېلګې په توګه د رای شمېرنې په برخه کې فساد (23%)، د ټاکنیزې پروسې په تړاو عمومي فساد (16%)، د رایو اخیستل (14%) یواځې 11% امنیتي ستونزې یادې کړیدي.[259] په داسې حال کې چې ډېری کسانو ویلي چې دوی د عامه ادارو لپاره له سیالۍ ویره لري (58%) او په ملي یا ولایتي ټاکنو کې له رایې ورکولو ویره لري (59%)، لکه په 3.25 شکل کې چې راغلي دي. اسیا فونډیشن ادعا کوي چې د اشتباهاتو کچه به +/- 2.25% وي، څکه چې د نمونې کچه 9,260 ځواب ورکونکو ته د 2013 د جولای له 17 تر 25 رسیدلې وه.[260]

## د پروژې لنډیز

سیګار د ټاکنو د ملاتړ د پروګرامونو په اړه په تیره ربعه کې په پراخه پیمانه راپورنه خپاره کړیدي. د نورو جزییاتو په اړه د 2013 کال د اکتوبر درې میاشتنیي راپور کې 110–119 مخونه وګورئ د USAID د هغو پروګرامونو لنډیز چې د 2014 د ولسمشریزو او ولایتي ټاکنو د ملاتړ په موخه پلې کیږي په 3.13 جدول کې په راتلونکې مخ کې روښانه شویدي.

## د درغلۍ فرصتونه

خپلواکو ناظرینو د درغلي هغه فرصتونه په ډاګه کړل چې د افغانستان د رای ورکونکو د ثبتولو د بې نظمۍ له کبله رامنځ ته کیدای شي. لکه NDI چې اشاره ورته وکړه، د رای

شکل 3.13

**د USAID پروګرامونه د 2014 کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو څخه د ملاتړ نیت لري**

| د پروژې عنوان | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولیز اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2013 پورې د لګښتونو مجموعه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| په افغانستان کې د مدني زده کړو پیاوړتیا (PACE) | 12/4/2013 | 12/3/2018 | 77,000,000 | - |
| د سبا لپاره د قانوني او ټاکنیز ظرفیت لوړول (ELECT) II | 9/29/2013 | 12/31/2015 | 55,000,000 | - |
| ټاکنیز سمونونه او مدني وکالت (AERCA) | 7/13/2009 | 6/30/2014 | 29,208,419 | 28,053,544 |
| د سیاسي بنسټونو او مدني ټولنې ملاتړ (SPECS) | 7/7/2013 | 7/6/2016 | 18,000,000 | 2,484,815 |

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتي غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

ورکونکو د ثبتولو نشتوالی، د لست او شمیرو نه شتون د رای ورکونکو د ثبتولو او ګډون د شمیرو دقیق چک کول ناممکنه کوي.[261] د افغانستان د شنونکو شبکه (AAN) وایي چې د رای ورکونکو او د رای ورکونکو د کارتونو ترمنځ لوی توپیر کولای شي ټاکنیزو درغلیو ته زمینه مساعده کړي. د رای ورکونکو د ثبتولو له وروستني بهیر برسیره، افغان حکومت په تیرو ټاکنو کې ورکړل شوي کارتونه هم د اعتبار وړ بولي. د AAN د راپور له مخې د 2010 کال تر رای ورکولو مخکې د ټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) اټکل کړی وو چې 12.5 میلیون کسان د رای ورکولو مستحق دي، ملګرو ملتونو بیا 10.5 کسان مستحق وبلل. خو د توضیع شویو کارتونو شمیره 17.5 میلیونه بلل کیده.[262] د USAID په وینا، د 2013 په نومبر کې IEC د رای ورکونکو د راجستریشن پرمخ بیول نهایي کړ، دا کار یې د نوم ثبتولو د هغه کمپاین له لارې تر سره کړ چې ورسره د 399 ولسوالیو له جملې 395 تر پوښښ لاندې راغلي او له مخې یې 3.1 میلیون نوي رای ورکونکې پروسې ته ور زیات شول.[263]

د نوم لیکنې په بهیر کې د ټولو رای ورکونکو شمیر 20.7 میلیونو ته رسیږي، چې د AAN په وینا "د منلو نده"، ځکه د دوی په وینا د افغانستان اټکل شوی نفوس 27 میلیونه بلل کیږي چې نیمې، 13.5 میلیونه وګړي یې د رای ورکونې لپاره قانوني عمر ته ندي رسیدلي.[264]

په نومبر میاشت کې د IEC ویاند د قانوني رای ورکونکو شمیره تر دې هم ښکته وبلله، او په ډاګه یې کړه چې 12 میلیونه افغانان د رای ورکولو قانوني حق لري.[265] د IEC ویاند وویل چې دوی د رای ورکونکو دقیقه شمیره په واک کې نلري ځکه خوځلې نوم لیکنه د دې لامل شویده چې د ثبت شویو رای ورکونکو شمیره نږدې دوه ځله لوړه کړي. د IEC ویاند همداشان روښانه کړه چې د نوم لیکنې کارتونه خلاصیدو نیټه نلري، په ډاټابیز کې ثبت شوي ندي او په هرې ټاکنې کې بیا کاریدای شي. د رای ورکونکو له لست پرته د ټاکنو په ورځ داسې لاره نشته چې د رای ورکونکو قانونیتوب ورسره روښانه شي.[266]

د 2013 په دسمبر کې، ECC راپور ورکړ چې 10,000 تر 11,000 کسان د IEC په تور لست کې له دې کبله شامل شویدي چې په تیرو ټاکنو کې په درغلۍ تورن بلل شوي وو.[267] IEC له دې وروسته څرګنده کړه چې په تور لست کې شامل کسان به د 2014 د اپریل په ټاکنو کې ونه ګمارل شي.[268] IEC پلان لري چې تر 100,000 ډیر کسان په مارچ کې وګماري او روزنه یې وکړي.[269] د NDI په وینا، نوماندانو او مدني ډلو په دې اړه اندیښنه ښکاره

کړیده چې IEC به د دومره لوی شمیر کارکونکو په روزنې او ګمارنې کې له ستونزو سره مخ شي. په 2009 کال کې NDI په ډاګه کړه، چې هغه سیمې چې د ټاکنو د کارکونکو روزنه او ګمارنه پکې په سمه توګه نه تر سره کیږي، د رایو د صندوقونو د ډکولو د پیښو احتمال پکې ډیر وي.[270]

د خبري راپورونو پر بنسټ، د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو بنسټ به د اپریل د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په رابطه 10,000 ناظرین په ساحه کې ولري.[271] USAID روښانه کړه چې د دوی د سیاسي ډلو او مدني ټولنو د ملاتړ (SPECS) پرواګرام په پلان کې لري چې کورنیو انتخاباتي ناظرینو ته بسپنه ورکړي تر څو شاوخوا 2,200 ناظرین (1,253 نارینه 947 ښځینه) په 34 ولایتونو او 270 ولسوالیو کې وګماري. USAID همداشان نړیوالو ناظرینو ته د بسپنې ورکولو پلان لري خو تر اوسه یې کوم قرارداد ندی لاسلیک کړی.[272]

IEC د درغلیو د کمولو په خاطر ګڼ بدلونونه راوستې دي لکه د رایو د څرک معلومولو پرمختللې بڼه چې د هر کس د رایې پر پاڼه د موجودو شمیرو له جمع کولو به تر لاسه کیږي، د پایلو د شیټ پاکټ او د پایلو فورمونه، په پاڼه کې امنیتي شمیرې، د ماورای بنفش د نه لیدل کیدونکې او همداشان نه پاکیدونکې رنګ کارول، د شواهدو لپاره د شفافو او مقاومو کڅوړو کارول.[273]

د فساد ضد ارزونې او پلټنې ګډې خپلواکې کمیټې (MEC) هغه مسله را پورته کړیده چې ویل کیږي د پلټنې او ارزونې داسې میکانیزم شتون نلري چې معلومه کړي چې ولسمشریز کمپاینونه تر ټاکلې حدودو ډیرې پیسې نه لګوي، د اوس مهال لپاره 10 میلیونه افغانۍ (AFN) چې د ډالرو ته یې د تبادلې نرخ 56.52 دی او شاوخوا 177,000 ډالرکیږي، د ولسمشریزو کمپاینونو لپاره وروستی حد ټاکل شویدی.[274] MEC همداشان په ډاګه کړه چې د کاندیدانو د عوایدو سرچینې او شتمنې هم روښانه ندي.[275]

NDI تیرو ټاکنو ته په اشارې وایي چې د هیواد هغه سیمې چې د ناامنۍ څخه اغیزمنې شوې وې، د درغلیو تر ټولو سترې پیښې هم هلته رامنځ ته شوې. څکه چې دا سیمې له ناظرینو تشې وې او د ټاکنیزو تخلفاتو لپاره تر ټولو زیان منونکې سیمې وې.[276]

## د ټاکنو امنیت

افغان چارواکي د 2014 کال ټاکنو ته د امنیتي پلان پر سر کار کوي چې تر نورو ټاکنو یې ډیر مخکې پیل کړیدی. NDI دا د 2009 کال ولسمشریزو ټاکنو په پرتله د پام وړ پرمختګ بولي چیرته چې تر ټاکنو یواځې څو ورځې مخکې د رای ورکولو د مرکزونو لست خپور شو.[277] د کورنیو چارو وزارت (MOI) د ټاکنو د امنیت لپاره یو ځانګړی کمیسیون په کار ګمارلی چې له IEC سره به په همغږۍ کار کوي.[278] افغان ملي پولیس (ANP) به د مرکزونو امنیت ساتي او ملي اردو (ANA) به د دوهم دفاعي کمر بند دنده پرمخ بیایي. MOI اوسمهال دا سیستم د رای ورکونکو د نوم لیکنې د مرستې لپاره کاروی او دایې روښانه کړیده چې په نوم لیکنې کې د تمې برخلاف کمې امنیتي پیښې لیدل شویدي.[279]

په جنوري کې MOI وویل چې تمه کیږي شاوخوا 95% مرکزونه به اپریل په ټاکنو کې پرانیستې وي. د رای ورکولو 6,431 سایټونه به پرانیستې وي او داسې پلان دی چې 414 هغه به وتړل شي. IEC امنیتي ځواکونو ته د رای ورکولو د شاوخوا 7,000 سایټونو لست 14 میاشتې مخکې وړاندې کړ او تر رای ورکولو مخکې یې د امنیتي ارزونې غوښتنه وکړه.[280]

# حکومتداري

ډیموکراسی انټرنیشنل د 2009 کال د ټاکنو په بیاکتنې کې ومونده چې له ناامنۍ څخه د درغلۍ لپاره د یوې وسیلې په توګه کار واخیستل شو. د ناامنۍ معنا دا وه چې په لویه کچه درغلي له دې کبله شونې وه چې کم ناظرین، استازي، او د IEC کارکونکي په نامنه سایټونو کې حاضر وو. په راپور کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) له هغې پروژې یادونه شویده چې د سبا لپاره د قانوني او ټاکنیزو ظرفیتونو پیاوړې کول (ELECT) نومیږي:

> [افغان] امنیتي ځواکونو په ډاګه کړې وه چې دوی به ټولې ساحې په امن کې وساتي او دا خبره باید یوې لا واقع بینانه ارزونې ته وځوځول شي — چې آیا دوی د سیاسي دلایلو له کبله پکې برخه وانه خیسته، آیا دوی د هیواد د لویو برخو ولکه په لاس کې نه لري، یا په مستقیمه توګه د درغلۍ په پروسه کې شامل دي... امنیتي ځواکونو د رای ورکولو د مراکزو په پرانیستل کیدو تاکید کاوه خو په امنیت ساتلو کې یې پاتې راغلل او له دې درغلي پکې وشوه.[281]

په راپور کې د ELECT UNDP له قوله ویل شویدي چې دوی "د رای ورکولو د مرکزونو په تړاو د امنیتي وزارتو د غوښتنې په وړاندې په پیاوړې توګه له مقاومتونو دفاع کوي په کومو کې چې حتي د 'خیالي رای ورکونکو' لپاره یې هم پرانیستل غواړي."

د حکومت په وینا، د راپور ورکولو د دې دورې په اوږدو کې افغان حکومت د امنیتي او لوژستیکي ملاتړ په برخه کې کومه ځانګړې غوښتنه نده کړې، یواځې د ISAF له لورې د افغان امنیتي ځواکونو (ANSF) د لوړ پوړي هییت لیږدولو ته شپږ هوایي ماموریتونه چمتو شویدي تر څو د ټاکنو لپاره د پرمختللي امنیتي پلان پر سر د سیمه ایزو مرکزونو د همغږي کولو لپاره غونډو کې برخه واخلي.[282]

د نومبر په راپور کې، د متحده ایالاتو د سولې بنسټ (USIP) ومونده چې طالبان د 2014 کال د ټاکنو سره د مخالفت په برخه کې د کویټې او پیښور ځانګو کې یوه ګډه ستراتیژي لري. د پیښور ځانګې د ټاکنو په برخه کې یوه اداره او ټاکنیز کمیشنر ګمارلی دی او تمه کیږي چې دوی به په ټاکنو کې سپین ږیري له ګډون کولو منصرف کړي، د نوم لیکنې کارتونه به وسوځوي، او ټاکنې په وروستۍ اونۍ کې تر رایې ورکولو مخکې ګډوډې کړي. نور راپورونه وایي چې په پیښور ځانګه کې طالب کمیشنران د نوم لیکنې کارتونه پیري، تر څو د امکان په صورت کې له دې لارې په ټاکنو کې نفوذ ومومي یا پر نوماندانو د کارتونو د خرڅولو له لارې پیسې تر لاسه کړي. د راپورونو له مخې د کویټې ځانګه د قوماندانو د داسې شبکې ترمنځ ویشل شویده چې په تونډۍ سره د ټاکنو مخالف دي (چې په زابل او غزني ولایتونو کې ځواکمن دي)، او داسې کسان هم پکې دي چې له افغان حکومت سره محدود اړیکو ته یوځه زیاته لیوالتیا لري (په کندهار، هلمند او فراه ولایتونو کې).[283]

USIP دې پایلې ته رسیدلې چې افغان حکومت په هڅه کې دی چې سیمه ایزو طالبانو ته سپین ږیري منځګړي کړي تر څو رایه ورکولو ته اجازه ورکړي، خو داسې ښکاري چې د 2009–10 کلونو د ټاکنو په پرتله دې کار ته لیوالتیا کمه ده ځکه چې ډیری داسې هڅې په تیر کې اغیزمنې نه وې او یا خطرناکې ثابتې شویدي.[284]

د دې ربع په اوږدو کې همداشان، د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار خپل تیر دریځ بدل کړ چې افغان ټاکنې یې تحریمولې او خپلو ملاتړو ته یې د 2014 د اپریل په ټاکنو کې د ګډون خبره کړېده.[285]

# حکومتداري

MOI د ښځینه تلاشي کونکو یو داسې پروګرام په لاره اچوي، چې موخه یې د امنیت او ښځینه رای ورکونکو پیاوړي کول دي. دوی شاوخوا 13,000 ښځینه داوطلبین په دې موخه په کار ګماري او روزنه ورکوي چې د مرستندویه تلاشي کونکو په څیر د رایو په شاوخوا 6,800 مرکزونو کې برخه واخلي. د پروژې موخه دا ده چې د تلاشي کولو په برخه کې 700 ښځینه روزنکي په کابل او 11 نورو سیمو کې وروزي. روزونکې به د هر ولایت په بیلابیلو سیمو کې خپاره شي او د تلاشي روزنې به شاوخوا 12,300 ښځینه تلاشي کونکو ته په لاره واچول شي.[286] د ښځینه تلاشي کونکو ارزښت په دې کې دی چې د افغاني دودونو له مخې د نارینه په واسطه د پردې ښځې تلاشي منع ده. د ښځینه تلاشي کونکو نه شتون کیدای شي ښځو ته د وسلو د لیږد زمینه برابره کړي، یا نارینه د هغوی له جامو په استفادې سره د رایو مرکز ته ننوځي او حملې وکړي.

د NDI په وینا، MOI داسې سرچینې ځانګړې کړیدي څو د ښځینه کارکونکو د سفر پرمهال د هغوی د نارینه خپلوانو مرسته هم وکړي.[287] امریکا او نور نړیوال مرسته کونکې د 4.2 میلیون ډالرو په ارزښت تخنیکي او مالي مرستې چمتو کوي تر څو دا پروژه د UNDP د هغې خیریه مرستو له لارې چې د افغانستان قانون او نظم ته ځانګړې شویدي ولګول شي. د حکومت په وینا دا پروسه د داخلي جګړې له کبله له خنډ سره مخ شویده او MOI په دې نه دی توانیدلی چې د ښځینه پولیسو په شمول په ټاکلې وخت کې د ښځینه داوطلبینو لست برابر کړي.[288]

## ملي حکومتداري

متحده ایالات افغان حکومتي بنسټونو ته د مهمو خدماتو د تر سره کولو په برخه کې مرستې چمتو کوي تر څو په افغانانو کې د هغوی قانونیت پیاوړی کړي.[289] د متحده ایالاتو اداري دا مرستې له دوو لارو تر سره کوي: د قراردادونو، مرستو، د همکاریو ژمنې له لارې، او په زیاتیدونکې توګه د بودیجې په چوکاټ کې د مرستو له لارې. د انتقال په دې وروستي کال کې، د متحده ایالاتو حکومت په ځانګړې توګه په مالي او د پروګرامو د مدیریت په برخه کې د افغان حکومتي بنسټونو پر وړتیاو تمرکز کوي او د ظرفیت جوړونې او د بودیجې په چوکاټ کې د مرستو د پروګرامونو له لارې د دې کال تر پایه د هغو تر لاسه کولو ته کار کوي.[290]

### د بودیجې په چوکاټ کې مرسته

د حکومتداري د پیاوړتیا او د افغانستان د لومړیتوبونو پر بنسټ د پراختیا د هڅو همغږې کولو ته د متحده ایالاتو په شمول نړیوال مرسته کونکې ژمن دي چې د پراختیایي مرستو بهیر د افغان حکومت د بودیجې په چوکاټ کې ولګوي او د 2010 کال د لندن کنفرانس لږ تر لږه 50% بشپړه کړي. مرسته کونکو دغه ژمنه د 2012 په جولای کې د ټوکیو په کنفرانس کې بیا تکرار کړه.[291] برسیره پر دې د مرسته کونکو ملاتړ د افغان حکومت له لوري د هغو ژمنو له پوره کولو سره تړاو لري چې د ټوکیو د حساب ورکونې په ګډ کاري چوکاټ کې روښانه شویدي. په دې ژمنو کې د نورو کارونو برسیره د عامه مرستو پیاوړی مدیریت هم شامل دی.[292]

د دې لپاره چې د مرستو د حساب ورکونې او مدیریت په برخه کې د افغان وزارتونو کچه روښانه شي، USAID دوه داسې بنسټونه په کار اچولي دي چې د افغانستان

### د سیګار پلټنه

په دې ربع کې سیګار د USAID له هغې پروسې سره د مرستې پایلې خپرې کړې چې د مستقیمو مرستو د ورکړې په برخه کې د وزارتونو له ارزونې سره تړاو لري. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د 2 برخې 28 مخ وګورئ.

**تعامل شوي شرایط:** دا هغه شرط یا د شرایطو ټولګې ته ویل کیږي چې د USAID د بسپنې له لګولو مخکې باید پوره شي (د بیلګې په توګه، که چیرته د کوربه هیواد قوانین د مرستې د ترون لپاره قانوني تصویب وغواړي، نو USAID اړ دی چې د مرستو له لګولو مخکې د تصویب شواهد لاس ته راوړي).

سرچینه: USAID، د ADS د اصطلاحاتو قاموس 10/24/2012.

د 16 وزارتونو ارزونه به وکړي. په دې ربع کې، سیګار د خپلې پلټنې راپور خپور کړ چې افغان حکومت ته د مستقیمو مرستو پر مهال د USAID هغه پروسه پکې شنل شوې وه چې د وزاتونو ارزونې په لار اچوي او کار ورڅخه اخلي. سیګار په افغان وزارتونو کې ځینې داسې ساحې په ګوته کړې چې د مرستو د مدیریت او اجراتو په برخه کې یې د ظرفیت لوړولو اړتیا لیدل کیږي. د بیلګې په توګه،سره له دې چې ټول هغه افغان وزارتونه چې مستقیمې مرستې تر لاسه کوي د پیسو تر لګولو مخکې تعاملي شرایط بشپړوي خو سیګار موندلې ده چې USAID/افغانستان له وزارتونو غوښتې چې د مرستو د ترلاسه کولو مخکې د 333 هغو اقداماتو له ډلې چې د خطرونو د کمولو په برخه کې پیژندل شوی ځای لري یواځې 24 هغه پلي کړي.[293] د سیګار د موندنو د لنډیز لپاره د دې راپور 2 برخه وګورئ.

متحده ایالات اوسمهال د دوه ګونو تړونونو له لارې اوو افغان وزارتونو ته د بودیجې په چوکاټ کې مرستې چمتو کوي او د مرستو په هغه صندوقونو کې چې ګڼ بسپنه ورکونکې لري ونډه اخلي: د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق (ARTF) او د افغانستان د زیربناو خیریه صندوق (AITF). د USAID په وینا، د بودیجې په چوکاټ کې د مرستو اکثریت به د هغو صندوقونو له لارې چې ګڼ بسپنه ورکونکې لري دوام وکړي، په ځانګړې توګه ARTF.[294] د ملي پیوستون پروګرام یا (NSP)، چې د ARTF له لورې په یواځې مرسته کیدونکی تر ټولو ستر پروګرام دی، چې په ډیرو جزییاتو د دې راپور د سیمه ایز او مجدد استقرار په برخه کې توضیح شویدی.

جدول 3.14

**د بودیجې په چوکاټ کې د USAID پروګرامونه**

| د پروژې عنوان | د بودیجې په چوکاټ کې ملګري | د پیل نیټه | د پای نیټه | اټکل شوی ټولیز لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2013 پورې د لګښتونو مجموعه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق (ARTF)* | بیلابیل (د نړیوال بانک له طریقه) | 6/20/2002 | 6/20/2020 | 2,669,320,295 | 1,743,234,795 |
| د بریښنا د لیږد پراختیا او نښلول (PTEC) | د افغانستان بریښنا شرکت (DABS) | 1/1/2013 | 12/31/2016 | 329,100,000 | - |
| د روغتیایي پروګرام د مشارکت (PCH) ترون | د عامې روغتیا وزارت | 7/20/2008 | 1/31/2015 | 236,455,840 | 151,913,665 |
| د افغانستان د زیربناګانو لپاره د خیریه مرستو ونډه (AITF) | بیلابیل (د نړیوال بانک له طریقه) | 3/7/2013 | 3/6/2014 | 180,300,000 | 105,000,000 |
| د شبرغان د ګازو پراختیایي پروژه | د کانونو او پطرولیم وزارت | 5/15/2012 | 4/30/2015 | 90,000,000 | - |
| د کرهنیزې پراختیا مرستې (ADF) | د کرهنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت | 7/18/2010 | 12/31/2014 | 74,407,662 | 29,000,000 |
| د اساسي زده کړو، سواد، او تخنیکي-حرفوي روزنو (BELT) ټولنې میشته زده کړې | د پوهنې وزارت | 10/29/2013 | 10/28/2017 | 56,000,000 | - |
| د اساسي زده کړو، سواد، او تخنیکي- حرفوي روزنې (BELT) | د پوهنې وزارت | 11/16/2011 | 12/31/2014 | 43,296,813 | 18,829,265 |
| د ملکي تخنیکي مرستو د ملاتړ د پلان (CTAP) لپاره د نقدو پیسو په لیږد کې مرسته | د مالیې وزارت | 9/30/2009 | 9/30/2014 | 36,256,560 | 28,810,610 |
| د افغانستان د کاري خواک پراختیایي پروګرام (AWDP) | د پوهنې وزارت | 9/18/2013 | 4/3/2016 | 30,000,000 | - |
| د پالیسي د ظرفیت د لوړیتوبونو فعالیت | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت | 4/9/2009 | 3/31/2011 | 1,000,000 | 989,701 |

یادښت: *په دې کې په ARTF کې د USAID ټوله ونډه شامله ده. له نړیوال بانک سره د موافقت پر بنسټ، مرسته کونکې یواځې د خپلو مرستو په برخه کې د ټولې ونډې د 50% د لګولو د ساحې غوراوی کولای شي. له نړیوال بانک سره د 2012 کال د موافقت پر بنسټ، USAIDد خپلو 47% مرستو د غوراوي لپاره د ملي پیوستون پروګرام (NSP) ځرګند کړ.

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتي غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

لکه په 3.14 جدول کې چې روښانه شویدی ، USAID تمه درلوده چې 896.5 میلیون ډالر د مستقیمو فعالو دوه اړخیزو مرستو له لارې ولګوي.[295] تمه کیږي چې ARTF ته خپله مرسته 2.7 میلیارد ډالرو ته پراخه کړي، چې د نړیوال بانک له خوا یې مدیریت کیږي او همداشان به AITF ته 180 میلیون ډالر چمتو کوي چې مدیریت یې د اسیا پرمختیایي بانک په غاړه دی.

د USAID په وینا لکه په 3.14، جدول کې چې ښودل شویدی، د بودیجې په چوکاټ کې د دوه اړخیزو مرستو د پروګرام اوسنی لګښت د دواړه غاړو د خوښې برخلاف کم دی. USAID د بودیجې د اجرا ټیټه کچه د افغان حکومت د ظرفیتونو په محدودیت پورې تړې او د USAID له لورې د خطرونو د محدودیت هغه اقدامات چې د بودیجې په چوکاټ مرستو کې پلې کیږي هم یو عامل بلل کیږي.[296] USAID همداشان په ډاګه کوي چې د اجراتو کچه د پروګرام له پایلو سره مستقیمه اړیکه نلري.[297]

متحده ایالات او افغان حکومت د متحده ایالاتو د هغو ژمنو په برخه کې سره یوه خوله ندي چې ورسره د افغان حکومت د بودیجې په چوکاټ کې د متحده ایالاتو د ژمنو پرمختګ روښانوي.[298] د USAID په وینا افغان حکومت ته هغه مرستې د پام وړ دي چې ولګول شي (کله چې پیسې په عملي توګه لګول شوې وي)، په داسې حال کې چې USAID ته ژمنتیا او مسولیتونه د پام وړ دي (کله چې مرسته کونکی پیسې د یوې ځانګړې موخې لپاره ساتي او تر اوسه لګول شوې نه وي).[299] په تیرې ربع کې سیګار راپور ورکړ چې د ملګروملتونو سرمنشي ویلي چې افغان حکومت او نړیوال مرسته کونکې د بودیجې په چوکاټ کې د اصطلاحاتو د پراختیا په برخه کې د هوکړې په لټه کې دي.[300]

## د ظرفیت جوړونې پروګرامونه

د USAID د ظرفیت جوړونې پروګرامونه د مرکزي وزارتونو د اجراتو د پیاوړتیا په لټه کې دي تر څو د بودیجې په چوکاټ کې مرستو ته مدیریت او حساب ورکونه پیاوړې کړي. لکه په 3.15 جدول کې چې ښودل شویدي په دې پروګرامونو کې د مشرتوب، مدیریت او حکومتداري په برخه کې د USAID د 26 میلیونو ډالرو پروژه هم شامله ده چې موخه یې د افغانستان د مالي سیستمونو پیاوړتیا او د عامې روغتیا او معارف وزارتونو ظرفیت لوړول دي تر څو هغه غوښتنې پوره کړي چې د بودیجې په چوکاټ کې د مرستو د زیاتولو لپاره په 2010 کال کې د کابل نړیوال کنفرانس پرې هوکړه وکړه.[301] USAID همداشان د ښځو چارو وزارت لپاره 15 میلیون ډالره مرسته د اداراتو د بیاجوړښت او پیاوړتیا د پروژې (MORE) په برخه کې ورکړه. د نورو برخو تر څنګ به د وزارت مالي مدیریت پیاوړی کړي کوم چې په راتلونکې کې د بودیجې په چوکاټ کې مرستو ته اړین دي.[302]

جدول 3.15

**په ملې کچه د USAID د ظرفیت جوړونې پروګرام**

| د پروژې عنوان | د افغان حکومت ملګرې | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولیز اټکل شوی لګښت ( په ډالرو ) | تر 12/31/2013 پورې د لګښتونو مجموعه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|
| د مشرتابه، مدیریت او حکومتداري پروژه | د عامې روغتیا وزارت<br>د پوهنې وزارت | 9/25/2011 | 9/24/2016 | 26,000,000 | 13,612,927 |
| د افغانستان د قانون جوړونکو بنسټونو مرسته (ALBA) | پارلمان | 4/3/2013 | 4/3/2018 | 23,455,326 | 1,692,977 |
| د ښځو چارو د وزارت بیا جوړښت او پیاوړتیا (MORE) | د ښځو چارو وزارت | 12/20/2012 | 12/19/2015 | 15,000,000 | 1,526,620 |

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتي غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

# حکومتداري

## ملي شورا

USAID ته په ډاګه شویده چې پارلماني ځواک له دې کبله ډېر محدود دی چې دوی د خپلې بودیجې د ټاکلو واک نلري او قانون جوړونه په ندرت سره پیلوي.[303] ډېری لوایح په اجرایي څانګو کې رامنځ ته کیږي.[304]

USAID د افغانستان د قانوني بنسټونو له پروژې (ALBA) سره 23.5 میلیون ډالر مرسته کوي تر څو د افغانستان پارلمان د یوه مستقل او موثر قانون جوړونکې، استازي او څارونکې بنسټ په توګه عمل وکړي.[305] دې پروژې چې د 2017 تر اپریل پورې به دوام کوي، په دې وروستیو کې له یوې هراړخیزې پارلماني بیاکتنې څخه ملاتړ کړیدی چې د 1391 افغان مالي کال (د 2012 د مارچ له 20، د دسمبر تر 20) د پرمختګ، عملیاتي لګښتونو او عوایدو په اړه تر سره شویدی. په دې بیاکتنې کې د ګڼو افغان وزارتونو/ادارو بودیجوي سرغړونې روښانه شوې، لکه د 1.9 میلیارد افغانیو چې د (USD څخه AFN) ته تبادلې د 52.04 نرخ په اساس شاوخوا 36.5 میلیون ډالر کیږي؛ نامناسبه طبقه بندي چې د معاشاتو، اجناسو او خدماتو په برخه کې تر سره شوې وې او د لګښت د اصلي موخې مخنیوی یې کړی وو.[306]

د حکومت په وینا، په دې ربع کې د ملي شورا دواړو مجلسونو زیاتیدونکې بنسټیزې وړتیاوې ښودلې دي، په ځانګړې توګه د ګڼو وزارتونو د حساب د سوال او ځواب ناستې تر عمومي مجلس مخکې په لاره اچول شویدي.[307] د بیلګې په توګه دواړه مجلسونو د مالیې، اقتصاد، کورنیو چارو، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون، د کډوالو او راستنیدونکو او نورو مسولین راوغوښتل تر څو پارلمان ته حاضر شي.[308]

د دې دورې د راپور په اوږدو کې پارلمان همداشان پنځو وزیرانو او د سترې محکمې دوو غړیو ته د باور رایه ورکړه:

- دین محمد مبارز راشدی د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې د وزیر په توګه
- ضرار احمد عثماني د بهرینو چارو د وزیر په توګه
- اکبر بارکزی د کانونو د وزیر په توګه
- محمد عارف نورزی د اوبو او انرژۍ د وزیر په توګه
- محمد شاکر کارګر د سوداګرۍ او صنایعو د وزیر په توګه
- دین محمد ګران او عبدالقادر عدالتخوا د سترې محکمې د شورا د غړو په توګه[309]

## سیمه ایزه حکومتداري

متحده ایالات له هغو لومړیتوبونو ننګه کوي چې په سیمه ایزه کچه افغانانو ته په خپل حکومت کې پراخه ونډه ورکوي. موخه د سیمه ایز حکومت را برسیره کیدل دي، او همداشان حساب ورکونه او افغانانو ته ځواب ورکونه په ځانګړې توګه په سویل او ختیځ کې پیاوړې کول دي، چیرته چې ناامني پراخه ده.[310] دا پروګرامونه کلیوالې سیمې لکه ولسوالۍ او کلې او همداشان د ولایتونو مرکزونه او ښاروالۍ تر پوښښ لاندې راولې.

د متحده ایالاتو د ځواکونو وتل، د ولایتي بیارغونې ډلې (PRTs) بندیدل او په افغانستان کې د امریکایي ملکي حضور کمرنګی کیدل د پروګرامونو د اغیزو په برخه کې د متحده ایالاتو د حکومت د ارزونې وړتیا تر پوښتنې لاندې راولي. د جګړه ای ځواکونو له وتلو او د متحده ایالاتو او ایتلاف د PRTs له تړل کیدو سره به نړیواله ټولنه په ولایتونو او ولسوالیو کې د افغان حکومت د کړنو او حضور په برخه کې لږه مستقیمه څارنه وکولای

شي. په سویل او ختیځ کې د هغو پنځو PRTs له ډلې چې سیګار یې پلټنه وکړه یواځې د هلمند PRT تړل شویده.[311]

د سیګار د درې میاشتني معلوماتي غوښتنې په ځواب کې پلې کونکو ادارو د خپلو پروګرامونو په تړاو په سیمه ایزه کچه د څرګندوالې کمښت په ګوته کړیدی.

په تیرو دوو ربعو کې سیګار له USAID څخه داسې معلومات غوښتې څو ورسره روښانه شي چې په ولایتي او د ولسوالیو په کچه د افغان ملکي خدمتونو د کارکونکو د ګمارنې حالت روښانه کړي.[312] USAID دوه ځله راپور ورکړ چې افغان حکومت د دوی غوښتنې ته ځواب ندی ورکړی.[313] USAID همداشان په ډاګه کړه چې ناامني د دې لامل شوه چې د افغانستان په ځینو سیمو کې د ملکي خدمتونو ځینې بستونه خالي پاتې شي، خو پر دې اعتبار کول ستونزمن دی.[314] د ملکي کارکونکو موجودیت د سیمه ایز حکومت اړین بنسټ بلل کیږي ، خو داسې ښکاري چې USAID به له دې وروسته د دې شاخصونو د پلې کولو وړتیا ونلري.

په دې ربع کې، سیګار د کلیو د ثبات د عملیاتو (VSO) په تړاو نوی معلومات ندي تر لاسه کړي، دا د شورش ضد بنسټیزه ستراتیژي ده چې ورسره به امنیت د سیمه ایزې حکومتدارۍ او ولسوالیو او ولسوالي له ملي حکومتدارۍ سره د نښلولو له لارې پیاوړی شي.[315] په تیرې ربع کې سیګار راپور ورکړ چې د دفاع وزارت (DOD) په وینا، ډله ایزې ارزونې او د وړاندیز شوي اسناد دا تر لاسه کړیدي چې له VSO څخه په حکومتداري کې لاس ته راوړنې وروسته له هغې چې د ایتلاف له کنترول څخه د افغان حکومت کنترول ته لیږدول کیږي پیاوړي پاتې شي. په دې ربع کې، سیګار له DOD څخه نور جزییات د حکومتداري د هغو تعریفاتو په اړه چې په VSO کې پلې کیږي غوښتي دي، همداشان د سیمه ایزې او رسمې حکومتدارۍ د نښلولو ارزونه او د VSO د هغو ولسوالیو تناسب چې حکومتداري پکې روانه وه د هغو ولسوالیو په وړاندې چې نه وه، پکې شامل دي. DOD هغې ډلې ته ځواب ورکړ چې د 2013 د جولای او نومبر د حکومتدارۍ ځوابونه یې چمتو کړي وو په افغانستان کې د سولې او ثبات په لورې د پرمختګ راپور (چې له هغه څه سره چې په تیره ربع کې سیګار ته چمتو شوی وو ورته والی لري.) د DOD د تیر راپور برخلاف چې د لومړیتوبونو په برخه کې د حکومتداري اغیزې حکومتي مسایل نه څیړي.[316]

همداشان، د سیمه ایزې حکومتداري د پراختیا په برخه کې د متحده ایالاتو د مرستې قراردادونه، بسپنې، او د همکارۍ تړونونه خپل ډیری کارونه غیر دولتي ډلو ته وړاندې کوي. له دې سره داسې سوالونه برسیره کیږي چې آیا دا پروګرامونه د افغانستان د حکومت قانونیت پیاوړی کولای شي که چیرته مستقیماً شامل نه وي.

## د کلیوالي ثبات پروګرامونه

USAID د ثبات ګڼ پروګرامونه لري چې موخه یې له افغان حکومت سره مرسته ده څو بې ثباته سیمو ته خپله ولکه وغځوي او د سیمه ایزې حکومتداري ظرفیتونه لوړ کړي. په دې پروګرامونو کې د USAID څلور هغه پروژې چې په کلیدي سیمو کې ثبات (SIKA) نومیږي شاملې دي، همداشان 161 میلیون ډالره د ټولنیز پیوستون لومړیتوبونه (CCI)، 2.67 میلیارد ډالره ARTF ته د متحده ایالاتو مرستې چې د افغان حکومت د ملي پیوستون پروګرام (NSP) ته ورکول کیږي.[317] جدول 3.16 په راتلونکې پاڼې کې تر اوسمهاله د ټولو پروګرامونو د لګښتونو او مصارفو لنډیز وړاندې کوي.

جدول 3.16

**د USAID سیمه ایز (کلیوالي) پروګرامونه**

| د پروژې عنوان | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولیز اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2013 پورې د لګښتونو مجموعه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق (ARTF)* | 6/20/2002 | 6/20/2020 | 2,669,320,295 | 1,743,234,795 |
| په کلیدي ساحاتو کې ثبات (SIKA) ختیځ | 12/7/2011 | 9/6/2015 | 177,054,663 | 46,413,247 |
| SIKA West | 1/29/2012 | 8/31/2015 | 62,998,824 | 21,028,210 |
| SIKA South** | 4/10/2012 | 2/28/2014 | 58,784,676 | 25,862,523 |
| SIKA North | 3/14/2012 | 7/14/2015 | 45,633,274 | 13,495,838 |

یادونې:
* په ARTF کې د USAID ټولې ونډې شاملې دي. له نړیوال بانک سره د موافقت پر بنسټ، مرسته کونکې یواځې د خپلو مرستو په برخه کې د ټولې ونډې د 50% د لګولو د ساحې غوراوی کولای شي. له نړیوال بانک سره د 2012 کال د موافقت پر بنسټ، USAID د خپلو 47% مرستو د غوراوي لپاره د ملي پیوستون پروګرام (NSP) ځرګند کړ.
** په دې کې د SIKA South دواړه برخو لپاره مرستې هم شاملې دي.

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتي غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

USAID تمه لري چې د SIKA پروګرامونه به د "[افغان حکومت] د پراخوالي په معنا وي نه د بهرنی حضور د ډیریدو لپاره". او شرط یې دا دی چې SIKA "باید د افغان حکومت په جوړښت کې دننه کار وکړي."[318] برسیره پردې په قرارداد کې راغلي چې د SIKA پروګرامونه دې د کندهار موډل تعقیب کړي (چې د سیمې پر بنسټ د پراختیایي پروګرام یوه بېلګه ده)، چې په هغې کې د ټولنې له خوا په لیکلې توګه امنیتي ضمانت اخیستل کیږي چې د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت (MRRD) کارکونکې د پروژې له ساحې لیدنه وکړي.[319] د SIKA څلور قراردادونه په دې پروګرامونو کې له MRRD څخه د SIKA لومړني ملکړې په توګه غوښتنه لري چې په ولسوالیو کې د عملیاتو لپاره خپل استازې ولري. د MRRD د حضور غوښتل شوې کچه سره توپیر لري چې له یوه استازي نیولې چې په "نیمه رسمي" بڼه کارکوي (SIKA South) بیا د MRRD تر داسې یوې ډلې چې په اغیزمنه توګه په ولسوالیو کې د SIKA د فعالیتونو عملیات او څارنه وکړي او همداشان د ملاتړ او مشرتابه په برخه کې ورته کار وکړي (SIKA West).[320]

سره له دې چې د پروژې په هره برخه کې د MRRD ګډون لازم بلل کیږي، داسې ښکارې چې د SIKA پروژې له افغان حکومتي مسولینو د فزیکي څارنې غوښتنه نه کوي. د بیلګې په توګه، USAID راپور ورکړی چې د SIKA South د پروژو 78% څارنه یواځې د SIKA South د کارکونکو له لورې تر سره شویده. د SIKA East پروژو شاوخوا 70% په یواځې د SIKA East د کارکونکو له خوا څارل شویده. د USAID په وینا "ډیر لږ" افغان حکومتي مسولین انفرادي څارونکې کتنې ترسره کړیدي، سره له دې چې SIKA North هڅولې دي او ثابت تعقیب یې هم تر سره کړی دی. په SIKA West کې، په دې سیمې کې ټولو 190 روانو یا بشپړو شویو پروژو ته یواځې 20 ساحوې کتنې د ولسوالانو یا د هغوی د استازو له خوا تر سره شویدي.[321] د SIKA West په برخه کې USAID راپور ورکوي چې تمه کیږي د MRRD استازی به د پروژې له بشپړیدو سره سم

**د کندهار ماډل:** د MRRD له خوا په 2007 کال کې د NABDP د یوې بلې بڼې په توګه پراختیا ورکړل شوه. د کندهار ماډل غیرمرکزي شوې تدارکات او مالي پروسیژرونه را پیژني، همداشان ټولنې پکې په مستقیمه توګه له ټولنیزو بنسټونو سره قرارداد کوي، پریکړه نیونه پکې په ګړندۍ توګه تر سره کیږي او د مراتبو سلسله پکې کمه وي. برسیره پر دې، د کندهار په ماډل کې په یوې لیکلې امنیتي موافقې د ګټه اخیستونکو ټولنو او MRRD ترمنځ هوکړه کیږي، او د NABDP د پروژو ساحو ته د MRRD لاسرسی ډاډمنوي. د کندهار په ماډل کې په عمومي توګه د ټولنو قراردادونه د بهرنیو سوداګریزو کمپنیو او غیر دولتي موسساتو له ښکیلتیا پرته کارول کیږي.

**د ساحې پر بنسټ ملي پراختیایي پروګرام (NABDP):** په 2002 کې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت (MRRD) او UNDP ترمنځ د یوه ګډ لومړیتوب په بڼه پراختیا موندلې. د NABDP موخه د خوارۍ په کمولو کې برخه اخیستنه او د افغانستان په کلیوالو سیمو کې د معیشت بڼه والی دی.

سرچینې: سیګار، په کلیدي سیمو کې د ثبات (SIKA) پروګرامونه: له 16 میاشتو او د 47 میلیون ډالرو له لګولو وروسته، USAID تر اوسه د پروګرام موخې تر لاسه کړې ندي، 7/2013، 3 مخ؛ د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت، "د کندهار ماډل"، 2010، مخ 2.

# حکومتداري

د تسلیمي اسناد لاسلیک کړي، سره له دې چې امنیتي ستونزې د پروژو د ساحاتو د لیدو په برخه کې د MRRD مسولینو ته خنډ جوړوي.[322] له دې سره د افغان مالکیت او په پای کې د SIKA د هڅو پایښت له پوښتنې سره مخ کیږي.

سره له دې چې USAID راپور ورکوي چې په ولایت او د ولسوالیو په مرکزونو کې د پروژې د پیژندنې په ناستو او نورو غونډو کې افغان حکومت برخه اخلي، خو د دې معنا دا نده چې افغان ملکي کارکونکي په پروګرام کې ګډون لري.[323] برعکس د MRRD/USAID یوې ګډې سروې پر بنسټ چې د SIKA په پروګرامونو کې ښکیل د MRRD ټول پرسونل ته په لاره اچول شوی وو، د MRRD ډیری ادارو داسې راپور ورکړ چې (1) د SIKA قراردادیانو له افغان حکومتي مسولینو سره فعالیتونه په سمه توګه نه همغږي کول او (2) د SIKA قراردادیانو په ټولنې کې رهبرۍ په غاړه اخیستې ده په داسې حال کې چې د MRRD ونډه کمه یا هیڅ نه وه.[324]

د SIKA په پروګرامونو کې د افغان حکومت د ښکیلتیا برخلاف، داسې پلان دی چې د دې پروګرامونو ځینې برخې د افغان حکومت د بودیجې چوکاټ ته ولیږدوي. د SIKA د پایښت کنفرانس د 2014 جنوری/فبروري ته پلان شویدی تر څو د SIKA څخه د افغان حکومت د بودیجې چوکاټ ته د پروګرامونو د لیږد په تړاو لسوالیو ته د درجه بندۍ شاخصونه ترتیب کړي. د USAID په وینا، ډیر احتمال لري چې SIKA به په ورو د 2014 کال تر پایه د SIKA د روزنې برخې او د مرستو د پلې کولو برخې MRRD او د سیمه ایزو ارګانو خپلواکې اداري (IDLG) ته ولیږدوي.[325]

یو بل پروګرام چې د USAID د ټولنې د پیوستون لومړیتوب (CCI) ورته وایي، موخه یې د دوی په وینا "غزیدنه" په هغو سیمو کې ده چې هم د افغانستان سیاسي او هم امنیتي لیږد ته ارزښتمن بلل کیږي او له بلې خوا د تاوتریخوالو او ناامنیو له خطرونو سره هم مخامخ دي. USAID غزیدنې ته داسې تعریف ورکوي، "د یوې سیمې (لکه کلی، ځو کلي، ولسوالیو) د پاییدونکې وړتیاو اندازه کول دي تر څو د موجودو سرچینو د سمبالولو له لارې له ناوړه شرایطو سره مقابله وکړي، حل لارې ورته ومومي او ځواب ووایي؛ د شورشي فعالیتونو مخه ونیسي او مقابله یې وکړي؛ په مصونه او اغیزمنه توګه له دودیز او رسمي دولتي جوړښتونو سره مفاهمه وکړي؛ او ټولنیزې کلتوري شبکې سمبالې او رامنځ ته کړي."[326] CCI د سیمه ایزې ټولنې پراختیایي پروژې پلې کوي تر څو د ټولنې مشران او حکومتي چارواکي د سولې لپاره هڅو کې د کمپاینونو او سپورتي پیښو له لارې ښکیل کړي.[327]

د SIKA برخلاف، USAID د CCI په پلې کولو کې د افغان حکومت رول ندی توضیح کړی. همداشان CCI د فعالیتونو د دوام لپاره د افغان حکومت د حضور غوښتنه نه کوي، د دوی په وینا باید افغان مدني بنسټونه د مرستو په څارلو او د CCI د اکثرو پروژو په بررسي کې مهم رول ولوبوي د USAID په وینا، له دې سره به نه یواځې بررسي پیاوړې شي، بلکه همداشان به حکومتي چارواکي له سیمه ایزو ټولنو سره پیاوړې اړیکې ومومي.[328]

د USAID په وینا د ولسوالیو او ولایتونو د دولتي کارکونکو د بدلون لوړې کچې پروګرام په پلې کیدو منفي اغیز کړیدی.[329] USAID راپور ورکوي چې د CCI قراردادیانو د ټولو مرستو 32% څارنه په خپله کړیده، شاوخوا 38% د افغان حکومت له خوا تر سره شویده او د افغان حکومت او د CCI قراردادیانو په ګډو کتنو کې شاوخوا 30% د CCI ټولې څارونکې کتنې تر سره کړیدي.[330] CCI تمه لري چې په راتلونکې کال کې به د افغان حکومت د کارکونکو د بدلون له کبله ننګونې راکمې شي او CCI به حکومتي بنسټونو ته



د غور مرکز یو **اوسیدونکی** هغه SMS لولي چې د دولت لاس ته راوړنې روښانوي او د غور د ولایت د معاون له خوا لیږل شوی دی. (انځور د USAID)

# حکومتداري

د مرستې د چمتوکولو په لور روان دی، همداشان به د ټولنې میشته ادارو له لارې ډیرې مرستې پلې کړي.[331] روښانه نده چې افغان حکومتي چارواکې څنګه د CCI پروژو په څارنو کې د SIKA په پرتله ډیره برخه اخلي.

ARTF د افغانستان د عملیاتي او پرمختیایي بودیجو ملاتړ کوي. د پراختیایي بودیجې د یوې برخې په توګه له دې لارې د افغان حکومت د ملي پیوستون پروګرام (NSP) ته مرستې ورکول کیږي، چې په ټولنیزه کچه د حکومتداري د پیاوړتیا لپاره ډیزان شویده، همداشان ورسره ټولنیزو او تولیدي زیربنایي خدمتونو ته د کلیوالو ټولنو لاسرسی پیاوړی کیږي چې د سرچینو لګول د ټولنو د انکشافي شورا ګانو (CDCs) له لارې پرمخ وړل کیږي چې په ډیموکراتیکه توګه ټاکل شویدي. د متحده ایالاتو حکومت د افغان حکومت له NSP پروګرام څخه د ARTF له لارې ملاتړ کوي او ستر مرسته کونکی یې دی.[332]

سره له دې چې د 2011 کال د سنا د بهرنیو اړیکو کمیټې اکثرو غړو NSP پروګرام د یوه ملي پروګرام تر ټولو غوره مثال بللی دی چې ورسره د افغان حکومت او ولس تر منځ اړیکې پیاوړې کیږي.[333] سیګار د افغان حکومت د پراخې وندې او همداشان د پروګرام د اغیزمنې څارنې په تړاو د نړیوال بانک وړتیا تر پوښتنې لاندې راوستې ده.[334]

USAID د خپلو اسنادو په اساس منلې ده چې داسې شواهد کم دي چې ورسره روښانه شي چې د افغانستان په ناامنه سیمو کې NSP د ثبات په پیاوړتیا کې مرسته کړیده. USAID همداشان د ARTF له لارې مرستو کې دې پروګرام ته لومړیتوب نه ورکوي. د USAID په وینا، NSP ځینې مثبتې پایلې تر لاسه کړیدي، لکه په تصمیم نیونو کې د ټولنیزې کچې ښکیلتیا. سره له دې هم USAID په دې پروګرام د ځانګړیو پرمختیایي موخو د تر لاسه کولو لپاره تکیه نه کوي. USAID له نړیوال بانک سره په ګډه کار کوي تر څو د NSP پروګرامونو کو سمونونه راولي او د ARTF د کارونو د اغیزمنتوب د لوی پروګرا م یوه برخه یې کړي. USAID، NSP ته په افغانستان کې د خپلو مرستو د ستراتیژۍ د یوه مهم عنصر په سترګه نه ګوري.[335]

NSP د پروژو پلې کول غیردولتي موسساتو ته ورسپاري. دا ډلې د اسانتیا برابرونکې ملګرو په توګه کار کوي څو (1) ټولنې د CDCs د جوړولو لور ته ګام اوچت کړي او (2) د CDCs لپاره تخنیکي لارښوونې چمتو کړي څو د کنګل شویو مرستو مدیریت وکړي او په کلیواله کچه د وړو پروژو پلان او پلې کول تر سره کړي.[336] په 2011 کال کې سیګار د NSP یوه پلټنه او ګنې سپارښتنې خپرې کړې چې په هغه کې د افغان حکومت او سیمه ایزو ټولنو ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا هم ښودل شوې وه او همداشان په ناامنه ساحاتو کې د NSP له فعالیتونو دقیقه ارزونه او څارنه غوښتل شوې وه.[337]

د MRRD په وینا، NSP د لوړ خطر د ساحو د پلي کولو د ستراتیژۍ په تړاو په 44 ولسوالیو کې چې په 14 ولایتونو کې پرتې دي خپلې کړنې بدلې کړیدی. چې علت یې ناامني ښودل شویده. لکه په 3.27 شکل کې چې ښودل شویده.[338] په دې کړنې کې غیر دولتي چمتو کونکې ملګري کولای شي د ټولنې کسان په خپل ځای وګماري او له سیمه ایزو غیر دولتي موسسو سره قرارداد وکړي او د CDC د ټاکنو په پروسیژر کې سمون راولي.[339] لکه د سیګار د 2011 کال په بررسي کې چې هم روښانه شوه، دا کړنه به د NSP د فعالیتونو اغیز را کم کړي او د بررسي امکان به هم ورسره ټیټ شي.[340]

شکل 3.27

**د ملي پخلاینې د پروګرام (NSP) نقشه د ډېر خطر د سیمو د تطبیق د ستراتیژۍ ولسوالۍ**




یادونې: NSP هر شپږ میاشتې د هرې ولسوالۍ د امنیت درجه بندي کوي "ډېر خطر" ښیي چې امنیتي چاپېریال د سیمې خلکو ته د مستقیم لاسرسي اجازه نه ورکوي.

سرچینه: د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، د NSP درې میاشتنی راپور، 9/22/2013.

په دې ربع کې سیګار له USAID څخه وغوښتل چې په ناامنه سیمو کې د NSP د عملیاتو ارزونه وکړي تر څو روښانه شي چې آیا دا په رښتیا هم د دولت او ولس د نښلولو زمینه برابروي او که نه. USAID په ځواب کې وویل چې دا معلومات په لاس کې نلري.[341]

## ښارونه او د ولایتونو مرکزونه

د USAID هغه څلور پروژې چې د ښاري وګړو لپاره د افغان ښاروالیو پروګرامونه (RAMP UP) نومیږي، د 2014 تر مارچ پورې تمدید شول چې موخه یې د ولایتي او ښاري حکومتي کچو پیاوړتیا ده تر څو ورسره عواید ډېرشي او د ښاروالیو له لارې د عوایدو راټولول پیاوړي شي. RAMP UP د افغانستان د ښاروالیو د پیاوړتیا د پروګرام په تعقیب چې په 11 ولایتونو یې تمرکز درلود او د 2007 له مې څخه یې د 2010 تر اګست پورې فعالیت درلود او 25 میلیون ډالر پرې لګول شویدي رامنځ ته شو.[342] 3.17 جدول په راتلونکې مخ کې د RAMP UP په شمول د USAID د سیمه ایز (ښاري او ولایتي) پروګرامونو جزییات.

د RAMP UP پروژو موخه له حکومت سره مرسته ده تر څو د ښارونو په مرکزونو کې د ښاروالیو د کارکونکو ظرفیت لوړ شي، د ښاروالیو خدمات پیاوړي کړي، د اقتصادي ودې له لومړیتوبونو ملاتړ وکړي، او له خپلو سرچینو عواید زیات کړي. RAMP UP پروژې

# حکومتداري

جدول 3.17

| د USAID سیمه ایز (کلیوال او ولایتي) پروګرامونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د پروژې عنوان | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولیز اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2013 پورې د لګښتونو مجموعه (په ډالرو) |
| د سویل د ښاري استوګنو لپاره د افغان ښاروالیو سیمه ایز پروګرام | 6/10/2010 | 3/31/2014 | 149,023,047 | 88,351,892 |
| د ختیځ د ښاري استوګنو لپاره د افغان ښاروالیو سیمه ایز پروګرام | 6/10/2010 | 3/31/2014 | 147,011,369 | 84,955,414 |
| اقتصادي وده او د حکومتداري لومړیتوبونه (EGGI) | 8/15/2009 | 8/31/2013 | 92,371,523 | 80,745,277 |
| د اجراتو پر بنسټ د والیانو مرسته (PBGF) | 11/1/2009 | 9/30/2013 | 48,924,296 | 48,055,668 |
| د شمال د ښاري استوګنو لپاره د افغان ښاروالیو سیمه ایز پروګرام | 2/8/2011 | 3/31/2014 | 40,000,000 | 31,884,079 |
| د لویدیځ د ښاري استوګنو لپاره د افغان ښاروالیو سیمه ایز پروګرام | 11/1/2010 | 3/31/2014 | 35,000,000 | 28,095,884 |

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتي غوښتني ته ځواب، 1/7/2014.

د خدمتونو د وړاندې کولو د وړو پروژو مرسته کوي ترڅو د ښاروالیو د مدیریت ظرفیت لوړ کړي.[343] د RAMP UP د اجراتو یوې وروستۍ ارزونې په ټول هیواد کې د حکومتداري د وضعیت لنډیز برابرکړیدی:

> د افغانستان د ښارونو ستونزې ګڼې او پراخې دي. ډیری مدیران چې په ښاروالیو کې یې 20 کاله یا ډیرکار کړیدی، د بیوروکراسۍ د کمولو لپاره لږه پوهه او انګیزه لري. دوی شاوخوا د سهار 7:00 بجې ښاروالي ته رارسیږي چې ډیری وخت بریښنا هم نلري، بیکاره ناست وي او له هغو کسانو سره چې دفتر ته راځي چای څکې او خبرې کوي، دا ځای د متحده ایالاتو د یوې سیمې سلمانۍ ته ورته دی، دوی د غرمې شاوخوا بیرته خپلو کورونو ته ځي. ډیری ښارونه لږې سرچینې لري او کارکونکي یې اکثرآ په میاشت کې تر 100 ډالرو کم معاش لاسته راوړي. ولس کمه ټمه لري او هغه تر لاسه کوي. په داسې حال کې چې فساد ډیر پراخ دی او کچه یې په لویو قراردادونو کې له فساد څخه نیولې بیا تر هغه جبري 'فیس' پورې توپیر لري چې په ځانګړې توګه هر هغه وخت چې د دولتي مسول امضا په کار وي ورکول یې اړین دي.[344]

په بیاکتنه کې وموندل شوه چې، "منظم او ورو" پرمختګ رامنځ ته شویدی او د ښاروالیو له لارې په افغانستان کې د دیموکراسۍ د راتلو تر ټولو ښې هیلې پکې څرګندې شوې دي:

> د افغانستان ښاروالۍ په سیمه ایزه حکومتداري کې د سیمه ایزو عوایدو ټولولو او ساتلو یواځنۍ مرجع ده، او ډیرو پکې په زیاتیدونکې توګه خپل صلاحیت په کار اچولی. ښاروالۍ په داسې یوه بڼه کار کوي چې له ټولو ستونزو سره، د عوایدو د ټولولو آزادي پکې د نورو مخ په ودې هیوادونو تر ښاروالیو ډیره ده او خپل هیواد ته د سیمه ایزې خپلې- حکومتدارۍ د یوه پیاوړې سیستم په لاره کار کوي.[345]

# حکومتداري

د RAMP UP د پروژو تجربې د ښاروالیو د حکومتداري د دوو مهمو اړخونو په اړه لیدلوری وړاندې کوي: د عوایدو ټولول او د خدماتو وړاندې کول. د افغانستان ښاروالۍ د سیمه ایزو عوایدو د راټولولو او په سیمه ایزه کچه د هغوی د کارولو په برخه کې ځانګړې وړتیا لري او تمه کېږي چې په لویه کچه مالي خودکفایي تر لاسه کړي.[346]

## د ښاروالۍ له خوا د عوایدو راټولول

د RAMP UP په ارزونې کې موندل شوه چې د پروګرام راپور ورکولو کې د RAMP UP د ځلورو پروګرامونو ونډه د ښاروالیو د عوایدو په لوړیدا کې پراخه وه. په داسې حال کې چې RAMP UP وکولای شول د ملکیتونو مالیات او د سوداګرۍ د جواز څخه لاس ته راغلي عواید لوړ کړي، خو په نورو عوایدو لکه د ځمکې خرڅلاو کې RAMP UP لاس نلري.[347] د بیلګې په توګه، په راپور کې وموندل شوه چې د RAMP UP West او د هغو ښاروالیو د عواید د ډیریدو تر منځ چې کار ورسره کیږي، څرګند تړاو ندی موندل شوی.[348] د ارزونې په راپور کې هغه اندیښنې په ډاګه شوې چې ښاروالۍ د عوایدو د لاس ته راوړلو لپاره د عامه ځمکو په خرڅلاو لاس پورې کوي، او دا یوه محدوده سرچینه ورته بلل کیږي.[349]

ارزونه دې پایلې ته ورسیده چې د ښاروالیو د عوایدو د لوړیدو په تعیین کې د ټولولو په پروسه کې د ښاروال تعهد، د هغو تجارتونو او ملکیتونو شمیر چې مالیه ورکوي، د عوایدو په برخه کې د RAMP UP د اصولو پلې کول، او د غزنې د ښاروالۍ په قضیه کې خصوصي کمپنۍ ته د عوایدو د ټولولو سپارل شامل دي.[350]

## د ښاروالي د خدمتونو وړاندې کول

د اجراتو په اړه د RAMP UP ارزونو ومونده چې په هغو لویو ښارونو کې چې RAMP UP مرسته ورسره کړې، ښاروالان له دې کبله چې د پروژې ژمنې نه پوره کیږي، له پروګرام څخه ناهیلي شویدي. د ارزونې پر بنسټ په وړو ښارونو کې له دې کبله چې ژمنې ډیرې نه وې، ناهیلۍ کمه شودل شویده.[351]

د RAMP UP په پروګرام کې، له ښاروالیو تمه وه چې د پروژې په لګښتونو کې خپله برخه مرسته وکړي ، خو دا مرسته په ځلورو یادو شویو سیمو کې سره توپیر لري. د پروژو لپاره په مرسته کې د برخه اخیستلو ژمنه کیدای شي د ښاروالیو د مالکیت یو مهم شاخص وبلل شي. د بیلګې په توګه، ویل کیده چې د ښاروالیو د لګښت ونډه تر 2% کمه وي — چې د RAMP UP د پروژو د 17.1 میلیون ډالرو 330,000 ډالر جوړوي.[352] داسې ښکاري چې ځینې ښاروالۍ په پروژه کې د لګښت په اړه خپل انتخاب لري چې په یو ډول د راتلونکو عواید د لوړیدو ورسره تړاو ولري. په RAMP UP South کې، له 45 پروژو په دریو کې لګښتونه د ځمکې له ونډې سره تړاو لري. د RAMP UP South په دریو پروژو کې چې ښاروالیو د ځمکې د ورکولو ونډه درلوده یو مسلخ، یو ښځینه بازار او یو پارکنګ شامل دي.[353] د RAMP UP د اجراتو د ارزونې په وینا، په یوه ښار کې د ښاروالیو د عوایدو د زیاتیدو لپاره یوه منلې ستراتیژي دا ده چې ښارونه د مالک په ډول مسلخونه، د ودونو سالونونه، سوداګریز مرکزونه او نورې داسې آسانتیاوې جوړې کړي چې مالک یې ښاروالي

وي او خصوصي سوداګرو ته په اجاره ورکړل شي.[354] د RAMP UP South په هغو پروژو کې چې ښاروالي ځمکه ورکړې وه داسې ښکاري چې ښار د مالک په توګه خپلې ګټې ورڅخه تر لاسه کوي.

## ولایتي بودیجه

د ښاروالیو د ظرفیت امتحاني لاس ته راوړنې د ولایتي ادارې له هغو تجربو سره توپیر لري چې پکې غوښتل شوې وه مرکزي حکومت ته د عوایدو کمه برخه ورکړي او تخصیص هم ورڅخه کم واخلي.[355] د 2010 له مې څخه د 2012 تر اګست پورې، د USAID د اقتصادي ودې او حکومتداري لومړیتوب (EGGI) پروژې هڅه وکړه چې په ټولو 34 ولایتونو کې د 14 وزارتونو ظرفیت لوړولو ته کار وکړي او د مالیې وزارت (MOF) په مرسته ولایتي بودیجې معرفي کړي.[356] د MOF په وینا، د پروژې په لارښوونو کې د وزارت له موجودو پروګرامونو ګټه اخیستل شویده او د ملي بودیجې پر بنسټ ټولو ولایتونو ته د پروژو نومول تر سره شویدي.[357]

د USAID په وینا، د ولایتي بودیجې لارښونکی پروګرام بالاخره د مرستو د کمښت او په افغان حکومت کې د سیاسي ارادې د نه شتون له کبله له ناکامي سره مخ شو.[358] افغان حکومت ادعا وکړه چې د نومول شویو وړاندیزونو لپاره د مرستې وړتیا نلري او له مرسته کونکو څخه یې د اضافي مرستو غوښتنه وکړه. په داسې حال کې چې، مرسته کونکې داسې انګیري چې افغان حکومت باید هغه اختیاري انکشافي بودیجه چې لګول شوې نده د دې لارښونې لپاره ولګوي، ځکه چې د بودیجې اجرایوي کچه تر اوسه ډېره ټیټه وه. دا مسله د 2012 تر اګست پورې حل نشوه، د مالیې مرستیال وزیر له USAID څخه غوښتنه وکړه چې د ولایتي بودیجې لپاره د ظرفیت جوړونې په برخه کې هڅې ودروي.[359] د USAID مرستې له MOF سره تر خبرو وروسته تایید شوه، چې پکې له USAID او UNDP څخه وغوښتل شول چې د افغان حکومت له ظرفیت سره مرسته وکړي څو د ولایتي بودیجې د ورکولو مسله پلې کړي. د USAID په وینا، MOF خپله غوښتنه د بودیجې د اسنادو او پلان په وړاندې کولو په واسطه پیاوړې کړه او د مالي لومړیتوبونو په برخه کې یې خپله ژمنتیا ښودلې ده.[360] د دې برخلاف، داسې ښکاري چې د ولایتي بودیجې د لارښوونې مرستې په جدي توګه وروسته له هغې تر بحث لاندې نه وه نیول شوې چې USAID لا له مخکې د ظرفیت جوړونې په برخه کې د پام وړ پانګونه کړې وه، او وروسته له دې چې د وزارتونو ولایتي ریاستونو لا له مخکې د پروژو نومول وړاندې کړيدي.

نړیوال مرسته کونکې د ولایتي بودیجوي پروسې په اړه اوس هم لیوالتیا لري او د ټوکیو د حساب ورکونکې د ګډ چوکاټ د یوې کلیدي تحویلیدونکې برخې په توګه یې پرمختګ ته کار کوي.[361] په داسې حال کې چې د USAID پخوانۍ هڅې د ولایتي بودیجوي لارښوونو په تړاو د افغان حکومت د مرستې او سیاسي ارادې د نه شتون له کبله سمې پایلې نه درلودې.

د ټوکیو د حساب ورکونکې د ګډ چوکاټ د لوړپوړو مسولینو د راپور په بنسټ، په ولایتي کچې ستراتیژیک لیدلوری تر اوسه هم د ولایتي پلانونو د پروسې او ملي پلانونو د بیلوالې له کبله نیمګړی بلل کیږي.[362] دا په ظاهره د متحده ایالاتو په مرسته ولاړو ولایتي بودیجوي لارښوونو سره په تضاد کې دی چې موخه پکې د ملي لومړیتوبونو له پروګرامونو سره د وزارتونو د ولایتي دفترونو د سیمه ایزو اولویتونو او غوره توب



**د زابل مرستیال** والي محمد جان رسولیار د قلات په سیمه کې په یوې شورا کې ګډون کوي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور)

نښلول وو.[363] د USAID په وینا، MOF یوه نوې ولایتي بودیجوي ستراتیژي رامنځ ته کړیده چې مرسته کونکو یې هم بیاکتنه کړې او ژمنه یې ښکاره کړیده چې MOF د 2013 په دسمبر کې دغه نوې پالیسې د کابینې سلا مشورو او تصویب ته وړاندې کړه.[364]

## پخلاینه او مجدد استقرار

په کابل کې ملکي-نظامي چوکاټ د "دافغانستان د جګړې د حل لارې په توګه" د افغان حکومت او مخالفینو ترمنځ د سیاسي پخلاینې کتنه کوي.[365] په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو سرمنشي د سولې په پروسه کې پرمختګونه په "تیرو میاشتو کې مایوسونکې بللي دي."[366]

افغان حکومت کیدای شي د طالبانو له مشرتابه سره اوسمهال یوې عملي موافقې ته ونه رسیږي. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د 1988 د پریکړو د تصویب د کمیټې په وینا، د تحریک په ټولو جریاناتو د طالبانو د مشرتابه د کنترول کچه روښانه نده. د څارنې د یوې کمیټې تازه راپور موندلې چې طالبان مرکزي صلاحیتونه په یوه لویه کچه د ساحې د قوماندانانو له پاشلو کړنو سره یوځای کوي. دا تحریک د قوماندې یو مفصل جوړښت لري چې یواځې د "کویټې شورا" د مشرتابه په کمیټه کې نه خلاصه کیږي. راپور دې پایلې ته رسیږي چې د نورو وسله والو ډلو دوامداره شتون او خپلواکي دا پوښتنې راولاړوي چې د طالبانو د مشرتابه د ریښتونې اغیزې کچه به څومره وي.[367] د کانګرس د څیړنیزو خدمتونو په وینا بغاوت په ټوله کې په زیاتیدونکې بڼه درزونه کړیدي او په ځانګړې توګه د سیاسي میشتیدو د هڅو په تړاو د هغوی سیاسي لیډلوری سره ویشل شویدي.[368]

### بیاپخلاینه

د حکومت په وینا، د سولې عالي شورا (HPC) د سولې د پروسې د ملاتړ لپاره د افغان ټولنې له بیلابیلو طبقو سره د یووالي د راوستو او د سولې د هڅو د پیاوړې کولو په موخه دوامدارې ناستې تر سره کوي. برسیره پر دې د HPC مشرتابه سیمې او نړۍ ته د دې شورا د پخلاینې د موخو د روښانولو په خاطر خپلو سفرونو ته دوام ورکوي. په ټوله کې، په داسې حال کې چې حکومت د HPC د اجرایوي شورا د ناستو د ګټو ارزونه نشي کولای، سیګار ته یې په سیمه کې د HPC د پخلاینې د هڅو د ارزونې په موخه وړاندیز ندی کړی.[369]

د نومبر په وروستیو کې حامد کرزي او پاکستاني لومړي وزیر په کابل کې په دې موخه سره ولیدل چې، د سولې خبرو ته د طالبانو د راوستو په برخه کې "عملي ګامونه" واخیستل شي. د وال ستریټ ژورنال په وینا، ښاغلي شریف وویل چې دی د یوه باثباته افغانستان لیډلو ته لیواله دی خو نه هغه او نه ولسمشرکرزي مشخصې غوښتنې وکړې.[370] د AAN له لیدلورې خپور شوي نقلونه مبهم وو او د پایدونکې پرمختګ کومه نښه پکې نه لیدل کیده.[371]

د HPC غړو په نومبر کې پاکستان ته په دې موخه سفر وکړ چې له ملابردار سره چې د طالبانو پخوانی دوهم کس بلل کیږي، خبرې وکړي. خو روښانه نده چې آیا ملا برادر کولای شي او غواړي چې د سولې پروسه پرمخ لاړه شي، دا هم روښانه نده چې آیا له هغه سره خبرې شویدي او که نه.[372]

HPC همداشان په دسمبر میاشت کې سعودي عربستان ته سفر وکړ څو د اسلامي هیوادونو په نړیوال کنفرانس کې ګډون وکړي. HPC له ګډونوالو وغوښتل چې د افغانستان د سولې په پروسه کې مرسته وکړي.[373]

## د افغانستان د سولې او مجدد استقرار پروګرام

DOD په تیرې ربع کې راپور ورکړ چې په افغانستان کې د سولې او مجدد استقرار پروګرام (APRP) د پخوانیو ناراضیانو په مجدد استقرار کې پرمختګ کړیدی، خو په شخړه کې زیات نفوذ نلري.[374] APRP د افغانانو په مشري د مجدد استقرار داسې یو پروګرام دی چې موخه یې ټیټ پوړې سرتیرې او د هغوی قوماندانان دي. او مالي لګښت یې 182.3 میلیون ډالر کیږي چې دولسو مرسته کونکو هیوادونو یې په چمتو کولو کې ونډه اخیستې ده. د دې پروګرام عملیاتي مرستې د اوو مرسته کونکو له خوا (په سرکې جاپان او جرمني) چمتو کیږي، په داسې حال کې چې متحده ایالات د ټولنیزې بیارغونې د هغو هڅو لپاره مرستې برابروي چې مدیریت یې د نړیوال بانک په غاړه دی.[375]

د بهرنیو چارو وزارت او DOD په وینا، د 50 میلیون مرستو هغه ونډه چې د APRP لپاره د MRRD د NSP د ټولنې د بیارغونې د زیاتولو او لومړیتوب ورکولو (CRIP) له لارې په پام کې وه له دې کبله له APRP سره ونه نښلول شوه چې داسې ویره موجوده وه چې د NSP غیردولتي چمتوکونکې ملګرې له خطر سره مخ کیږي. د متحده ایالاتو مرستې د دې په ځای د ARTF پراخو بودیجو ته ورکړل شوې او د مجدد استقرار د ځانګړیو لومړیتوبونو د فعالیتونو له برخې بیله کړای شوه. د DOD یو وروستنی راپور وایي، "په ناامنه ولسوالیو د ځانګړې تمرکز له کبله، د CRIP سپارنې غیرمستقیمې، محدودې او له اعلان پرته تر سره کیږي، چې له NSP III سره د ثبات د عمومي اغیزو لپاره ځانګړې کیږي، او دا د APRP له لارې د بیا یوځای شویو کسانو او د هغوی د ټولنو د مستقیم پروګرام جوړولو په ځای کارول کیږي." [د تاکید په اضافه].[376]

سیګار له DOD وغوښتل چې روښانه کړي چې د CRIP/NSP لپاره د APRP په چمتوکولو کې "غیرمستقیم، محدود او نااعلان شوی" په څه معنا دی. په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت او د ځواک د مجدد استقرار واحد (FRIC) چې د APRP د ملاتړ لپاره



د افغانستان د کندهار ولایت په پنجوایي ولسوالۍ کې د افغان حکومت له خوا منل شوی **بیرته یوځای شوی کس**. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور)

د ISAF یوه برخه ده وایي، اړینه نده چې له پروګراماتیکې کچې د CRIP ولسوالیو مرستې "غیرمستقیمې، محدودې او نااعلان شوې"، بڼه ورکړو او نه هم دا لیدلوری د APRP لپاره اسانتیا برابرولای شي. همداشان د CRIP/NSP د ټیټې کچې پروګرامونه د هغو پروګرامونو مخه نیسي یا یې محدودوي چې غواړي د سولې برخې تامین کړي او هغه کوي چې د ټولنیزې بیارغونې ګټې هغو کسانو ته له ناکامي سره مخ کړي چې مجدد استقرار ته نوي راګرځیدلي. د حکومت په وینا د هغو کسانو موجودیت مجدد استقرار ته راګرځیدل د CRIP/NSP پروګرام مخنیوی نکوي.[377]

په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت د راپورونو له مخې هغه مسایل راپورته کړیدي چې د افغان حکومت له ګډ سکرتریت او MRRD سره رامنځ ته کیږي، خو داسې سلا ورکړل شویده چې MRRD د CRIP/NSP د ولسوالیو له ځرګندې پیژندنې سره لیوالتیا نلري چې له APRP سره دي، ځکه چې له غچ اخیستونکو څخه په ویره کې وي. FRIC همداشان ځرګنده کړه چې د CRIP/NSP د انفرادي پروژو په لاره اچول ځکه ناشونې ده چې د APRP مرستې له نورو مرستو سره ګډې دي.[378]

د پخلاینې له پروګرام سره د NSP د پروګرام یو ځای کول یوه نوې اندیښنه نده. په 2010 کال کې د سیګار له خوا د NSP د بررسې په جریان کې، د NSP د یوې اسانتیا چمتوکونکې ملګرې موسسې مشر وویل چې که چیرته NSP په APRP کې ورګډ شي نو د اسانتیا چمتوکونکې اداري به له MRRD سره کار ودروي ځکه دوی نه غواړي په ټولنیزه کچه خپل شهرت له دې کبله چې له APRP سره کار کوي خراب کړي.[379] له دې جوتیږي چې د APRP لپاره د سیاسي موخو تر لاسه کولو ته له NSP کاراخیستل د پرمخ بیولو مناسب میکانیزم نه دی.

شکل 3.28

**د سیمه ییزې قوماندې په حساب مجموعي پخلا شوي**




یادونه: سرچینو واضحه نه ړه چې په سیمه ییزه قوماندهٔ-غرب او سیمه ییزه قوماندهٔ-جنوب غرب کې دې درې میاشتنۍ کې مجموعي شمېر ولې ټیټ شوی؛ دا وخت د هغو تصدیق شوو افرادو چې بېرته یې په جنایتونو پیل کړی شمېر 16 دی.

سرچینې: د SIGAR درې میاشتنۍ راپور، 1/30/2013، مخ 97؛ د بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/2/2013، 1/2/2013، 10/2/2012، 7/5/2012، 3/30/2012، 7/1/2013، 10/4/2013؛ دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 12/31/2013.

په دې ربع کې، 328 کسان نوې د مجدد استقرار پروګرام سره يو ځای شول چې د بيايوځای شويو کسانو ټوليز شمير ورسره 7,599 ته ورسيد، لکه په 3.28 شکل کې چې ښودل شويدي.[380] د حکومت او FRIC په وينا APRP د بررسي يوه غښتلې پروسه لري څو روښانه شي چې يو ځای کيدونکې کسان په رښتيا هم له قانوني پلوه ناراضيان دي او که نه. په دې پروسه کې افغان ملکي حکومت او د ANSF مسولين کوم چې په ملي او ولايتي کچه له دوی سره خبرې پرمخ بيايي ښکيل دي او د بيايوځای کيدونکو د پروسې اداري برخې پرمخ بيايي. نړيواله ونډه د بيايوځای کيدونکو د څارنې او تعقيب د ډاټابيز په برخه کې د لاسرسي تر کچې محدود دی.[381]

FRIC وويل چې په MOI کې د بيايوځای کيدونکو په وړاندې د بررسي په پروسه کې د ملي کچې د ستونزې له منځه وړل د نوم ليکنې د پروسې په ګرندېتوب کې ډير مهم ثابت شويدی. ګډې دارلانشا هغه پروسې پياوړې کړيدي چې ورسره ډاډ تر لاسه کيږي چې بالقوه بيايوځای کيدونکې په رښتيا باغيان دي، کارنده وسله لري او د هغې ټولنې له خوا يې تاييد کيږي چې دی ورته د بيايوځای کيدو نيت لري. FRIC د بررسي له کانده توب څخه ډاډمن دی او اشاره کوي چې په بغلان ولايت کې د 300 درخواست کونکو له ډلې 140 تنه د افغان حکومت له خوا رد شول، چې علت يې د غوښتل شويو ځانګړنو نه بشپړيدل وو.[382]

FRIC راپور ورکړ چې APRP يوه ټينګه پروسه لري چې ورسره پريکړه کولای شي چې آيا يو کس بيرته د جرم تر سره کولو ته مخ اړولی او يا يې بغاوت پيل کړيدی او که نه. د جرم بيا تکرار په انفرادي بنسټ روښانه کيږي او معمولآ د ايتلاف د استخباراتو او د افغان حکومت په راپور تکيه کوي. د يوه مضنون کس په اړه شواهد چې ويل کيږي جرم کولو ته يې بيا مخه کړيده بايد د ISAF ګډې قوماندانۍ (IJC)، د مجدد استقرار ټيم او FRIC ته وړاندې او ثبت شي. د FRIC په وينا، د ثابتيدونکو راپورونو لپاره شرايط د دې لامل شويدي چې د جرم کولو ته بيا مخه کول په ټيټه کچه پاتې شي. سره له دې هم FRIC باور لري چې د بيا جرم کونکو رسمي شمير له 16 اوچت دی.[383] هغه پروسه چې له مخې يې د يو کس بيا جرم کول ثابتيږي، د بيلابيلو ايتلافي ادارو له خوا بايد ومنل شي، دا پروسه د بيايوځای کيدلو له پروسې سره چې تقريبآ په بشپړه توګه افغاني ده توپير لري. د بيايوځای شويو لپاره داسې شرايط نشته چې له مخې يې په دې حالت کې د پاتې کيدو لپاره اړيکو ته دوام ورکړي. له بيايوځای شويو تمه کيږي چې تر شپږو مياشتو د انتقال د مرستو د پيسو تر لاسه کولو ته له مسولينو سره اړيکه ونيسي، خو له هغې وروسته عادي افغان اتباع ګڼل کيږي او اړيکو ساتلو ته يې اړتيا نشته.[384]

## د فساد ضد او قانون حاکميت

د افغانستان د رسمي قضايي سيستم موثريت او جغرافيايي پوښښ روښانه ندی. د ولسمشرۍ د 45 فرمان په بنسټ، ولسمشر کرزي له سترې محکمې غوښتنه وکړه چې په ولاياتو او ولسواليو کې ټولې غيرفعاله محکمې فعاله کړي او د 2013 د مارچ تر 21 يې په مسلکي کارکونکو سمبال کړي.[385] د افغانستان سترې محکمې او لويې څارنوالۍ راپور ورکړ چې ټولې ولسوالۍ څارنوالان لري او محکمې يې هم فعالې دي.[386] په ناامنه ولسواليو کې څارنوالان او قاضيان فزيکي حضور نلري خو "فعال" ځکه ورته ويل کيږي چې ټرلې قضيې يې د ولايتونو په مرکزونو کې پرمخ بيول کيږي. د بيلګې په توګه، د 51 تر ټولو ناامنه ولسواليو لپاره څارنوالان

شکل 3.29

**د سیمه ییزو جرګو/شوراګانو په مقابل کې په ریاستي محکمو د افغانانو اعتماد**




سرچینه: آسیا بنیاد، افغانستان په 2013 کې: د افغانستان د خلکو یوه سروې، 12/2013، صفحه 86.

د ولایت له مرکز څخه خپل کارونه پرمخ بیایي، چې له ولسوالیو دباندې دي.[387] حکومت یادوونه وکړه دغه بستونه تر اوسه هم خالي پاتې دي او قضیې د تعقیب لپاره د ولایاتو مرکزونو ته راجع کیږي.[388]

د اسیا فونډیشن په وینا، د افغانستان د خلکو سروې، 19% ځواب ورکونکو ویلي دي چې په تیرو دوو کلونو کې دوی خپلې شخړې رسمي قضایي سیستم یا سیمه ایز غیررسمي قضایي سیستم ته وړاندې کړیدي. سروې همداشان راپور ورکوي چې 67% وایي چې غیر رسمي سرچینې قضیې په وخت او مناسبه بڼه حلوي، او یواځې 46% بیا ویلي چې له حکومتي محکمې سره یو شان حالت لري. همداشان د حکومتي قضایي سیستم او سیمه ایزو غیر رسمي سیستمونو په تړاو ډاډ توپیر لري، چې په غیر رسمي سیستمونو کې لوړ ښودل شویدی، لکه په 3.29 شکل کې چې ښودل شویدي.[389]

## د پروژې لنډیز

متحده ایالاتو د بیلابیلو میکانیزمونو له لارې د رسمي او غیررسمي قضایي سیستمونو لپاره مرستې چمتو کړیدي. په دې کې د USAID/د قانون د حاکمیت ثبات چې رسمي او غیر رسمي برخې لري (RLS-F and RLS-I) شاملې دي. همداشان د USAID/د افغانستان د فساد ضد ادارو د پروګرام مرسته، (4As) او د بهرنیو چارو وزارت د قضایي روزنې انتقالي پروګرام (JTTP) پکې شامل دي. دا او د فساد ضد او د قانون د حاکمیت نور پروګرامونه د 3.18 جدول کې په راتلونکې مخ کې واضح شویدي.

RLS-F رسمي قضایي سکتور ته مرستې چمتو کوي تر څو قضا ته لاسرسی، د قانوني زده کړو د سیستم د ظرفیت لوړول، په ولسوالیو ، ولایتو او ملي کچې د شفافیت او حساب ورکونې پیاوړتیا پراخه شي. USAID راپور ورکوي چې RLS-F د قاضیانو او قضایي کارکونکو ظرفیت د هراړخیزو قانوني روزنو د چمتو کولو له لارې لوړوي. په RLS-F کې د نویو قاضیانو لپاره د سترې محکمې رسمي روزنیز پروګرام شامل دی چې 81% افغان

جدول 3.18

**د USAID د فساد ضد او د قانون د حاکمیت پروګرامونه**

| د پروژې عنوان | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولیز اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2013 پورې د لګښتونو مجموعه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د قانون د حاکمیت ثبات — رسمي اجزا | 7/16/2012 | 2/15/2014 | 18,900,000 | 13,809,331 |
| د قانون د حاکمیت ثبات — غیر رسمي اجزا | 7/16/2012 | 3/13/2014 | 15,651,679 | 12,973,595 |
| د افغانستان د فساد سره د مبارزې د پیاوړتیا لپاره د مرستې پروګرام (4As) | 10/1/2010 | 11/15/2013 | 9,400,000 | 8,338,049 |
| له فساد سره په زغرده مبارزه | 7/4/2012 | 7/5/2014 | 997,000 | 435,935 |
| د GAPS د فساد ضد مرستې | 6/7/2012 | 6/6/2014 | 992,379 | 555,000 |

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتي غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

قاضیانو بشپړ کړیدی. RLS-F همداشان د عامه ساحوي لیدونو هڅې په لاره واچولې چې ورسره افغانان له خپلو حقونو او مسولیتونو خبرکړي او د قضایي پروسو او قانوني حقونو څخه مدني پوهاوی پراخ کړي.[390]

RLS-I له دودیز قضایي سیستم سره مرسته کوي څو د چمتوکیدونکو قضایي خدمتونو کیفیت لوړ کړي او د رسمي-دودیز قضایي سکتورونو په نښلولو کې مرسته وکړي. د USAID په وینا، RLS-I د افغانستان په سویل، ختیځ او شمال کې د 48 ولسوالیو د ټولنې مخورو ته د شخړو د حل مهارتونه وروښودل. د USAID په مرسته، 4,095 مشرانو ژمنه وکړه چې د بد په څیر له دودیزو قضایي کړنو به مخنیوی کوي، چې د شخړې د حل لپاره د ښځو راکړې ورکړې ته ویل کیږي، او د 38 مشرانو ښځو ډلې هم رامنځ ته شوې. USAID روښانه کړه چې RLS-I به په راتلونکې ربع کې د فعالیتونو یوه ځغلنده ارزونه په لاره واچوي، تر څو د پروژې پایلې ورته روښانه شي.[391]

JTTP د قضایي سکتور کارکونکو ته په سیمه ایزه کچه روزنې ورکوي، چې پولیسو، څارنوالانو، قاضیانو او مدافع وکیلانو ته د فساد ضد په شمول په ګڼو جنایي موضوعاتو په بیلابیلو برخو کې قضایي زده کړې ورکوي. JTTP همداراز په ځانګړیو مسلو او قضایي قضیو کې د قضایي سکتور مسولینو لکه څارنوالانو او قاضیانو ته څارنې سمبالوي. د حکومت په وینا، له JTTP روزنو څخه ګټه اخیستونکو لوړ ظرفیت او پوهه څرګنده کړیده او اغیزمنتیا یې ورسره ډیره شویده. همداشان حکومت څرګنده کړه چې دوی د افغان محاکمو د اداري د ارزولو په برخه کې لاسرسی نلري.[392]

په دې ربع کې، سیګار د افغان قضایي سکتور د ملاتړ په برخه کې د حکومت مفتش پروګرام روښانه کړ. له 2005 راهیسې، حکومت د افغانستان د قضایي سکتور د ودې په پروګرام لږ تر لږه 223 میلیون ډالر لګولي دي. لکه د نړیوالو مخدراتو او د قانون د تقویې د چارو (INL) له خوا د افغانستان د قضایي سکتور د کارکونکو روزنه. د قضایي سکتور د ملاتړ پروګرام (JSSP) له دې پروګرامونو څخه یو دی او اصلي برخې یې دا دي: د قضیو د مدیریت د یوه سیستم پراختیا او په افغان وزارتونو کې اداري ظرفیت جوړول. سیګار وموندله چې له PAE شرکت سره د JSSP له قرارداد څخه د INL مدیریت او څارنه

د دوی ورتیا محدوده کړه، څو د قراردادي اجرات وارزوي او د قضايي سکتور په وده کې د JSSP ونډه روښانه کړي. د سیګار د موندنو د لنډیز په اړه د دې راپور 2 برخه وګورئ.[393]

## ستره محکمه او رسمي قضايي سکتور

د افغانستان د اساسي قانون په بنسټ، د سترې محکمې قضايي غړي خپل کاري شرایط پرمخ بیايي. په تیر کې حکومت راپور ورکړ چې د سترې محکمې څلورو غړو د وخت له پوره کیدو سره بیا خپل کار ته دوام ورکړ، که څه هم په دې ربع کې دوو نویو غړیو په کار پیل وکړ.[394] د USAID په وینا، ستره محکمه په څرګنده توګه په قضايي سیستم کې د ښځو د ګډون د ملاتړ او د قضايي شفافیت او حساب ورکونې د زیاتیدو لپاره سیاسي اراده نلري.[395] حکومت په دې ربع کې درې قضايي پریکړې تر غور لاندې ونیولې څو د ښځو د قضايي مدافعې د تطبیق په برخه کې د ښځو زیاتیدونکې ونډه ثابته کړي:

- د کندز ولایت د 18 کلنې لعل بې قضیه چې د پولیسو یوې ډلې د پنځو ورځو لپاره اختطاف کړې وه او جنسي تیری یې ورباندې کړی وو. ابتدايي محکمې ټول څلور پولیسان په 16 کاله بند محکوم کړل. استیناف او سترې محکمې دا پریکړه تایید کړه.[396]
- د 14 کلنې، سحرګل د جبري ودولو قضیه کله چې هغې واده کول ونه منل، هغې کورنۍ چې دا پکې واده وه سخته شکنجه ورکړه او په زیرخانه کې یې واچوله. د دې قضیې د پروسیژر تاریخچه روښانه نده، خو د اپیل په پروسه کې، محکمې شکنجه کونکې آزاد کړل. سترې محکمې له دې حالت څخه خپله غصه وښوده او په دې وروستیو کې یې خسر او خواښې په پنځو کلونو بند محکوم کړل. ندرور ته یې براءت ورکړ شو، خو محکمې وویل چې د هغه خاوند چې دغه جبري واده یې کړی او د خاوند ورور باید تعقیب شي. بالاخره، محکمې روښانه کړه چې د واده فسخ کول او اوښتې نقصانونه باید په ملکي محکمه کې واوریدل شي. د سحرګل قضیه لومړۍ هغه ده چې په افغانستان کې د کورنیو شخړو د یوې قرباني له خوا د هغې د ربړونکو په وړاندې د مدني غبرګون غړ پورته کوي.[397]
- د هغو څلورو کسانو قضیه چې د جوزجان ولایت ولایتي استازې ظریفې د جنسي تیري او وژنې په هڅې تورن دي. په ابتدايي محکمې کې هر یو په 14 کاله بند محکوم کړای شو. د استیناف محکمې د 396 جزايي قانون په رڼا کې او د EVAW د 17 مادې پر بنسټ هر یو په 18 کاله بند محکوم کړ. دغه پریکړه د سترې محکمې له خوا تایید شوه، له دې سره روښانه شوه چې محکمې د EVAW قانون پلې کوي او ګټه ترې پورته کوي، که څه هم نامتوازنه وي.[398]

## د افغانستان تادیبي سیستم

د افغانستان په زندانونو کې چې د محبسونو او توقیف ځایونو د عمومي ریاست له خوا اداره کیږي (GDPDC) د زندانیانو شمیر له تیرو پنځو کلونو راهیسې هر کال 16.4% زیاتیږي چې د حکومت په وینا د ګنې ګوڼې سبب شویدی. د 2013 کال د اکتوبر تر 20، چې دا د معلوماتو د لاس ته راوړنې ورستنی تاریخ وو، GDPDC، 29,140 کسان په بند کې لري. د عدلیې وزارت د تنکیو ځوانانو د بیارغونې ریاست (JRD)، 1,209 تنکي ځوانان په بند کې لري. په دې شمیرې کې هغه بندیان شامل ندي چې د افغان حکومت نورو ادارو

له خوا توقیف شویدي لکه څنګه چې د نړیوالو مخدراتو او د قانون د پیاوړتیا د چارو اداره (INL) له نورو ادارو څخه معلوماتو ته لاسرسی نلري.[399]

ګڼه ګوڼه یوه اوږدمهاله، دوامداره او پراخه ستونزه ده چې د GDPDC په مرکزونو کې تر سترګو کیږي. د 2013 د اکتوبر تر 20، د ولایتي زندانونو د نارینه زندانیانو ټولیز شمیر د ظرفیت 282% وو، هغه څه چې د سره صلیب د نړیوالې کمیټې (ICRC) له خوا وړاندې شویدی د هر بندي لپاره 3.4 متر مربع ځای باید موجود وي. د ولایتي زندانونو د ښځینه زندانیانو ټولیز شمیر د ICRC له ظرفیت څخه 137% سلنه لوړ وو. د هرات له ولایتي زندان څخه اسناد د GDPDC په مرکزونو کې د ګڼې ګوڼې شدت روښانوي: په 2011 کې د ICRC د ارزونې پربنسټ، د هرات د زندان ظرفیت د 491 کسانو لپاره دی، خو د 2013 د اکتوبر د اسنادو مطابق هلته تر 3,100 ډیر کسان زندانیان دي. د GDPDC تر ادارې لاندې د ولسوالیو د زندانونو او د JRD یا د تنکیو ځوانانو د بیارغونې د مرکزونو په اړه معلومات په لاس کې نشته. په داسې حال کې چې د INL د سلاکارانو د یوې کتنې په پایله کې روښانه شوه چې ګڼه ګوڼه په ډیری ولایتونو کې یوه دوامداره ستونزه ده.[400]

د حکومت په وینا، INL مالي او کاري منابع په اختیار کې لري تر څو په ټول افغانستان کې له خپلو قراردادونو، مرستو او بیارغونیزو پروژو څارنه وکړي. حکومت مني چې د امنیتي ستونزو موجودیت ډیری وخت INL ته دا ستونزمنه کوي چې ساحې ته ورشي. له همدې کبله حکومت وایي چې INL د احتمالي پیښو په اړه پلان ته پراختیا ورکوي او ساحو ته د لاسرسي ارزښت سنجوي تر څو په راتلونکې کې ورته پریکړې په پام کې ونیسي. د بیلګې په توګه INL د بیطرفه قراردادیانو د ارزښت په اړه څیړنه کوي چې له هغو زیربنایي پروژو مستقیم نظارت وکړي چې د INL د امریکایي او افغان کارکونکو په واسطه تر سره شي.[401]

## د فساد ضد

په دې ربع کې د افغانستان د فساد ضد مبارزې د پام وړ اغیز نه درلود. حکومت پر لوړ پوړو چارواکو د فساد د کوم تور له ثبتیدو څخه معلومات نلري او د هغو دوسیو په اړه چې د څنډ په حالت کې د تبصره کولو وړتیا هم نلري. افغان حکومت د فساد په تور د ټیټ پوړو کارکونکو تعقیب ته دوام ورکوي، خو عدلي تعقیب له ټیټ رتبه مدیرانو ورهاخوا په هیڅ‌ا هم ندی عملي شوی.[402]

ټرانسپرنیسي انټرنیشل په دې ربع کې د فساد د موندلو د شاخص په اړه خپل وروستي تازه مسایل خپاره کړل چې افغانستان له شمالي کوریا او سومالیا سره د لست په ورستۍ برخې کې وو. د افغانستان نمرې د هغو دري معلوماتي سرچینو پربنسټ ولاړې وې چې د فساد د موندنې له مهارتونو سره تړاو لري: د برتلسمن د بنسټ د 2014 کال د تحول شاخص، د نړیوال بانک د 2012 هیوادنۍ پالیسي او بنسټیزه ارزونه، او د 2013 د هیوادونو د خطر د کچې نړیوالې پلټنې.[403]

د اسیا فونډیشن په وینا د افغانستان د خلکو سروې 84% خلکو ویلي دي چې فساد د دوی په ژوند کې په لویه یا ټیټه کچه ستونزې رامنځ ته کړیدي، چې له تیر کال څخه 3 سلنه کمښت په ګوته کوي. د هغو ځواب ورکونکو په وینا چې دولتي مسولینو ته د کار یا د کمک تر سره کولو لپاره نغدې پیسې یا تحفې ورکړیدي، تر ټولو پراخه ښکیله ساحه د عامه روغتیایي خدمتونو تر لاسه کول بلل شویدي (38%)، همداشان په کار ګمارلو

### د سیګار څارنې

په دې ربع کې سیګار خپلې پلټنې د کابل په خنیځ کې د څرخي پله له ولایتي زندان او د بغلان له ولایتي زندان څخه پیل کړې. په دې پلټنې کې به د دې څارنه وشي چې آیا د آسانتیاو رغونه د قرارداد له شرایطو او رغونیزو معیارونو سره سمه سرته رسیدلې ده او که نه، او آیا دا آسانتیاوې په هغه موخه چې رغول شویدي کارول کیږي او ساتنه یې کیږي که نه.

کې (31%)، د محاکمو او قضا سره راکړه ورکړه کې (33%)، د رسمي اسناد په ترلاسه کولو کې (28%)، له افغان ملي پولیسو سره په راکړه ورکړه کې (31%)، او له افغان ملي اردو سره په تړلو مسلو کې (21%).[404] خلکو ځوابونه ورکړیدي.

په دې ربع کې، د لوګر د مرکز پل علم ښاروال په فساد او د پیسو په اختلاس تورن وبلل شو. د MEC د یوه مسول له قوله ویل شویدي چې دې ښاروال په غیرقانوني توګه کارکونکي ګمارلي یا له دندې ګوښه کړیدي، په غیرقانوني توګه یې ځمکې غصب کړیدي، جعل کاري، لویې غلاګانې یې کړې او رشوت یې اخیستی دی. د MEC مسولینو د راپورونو له مخې یوه څیړنه په لاره اچولې چې پکې موندل شویدي چې په اسنادو کې جعل کاري شویده او په دې ترتیب د ښاروالۍ له عواید په لسګونو میلیونه افغانۍ اختلاس شویدی. MEC د راپورونو له مخې څو میاشتې مخکې د قانوني اقدام سپارښتنه کړې وه خو مرکزي دولت ځواب نه وو ورکړی.[405]

## د افغانستان د لویې څارنوالۍ اداره

د لویې څارنوالۍ د ادارې (AGO) په تخنیکي ظرفیت یا موثریت کې د پام وړ بدلون ندی راغلی.[406] د AGO د فساد ضد واحد (ACU) کې د INL او عدلیې وزارت (DOJ) ښکیلتیا د ACU د لیوالتیا د کمښت له کبله راټیټه شویده. سره له دې چې ACU د فساد د وړو قضیو د تعقیب ظرفیت ښودلی دی، خو د فساد د لویو کچو په وړاندې لاهم اغیزمن ندی. د حکومت INL دا کار تقریباً په ټوله کې د ارادې د نه موجودیت له کبله ګڼي.[407]

AGO د کابل بانک د شتمنیو په بیاراګرځولو کې لږه پرمختیا کړیده. د حکومت په وینا، AGO د ګډې قانوني مرستې په کتو غوښتنو سترګې پټې کړیدي، خو ټول د راپورونو له مخې د نړیوالو مشاورینو له خوا چمتو شویدي، چې د هغو تعقیب هم په محدودو حالاتو کې لیدل شویدی. په همدې حال کې، AGO تر اوسه د شتمنیو د بیاراګرځولو لپاره داسې څارنوال ندی ګمارلی چې ټول وخت په دې کار تمرکز ولري.[408]

د لویو جرمونو کاري ځواک (MCTF) د AGO د کورني کنترول او څارنې یوه څیړنیزه څانګه ده. د 2013 په فبروري کې، د تحقیقاتو د فدرالي ادارې د سلاکارانو دنده په MCTF کې پای ته ورسیده او پر ځای یې د ګډ بین الاداره اي متحد ځواک-افغانستان (CJIATF-A) کارکونکو کار پیل کړ.[409] د CJATF-A د سلاکارانو له خولې راپورونه وایي چې د MCTF څیړونکې د فساد د مهمو قضیو په پلټلو کې تر اوسه هم لیواله دي. د MCTF مشر د 2013 د دسمبر په 25 لرې شو. د هغه پر ځای یو مسلکي پولیس افسر چې لس کاله تجربه لري، په کار پیل وکړ چې په کابل کې یې د بیلابیلو پلټونکو ادارو مشري کړیده. د هغه ګمارلو ته د یوه مثبت ګام په سترګه کتل کیږي. MCTF د AGO د نه همکارۍ له کبله تر اوسه هم ډیر اغیز نلري.[410]

## د فساد ضد څارنې او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه

سره له دې چې د فساد اړوند ځینو سختو پوښتنو ته د ځواب په برخه کې سیاسي اراده څرګندیږي، MEC د حکومت د ارزونې پر بنسټ د دې صلاحیت نلري چې د فاسدو او ضعیفو کړنو د روښانولو برسیره نور څه وکړي.[411]

MEC سپارښتنه وکړه چې په دې ربع کې دې د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره (AISA) تر خپلواکې پلټنې لاندې ونیول شي ځکه چې د حساب ورکونې په برخه کې

ستونزې لري او قانوني وضعیت یې هم ناڅرګند بلل شویدی. AISA په دې موخه کار کوي چې د خصوصي سکتور له پراختیا ملاتړ وکړي او ادعا کوي چې هم یوه افغانه دولتي اداره ده او هم د یو محدودې موسسې ورتیاوې لري. د MEC په وینا، له AISA څخه یواځې په 2005 کال کې پلټنه وشوه، چې ګټې مالي او حسابي نیمګرتیاوې پکې روښانه شوې. MEC همداشان اندیښنه لري چې AISA ته په ناسمه توګه د صنعتي پارکونو د پراختیا مسولیت ورکړل شوی وو ( تر دې مخکې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت دا مسولیت درلود). [412]

## د تفتیش ملي اداره

د USAID په وینا په روان سیاسي چاپیریال کې د تفتیش لپاره سیاسي اراده مخ په کمیدو ده. سره له دې هم، کیدای شي حالات لکه څنګه چې د ولسمشرۍ کاندیدان د فساد ضد مبارزې په برخه کې فصیحه ژبه کاروي، بدلون ومومي.[413]

د 1392 د تقتیش د قانون په رڼا کې، د تفتیش ملي اداره (SAO) د افغان حکومت د تفتیش لپاره مسوله اداره منل شویده. د USAID په وینا، دا اداره د غوښتنو په وړاندې په معقوله توګه ځواب ورکوي او د تفتیش په برخه کې حد اقل معیارات پوره کوي.[414]

SAO د ARTF د مشوق پروګرام (IP) د یوې برخې په توګه د تفتیش د معیاري بنسټ (محک) په حیث مسوله ګڼل کیږي. د IP موخه د اصلاحاتو د یوه پروګرام په رڼا کې د افغان حکومت ملاتړ دی چې ورسره به مالي پایښت پیاوړتیا ومومي او دا کار به د کورنیو عوایدو د سمبالښت د پراختیا او د مصارفو د مدیریت د غښتلتیا له لارې لاس ته راشي.[415] د USAID په وینا، نړیوال بانک د 2013 په نومبر کې د 1391 کال د بودیجې د مصارفو په برخه کې د 27.5% لپاره تفتیش تر لاسه کړ.[416] د تفتیش محک کال په کال لوړیږي چې 1391 کال کې یواځې یو تفتیش چې د ټولو مصارفو 5% یې تر پوښښ لاندې راوست تر سره شو، چې په 1392 کې 20% او په 1393 کې 25% ته لوړ شو.[417] د USAID په وینا، د IP د 1391 او 1392 معیارونه دواړه مخ په وړاندې روان دي.[418]

د SAO په وینا، د دوی وروستي تفتیش څلور وزارتونه (معارف، عامه روغتیا، عامه فواید، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو) تر پوښښ لاندې راوستل، چې په ټولیزه توګه یې د 1391 کال د اصلي پراختیایي او عملیاتي بودیجې 27% وړاندې کړه. SAO وایي چې ساحوي کار په نمونوي موقعیتونو کې هم د وزارت په مرکزي دفترونو او هم په ولایتي ریاستونو کې تر سره شو. SAO وموندله چې:

- وزارتونو هم په مرکز او هم ولایتونو کې په بشپړه توګه د عامه مالیي او مصارفو د مدیریت له قانون څخه، د عوایدو د مالیې له قانون څخه، د تدارکاتو له قانون څخه، او همداشان له نورو بودیجوي ادارو څخه پیروي نده کړې، څو له دې لارې د پیسو تادیه، د مصارفو مدیریت، د اجناسو او خدماتو تدارکات او د پرمختیایي پروژو اجرات پرمخ بوځي.
- دې وزارتونو د قراردادونو په اجراتو کې کمزوری کنترول درلودلی دی.
- د څلورو وزارتونو پراختیایي بودیجه په ډیره ټیټه کچه اجرا شوې وه.
- د عامې روغتیا د 1391 کال ډیری انکشافي بودیجه (67.9%) غیر دولتي موسسو ته لیږدول شویده او دې وزارت یواځې 32.1% نیغ په نیغه د خپلو ادارو له لارې مصرف کړیده.

- د لګښتونو ډېرى برخه د "په بل ځای کې تنظیم شوې نده" تر عنوان لاندې ثبت شویده چې د لګښت معقول موارد پکې نه ځرګندیږي.

SAO سپارښتنه وکړه چې دا وزارتونه دې د خپل کنترول او څارنې سیستمونه پیاوړې کړي تر څو د مربوطه اصولو، قوانینو او تړونونو له شرایطو سره اړخ ولګوي او له بودیجوي ادارو سره د مالیاتو د لګښت د معقول مدیریت په برخه کې، د تدارکاتو او قراردادونو د مدیریت په برخه کې، او د پراختیایي بودیجوي پروژو د اجراتو سره په مطابقت کې کار وکړي.[419]

## د فساد ضد او نظارت عالي اداره

حکومت او USAID په تیرې ربع کې راپور ورکړ چې د فساد ضد او نظارت عالي اداره (HOO) کارنده نده، اغیز نلري او سیاسي شویده.[420] د USAID د راپور له مخې HOO د خپلو پروګرامونو او احکامو پرمخ بیولو ته پوره اداري او تخنیکي ظرفیت په واک کې لري.[421] د USAID په وینا، سره له دې هم HOO د حکومت په لوړو پوړونو کې د فساد ضد مبارزه کې د سیاسي ارادې او د اهدافو د جدیت له نه موجودیت سره مخ ده. په ځانګړې توګه هله چې پیاوړې سیاسي څېرې پکې ښکیلې وبلل شي. HOO د فساد په لوړو کچو مسایلو کې د مخامخیدو په وخت کې لږ اغیز لري، خو برسیره پردې څینې وخت د ټیټې کچې فساد ته پاملرنه کوي. په پایله کې د USAID د ارزونې له مخې HOO لږې مثبتې اغیزې لري.[422]

د USAID په وینا، 1,150 افغان چارواکو منلي ده چې د شتمنیو د ثبت فورمونه بشپړکړي، سره له دې چې د نظارت عالي اداره (HOO) ادعا کوي چې دغه شمیره د 2,500 او 5,000 تر منځ ده. HOO وایي چې له 7,000 مسولینو غوښتل شویدي چې د شتمنیو د ثبت فورمونه بشپړ کړي. که داسې وي، لږ تر لږه 35% او نهایي 70% ورته غاړه ایښې ده. USAID مني چې د HOO د شمیرو د خپلواک تایید لپاره اوس کومه لار نشته او یادونه کوي چې سره له دې چې له مسولینو غوښتل شویدي چې په کلنۍ توګه خپلې شتمنې په ډاګه کړي، خو ډېرى هغو کسانو چې دې کارته غاړه ایښې، له 2010 کال تر اوسه یې یواځې یو ځل خپله شتمنۍ په ډاګه کړیده.[423]

## په افغان امنیتي ځواکونو کې فساد

د DOD په وینا، د امنیتي لیږد ګډې قوماندانۍ-افغانستان (CSTC-A) د لومړي ځل لپاره د "مالي رافعې ستراتیژي" اعلان کړه چې موخه یې MOD او MOI ته مستقیمې مالي ونډې وې چې د افغانستان د حکومت د کړنو بدلون ته د یوې وسیلې په توګه کار وکړي. CSTC-A به هله پروسه پیل کړي چې له مربوطه وزارت سره د تفتیش او ارزونو موندنې شریکې شي. په 30 ورځ، به د CSTC-A عمومي قوماندان یا د عمومي قوماندان مرستیال به د تفتیش د سپارښتنې غوښتنلیکونه له ټولو پرانیستو او تړلو سپارښتنو سره MOD او MOI ته ورکړي. که چیرته مسله په 45 ورځو کې د بیاکتونکې شورا له خوا حل نشي، CSTC-A به د اغیزمن شویو مرستو د 50% لګول وځنډوي او یا به د احکامو پر بنسټ تر دې هم جدي عمل ورسره وکړي. په 60 روځ، به CSTC-A د تفتیش د سپارښتنو د وضعیت د ځرګندولو لپاره تعقیبي اقدامات په لاره واچوي. بالاخره، به په 61 ورځ،

# حکومتداري

CSTC-A په ژمنلیک کې د مرستې کچه راټیټه کړي او یا په اغیزمن شویو مرستو کې لګښتونه وځنډوي.[424]

د رافعې د ستراتیژۍ موخه د وزارتونو په کچه د کړنو د بدلون لټول دي. په پروسه کې لومړنی پلی شوی تفتیش د 2013 د دسمبر په 23 نیټه 46/45 ورځې ته ورسید.[425]

### د دفاع وزارت

د DOD په وینا، د MOD د شفافیت او حساب ورکونې کاري ګروپ (TAWG) د افغانانو تر مشرۍ لاندې لومړیتوب دی چې د افغان ولسمشر له خوا د دې لپاره رامنځ ته شو چې (1) د فساد او سازمان شویو جنایاتو د ستونزو په اړه عامه پوهیدنه پراخه کړي او دوام ورکړي، (2) د فساد او سازمان شویو جنایاتو د کمولو په برخه کې موانع په ګوته کړي، او (3) دې موانعو ته د افغانستان د حکومت د وزارتونو او نړیوالې ټولنې د همغږۍ له لارې حل لارې وړاندې کړي. د MOD عمومي مفتش د وروستي ځل لپاره د 2012 په اکتوبر کې د ISAF قوماندان، د CSTC-A قوماندان او د ISAF نورو مشرانو ته د TAWG په اړه لنډیز ورکړ، خو تر اوسه په دې اړه کوم تازه خبر ندی په ډاګه شوی.

د شفافیت او حساب ورکونې کمیټې (TACs) د 2013 په نیمایي کې په ټولو مرکزي واحدونو او قطعاتو کې د دې لپاره رامنځ ته شو چې په قطعاتو کې له قراردادونو، تدارکاتو او د بودیجې له لګولو نظارت وکړي. د هر TAC مشري د قطعې د قوماندان د مرستیال له خوا پرمخ بیول کیږي او د قطعي عمومي مفتش، د کارکونکو مدافع قاضي، د قوماندې لوی مشر، او د مذهبي او کلتوري چارو مسولین به پکې شامل وي. د DOD په وینا، TACs کله او له همغږې اجندا او د راپور ورکولو له میکانیزم پرته خپل کارونه پرمخ بیولي دي.

د DOD د TAWG او TACs کارونه ډیر کم اغیزمن بولي، او علت یې د مسیر نه درلودل او د MOD د عمومي مفتش د تفتیش او څارنې د برخې په پراختیا کې ناکامي بولي.[426]

### د کورنیو چارو وزارت

د DOD په وینا، د MOI په چوکاټ کې د فساد ضد بیلابیل لومړیتوبونه شتون لري. MOI اوسمهال د قضیې له پیل څخه تر توضیح پورې د تحقیقاتو د ترسره کولو په برخه کې د وړتیا له کمښت سره مخ دی، او د هغو تحقیقاتو په تعقیب کې چې د نړیوالو ملګرو د څواب د همغږي کولو سبب شي له محدودیتونو سره مخ دی. DOD د MOI د فساد ضد د بیلابیلو اداراتو د ارزونې غوښتنه وکړه چې عمومي اغیزه یې ډیره لږه لاس ته راغله. بیلابیلې کمیټې او کاري ګروپونه تر اوسه رامنځ ته شویدي خو لا یې سره کتلي ندي. DOD دوه بریالیتوبونه څرګند کړل چې په افغانستان کې د اروپایي پولیسو ماموریت په دسمبر کې د فساد ضدعملیات په لاره واچول او له مخې یې څو کسان توقیف شول. برسیره پر دې، هغه کمیټه چې د MOI دننه یې د زیان منونکو ساحو د پیژندلو دنده درلوده په دې وروستیو کې د MOI په ځینو څانګو کې د ستونزو یادونه وکړه لکه ترافیک، تذکره او پاسپورت چې د نورو پلټونو لپاره یې لار هواره کړه.[427]

د 2013 په اوکتوبر کې، MOI د عمومي پلټونکې په دنده د تورن جنرال مسعود راغب په ځای ډګر جنرال حکیم نجرابي وګماره. DOD دې بدلون ته د سمونونو په لور د پوهې او رفتار په برخه کې د یوه پرمختګ په سترګه ګوري.

د 2013 په جولای کې، د افغانستان د وزیرانو شورا د داخلي انظباط مقرره لاسلیک کړه چې د MOI به MOD په څیر نظامي قضایي سیستم ولري. DOD په دې باور دی چې د انظباط نوی سیستم یو په شاتګ دی، او له دې سره به MOI په هغه څه متکي شي چې د جنايي تعقیب په برخه کې د لویې څارنوالۍ یوه بې اعتماده اداره ده. له دې سره به MOI په اداري لحاظ د ناوړو عاملینو په لرې کولو کې له مشهورو قضیو پرته ناتوانه وي. له دې سره به د کورنیو چارو وزیر د عملیاتي کړنو په برخه کې له محدودیتونو سره مخ شي، لکه د افسرانو لرې کول یا تبدیلول، چې لږ وخت وروسته بیا بیرته مقررېږي.[428]

## بشري حقونه

### د جنسیت مساوات

په دسمبر کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستې ماموریت (UNAMA) په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ورکولو د قانون (EVAW) د پرمختګ په اړه راپور خپور کړ. په راپور کې هم پرمختګونه او هم دوامداره خنډونه د EVAW د پلي کولو په برخه کې د قانون د پلي کونکو او قضايي بنسټو له خوا لیدل کیږي. لیدل کیږي چې سره له دې چې د پیښو په ثبتولو کې 28% زیاتوالی راغلی دی، د یوې سرچینې په توګه د تورونه په برخه کې د EVAW قانون کاریدل 2% زیات شویدی. د UNAMA په وینا، افغان محاکمو سږکال د EVAW قانون په 60 پریکړو کې وکاراوه (چې د 109 ثبت شویو تورونو 55% جوړوي) په داسې حال کې چې تیرکال 52 پریکړې (د ثبت شویو تورونو 72%) د دې قانون پربنسټ سرته رسیدلې وې. دا په محاکمو کې د EVAW د قانون په کارولو کې په دې رواني دورې کې 17 سلنه کموالی په ګوته کوي. اندیښنه دا ده چې، د څارنوالانو له خوا د ښځو په وړاندې د ثبت شویو جنایي تورونو قضیې په دې کال کې د ټولو حاکمه قوانینو په برخه کې کمې شویدي، سره له دې چې د پیښو ثبت او راپور لوړ شویدی. UNAMA موندلې ده چې د پولیسو او څارنوالانو له خوا د پیښو د ثبت او راپور زیاتوالی د EVAW د قانون د زیاتې کاریدنې لامل شوی ندی



**د افغانستان د ملي اردو** سرتیرو ارغواني پټې وهلي څو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړلو څخه ملاتړ ښکاره کړي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور)

تر څو د قضیو د حل په برخه کې څارنوالان ورځخه کار واخلي په ځانګړې توګه د جنايي تعقیب په برخه کې.[429]

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا په اړه یو راپور خپور کړ چې ورسره معلومه شوه چې د ښځو اقتصادي ښکیلتیا د حرفوي زده کړو او وړو کارونو په برخه کې عموماً د مرسته کونکو له خوا ځارل کیږي خو تر اوسه یې د بازار په برخه کې ځانګړې لار نده موندلې، همداشان یې د عوایدو د پیاوړتیا په برخه کې خورا کمې لاس ته راوړنې درلودې. برسیره پر دې، راپور موندلې چې په 2011 کې، د هغو ښځینه کارګرو د ګڼون کچه چې تر 15 کلونو زیات عمر لري 15.8% ښودل شویده.[430]

د آسیا فونډیشن د 2013 د افغانستان د خلکو سروې، موندلې چې د افغانستان مطلق اکثریت (90%) له دې سره موافق دي چې د قانون پر بنسټ دې ښځینه او نارینه مساوي حقونه ولري، په دې کې 59% خلکو په کلکه موافقه ښودلې ده. په دې سوال کې همداشان د ښار او کلي ترمنځ د پام وړ توپیر موجود دی: د ښارونو ځواب ورکونکو کې 71% په کلکه موافقه ښودلې ده، په داسې حال کې چې په کلیو کې 56% ځواب ورکونکې په کلکه موافق دي چې ښځې او نارینه دې د قانون پر بنسټ مساوي حقونه ولري. هغه مهال چې د ښځو تر ټولو لوړې ستونزې وپوښتل شوې د ښځو د حقونو د دوی په ذهن کې لوړ ځای درلود. د ښځو په وړاندې د دریو سترو ستونزو لپاره ځوابونه پوهه/بې سوادي (27%)، د کاري فرصتونو نشتوالی (12%) او په ټوله کې د ښځو د حقونو قضیې (10%) وبلل شوې.[431]

## کډوال او کورني بیځایه شوي کسان

د حکومت په وینا، د 2013 د نومبر تر30، د افغان کډوالو په راستنیدو کې د 2012 له همدې مودې څخه 54% کموالی راغلی دی. حکومت په 2013 کال کې د کډوالو په راستنیدو کې د کمښت علت په افغانستان کې مبهم امنیتي حالت بولي، همداشان د 2014 کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو نامعلومې پایلې او په پاکستان کې د افغان کډوالو د ثبت د کارتونو د اعتبار موده غځول یې هم په لاملونو کې شمیرل کیږي.[432]

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنر (UNHCR) په وینا له تاوتریخوالو سره د تړلو عواملو له کبله د کورنیو بې ځایه شویو کسانو (IDP) په شمیره کې 34,377 تنه زیاتوالی راغلی دی. په داسې حال کې چې د سیګار د تیرې ربع په راپور کې له تاوتریخوالو سره د تړلو ثبت شویو IDPs شمیره 624,561 ښودل شوې وه.[433] UNHCR څرګنده کړه چې سره له دې چې د IDPs رسمي شمیرې په لویه کچه کمې ښودل کیږي تر څو په افغانستان کې د بې ځایه کیدو ستونزه وړه ښکاره شي، په دې کې په ښاري او نیمه ښاري سیمو کې بیځایه شوي کسان، او همداشان په کلیوالو سیمو کې هغه بیځایه شوی کسان شامل ندي چې د بشري حقونو فعالین ورته لاسرسی نلري.[434] 3.30 شکل د بیاراستنیدونکو کډوالو او د تاوتریخوالې له کبله د کورنیو بیځایه شویو کسانو حالت روښانوي.

د بشری حقونو څار په ایران کې د افغان کډوالو د حالت په اړه یو راپور خپور کړیدی. د دې راپور په وینا، افغانان په نړۍ کې د کډوالو تر ټولو لوی شمیر لري چې اکثره یې په پاکستان (1.7 میلیون) او ایران (1 میلیون) کې اوسیږي. په ایران کې تر نیمی افغان کډوالو په دې هیواد کې د اوسیدو موقتې فورمې تر لاسه کړیدي. په ایران کې د 1 میلیون ثبت شویو کډوالو برسیره له 1.4 تر 2 میلیونه داسې کډوال هم ژوند او کار کوي چې د کډوالو په توګه ثبت شوي ندي.[435] په ایران کې ډیری افغان کډوال په افغانستان کې تر موجودو

امکاناتو د ژوند له ښه کیفیت څخه ګټه اخلي.[436] سره له دې ګټو چې ایران پخوانیو افغان کډوالو ته چمتو کړیدي، راپور دې پایلې ته رسیږي چې لږتر لږه له 2007 کال وروسته، ایران خپل مسولیتونه په سمه توګه پرمخ ندي بیولي او نویو رسیدلو افغان پناه غوښتونکو ته یې امکانات ندي چمتو کړي او د ډیری افغانانو په حقونو یې په بیلابیلو کچو تیری کړیدی لکه په زور زیاتي د افغانانو توقیف او بندي کول.[437]

## د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

د حکومت په وینا، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) د بشري حقونو په تړاو نمونوي کارونه په سخت چاپیریال کې کار کوي، خو د افغان حکومت له لوري د AIHRC د کمیشنرانو ټاکنه د دې کمیسیون د خپلواکۍ محدودیت په ډاګه کړ او کیدای شي د اعتبار کچه یې ټیټه کړي.[438] د UN د بشري حقونو مسولینو تیره ربع خبرداری ورکړ چې کیدای شي AIHRC په نړیواله کچه خپل "A" موقف له لاسه ورکړي — چې د پاریس د اصولو په تعقیب به تر سره شي او د دې بنیاد د قانونیت او اعتماد غبرګون په ګوته کوي — لکه د همغږۍ د نړیوالې کمیټې (ICC) له خوا چې روښانه شوه، دا کار په تیرې ربع کې د ولسمشر کرزي له لوري د دې کمیسون د کمیشنرانو د ټاکنو له کبله رامنځ ته شویدی.[439] حکومت راپور ورکوي چې دا لا روښانه نده چې که د ICC له لوري له AIHRC څخه "A" درېځ واخیستل شي، له دې اداري به په نړیوال ملاتړ څومره اغیز وکړي.[440]

شکل 3.30

**د کډوالو ستنېدل او افغانستان کې شخړو ځپلي داخلي بې ځایه شوي** (په زرګونو کې)




یادونې: د 2003-2005 پر مهال، شمارې په یوه لړۍ کې تر ټولو لوړ اټکل وړاندې کوي. ND = په اړه یې معلومات نشته.

سرچینې: د بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا پوښتنې ته ځواب، 12/30/2013؛ یو این ایچ سي ار، "VOLREP او د پولې د نګرانۍ میاشتني تازه معلومات،" 4/2013؛ یو این ایچ سي ار، "د شخړو له امله داخلي بې ځایه کېدنې – میاشتني تازه معلومات،" 1/2013؛ د داخلي بې ځایه کېدنو د څار مرکز، "د شخړو او تاوتریخوالي له امله داخلي بې ځایه کېدنې،" په 1/2014 کتل شوي.

# اقتصادي منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 145 |
| اقتصادي نقشه | 146 |
| د غزول شوي اعتبار سهولت برابرول | 150 |
| د متحده ایالاتو د اقتصادي ملاتړ ستراتیژي | 150 |
| بانکداري او مالی چارې | 153 |
| د طبیعي زیرمو پراختیا | 158 |
| کـــــــــرنه | 164 |
| اساسي خدمات/پراختیا | 168 |
| د خصوصي سکتور پراختیا | 174 |
| ترانسپورتیشن | 175 |
| زده کړه | 176 |
| روغتیا | 178 |
| مخابرات | 182 |

# اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

د 2014 کال د جنوري تر 17 پورې، متحده ايالاتو په افغانستان کې د حکومتولۍ او اقتصادي پراختيا څخه د ملاتړ لپاره له 25 ميليارده ډالرو څخه زيات چمتو کړې دي. لکه څنګه چې په 3.19 جدول کې ښودل شوي دي د دې مرستو ډيره برخه د څلورو لويو پروګرامونو او بانکي حسابونو له لارې ورکړ شوې.

جدول 3.19

**د افغانستان د پرمختګ لپاره مجموعي تخصيصات، د 2014 کال د جنوري تر 17 پورې** (په ميليارد ډالرو)

| فنډ | مسؤله اداره | تخصيص شوي |
|---|---|---|
| ESF | USAID | $16.7 |
| CERP | DOD | $3.7 |
| TFBSO | DOD | $0.8 |
| AIF | DOD/STATE | $1.2 |
| **ټولټال** | | **$22.4** |

يادونې: ESF = د اقتصادي ملاتړ فنډ؛ CERP = د قوماندان د بيړنيو مرستو پروګرام؛ TFBSO = د سوداګرۍ او ثبات د عملياتونو لپاره وظيفوي ځواک؛ AIF = د افغانستان د زيربنا فنډ.

سرچينه: د دې راپور ب ضميمه وګورۍ.

د 22.4 ميلياره ډالرو له جملې څخه چې د دغو پروګرامونو لپاره تخصيص شوي و د 2013 کال د دسمبر تر 31 پورې نږدې 18.6 ميلياره ډالر يې مقيد شوي او 14.5 ميلياره ډالر يې مصرف شوي دي.

## مهمې پيښې

پدې ربع کې يو شمير داسې پرمختګونه شوي دي چې کولی شي په راتلونکی کال کې د افغانستان پر اقتصاد ژوره اغيزه ولري. د افغانستان ملي عايدات د افغان مالي کال (FY) په لومړی نهو مياشتو کې د تير کال همدغې دورې په مقايسې سره 7.4% کم شو او د ماليې وزارت (MOF) د خپل ټاکل شوي بوديجوي موخې څخه 12.2% وروسته پاتې شو.[441] ملي عايدات په 2012 مالي کال کې د افغانستان د عادي او انکشافي مصارفو يوازې 40% پوره کړ؛ او پاتې برخه يې د مرسته کونکو هيوادونو لخوا تامين شو.[442]

ولسي جرګې په همدې وخت کې د 1393 مالي کال ملي بوديجه هم تصويب کړه (د 2013 کال د دسمبر 21 - د 2014 کال د دسمبر 20). دا په مجموع کې 7.5 ميلياره ډالر وه، چې د 1392 مالي کال په نسبت 10.3% زياته ده.[443]

د راپور په دې دوره کې د افغان حکومت لخوا د موافقت لیک د مقداري او قانوني شرایطو د نه پوره کولو له امله د پیسو نړیوال صندق لخوا د غزول شوي اعتبار سهولت د برابرولو بیاکتنه او تادیه هم وځنډول شوه.[444]

په پای کې، افغان دولت نور کسان د کابل بانک د فساد په تور ونه نیول او هم یې پدې ربعه کې کومې پیسې بیرته تر لاسه نکړې.[445] علاوه پردې، دولت لا هم د کانونو نوی قانون ځنډوي چې دا په خپل وار سره د کانونو په سکتور کې پانګونه کموي.[446]

## اقتصادي نقشه

د افغانستان اقتصاد د 2002 او 2012 کلونو ترمنځ چې د نړیوال پوځي مصارفو او پراختیایي مرستو له لارې پیاوړی کیده، هر کال په اوسط ډول 9.4% وده کړې ده.[447] که څه هم د افغانستان داخلي مجموعي تولیدات (GDP) د ګنو ګاونډیو هیوادونو سره برابر یا هم زیات دي، خو بیاهم دا هیواد د سرانه (في نفر) GDP عاید په برخه کې وروسته پاته دی، لکه څنګه چې په 3.31 شکل کې ښودل شوې دي.

پهرصورت، داسې شواهد شته چې د هیواد GDP خپل منفي حرکت پیل کړې دی. د پیسو نړیوال صندوق (IMF)، نړیوال بانک، او د آسیا پراختیایي بانک (ADB) ټولو وړاندوینه کړې ده چې د افغانستان GDP د 2012 کال په پرتله چې 14% و په 2013 کال کې د پام وړ کموالی ښیي او 3–4% اټکل شوې ده. د GDP کموالی د سیاسي او امنیتي غیرثابت وضعیت او د کرهنې او خصوصي پانګه اچونې له ټیټې کچې سره ارتباط ورکړ شوي ده.[448] د 2014 کال څخه وروسته د نړیواله مرستې او مصارفو د متوقعه کمښت په پام کې نیولو سره نړیوال بانک وړاندوینه کړې چې د هیواد واقعي GDP به تر 2018 کاله پورې 4–6% ته راټیټ شي.[449]

شکل 3.31

**د جي ډي پي سیمه ییزې پرتلنې (2012)**




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. د 2012 ډاټا د 2012 په امریکایي ډالرو کې ده. PPP = د پلورلو د قوت معادله، د سړي سر پرتلنو یوه پیمانه. د PPP د بدلون په بیو جي ډي پي د هغو شیانو او خدماتو ارزښت دی چې په یو هیواد کې تولید شوي وي، په هغو قیمتونو چې په متحده ایالاتو کې رواج دي. په دې کې لازم دي چې ټولو شیانو او خدماتو ته امریکایي ډالر وټاکل شي ان تر دې که هغه په متحده ایالاتو کې مثال نه لري (لکه د غویي ګاډی). سړي سر جي ډي پي، PPP (په اوسني نړیوال ډالر کې). جي ډي پي اصلي لوړتیا (کلنی فیصدي).

سرچینې: نړیوال بانک، "د نړیوالې پرمختیا ښکاره کوونکي، د نړیوال بانک د ملي حساب ډاټا، او د OECD د ملي حسابونو د ډاټا دوسیې؛ او د نړیوالې پرتلنې د پروګرام ډاټابیس،" په 1/10/2014 وکتل شو؛ د پیسو نړیوال صندق، د نړۍ د اقتصادي شبیه ډاټابیس، اکتوبر 2013، وکتل شو په 1/10/2014.

**د GDP په رسمي ارقامو کې د کوکنارو عایدات ندي شمیرل شوي (په 2013 کال کې له 21 میلیارد ډالرو څخه زیات)، که څه هم په اقتصاد کې واضح رول لري. د کرنې په سیمه کې د کوکنارو بیه د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جرایمو دفتر (UNODC) لخوا د GDP، 4% اټکل شوی، او همدارنګه د کوکنارو د مشتقاتو لکه هیرویین او مورفین صادرات یې په 2013 کال کې د GDP (تقریبا 3 میلیارده ډالر)، 14% محاسبه کړې ده.**

سرچینه: UNODC، د افغانستان د کوکنارو سروې 2013، 12/2013، 10، 12 مخونه.

خدمات او د کرنې سکتور په واقعي GDP کې ډیره برخه لري. د نړیوال بانک په وینا د عامه مصارفو د زیاتیدو له امله په 2013 کال کې د خدماتو تقاضا زیاته شوه.[450] په‌هرصورت، ADB وایي چې د صنعت او خدماتو به برخه کې تقاضا مخ په کمیدو ده او دلیل یې هم دا دی چې سوداګر او پیرودونکي ډاډ من ندي چې آیا افغاني ځواکونه به د 2014 کال څخه وروسته چې امنیتي مسولیت په بشپړه توګه ورته سپارل کیږي امنیت ټینګ کړای شي.[451] د کوکنارو څخه پرته زراعتي کرنه د داخلي مجموعي تولیداتو (GDP ) دویم مهم عامل دی چې د څلورمې برخې څخه تر دریمې برخې پورې یې جوړوي، البته اندازه یې په مختلفو فصلونو کې فرق کوي.[452] په 2012 کال کې کافي اورښت د دې لامل شو چې د غنمو او غله جاتو حاصلات ریکارډ ماتونکی وي، خو په 2013 کال کې د اورښت متوسطه اندازه د نړیوال بانک د توقع په اساس "برابر یا لږ منفي" حاصل ورکړ.[453]

## مالي پایښت

د نړیوال بانک په وینا په 2013 کال کې د عامه مصارفو له زیاتیدو سره د افغان دولت عایدات کم شو.[454] تمه کیږي چې د بودیجې مصارف نور هم زیات شي چې ډیره برخه یې د امنیت، د خدماتو وړاندې کول، د اساسي زیربناو جوړول، او د کارونې او ساتنې مصارف دي.[455]

د افغان دولت د عایداتو او مصارف ترمنځ مالي خلا مخ په زیاتیدو ده. د امریکا د دفاع وزارت په وینا (DOD) د مالي پایښت نسبت یې —ملي عایدات تقسیم پر عملیاتي لګښتونه— لاهم په نړۍ کې یو له ټیټو نسبتونو څخه ده.[456] د نړیوال بانک یوه وروستی محاسبه ښیي چې د افغانستان د مالي پایښت نسبت د 2011 مالي کال په پرتله چې 66.5% و په 2012 مالي کال کې 60.1% ته راټیټ شوی دی. وړاندوینه شوې چې په 2013 کال کې 56.7% ته راټیټ شي.[457] د مالي پایښت ټیټ نسبت یو هیواد دې ته نه پریږدي چې اختیاري خدمات ترسره کړي، چې پدې سره به د افغانستان د خودکفایۍ بهیر له ځنډ سره مخ شي.[458] یاد بانک د افغانستان مالي منظر د معیار څخه ټیټ ارزوي او وایي چې کیدای شي د خودکفایۍ بهیر له ځنډ سره مخ کړي.[459]

## بودیجه

د افغانستان ولسي جرګې، د 2014 کال د جنوري په 15 نیټه د 1393 مالي کال (د 2013 کال د دسمبر21 - د 2014 کال د دسمبر 20) لپاره ملي بودیجه تصویب کړه. په دې بودیجه کې چې مجموعي شمیره یې 7.5 میلیارده ډالر —د 1392 مالي کال څخه 10.3% زیاته— وه، 4.9 میلیارده ډالر د عملیاتي بودیجې او 2.6 میلیارده ډالر یې د انکشافي بودیجې لپاره منل شوې ده.[460]

## د عایداتو تولید

افغان مالیه وزارت وړاندوینه کړې وه چې په 1392 مالي کال (د 2012 کال د دسمبر21 - د 2013 کال د دسمبر20) کې د ملي عایداتو کچه 2.4 میلیارد ډالرو (د 2013 کال په جنوري کې یو ډالر د 51.6 افغانیو په بیه اخیستل کیده) ته رسیږي، چې دا شمیر د 1391 مالي کال (د 2012 کال له مارچ څخه تر دسمبر پورې) په مقایسې سره 40% زیاته ده.[461] په‌هر صورت، د 1392 مالي کال په لومړی نهو میاشتو کې د مجموعي داخلي عایداتو کچه

د 1391 مالي کال همدغه وخت په مقايسې سره 7.4% کم شو، او د ماليې وزارت بوديجوي موخه يې 12.2% کمه کړه.[462] 3.32 شکل د 1388 مالي کال څخه تر 1392 مالي کاله پورې د افغانستان د عايداتو —چې عمدتا د ماليو او ګمرکاتو څخه لاسته راځی— او عملياتي لګښتونو ترمنځ خلاوې په ګوته کوي.

نړيوال بانک ويلې ده چې په 2012 مالي کال کې د افغانستان ملي عايداتو د عادې او انکشافي مصارفو يوازې 40% پوره کړه؛ او پاتې برخه يې د مرسته کونکو لخوا تامين شو.[463] ياد بانک د عايداتو د کمزورى وضعيت په دلايلو کې د کمزورى اقتصادي فعاليت، د وارداتو په جوړښت کې تغيرات، او اداري فساد ته په خاصه توګه د ګمرکاتو په برخه کې، اشاره وکړه. نوموړى بانک اندازه لګوي چې په 2013 کال کې به ملي عايدات د GDP شاوخوا 10.1% برخه جوړه کړي. د ټوکيو د حساب ورکونې دوه اړخيزه کاري چوکاټ له افغانستان څخه غواړي تر څو خپل ملي عايدات تر 2016 کاله پورې د داخلي مجموعي توليداتو 15% او تر 2025 کاله پورې 19% ته زيات کړي. ياد بانک خبرداری ورکړ چې

شکل 3.32

**د فعاليتي بوديجې په پرتله د افغانستان کورني عوايد** (په مليونونو ډالرو)




يادونې: تر دې وروستيو، د افغانستان مالي کلونه د جارجي کاليز د کلونو اندازتاً د مارچ د 20 مې څخه د مارچ تر 20 مې وي. مالي کال 1388 د شلم مارچ 2009 نه تر شلم مارچ 2010 سره سمون خوري، او داسې نور. مالي کال 1391 لپاره د نهمې مياشتې ډاټا د افغان مالي کال په وخت کې يو بدلون انعکاسوي. مالي کال 1392 لپاره د MOF تر ټولو تازه ډاټا د مالي کال 1392 (2013) د لومړنيو نهو مياشتو احاطه کوي.

سرچينې: MOF، ”د 1388 ملي بوديجه،“ وکتل شو په 7/2/13؛ MOF، ”د 1389 ملي بوديجه،“ وکتل شو په 7/2/13؛ MOF، ”د 1390 ملي بوديجه،“ وکتل شو په 7/2/13؛ MOF، ”د 1391 ملي بوديجه،“ وکتل شو په 7/2/13؛ MOF، ”مالي کال 1391 د ملي بوديجې پروسيجرونه،“ وکتل شو په 6/26/13؛ MOF، ”ملي بودجې طرزالعملونه مالي کال 1391،“ لاس رسی 6/26/2013؛ MOF، ”د 1392 ملي بوديجه،“ وکتل شو په 7/1/13؛ MOF، ”مياشتنی مالي خبرپاڼه، نهمه مياشت،“ 10/20/2013، وکتل شو په 1/10/2014؛ د افغانستان بانک، ”په افغانی د منتخبو اسعارو د بدلون ورځنی بيه،“ 10/20/2013، وکتل شو په 1/14/2014.

شکل 3.33

**د افغانستان لوړ ترين تجارتي شريکوال (2012)**




يادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. فيصدي له لوړترينو تجارتي شريکوالو سره واردات/صادرات څرګندوي څنګه چې ټولو هيوادونو سره د هرې کټګورۍ فيصدي ده.

سرچينه: اروپايي کميسيون، سوداګرۍ لپاره عمومي رياست، "اروپايي اتحاديه، افغانستان سره د سامانونو تجارت،" 7/11/2013.

د عايداتو روان کموالی به د هيواد اوږدمهاله مالي پايښت او همدارنګه د ټوکيو د حساب ورکونې دوه اړخيزه کاري چوکاټ د موخو په پوره کولو کې (چې نړيواله مرستې ورپورې تړلې دي) خنډونه پيدا کړي.[464]

## سوداګري

افغانستان د وچې سره احاطه شوی هيواد په توګه د خپل سوداګرۍ، ټرانزيټ، امنيت او ثبات لپاره تر ډېره حده پورې نورو هيوادونو ته اړتيا لري. لکه څنګه چې په 3.33 شکل کې ښودل شوي ده پاکستان د افغانستان تر ټولو ستر سوداګريز ملګری دی، چې ورپسې بيا متحده ايالات، اروپايي ټولنه، او ګاونډي هيوادونه شامل دي.[465]

نړيوال بانک په خپل يو وروستی تحليل کې ومونده چې د افغانستان سوداګريز خلا په 2012 کال کې زياته شوې او د GDP د 41.9% سره برابر دی. په 2012 کال کې د صادراتو مجموعي کچه 3% زياته شوه او 2.76 ميليارد ډالرو ته ورسيده او د وارداتو مجموعي کچه هم 11% زياته شوه او 11.4 ميليارد ډالرو ته ورسيد. دا خلا تر ډېره حده پورې د بهرنيو په مرسته ډکه شوه. نړيواله مرسته د 2012 کال په پای کې د افغانستان د تادياتو بيلانس او د نړيواله زيرمې په چوکاټ کې د 7.1 ميليارد ډالرو ريکارډ تامين کړ. يادې زيرمې د 2013 کال په جون کې 6.9 ميليارد ډالرو ته کمې شوې.[466]

**مجموعي صادرات:** په دې کې رسمي صادرات، د قاچاقي صادراتو اټکل، بيا صادرول، او غير تبعه کسانو ته خرڅول شامل دي.

سرچينه: نړيوال بانک، د افغانستان د اقتصاد تازه اخبار، 10/2013.

## د سوداګرۍ په نړيوال سازمان کې شامليدل

يو شرط چې د ټوکيو د حساب ورکونې دوه اړخيزه کاري چوکاټ په اساس افغانستان بايد ترسره کړي دا و چې د 2014 کال تر پايه پورې د سوداګرۍ د نړيوال سازمان (WTO)

غړيتوب لاسته راوړي.[467] پدې اړه متحده ايالات او افغانستان د 2013 کال په دسمبر کې خپل دوه اړخيزه مباحثې بشپړې کړي او ټاکل شوي وه چې د WTO کاري ډلې سره بل ملاقات د 2014 کال په فبروري کې ترسره شي، خو د 2014 کال د جنوري تر 14 پورې ياد ملاقات په مهال ويش کې ندی نيول شوی. افغانستان بايد اوس د WTO يو لړۍ قوانين او مقررات عملي کړي. متحده ايالات په دغه پړاوونو کې له افغانستان سره تخنيکي مرسته کوي.[468]

## د غزول شوي اعتبار سهولت برابرول

لکه څنګه چې د IMF د اداري او اجرايوي بورډ لخوا ټاکل شوي ده د ECF په چوکاټ کې د 129 ميليون ډالرو درې کلنه قرضه چې د 2011 کال په نومبر کې لاسليک شوې وه د پروګرام د بياکتنې له بشپړيدو څخه وروسته تاديه کيږي. IMF تراوسه پورې دوه ځله د 18.2 ميليون ډالرو قرضې تاديه کړي- لومړی ځل د ECF له منلو څخه وروسته، او بيا د 2012 کال په جون کې د بورډ له لومړی بياکتنې څخه وروسته. نه د IMF دويمه بياکتنه چې ټاکل شوې وه د 2012 کال په دسمبر کې ترسره شي، نه هم دريمه بياکتنه چې د 2013 کال په مارچ کې پلان شوې وه، هيڅ يوه بشپړه نه شوه.[469]

افغان دولت پدې ربعه کې يوځل بيا د بانک لرنې او مالي جوړښتونو په برخه کې کوم خاص پرمختګ ونکړ، کوم چې د ECF د يو نوی بياکتنې او اړوند قرضې لپاره د IMF لخوا شرط ټاکل شوی و. د خزانې په وينا افغان دولت د پيسو د غيرقانوني انتقال (CFT/AML) په ضد داسې کوم قانون پارلمان ته وړاندې نکړ چې د نړيوالو معيارونو سره سم وي، او نه هم د لوی اقتصاد هغه مقداري موخو ته ورسيد چې د ECF موافقې په اساس ورته ژمن و.[470]

علاوه پردې، افغانستان ونشو کولی پارلمان ته د اقتصادي او مالي قوانينو د سپارلو يا هم د ساختماني اصلاحاتو د عملي کولو په برخه کې کوم پرمختګ وکړي د مثال په ډول د افغانستان بانک (DAB)، د افغانستان د مالي انتقالاتو او د راپور د تحليل مرکز، او د قانون څخه ملاتړ کونکو افغاني ادارو ترمنځ د معلوماتو شريکولو په برخه کې د يو تفاهم ليک (MOU) امضا کول.[471]

د ECF موافقه نړيوالې ټولنې ته ډير اهميت لري ځکه چې دا د اړينو اصلاحاتو په راوستو کې د افغان دولت سياسي غوښتنه ښکاره کوي. د IMF د معيارونو منل او د لوی اقتصاد د شرايطو پوره کول د نړيوالو لخوا د افغانستان د بيارغونې خيريه صندق (ARTF) سره په مرسته کې هم ډير رول لري. په 1390 لمريز کال (د 2011 کال مارچ - د 2012 کال مارچ) کې نړيواله ټولنه د ARTF د 933 ميليون ډالرو څخه 85% يې بنده کړه تر څو چې IMF د 2011 کال په نومبر کې د افغانستان لپاره يوه نوې موافقه تصويب کړه.[472]

## د متحده ايالاتو د اقتصادي ملاتړ ستراتيژي

په افغانستان کې د متحده ايالاتو د اقتصادي ليږد ستراتيژي داده چې د 2014 کال له پای ته رسيدو سره د نړيوال سوله ساتي ځواکونو له وتلو او د بسپنه ورکونکو د مرستې متوقع کمښت له امله منفي اقتصادي اغيزې کمې کړي. دا همدارنګه د افغانستان سره مرسته کوي تر څو د پايداره ودې لپاره خپلې زيرمې په کار واچوي.

که څه هم د 2014 کال د مجموعي تخصيصاتو لايحه د جنوري په 17 نيټه تصويب شوه، خو بيا هم د 2014 مالي کال په نهايي بوديجه کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت

**د غزول شوي اعتبار سهولت (ECF):** يو درې کلن پروګرام دی چې افغانستان او همدارنګه نورو هيوادونو ته مالي مرستې برابروي او د لږ عايد لرونکو هيوادونو سره د IMF د منځ مهاله مرستو ابتدايي وسيله ده. د ECF مالي مرستې عموما د داسې قرضو له لارې ورکول کيږي چې سود يې صفر فيصده وي.

سرچينه: سيګار، AR-16-14 پلټنه، د افغانستان د بانک لرنې سکتور: د تجارتي بانکونو په کنترول کې د مرکزي بانک ظرفيت لاهم ضعيف دی، 1/8/2014.

شکل 3.34

**د یو ایس آیي ډي د پرمختیا مرسته، له 31 دسمبر 2013 سره سم مجموعي** (په ملیونونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي.

[1] د پروګرام د ملاتړ په پروژو کې شامل دي د ملکي تخنیک تقویت، د کاري وړتیا معیارونه، د نتیجو تعقیبول، وزارتونو سره تخنیکي مرسته، او ARTF ته بودیجې.

یو ایس آیي ډي، د SIGAR د ډاټا غوښتنې ځواب، 1/7/2014.

او د USAID د حسابونو په شمول، د افغانستان د سوکالۍ او بیارغونې حسابونه، لکه د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) تراوسه لا ندي معلوم شوي. د ESF د مرستو ډیره برخه د USAID په پراختیایي پروګرامونو لګیږي. 3.34 شکل د USAID مرستې د هر سکتور په اساس ښیي.

USAID ویلي چې نړیوالو مرستو ته د افغانستان د اړتیا کمولو او په افغاني ټولنه کې د سولې او ثبات د ټینګولو لپاره به خپلې سرچینې په دریو برخو کې راټولې کړي. دا برخې عبارت دي له:[473]

1. د پایداره اقتصادي ودې بنسټونو ملاتړ کول، او خپل اقتصادي او کرنیز پروګرامونه په هغه څلور اقتصادي زونونو کې راټولول چې د افغان دولت په وینا د انتقال لسیزې په جریان کې کولی شي د افغانستان د پایداره اقتصاد سره مرسته وکړي (2015–2024).
2. د زده کړې، روغتیا، او د ښځو د حقونو په برخه کې پایداره کار کول.
3. د دولت د مشروعیت او اغیزمنتیا د لا زیاتولو لپاره کار کول.

”د امنیتي ستونزو له امله د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او د USAID پرسونل تګ راتګ په شدیده توګه محدود شوی، او د امریکا د پوځ له وتلو سره به د پروګرامونو څارنه له ننګونو سره مخ شي.“

سرچینه: ”د متحده ایالاتو چارو وزارت K-خانګه، د بهرنیو عملیاتونو او اړوندو پروګرامونو د تخصیصاتو لایحه، 2014،“ 1/2014.

## افغان دولت سره د بودیجې په چوکاټ کې د USAID مرسته

متحده ایالات د ټوکیو کنفرانس د ژمنو په اساس چې په 2012 کال کې ترسره شو او ورپسې په 2013 کال کې د لوړ پوړو چارواکو د کتنې په اساس په تدریجي ډول د افغان دولت سره د بودیجې په چوکاټ کې د خپلو مرستو کچه زیاتوي.

متحده ایالات ټولې هغه مرستې د بودیجې په چوکاټ کې شمیري چې مستقیما له دولت څخه دولت ته ورکول کیږي او یا هم څو اړخیزه خیریه صندوقونو ته لیږدول کیږي لکه د افغانستان د قانون او نظم خیریه صندوق (LOTFA)، د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق (ARTF)، او د افغانستان د زیربنا خیریه صندوق (AITF). دا فنډونه چې په ترتیب سره د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP)، نړیوال بانک، او د ADB لخوا اداره کیږي د افغان ملي بودیجې څخه ملاتړ کوي. افغان دولت دې فنډونو ته معلومات،

لارښوونه او څارنه برابروي، او ځينې پروژې د افغان حکومت لخوا عملي کېږي خو فنډونه په بشپړه توګه د افغان دولت تر کنټرول لاندې ندي.[474] په 64مخ کې د متحده ايالاتو د هغه مرستو په اړه تفصيلي معلومات موندلی شی چې له افغان دولت سره يې د بوديجې په چوکاټ کې کوی.

USAID پدې ربعه کې د تير مالي کال له فنډونو څخه د بوديجې په چوکاټ کې —د ARTF په شمول— نږدې 53 ميليون ډالر مقيد او 93 ميليون ډالر تاديه کړې ده. لکه څنګه چې په 3.35 شکل کې ښودل شوې ده USAID د 2013 کال د دسمبر تر 31 پورې د بوديجې په چوکاټ کې مجموعا 2.88 ميلياړده ډالر مقيد او 2.11 ميلياړده ډالر تاديه کړې ده.[475]

سيګار پدې اړه لاهم انديښنه لري چې له 2014 کال څخه وروسته چې نړيوال سوله ساتي ځواکونه له هيواد څخه وځي آيا د متحده ايالاتو تطبيق کونکي اداري د امريکا په فنډ چليدونکي بيارغونيزو پروژو څخه د څارنې وړتيا لري که نه. د سيګار يوه پلټنه چې پدې ربعه کې خپره شوه د هغو افغاني وزارتونو ارزونه کړې وه چې د امريکا دولت څخه يې دوه اړخيزه مستقيمه مرسته ترلاسه کوله. دې ارزونو د فنډونو د اداري او حساب ورکونې په برخو کې د وزارتونو بياکتنه کړې وه. د راپور له خپريدو څخه وروسته USAID د دغو 16 وزارتونو له منځ نه د اوو په اړه يې د خطرونو بياکتنه بشپړه کړه.

شکل 3.35

**له 31 دسمبر 2013 سره سم د يو ايس آيي ډي د داخلي بوديجې مرستې چې ضمناً منل شوي او مصرف شوي، مالي کال 2002-مالي کال 2013** (په مليونونو ډالرو)




يادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. ضمني منل شوې د پروژې د کچې د موافقو بوديجه ده.

[a] له 31 دسمبر 2013 سره سم د يو ايس آيي ډي د مالي کال 2012 د داخلي بوديجې زياته مرسته نه ده مصرف شوې.

[b] په 2013 کې مصارف د تېر مالي کال د بوديجې نه شوي وو. مالي کال 2013 لپاره ضمني منل شوې او مصارف تر دې دمه نه دي معلوم.

سرچينه: يو ايس آيي ډي، د SIGAR د ډاټا غوښتنې ځواب، 1/7/2014.

د سیګار پلټنې معلومه کړه چې د دې ارزونو او بیاکتنو څخه ښکاري چې د خطر کمولو د معیارونو له پلي کولو څخه پرته هیڅ یو وزارت نشي کولی د ورکړ شوې مرستو اداره او حساب ورکونه په موثره توګه وکړي. (د یادې پلټنې د موندنو لنډیز د دې راپور په 2 برخه کې وګورئ).[476]

## د ټوکیو د دوه اړخیزه حساب ورکونې کاري چوکاټ

د ټوکیو د دوه اړخیزه حساب ورکونې کاري چوکاټ د افغان دولت او نړیواله ټولنې لخوا د ډونرانو په 2012 کال کنفرانس کې رامنځته شو تر څو د 2017 کاله پورې په افغانستان کې د نړیوالو پراختیايي مرستو جوړښت برابر کړي. ډونرانو پر افغان دولت شرط کیښود چې د دوی راتلونکي مرستې به د دې کاري چوکاټ د معیارونو پوره کولو پورې ارتباط ولري.

متحده ایالاتو د 2013 کال په جولای کې د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې د افغاني اصلاحاتو څخه د ملاتړ لپاره د دوه اړخیزه تشویقي پروګرام په بڼه د 175 میلیون ډالرو ورکولو اعلان وکړ او دا شرط یې کیښود چې "فنډونه یوازې په هغه صورت کې ورکول کیږي چې ځانګړي پرمختګ وشي." داسې پروګرام نیول شوی دی چې دا فنډونه په دوو برخو —75 میلیون ډالر او 100 میلیون ډالر— ویشل کیږي او تادیې به یې د افغان دولت له پرمختګ سره ارتباط ولري.[477] د امریکا بهرنیو چارو وزارت سیګار ته ویلي چې په کابل کې د امریکا سفارت د هغه 17 "سختو مواردو" څخه بررسي کوي چې افغانستان د 2013 کال په جولای کې د لوړپوړو چارواکو په ناسته کې ژمنه کړې ده. د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي چې بیاکتونکي به په خپله ارزونه کې د سفارت تحلیل، د نړیوالو موسسو راپورونه، او د عیني معلوماتو نورې سرچینې وکاروي.[478]

د 75 میلیون ډالرو په اړه لومړی بیاکتنه د 2013 کال د سپتمبر په 30 ترسره شوه، او ټاکل شوې ده چې وروستی بیاکتنه د 2014 کال په جنوري کې د همغږۍ او څارنې د مشترک بورډ له ناستې څخه مخکې ترسره شي (JCMB).[479] JCMB چې د افغان دولت، ډونرانو، او د ملګرو ملتونو استازي پکې شامل دي په خپله ناسته کې د ټوکیو د حساب ورکونې دوه اړخیزه کاري چوکاټ د معیارونو په وړاندې د افغان دولت پرمختګ بررسي کوي. دا بورډ به همدارنګه هغه مهم موارد په ګوته کړي چې د 2014 کال په وروستیو کې د نړیوال پرمختګ په کنفرانس کې تر څیړنې لاندې نیول کیږي.[480] د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د 100 میلیون ډالرو د تادیې په اړه به د 2014 کال له ټاکنو څخه وروسته بیاکتنه وکړي.[481]

د سیګار یوې ځانګړې پروژه ومونده چې د ټوکیو د حساب ورکونې دوه اړخیزه کاري چوکاټ او د امریکا د ملکي-پوځي ستراتیژیکه کاري چوکاټ دواړه د اداري فساد په ضد مشخص او د اندازې وړ اهداف نلري پداسې حال کې چې متحده ایالات کولی شي د دې له مخې خپل پرمختګ اندازه کړي.[482] د راتلونکی مخپه 3.36 شکل کې د "سختو مواردو" یو لست موندلی شی.

## بانکداري او مالی چارې

د افغانستان بانکداري او مالي سکتور چې تر اوسه پورې د کابل بانک له 2010 بحران څخه ندی وتلی، د ناسم نظم او څارنې، لږې پانګوونې، او د پیرودونکو د ټیټ اعتماد څخه ځوریږي.[483] متحده ایالات د 2011 کال په لومړیو کې د مرکزي بانک —د افغانستان بانک

شکل 3.36

**د ټوکيو د دوه طرفه احتساب د لايحې لاندې د افغانستان د 17 "لاسته راوړو وړ مهمو چارو" لنډيز**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **نماينده دموکراسي او عادلانه ټولټاکنې** | **1** په 2015 کې د ټولټاکنو او رايه اچونې لپاره د وخت جدول جوړول | **2** د يو "وړ او معزز" انتخاباتي کميسيون جوړول | **3** د انتخاباتي شکايتونو د حل لپاره د يو بې طرفه، خپلواک ميکانزم په ګډون د يوې قانوني لايحې ملاتړ کول | **4** وزارتونو لخوا انتخاباتي کميسيون سره د ثبتونې، ارتباط، د درغلی د کمولو او نورو چارو کې همکاري کول. | |
| **حکومتداري د قانون تطبيق او بشري حقونه** | **5** د لوړپوړو چارواکو د اثاثو بيانيې راغونډول او خپرول | **6** د بشري حقونو د کمشنرانو د ټاکنې لپاره نړيوال معيارونه تعقيبول | **7** د ښځو د قانون د سرغړونې د ختمولو په تطبيق کې د بين الوزارتي راپورونو جوړول | | |
| **د عامه مالي چارو او مالي بانکدارۍ هماهنګ کول** | **8** د بانکي سيستم د بهترولو او د غلا شوو اثاثو د بېرته ترلاسه کولو لپاره پر سپارښتنو اقدام کول | **9** د حکومت هغه مالي پروګرام تطبيقول او تعقيبول چې د پيسو د نړيوال صندق لخوا يې ملاتړ شوی وي | **10** د عامه مالي چارو د منيجمنټ پلان تطبيقول او د احتساب سکور بهترول | **11** د پرانستې بوديجې د اقدام سره سم د عامه بوديجو شفافيت لوړول | **12** د پيسو د ناقانونه لېږد او د تروريستانو د مالي مرستو د مخنيوي لپاره نړيوالې سپارښتنې تطبيقول |
| **د حکومت د عايدات، د بوديجې پلي کول او سيمه ييزه حکومتداري** | **13** د وزارتونو په دايره او مشوره د ولايتونو د بوديجې پروسه جوړول | | | | |
| **شاملوونکې او دوامداره پياوړتيا او پرمختيا** | **14** روغتيا، جنس، تعليم، ماحول او د خوراک د امنيت لپاره د مالي کال 1392 د بوديجې د اختصاص تحليل | **15** د 2014 تر پای د تجارت نړيوال سازمان ته د لاسرسي پلان | **16** د سرکونو او ملکي هوانوردۍ اداري جوړول | **17** د استخراج په صنعت کې د پانګونې تشويق لپاره د کان کيندنې د نړيوال معيار قانون منظوري | |

سرچينه: د 2012 د ټوکيو د دوه طرفه احتساب د لايحې د SIGAR لنډيز.

## د سيګار پلټنه

سيګار پدې ربعه کې د افغانستان د بانکي سکتور په اړه يوه پلټنه خپره کړه. د لازياتو معلوماتو لپاره د 2 برخې 23 مخ وګورئ.

(DAB)— سره د مرستې وړانديز وکړ خو ياد بانک ورسته له هغه دا مرستې رد کړې چې پوه شو د ځانګړې شرايطو په اساس ورکول کيږي. د سيګار يوې پلټنې چې پدې ربعه کې خپره شوه نتيجه ګيري کړې چې د امريکا له مرستې څخه پرته، او يوازې د نړيوال بانک او IMF د مداخلې په نتيجه کې د هيواد د بانک لرنې سکتور بې ثباته پاته کيږي او د لا بې ثباتۍ سره مخ کيږي چې له امله يې د افغانستان د اقتصادي او مالي ودې پايښت له ګواښ سره مخ کيږي.[484]

د خزانې په وينا، ګڼ شمير بانکونه د پانګې له کموالی سره مخ شوي او يوازې محدودو مواردو کې قرضه ورکوي چې هغه هم خپل تړلي ملګرو ته ورکول کيږي —د بانک څخه بهر داسې سوداګرۍ چې د بانک د ښتنانو لخوا اداره کيږي. دا کار د ګټو ټکر رامنځته کوي او د بانک پانګې په داسې مواردو کې مصرفيږي چې يادې سوداګرۍ پکې ګټه کوي. همدارنګه د بانک لرنې سکتور تر ډيره حده په ډالرو پورې تړلې دی، چې دا کار افغان

مالي بنیادونه د پیسو له خطر سره مخ کوي.[485] د بانک لرنې سکتور د قرضې-زیرمې نسبت د 2010 کال په پرتله چې 56.8% و په 2012 کال کې 23% ته راټیټ شوی دی.[486]

یو شمېر افغاني بانکونه د نړیوال معیارونو سره سم کار کوي. د نړیوال بانک د 2013 کال یو راپور په اساس د افغانستان د لویو بانکونو په پلټنه کې چې د کابل بانک د قضیې راسپړلو په جریان کې په لاره واچول شوه، "د بانک لرنې حکومتولي او عملیاتونو په ټولو برخو کې سیستمیک نواقص او زیانمن کیدنې" په ګوتو شوې.[487] State وایي چې د افغانستان بانکونه د سیاسي مداخلې او د څارنې له نشتون سره هم مخ دي.[488] سربېره پردې، د پیسو غیرقانوني انتقال او د ترهګرو د مالي مرستو د کنټرول په برخه کې هم افغانستان ډېر نواقص لري.[489]

په نتیجه کې، د افغانستان ګڼ شمیر بانکونه د 2013 کال د نومبر په 30 نیټه، په جرمني کې میشت له کومرز بانک سره خپل ډالري تعلقات له لاسه ورکړ. دې د پیسو لوی بانک د افغاني بانکونو سره خپل تعلقات ختم کړ تر څو د هغه خطرونو په څارنه کې خپل دقت زیات کړي چې ګڼ شمیر برتانوي بانکونه یې دې ته اړ کړي چې د امریکا د پیسو غیرقانوني انتقال د تورونو لپاره زښت زیات تاوانونه په غاړه واخلي. د خزانې په وینا، کیدای شي نور بانکونه هم د افغاني بانکونو سره خپل تعلقات سخت کړي.[490]

عام افغانان پر بانکونو اعتماد نلري، او غوره ګڼي چې د خپلو ملګرو څخه پیسې قرض کړي یا خپل پیسې ورته ورکړي، او د خپلو پیسو د انتقال لپاره غیر رسمي، خیریه، یا هم د حوالې لارې کاروي.[491] همدارنګه افغانان غوره ګڼي تر څو د خپل ملي پیسو (افغاني) پر ځای چې ورځ په ورځ د ډالرو په وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکوي، بهرنی پولي واحد وکاروي. د افغان مرکزي بانک په وینا، د 2012 کال د جنوري په لومړیو کې یو ډالر په 49 افغانۍ اخیستل کیده؛ او اوس دا بیه 56 افغانیو ته پورته شوې ده.[492] خزانه وایي چې د افغانیو ارزښت کمیدل او د ډالري معاملاتو زیاتیدل دواړه د دې لامل دي چې خلک غوره ګڼي خپل قرضې او پیسې په ډالرو وساتي، پداسې حال کې چې د افغانیو د ارزښت کمیدل شاید د دې انتخاب عامل وي.[493]

## د بانک لرنې قانون

د بانک لرنې قانون د 2013 کال د جنوري په 28 نیټه د وزیرانو د شورا لخوا تصویب شو، خو تر اوسه یو کال کیږي چې د پارلمان لخوا ندی تصویب شوی. نوموړی قانون د شرکتونو د کنټرول شرایطو ته وده ورکوي، د پانګې او لویو پانګونو لپاره چوکاټ جوړوي، د بانکونو څخه څارنه زیاتوي، او د بانکي شخړو د حل لپاره اسانتیا برابروي. د خزانې په وینا، که دا قانون تصویب شي په مالي سکتور کې د ستونزو په مخنیوی، کمولو، او غبرګون ښودلو کې مرسته کوی. البته د یاد قانون نه تصویبیدو په صورت کې د مالي سکتور د کنټرول او څارنې نواقص به لاهم زیات شي. د افغانستان بانک به د بانکي تنظیماتو په عملي کولو کې لږ واک ولري، د بانک لرنې سکتور مهمې ستونزې په خپل حال پاتې کیږي، او د بانکونو څارونکي به د خپلو دندو په ترسره کولو کې لږ محافظت او واک ولري. که چیرته کوم بل بانک د بحران سره مخ او سقوط وکړي، بیا به هم داسې قانوني چوکاټ ونلرو چې د هغې په رڼا کې د ستونزې سره مخ شوی بانک شخړې حل کړو.[494]

## کابل بانک

د هغه دوو کسانو دوسیې چې د کابل بانک په پیښه کې په درغلي تورن و د کابل په استیناف محکمه کې د تعلیق په حال کې دي. یاده دوسیه تیر کال د افغانستان لوی

---

**د پیسو په اساس ولاړ بانکونه:** هغه بانکونه دي چې خپل فنډونه د پیسو له ملي او نړیوالو بازارونو څخه لاسته راوړي او پر خپلو زیرمو ډیر اتکا نه کوي.

**د قرض-پر-زیرمې نسبت:** د بانک مجموعي قرضې پر مجموعي زیرمو ویشل کیږي او د دې له مخې د بانک تسویه (لنډ مهاله بقا) معلومیږي. دا قیمت په فیصدي ښودل کیږي. د دې په مرسته معلومیږي چې آیا مالي تاسیسات کولی شي د پیرودونکو غوښتنې پوره کړي که نه. که چیرته دا نسبت ډیر لوړ وي نو معنا یې دا ده چې بانک غیر کافي تسویه لري او نشي کولی غیر مترقبه اړتیاوې پوره کړي. که چیرته ډیر ټیټ وي، نو بانک نشي کولی څومره پیسې چې غواړي تر لاسه یې کړي.

**اړوند بانکي حسابونه:** هغه بانکي حسابونه دي چې د بهرنیو مالي تاسیساتو لخوا د متحده ایالاتو په بانکونو کې پرانیستل کیږي تر څو د امریکا مالي سیستم ته لاسرسي پیدا کړي او له داسې خدماتو او محصولاتو څخه ګټه واخلي چې د خپل هیواد په قضایي سیستم کې یې نشي ترلاسه کولی.

سرچینې: NASDAQ، "د پیسو په اساس ولاړ بانکونو تعریف،" لاسرسي 1/14/2014؛ انویستوپیډیا، "د قرضې-پر-زیرمې نسبت"، http://www.investopedia.com/terms/l/loan-to-deposit-ratio.asp، لاسرسي 9/30/2013؛ مالي فورمولونه، "د قرضې پر زیرمې نسبت"، http://www.financeformulas.net/Loan-to-Deposit-Ratio.html، لاسرسي 9/30/2013؛ د فیدرال مالي تاسیساتو د معاینې کونسل د بانک د محرمیت لایحه/د پیسو د غیر قانوني انتقال په ضد انفوبیز، "اړوند بانکي حسابونه (بهرني) — عمومي کتنه،" لاسرسي 10/1/2013.




**ننداره ښودونکي خپلې غرفې** د کابل د مالي نندارتون په دویمه دروازه کې نصبوي. د سوداګریو زرهاو استازي له ټول افغانستان څخه د بې ځانګه بانک لرنې او بریښنایي تادیاتو په نندارتون کې حاضر شوي دي. (د USAID تصویر)

څارنوال لخوا استیناف ته ولیږدول شوه تر څو د هغه فیصلې په اړه بیاکتنه وکړي چې له مخې یې د کابل بانک مخکینی رییس شیرخان فرنود او مخکینی اجرایوي رییس خلیل الله فیروزي په پنځه کالو بند محکوم او د تاوانونو یوه برخه ترې غوښتل شوې وه.

د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت (DOJ) په وینا، یادې محکمې په تیره ربعه کې لږ تر لږه دوه استماع ترسره کړې؛ چې لږ تر لږه په یوه کې یې مدعي علیه کسانو هم ګډون کړی و، خو څارنوالانو ته بلنه نه وه ورکړ شوې.[495]

د DOJ په وینا، افغان څارنوالان د خپل احتجاج په ترځ کې د نړیوالو مرستو په اړه ډیر په احتیاط چلند کوي. علاوه پردې، محکمې او څارنوالان دواړو په یاده دوسیه کې کرول او ملګرو پلټونکو ته د مداخلې اجازه ورکړه، کوم چې د محکمې د فیصلې لپاره یې ځینې شواهد وړاندې کړي و. کرول د کابل بانک له افتضاح څخه وروسته د یادې پیښې عدلي پلټنه ترسره کړه. یادې ډلې همدارنګه په 2012 کال کې د شتمنیو بیرته اخیستلو لپاره ستراتیژي جوړه کړه او د پانګو د منحل کولو پلان په جوړولو کې یې هم مرسته وکړه.[496]

کابل بانک مخکې له دې چې په 2010 کال کې سقوط ته نږدې شي، د افغانستان تر ټولو لوی خصوصي بانک و چې د دولت لخوا یې د ډیرو ملکي مامورینو معاشات توزیع کول. د 935 میلیون ډالرو له جملې څخه چې د کابل بانک څخه غلا شوي و 92% یې د کابل بانک پورې تړلې 19 کسانو او شرکتونو لخوا اخیستل شوي و. د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، دا تاوانونه ورکړ چې په هغه وخت کې د افغانستان د GDP، 5–6% کیده.[497]

د افغانستان لوی څارنوالي (AGO) سره له دې چې د 2013 کال په مارچ کې د سترې محکمې د خصوصي ډلې لخوا ورته حکم شوی و بیا هم پدې ربعه کې نوی تحقیق نده کړی، نوي تورونه یې ندي درج کړي، او همدارنګه پر نورو کسانو یې ادعا نده کړی. پهرصورت، یادې محکمې فرمان ورکړ چې هغه برخه لرونکي چې تورن شوي ندي —د مخکینی رییس فرنود او مخکینی اجرایوي رییس فیروزي سره یوځای— د مدعي علیه کسانو، څارنوالانو، او د کابل بانک له اخیستونکی سره یوځای په یوه غونډه کې حاضر

شي او د مدعي علیه کسانو د قرضو شخړې هوارې کړي. فرنود او فیروزي ټینګار کوي چې دوی د ټولو قرضو چې پر دوی ادعا شوې —هر یو په ترتیب سره 279 میلیون ډالر او 531 میلیون ډالر— مسولیت نلري ځکه چې د دې ځینې برخې د برخه لرونکو یا هم د حقیقي شتمنیو په خرڅولو تادیه شوي دي.[498]

د DOJ په وینا، د ستري محکمې فرمان اشاره کوي چې هغه برخه لرونکي چې فعلا پرې کوم تور نشته هم د قانون سرغړونه کړې ځکه چې دوی د فرنود او فیروزي سره "په مشابه شرایطو" کې و. DOJ پدې اړه یقیني ندی چې آیا ستره محکمه د استیناف محکمې ته فرمان ورکړی چې نور برخه لرونکي هم تورن کړي —د استیناف محکمې په چارواکو کې خوځښت راولي— یا دا چې صرف غواړي دوی په یو مدنی بهیر کې شکیل کړي.[499]

## د پیسو او شتمنیو بیرته اخیستل

د امریکا پلي کونکي ادارو پدې ربعه کې د کابل بانک څخه د غلا شوي پیسو د پیرته اخیستلو په اړه کوم نوی راپور ندی ورکړی.[500] DAB د افغانستان مرکزي بانک په توګه د 2013 د جون 30 څخه د سپتمبر تر 30 پورې د 6.13 میلیون ډالرو د بیرته اخیستلو ثبت کړی دی، چې پدې سره د بیرته اخیستل شوي پیسو مجموعه 174.5 میلیون ډالرو ته رسیږي. پدې کې د کابل بانک د انتقالاتو 16 میلیون ډالر هم شامل دی چې په پلان کې نیول شوی و خو د بانک له محافظوي دوري څخه وروسته بیا نه و ورکړ شوی، همدارنګه 1.49 میلیون ډالر چې د محکمې د فرمان په اساس ورکړ شوی، او د قرضې 0.45 میلیون ډالر هم شامل دي.[501]

لکه څنګه چې په تیره ربعه کې وویل شوه، د ټوکیو د حساب ورکونې دوه اړخیزه کاري چوکاټ د تطبیق لپاره د لوړ پوړو چاروکو ناسته اعلان کړه چې د 2013 کال د جولای تر 3 پورې 173.2 میلیون ډالر بیرته اخیستل شوي او د اداري فساد او د څارنې او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه په خپل وروستی شپږ میاشتنی (د 2013 کال د جنوري 1 – جون 30) راپور کې اعلان کړی چې 172.9 میلیون ډالر بیرته اخیستل شوي دي.[502] پهرصورت، دقیقه شمیره چې هره یوه وي بیا هم د غلا شوي پیسو له 20% څخه کم راځي.[503]

## نوی کابل بانک

د مالیې وزارت د 2013 د دسمبر په 29 اعلان وکړ چې د نوی کابل بانک د اخیستلو په داوطلبي کې به دوه داوطلبان ګډون وکړي. د نوی کابل بانک د خصوصي کولو د ارزونې کمیټې د متحده عربي اماراتو د KRU کپیټل پارټنرز ته لوړه نمره ورکړه کوم چې د نوی کابل بانک اخیستو لپاره یې 28.5 میلیون ډالر وړاندیز کړی و (20 میلیون ډالر د تنظیمي پانګې لپاره او 8.5 میلیون ډالر د بانک د اخیستو لپاره). د کانستلیشن بیزنس ګروپ دویم نمبر واخیست.

افغاني کابینه باید وروستی پریکړه ونیسي او د افغانستان مرکزي بانک باید معلومه کړي چې آیا ګټونکی لوري "برابر او مناسب" معیار پوره کوي که نه.[504] IMF "مناسب او برابر داوطلب" داسې چاته وایي چې د خطر مدیریت او داخلي کنټرول سربیره د شرکت د اداره کولو لپاره له لوړو معیارونو څخه پیروي وکړي؛ د مالي او د خطر د مدیریت له نظره مناسب وضعیت ولري؛ او کافي سرچینې په واک کې ولري او د روانو فعالیتونو د معاشاتو د ورکولو توان ولري.[505]

ګرانټ تورنټن LLP د نوی کابل بانک د مالي پلټنې په ترڅ کې چې په 2012 کال کې یې ترسره کړی و معلومه کړه چې یاد بانک د کامیابه خصوصي کولو څخه پرته نشي

**ځانګړی محکمه د 2013 کال په مارچ کې د هغه 16 کسانو د بند او تعقیب امر ورکړ چې مخکې خبرداری ورکړ شوی و –څو تنه یې د وطن څخه تښتیدلي دي– او د 16 کسانو چې غیر قانوني قرضونه یې اخیستي، د تحقیق او تعقیب امر ورکړ. DOJ د لوی څارنوالی له مختلفو چاروکو سره پدې اړه بحث کړی دی چې کومه ګټه یې نه درلوده.**

سرچینه: DOJ، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب 9/30/2013، او 6/29/2013.

**نوی کابل بانک (NKB):** یو موقتي "پلبانک" دی چې د کابل بانک اسباب او پولي زیرمې پکې دي. د نوی کابل بانک خصوصي کول چې د دولت سلهاوو زره کار کونکو ته معاشات او د پیسو د مستقیم زیرمه کولو خدمات وړاندې کوي، ECFد یو معیار دی.

سرچینه: IMF، "د افغانستان اسلامي جمهوري دولت-د غزول شوي اعتبار سهولت د برابرولو لپاره لومړی بیاکتنه، د کړنې د یو معیار په نظر کې نه نیولو، د کړنې د معیار بدلولو، او د تادیاتو د مراحلو بیا ټاکلو لپاره درخواست،" 6/19/2012، لاسرسی 1/3/2014.

کولی خپله سوداګري ته ادامه ورکړي. نوی کابل بانک د 2012 کال په هر مياشت کې 1.85 ميليون ډالر له لاسه ورکړی و.[506] په تيره ربعه کې د خزانې وزارت د يو افغاني چارواکي په وينا وويل چې نوی کابل بانک په هر مياشت کې 500,000 ډالر له لاسه ورکوي.[507] د IMF او خزانې په وينا نوی کابل بانک به تر خرڅيدو پورې د قرضې د توان نه درلودلو، د خرڅيدو څخه مخکې د قرضې محدوديت، او د شتمنيو د مديريت لپاره د محافظتي ستراتيژۍ د اړتيا په سبب نور عملياتي تاوان هم وکړي.[508] وروسته له هغه چې د خصوصي کولو لومړی هڅه ناکامه شوه، افغان دولت اعلان وکړ چې بالقوه پانګه اچونکي کولی شي د بانک 50% څخه تر 100% لپاره داوطلبي وکړي.[509]

## د طبيعي زيرمو پراختيا

متحده ايالاتو، افغان حکومت او د ډونرانو نړيواله ټولنه د اقتصادي پراختيا څخه د ملاتړ لپاره په ځانګړې ډول د مرستو کميدو څخه وروسته د افغانستان پر طبيعي زيرمو ډير حساب کوي. که څه هم کان کيندنې تر اوسه پورې د هيواد په GDP کې د 2% څخه لږه برخه اخيستې، افغان حکومت تمه لري په عينک (مس) او حاجي ګک (د اوسپنې ډبرې) پروژو کې او همدارنګه د افغان تاجک حوزې د تيلو او ګاز په پروژو کې د پراخه پانګه اچونې څخه زيات عوايد تر لاسه کړي.[510]

د امريکا د دفاع وزارت وايي چې د افغانستان د منرالونو زيرمې کولی شي ډير عوايد او د کار موقع چمتو کړي. پهرصورت، سيګار په ثابت ډول خبرداری ورکړی چې افغان حکومت د هغه ستونزو له امله چې د زيربنا په برخه کې لري په خاصه بيا د خراب امنيتي شرايطو په نظر کې نيولو سره په لنډ وخت کې نشي کولی چې د خپل طبيعي زيرمو څخه ډير عوايد لاسته راوړي.[511]

پدې ربعه کې د امريکا بهرنيو چارو وزارت وويل چې تمه نلري د کان کيندنې قانون د تصويب او عملي کيدو څخه مخکې د کان کيندنې سکتور د افغانستان له بوديجې سره د پام وړ مرسته وکړي.[512] همدارنګه TFBSO خبرداری ورکړ چې د کان کيندنې نړيوال اقتصاد نوی پانګونه محدود کوي، او ګڼ شمير شرکتونه او مالي متخصصين افغانستان ته د ډير خطرناک محيط په سترګه ګوري.[513]

”TFBSO د امريکا د دفاع وزارت په نمايندګۍ او د بهرنيو چارو وزارت په موافقې سره په ستونزمنو او جنګ ځپلي سيمو کې کار کوي تر څو د اقتصاد د پرمختګ ستراتيژيکې موقع معلومې کړي او د خصوصي سکتور د ودې لپاره لاره هواره کړي، او په نتيجه کې د اقتصاد اوږدمهاله ودې لپاره شرايط برابر کړي.“

سرچينه: TFBSO، ”د سوداګرۍ او ثبات د عملياتو لپاره وظيفوي خواک، د 2013 مالي کال د ليرد پلان او د ليرد د عملي کيدو راپور،“ 8/19/2013، مخ 1.

### وزارتي ليرد

محمد اکبر بارکزی د 2013 کال د دسمبر په 25 نيټه د ولسي جرګې لخوا د کانونو او پټروليم وزارت د نوی وزير په توګه ومنل شو.[514] وزير بارکزی وروسته له هغه چې وحيدالله شهراني د قيوم کرزی د لومړی مرستيال په توګه له خپل دندې څخه استعفا ورکړه د نوموړی په ځای د کانونو او پټروليم وزارت ته راغی.[515] TFBSO د نوی وزير په ستراتيژۍ يا د متحده ايالاتو د مرستو په منلو کې کوم خاص بدلون ندی په ګوته کړی، که څه هم کيدای شي په راتلونکې کې پيدا شي. د TFBSO په وينا، وزير بارکزی ويلی چې د کانونو نوی قانون د ده په وړاندې لومړيتوب لري، که څه هم خپلې خبرې يې ژر وروسته له هغه بند کړ چې ويل يې د ياد قانون د مسودې په اړه د نړيوالو پانګونکو د انديښنې نقاط بررسي کوي.[516]

### د TFBSO ليرد

TFBSO چې د 2014 کال تر پايه پورې خپل کارونه په افغانستان کې پای ته رسوي خپلې ټولې پروژې يو افغاني وزارت، يو خصوصي سوداګري، يا هم د متحده ايالاتو کومې بلې

اداري ته سپاري.[517] کانګرس مخکې له مخکې د 2013 مالي کال د ملي دفاع د واکمنۍ په لایحه کې غوښتی و چې د امریکا دفاع وزارت د بهرنیو چارو وزارت یا USAID ته د TFBSO د سپارلو په اړه یو پلان جوړ کړي چې نوموړی پلان باید د امریکا دفاع وزارت لخوا په هر 90 ورځو کې بیاکتنه، اصلاح او لاسلیک شوی وي. پداسې حال کې چې د TFBSO کوم پروګرام تراوسه پورې USAID یا د متحده ایالاتو کومې بلې اداري ته د سپارلو لپاره ندی وړاندې شوی، د کان کیندنې څخه پرته د نورو پروګرامونو ډیری برخې لپاره د لیږد راپورونه د جوړیدو په حال کې دي.[518]

## د منرالونو نوی قانون

د منرالونو نوی قانون د ډیر ځنډ څخه وروسته په تیره ربعه کې د دسمبر په 23 نیټه د ولسي جرګې د طبیعي زیرمو د کمیټې لخوا تصویب شو او د ولسي جرګې د بشپړ مجلس تصویب لپاره انتظار کوي. د پارلمان غړي په دوامداره توګه د یاد قانون د موادو په اړه د کانونو او پترولیم وزارت له چارواکو څخه د څرګندونې غوښتنه کوي.[519] د TFBSO مشورتي ډلې د پارلمان غړو لپاره یو معلوماتي پروګرام جوړ کړ تر څو د منرالونو نوی قانون په اړه ورته اړین معلومات چمتو کړي.[520] نوموړی قانون کله چې د ولسي او مشرانو جرګې لخوا ومنل شي بیا د ولسمشر تصویب ته وړاندې کیږي.[521] TFBSO ندی خبر چې پدې ربعه کې د قانون په منځپانګو کې کوم تغیر راوستل شوی که نه، که څه هم د امریکا بهرنیو چارو وزارت وایي چې پدې اړه د پارلمان د غړو خبرې اترې روانې دي.[522]

## د پانګه اچونې په وړاندې خنډونه

د منرالونو په قانون کې وړاندیز شوی بیاکتنې ځکه په نظر کې نیول شوې چې افغاني زیرمې په ښه توګه وساتل شي، پانګه اچونکي وهڅول شي، او اړوند مقررات د نړیوالو غوره تجربو سره یو شان کړي. د افغانستان د عایداتو زیاتولو او د مالي او خارجي پایښت د ودې لپاره پدې اړه د نوی قانون تصویب د ټوکیو د دوه اړخیزه حساب ورکونې کاري چوکاټ یو مهم شرط دی.[523] د طبیعي زیرمو په اړه د شفاف مالي رژیم د چمتو کولو لپاره په قانون او د عدلیې وزارت په کړنلارو اصلاحات راوستل د IMF یو ډیر مهم ساختماني معیار دی.[524]
د امریکا دفاع وزارت TFBSO خبرداری ورکړی چې د داسې یوقانون څخه پرته ګڼ شمیر شرکتونه په نوی داوطلبیو کې ګډون نکوي چې د پانګه اچونکې کشف د استخراج له حقونو سره ونښلوي، او د حق الامتیاز لپاره یو رسمي او ثابت قیمت وضع نکړي. د اوسنی قانون په مسوده کې داسې ارتباط ندی یاد شوی.[525] دا قانون د کان کیندنې شرکتونو څخه غوښتنه کوي چې افغاني کارګران وګوماري او د بهرنیو اسبابو په ځای افغاني موادو ته لومړیتوب ورکړي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت په وینا، دا شرایط د سوداګرۍ نړیوال سازمان د قوانینو سره برابر ندي، او کیدای شي د خصوصي پانګونې په وړاندې خنډ جوړ کړي.[526]

د امریکا بهرنیو چارو وزارت او TFBSO د منرالونو نوی قانون د ځنډیدلو د پایلې په اړه بیلابیل نظریات لري. TFBSO ویلي چې دې کار د خصوصي سکتور پانګونه کې د پام وړ کموالی راوستی، خو هغه قراردادونه چې خبرې اترې یې روانې دي له دې تاثیراتو څخه خوندي پاته کیږي ځکه چې دا د روان قانون په اساس معامله کیږي.[527] هغه قراردادونه چې ندي لاسلیک شوي عبارت دي له: حاجي ګک (د اوسپنې ډبرې، د 2011 کال په نومبر کې قرارداد شوی)؛[528] شیدا (مس، نومبر 2012)؛ بدخشان (سره زر، نومبر 2012)؛ بلخاب (مس، نومبر 2012)؛ او زرکشان (مس، سره زر، دسمبر 2012).[529] برخلاف، د امریکا بهرنیو

چارو وزارت وایي چې د منرالونو د نوی قانون ځنډېدنه د روانو قراردادونو مخه نیسي خو د خصوصي سکتور په پانګه اچونه کې کوم تغیر نه راولي.[532]

د کان کیندنې قانون په اړه د شکونو سربېره، د امریکا بهرنیو چارو وزارت وایي چې خصوصي شرکتونه هغه شکونو ته د ډېر لوی خنډ په سترګه ګوري چې د امنیت او سیاسي لیږد په نتیجه کې منځته راځي. په‌هرصورت، TFBSO پدې نظر دی چې پانګه اچونکي د 2014 کال څخه وروسته د امنیت غیر ثابت چاپیریال په مقایسه د کان کیندنې نړیوال اقتصاد او محدود پانګې په اړه ډېر اندېښمن دي.[533]

## د کانونو او پټرولیم وزارت، د افغانستان د پټرولیم اداره، او د افغانستان د جیولوژیک سروی سره مرسته

متحده ایالات پدې ربعه کې بیا هم د TFBSO او د متحده ایالاتو د جیولوژیک سروې (USGS) له لارې د کانونو او پټرولیم وزارت، د افغانستان د پټرولیم اداره (APA)، او د افغانستان د جیولوژیک سروې (AGS) سره خپلو مرستو ته ادامه ورکړه. دا ادارې د منرال او هایدروکاربن په مزایدو کې او همدارنګه د تیل او ګاز د معلوماتو د مدیریت په برخو کې مرسته کوي. برسیره پردې، TFBSO او USGS د هغه پروګرامونو څخه ملاتړ کوي چې د فیزیکي او صنفي روزنو له لارې د معلوماتو راټولولو د عصري میتودونو په برخه کې د MOMP او AGS ظرفیت لوړوي.[534]

TFBSO او USAID د افغانستان د پټرولیم ادارې ته د اړوند موضوع ماهرین چمتو کوي. پدې کې د آمو دریا د کشف او تولید د شریکي قرارداد لپاره تخنیکي (د تیلو او ګاز انجنیران)، قانوني (د قرارداد تطبیق)، او مالي (محاسبه او تحلیل) مرستې شامل دي. TFBSO د افغانستان د پټرولیم ادارې د تنظیمي چوکاټ په جوړولو کې مرسته کړې، او د ګومارنې په برخه کې د بشري سرچینو ریاست ته مشورې ورکوي.[535] علاوه پردې، د TFBSO په مصرف یو قانوني او جیولوژي ډله د MOMP سره کار کوي تر څو د ګټې نوي ساحې معلومې کړي.[536]

## د افغانانو د پایښت لپاره د کان کیندنې پانګونه او پراختیا

د افغانانو د پایښت لپاره د کان کیندنې پانګونه او پراختیا (MIDAS) د کان کیندنې په برخه کې د USAID یوازینی پروګرام دی چې 86.6 میلیون ډالره بودیجه او د بودیجې په چوکاټ کې دننه او د هغې څخه بهر برخې لري. د بودیجې له چوکاټ څخه بهر 41.6 میلیون ډالر چې I پړاو دی په دغو برخو تمرکز لري: د قانون او مقرراتو اصلاحات او د MOMP سره تخنیکي مرسته، د وړو او متوسطو پانګه اچونو پراختیا، او د جیوساینس په تحقیقاتو کې مرسته. دا به د اړتیا په صورت کې نورې مرستې هم وکړي. د بودیجې په چوکاټ کې 45 میلیون ډالر مرسته چې II پړاو دی تراوسه ندی پیل شوی، خو موخه یې دا ده چې MOMP سره مرسته وکړي تر څو د کان کیندنې د مزایدو د تدارکاتو، تطبیق او څارنې جوګه شي. USAID د بودیجې د چوکاټ څخه بهر د لومړی پړاو د پیل لپاره د 2013 کال د دسمبر تر 10 پورې 6 میلیون ډالر مقید او 1.74 میلیون ډالر تادیه کړی دی.[537]

USAID تمه لري چې د MIDAS پروګرام څخه لاندې نتایج لاسته راوړي:

- د حکومتولي، داخلي کنټرول، د تدراکاتو کړنلارې، او د مالي ادارې په برخو کې د MOMP ظرفیت لوړ کړي.

**TFBSO د 2013 کال د دسمبر تر 27 پورې د کانونو سکتور د پراختیا لپاره په 2013 مالي کال کې 17.2 میلیونه ډالر او په 2014 مالي کال کې 7.5 میلیونه ډالر په بشپړ ډول مقید کړی.[530] TFBSO وروسته له دریو کلونو څخه چې په افغانستان کې بوخت دی پدې ربعه کې اعلان وکړ چې پر کوچنی اقتصاد د خپلو پروګرامونو د اغیزې ارزولو لپاره یې یو حسابي سیسټم جوړ کړی دی. په‌هرصورت، په یاد سیستم کې شامل شوي معلومات محدود دي، او یوازې د وروستیو شپږو میاشتو څخه معلومات ورکوي، او د حساب معیارونه هم د هرې پروژې لپاره فرق کوي. همدارنګه TFBSO د خپلو هڅو د اقتصادي اغیزو څخه ارزونه کوي چې د دې لپاره د لوی اقتصاد په کچه معلومات اړین دي، البته د دې هڅې معلومات کیدای شي USAID یا د دوی افغاني ملګرو ته وسپارل شي. ټاکل شوې ده چې د TFBSO واک او صلاحیت د 2014 کال په آخر کې پای ته ورسیږي.[531]**

- د وړو او متوسطو افغاني شرکتونو ظرفیت زیات کړي تر څو د کان کیندنې سکتور سره حمایتي مرستې ترسره کړي.
- د MOMP، خصوصي سکتور، او د محلی ټولنو ترمنځ روابط ټینګ کړي.
- د وړو او متوسطو افغاني شرکتونو لپاره داسې پروګرامونه جوړ کړي چې د کانونو په څېړنه، اداره، او پراختیا کې د ګډون جوګه شي.
- د بودیجې په چوکاټ کې د مرستو د اغېزمنې څارنې لپاره یو سیستم جوړ کړي.[538]

USAID د دغه معیارونو په وړاندې د MIDAS پرمختګ اندازه کوي: د کان کیندنې په سکتور کې د بهرنیو او داخلي پانګونکو لپاره یو دوستانه چاپیریال برابرول؛ د سوداګرۍ لپاره مناسب تنظیمي چوکاټ برابرول چې د نړیوالو معیارونو سره سم وي او پانګونکي را جذب کړي؛ د قراردادونو په مزایده او ورکولو کې شفافیت؛ او د استخراجي سکتور په کارونو کې د جندر مساوات په نظر کې نیول.[539]

## د کانونو او پترولیم وزارت ظرفیت

د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره د TFBSO ستراتیژي تر ډېره حده پورې د افغانستان د طبیعي زیرمو پر پراختیا تکیه کوي. TFBSO کانګرس ته په خپل یو انتقالي راپور کې ویلي چې د پروژو د پلان جوړونې او اجرا په ټولو مراحلو کې له افغانانو سره د دوی د ملګرتیا په نتیجه کې به "افغانان وکولی شي د روانو پروژو چارې په غاړه واخلي."[540] TFBSO ویلي چې MOMP د مزایدو ارزونه او قرارداد او د قرارداد د خبرو اترو او لاسلیک کولو ټول مسولیتونه په غاړه اخیستي یا هم اخلي. TFBSO په عین وخت کې د دې وزارت ځینې نواقصو ته په خاصه توګه د ظرفیت، څارنې او نظارت په برخو کې هم اشاره وکړه. TFBSO وایي چې د MOMP د تکړه کارکونکو نه درلودل د دې لامل کېږي چې هغه لږ کسان چې په کار پوهېږي له خپل حد او اندازې څخه زیات کار وکړي.[541]

سیګار پدې ربعه کې د افغاني وزارتونو په اړه د USAID/افغانستان ارزونه وڅېړله او ویې موندل چې MOMP نشي کولی د 16 خطرونو او د خطر کمولو اړوند 33 معیارونو په پام کې نیولو څخه پرته د متحده ایالاتو څخه مستقیمه مرستې ترلاسه کړي. سره له دې چې USAID نتیجه ګیري کړی و چې د اداري فساد د خطر کمولو په برخه کې MOMP کمزوری کنترول لري، بیا یې هم د مستقیمه مرستو یو فعال پروګرام لپاره 30 میلیون ډالر مقید کړی دی. همدارنګه USAID د 2013 کال د اګست تر 1 پورې د کان کیندنې د پانګونې او پراختیا یوې پروژې د وړاندیز لپاره د 45 میلیون ډالرو ژمنه کړی ده.[542]

## د کانونو امنیت

دا معلومه نده چې څوک او په کوم شمېر سره د کانونو امنیت برابروي. د MOMP د ویبپاڼې په اساس ټاکل شوی و چې د کانونو امنیت د افغان د کانونو محافظت واحدونو (MPUs) لخوا ونیول شي، چې یاده اداره تر اوسه پورې 1,500 پرسونل لري.[543]

پهرصورت، د امریکا بهرنیو چارو وزارت پدې ربعه کې راپور ورکړ چې د افغان عامه محافظت ځواک (APPF) د کانونو د امنیت مسولیت په غاړه لري او د کورنیو چارو وزارت (MOI) او د افغان عامه محافظت ځواک به د MOMP سره د یو قرارداد څخه وروسته د دې کار لپاره افراد استخدام او روزنه ورکوي. د دې راپور تر دورې پورې

MOMP یوزاې د مس عینک، د شمالي آمو دریا حوزه، او د شبرغان ګاز په اړه د افغان عامه محافظت ځواکونو سره قرارداد کړی دی.[544]

د امریکا بهرنیو چارو وزارت او TFBSO دواړو ویلي چې دوی د آزادو خبري سرچینو څخه پرته د کانونو پر منافعو د بریدونو په اړه کوم معلومات ندی راټول کړی. د آزاده اروپا راډیو/د آزادۍ راډیو (RL/RFE) خبر ورکړی چې د 2013 کال په سپتمبر کې د آمور دریا په حوزه کې کارګران د محلي ملیشا لخو تر برید لاندې نیول شوي (احتمالا د APPF په شتون کې چې د ساحې د امنیت لپاره ګومارل شوي و)، چې پدې سره د تیلو د تولید بهیر له ځنډ سره مخ شوی. خبرونه همدارنګه د سرو زرو او ګران بیه تیږو د کنترول لپاره د محلي مشرانو شخړې او همدارنګه په شتمنو سیمو کې د دولت او ولایتي او قومي مشرانو ترمنځ د جنګونو راپورونه هم ورکړې دي. برسیره پردې د آزادۍ راډیو وایي چې په ځینو سیمو کې طبیعي زیرمې د وسله والو ډلو لخوا کارول کیږي، او د کان کیندنې په لویو سیمو کې لکه حاجی ګک، عینک، او آمودریا، امنیت د وسله والو د مداخلې له امله ورځ په ورځ مخ په خرابیدو دی.[545]

وایي لکه څنګه چې د کان کیندنې لړې ساحې فعالې شوي بناء لړ امنیتي اهتماماتو ته اړتیا لیدل کیږي.[546] پهرصورت، لکه څنګه چې په 3.37 شکل کې ښودل شوی دی د کانونو پخوانی وزیر شهراني د هغه ساحو یو لست اعلان کړی و چې د 2012 او 2014 کلونو تر منځ مزایدې ته ایښودل کیده او د هرې ساحې لپاره د APPF د پرسونل اړینه شمیره یې هم په ګوته کړی وه.[547]

## د عینک د مسو کان

افغان دولت په 2008 کال کې د عینک د مسو کان چې په لوګر ولایت کې دی، د استخراج حق یې د چینا میتالورجیکل کارپوریشن (MCC) سره قرارداد کړ.[548] د قرارداد جزییات هیڅکله خپاره نشو خو د MOMP لخوا د خپور شوی لنډیز په اساس د MCC مجموعي پانګونه 2.9 میلیارد ډالرو ته رسیږي. افغانستان دولت ته د عملي کیدو مطالعې له تصویب سره 808 میلیون ډالر، او د تجارتي تولید له پیلیدو سره 565.6 میلیون ډالر، او 19.5% د اعظمي حق الامتیاز په توګه ورکول کیږي.[549] تیره ربعه، افغاني رسنۍ خبر ورکړ چې MCC اراده لري د قرارداد د موادو په اړه له سره خبرې اترې وکړي.[550]

د مس عینک د کان پرمختګ په سیمه کې د کلتوري آثارو د رابرسیره کیدو، د ځمکې د اخیستو ستونزې، د ابتدایي زیربنا نشتوالی، او د امنیتي اندیښنو له امله ځنډیدلی دی.[551] TFBSO ځینې نور لاملونه هم په ګوته کوي لکه، د قرارداد سخت شرایط، د منرال په بازار کې د بیو تزلزل، او د منرالونو په اخیستو کې د چین دولت لیوالتیا د دې لپاره چې د راتلونکی لپاره یې "وساتی."[552] د دې ستونزو سربیره، افغان دولت د عینک پر پروژې ډیر حساب کوي او تمه لري چې د عایداتو راتلونکی اړتیا یې بشپړه کړي.[553]

## د شمالي عینک کیندنه

په شمالي عینک کې د TFBSO د استکشافي کیندنې پروګرام چې د 4.5 میلیون ډالرو په لګښت د 2012 کال په نومبر کې پیل شوی و، د 2013 په پسرلی کې پای ته ورسید. ټاکل شوې ده چې د MOMP د یوې مزایدې لخوا تعقیب کړای شي. پهرصورت، د TFBSO په وینا MOMP سره له دې چې د ساحې په اړه یو بشپړ تخنیکي راپور لري بیا هم نه غواړي یاده سیمه فعلآ مزایدې ته وړاندې کړي. هیڅ توضیح یا مهال ویش ندی وړاندې شوی.[554]

شکل 3.37

**د استخراج د سکټور د امنيت لپاره د APPF د پرسونل لوازم**




يادونه: APPF = د افغانستان د عامه تحفظ ځواک.

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 12/29/2013.

د 2013 کال په نومبر کې د افغان جيولوژيکي سروې 35 (AGS) تنه کارکونکي د کيندنې او مراقبت درې مياشتنی روزنه چې د TFBSO لخوا په لاره اچول شوې و، بشپړ کړ. پدې روزنه کې نظري درسونه ورکړ شو او عملي کار يې پخپله د AGS د تجهيزاتو په مرسته تر سره شو کوم چې په 2009 کال کې له اخيستو راهيسې تر اوسه پورې بيکاره پراته وو. دا روزنه د دې لپاره په لاره اچول شوې وه چې د AGS کارکونکو ته د خپلو تجهيزاتو کارونه ښيې او په خپل هيواد کې کيندنه وکړي او همدارنګه د منرالونو نړيوال صنايعو ته د افغانانو وړتيا وښيي. TFBSO ويلي چې د ګډون کونکو د آزموليو لپاره يو لړ تمرينات او ټېستونه استعمال شو خو نتايج يې له مونږ سره شريک نه کړ.[555]

## د حاجي ګک د اوسپنې د ډېرو کان

پدې ربعه کې د حاجي ګک د اوسپنې ډېرو د قرارداد خبرې اترې دوام درلود. د کانونو او پتروليم وزارت د دې کان درې بلاکونه د افغان آيرن اينډ سټيل کانسرشيم (AFISCO) سره د 2011 کال په نومبر کې قرارداد کړ. نوموړی کانسرشيم اووه غړي لري چې د سټيل اتاريټي آف انديا په نوم د هند يو دولتي شرکت لخوا رهبري کيږي. يو بل بلاک د کينيډين کيلو آيرن اور سره قرارداد شو چې د کيلو ګولډ ماين يوه څانګه ده.[556]

د خبري سرچينو په وينا، AFISCO د هغه امنيتي ستونزو له امله چې کيداى شي په 2014 کال کې د امريکايي سرتيرو له وتلو څخه وروسته رامنځته شي، په نظر کې لري خپله پانګونه د 11 ميلياردو ډالرو څخه 1.5 ميليارد ډالرو ته راټيټه کړي.[557] د کيلو آيرن شرکت په اصولو کې د قرارداد له ټولو شرايطو سره موافق دى. دواړو شرکتونو د قرارداد لاسليک دې ته ځنډولې چې د کانونو نوى قانون د پارلمان لخوا تصويب شي.[558]

## هايدروکاربن

د ګاز او تيلو د پراختيا په برخه کې د افغانستان هڅې په دوو ساحو تمرکز کوي: افغان تاجک حوزه او د آمو دريا حوزه، چې دواړه د افغانستان په شمال کې دي. سره له دې چې افغانستان د تصفيې لپاره دوه فعال مرکزونه لري خو بيا هم د مناسبه تصفيې په برخه کې له نواقصو سره مخ دى او د تيلو لپاره تر ډيره حده پورې پر وارداتو تکيه کوي. نوموړى هيواد د ترکمستان، ازبکستان، روسيه، پاکستان، او ايران څخه په ورځ کې 10,000 ټنه نفتي محصولات واردوي.[559]

## د آمو دريا حوزه

د State او TFBSO په وينا، د آمو دريا حوزې دريې بلاکونه چې په 2011 کال کې د چاينا نيشنل پټروليم کارپوريشن وطن انرژى افغانستان (CNPCI-W) سره قرارداد شوى 87 ميليون بيرل اومه نفت لري.[560] د State او TFBSO په وينا پدې ربعه کې هيڅ تيل ندى توليد شوى ځکه چې CNPCI-W تراوسه پورې انتظار کوي چې افغان دولت د سرحدونو څخه اخوا د ترانزيت په اړه خپل خبرې اترې پاى ته ورسوي ځکه چې دوى غواړي خپل اومه تيل د تصفيې لپاره يو ګاونډى هيواد ته وليږي. د داسې موافقې څخه پرته اخيستونکي علاقه نه ښيي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا افغان دولت پدې اړه له ازبکستان سره د يوې موافقې په اړه خبرې اترې کوي.[561] په عين وخت کې MOMP د CNPCI-W په کال کې لږ تر لږه 230,000 ټن اومه تيلو لپاره د 2013 کال د دسمبر په 31 نيټه د يوې مزايدې اعلان وکړ.[562]

د کانونو او پټروليم وزارت د 2014 کال د جنورې په 7 نيټه د توتي ميدان بلاک د کشف، پراختيا، او توليد لپاره رسماً د يوې مزايدې اعلان وکړ کوم چې د آمو دريا په حوزه کې 7,131 کيلومتر مربع ځاى لري.[563] د قرارداد په ساحه کې د 28 ميليارد متر مکعب په اندازه زيرمې چې د ګاز په دوه پيژندل شوي ساحو کې دي، او 50 د سطحې څخه لاندې جوړښتونه شامل دي. د ګټو توضيحات به د 2014 کال د فبرورې تر 8 پورې وړاندې شي.[564] TFBSO لکه څنګه چې د افغان تاجک د مزايدې سره يې کړى و د آمو دريا د دې قرارداد څخه هم خپل تعقيب ته ادامه ورکوي او د کانونو او پټروليم وزارت سره په تخنيکي، قانوني، تجارتي، او شفافيت په برخو کې مرسته کوي.[565] د افغان تاجک مزايدې سره په دې مواردو کې مرسته شوې وه: د اړوند موضوع ماهرين برابرول تر څو د مناسب داوطلب د انتخاب او د داوطلبى د ارزونې په بهير کې د MOMP د قرارداد د ارزونې ډله، او د بين الوزارتي کميسيون ته مشوره ورکړي؛ د شفافيت مشورې؛ او MOMP ته د داوطلبانو د يو معلوماتي کنفرانس مصرف ورکول.[566]

**وروستى معلومات چې سيګار ته په لاس ورغلى ښيي چې CNPCI-W د 2013 کال د اګست تر 31 پورې 14,916 بيرل اومه تيل توليد کړي په داسې حال کې چې د 2013 مالي کال لپاره يې حد اقل موخه 1.65 ميليون بيرل تيل و. د دې معاملې څخه افغان دولت 4.67 ميليونه ډالر د حق الامتياز او د ځمکې د کرايې په توګه تر لاسه کړى.**

سرچينې: TFBSO، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/30/2013؛ TFBSO، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/3/2013؛ TFBSO، د سيګار بررسى ته ځواب، 7/17/2013.

## کـــــــــرنه

کـــــــرنه د افغانانو د استخدام او معيشت عمده سرچينه ده. يوازې 12% ځمکې د کرهنې وړ دي او له 6% څخه لږې ځمکې کرل کيږي، په همدې حال کې دا سکتور د 31%، GDP

جوړوي، او د نړيوال بانک د وروستی راپور په اساس 59% کاري ځواک ته د کار موقع برابروي.[567] د دې سکتور اهميت ته په کتو سره ويلی شو چې کرنه کولی شي GDP ته وده ورکړي، د خوړو خونديتوب زيات کړي، او د استخدام لا ثابتې موقع برابرې کړي.[568]

USAID د 2002 مالي کال څخه تر 2012 مالي کاله پورې نږدې 2.46 ميلیارده ډالر د کرنيز او بديل پرمختګ لپاره مقيد کړي تر څو توليداتو ته وده ورکړي، بازارونو ته لاسرسي زيات کړي، او د کوکنارو د کرنې لپاره بديلونه چمتو کړي.[569] د دې مرستو څخه USAID د مستقيمه مرستو په چوکاټ کې 29 ميليونه ډالر مقيد او 29 ميليونه ډالر تاديه کړي تر څو د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت (MAIL) ظرفيت لوړ کړي.[570]

USAID فعلآ د ګڼو پروګرامونو له لارې د کرنې سکتور سره د بوديجې په چوکاټ کې او له چوکاټ څخه بهر مرسته کوي. د USAID درې پروګرامونه چې لوړ لومړيتوب لري، او ارزښت يې د 350 ميليون ډالرو څخه زيات دی، دا دي:

- د کرنې پراختيايي فنډ (ADF) او د کرنيز اعتبار زياتول (ACE)
- د بديل اقتصادي لارو د پرمخ بيولو جايزې شمال، ختيځ، او لويديځ (IDEA-NEW)
- تجارتي باغ لرنه او د کرنې د بازار موندنې پروګرام (CHAMP)

## د کرنيز اعتبار زياتول او د کرنې پراختيايي فنډ

| د پروژې عنوان | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| کرنيزه کريډيټ زياتول | 7/15/2010 | 1/15/2015 | $75,175,296 | $61,542,072 |
| د کرنې د پراختيا فنډ | 7/18/2010 | 12/31/2014 | $74,407,662 | $29,000,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

### د سيګار خبرداری ليک

سيګار په تيره ربعه کې USAID ته خبرداری ورکړ چې د هغه 27 اوبه يلونکو په اړه يې –چې 3.5 ميليونه ډالر يې پرې مصرف کړي– ارزونه نده ترسره کړې کوم چې په راتلونکې کې د افغانستان د اوبو سکتور د پرمختيا په برخه کې د يادې اداري لارښود ګڼل کيږي.

د کرنې پراختيايي بوديجه او د کرنيز اعتبار زياتول (ADF-ACE)، د 150 ميليونه ډالرو په ارزښت د کرنيز کريډت پروژه ده، او دوه بشپړونکي برخې لري چې د MAIL د قرضې ورکولو له هڅو ملاتړ کوي او په عين وخت کې د قرضو اداره کولو په موخه د ADF ظرفيت زياتوي. ADF د دې لپاره جوړ شوی و تر څو د بانکونو، فارمونو، اجاره اې شرکتونو، او د خواړه پروسس کونکو له لارې د کرهنې د ارزښت په ټول زنځير کې قرضې ورکړي، او دې شرکتونو په خپل وار سره بزګرانو ته قرضې ورکړې. ACE د ياد پروګرام د تخنيکي مرستې څانګه ده چې د ADF ټول قرضي فعاليتونه اداره کوي او د MAIL د ظرفيت د لوړاوي په برخه کې کار کوي.[571]

ACE-ADF پدې ربعه کې د قرضې کارونه پای ته ورسوله او شپږو مشتريانو ته يې 2 ميليونه ډالر تاديه کړه. ياد پروګرام د 43 بزګرانو لپاره د قرضې موقو په اړه يوه کرنيزه شورا او د ارزښت د کړۍ مرسته تنظيم کړه. همدارنګه د ADF د کرنيزه سوداګرۍ اوولس مشتريانو هم د کابل د کرنې په نړيوال نندارتون کې ګډون درلود. د دې برياليتوبونو سربيره، USAID وايي چې د افغانستان سياسي او قانوني خنډونه د ADF د قانوني راجستريشن مخه نيسي او نه پريږدي چې د قرضې فنډونو ته لاسرسي پيدا کړي، چې دا پخپل وار سره د قرضو شمير او د پروګرام د ګټه اخيستونکو شمير تر اغيزې لاندې راولي.[572]

## د بديل اقتصادي لارو د پرمخ بيولو جايزې شمال، ختيځ، او لويديځ

| د پروژې عنوان | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د بديل اقتصادي چارو تشويقات - شمال، ختيځ او لويديځ | 3/2/2009 | 3/1/2014 | $159,878,589 | $138,072,218 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

د بديل اقتصادي لارو د پرمخ بيولو جايزې شمال، ختيځ، او لويديځ (IDEA-NEW) د 160 ميليون ډالرو په ارزښت د تعاوني موافقت ليک پنځه کلنه پروژه ده چې د افغانستان په ختيځه سيمه کې د کوکنارو کرونکو سيمو ته، او هم دافغانستان په شمال او لويديځ کې دکوکنارو سيمو ته بديل اقتصادي او کرهنيزې مرستې چمتو کوي. د IDEA-NEW پروګرام له کروند ګرو سره مرسته کوي ترڅو د کوکنارو د کرنې په ځای قانونی توليد خپل کړي، د کلو د پروژو او زيربنا په پراختيا کې مرسته کوي، مالي خدمتونو ته لاسرسي پراخه کوي، د سيمه ييزه محصولاتو او سوداګريز کوريډور لپاره د محصولاتو د ارزښت کړۍ ته وده ورکوي. دا پروګرام د مارکېټ معلوماتي کړنو او خرڅلاو ته د ودې ورکولو له لارې د توليد کونکو، سوداګرو، او اخيستونکو ترمينځ اړيکې زياتوي.[573]

پدې ربعه کې USAID راپور ورکړی چې د IDEA-NEW پروګرام له امله په 14,000 هکتاره ځمکو کې بديله کرنه کيږی.[574] علاوه پردې، USAID ويلي چې زرهاو کسان د کزنيز توليداتو او د سوداګريز ټرينګ څخه او همدارنګه د پروګرام په مرسته د کرنيزو توليداتو څخه ګټې اخيستي دي. پهرصورت، USAID وويل چې د محصولاتو لږ توليد، د خوړو د پروسس محدود فرصتونه، او د امنيت بدليدونکی شرايط د IDEA-NEW په وړاندې ننګونې وې.[575] په 2013 کال کې د افغانستان په 209,000 هکتاره ځمکو کې کوکنار کرل شوي دي، چې دا د 2012 کال په پرتله 36% زيات دی.[576]

**د USAID د ځانګړی مفتش دفتر په 2012 کال کې د IDEA-NEW پروګرام په پلټنه کې ځينې ستونزې په ګوته کړې، او دغه نتايج يې لاسته راوړي: پر پروګرام سم تمرکز نه و شوی، د پروګرام لارښوونې نه وې عملي شوې، د پروګرام موخې د کرنې له اداري پلان څخه حذف شوي و، او د پرمختګ لپاره شواهد موجود نه و.**

سرچينه: USAID OIG، د شمال، ختيځ، او لويديځ لپاره د USAID/افغانستان د بديل اقتصادي چارو د تشويقي پروګرام پلټنه، د پلټنې شميره F-306-12-004-P، 6/29/2012.

## تجارتي باغ لرنه او د کرنې د بازار موندنې پروګرام

| د پروژې عنوان | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| سوداګريزه باغواني او د زراعتي بازار موندنې پروګرام | 2/1/2010 | 12/30/2014 | $40,320,139 | $30,522,754 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

د تجارتي باغ لرنې او د کرنې د بازارموندنې پروګرام (CHAMP)، د 40 ميليونه ډالرو په لګښت پروګرام دی چې په 2010 کال کې پيل شوی ترڅو د کروند ګرو سره مرسته وکړي چې د لږ ارزښت لرونکي کښت لکه غنم او جوار په ځای ګران بيه شيان لکه د ميوو او انګورو باغ جوړ کړي. دا پروګرام همدارنګه د سوداګرو سره مرسته کوي چې حاصل اخيستلو، انډی کول، سرد خانې، او بارچلولو دودونو ته وده ورکړي.[577]




**د کابل په نړیوال کرنیزه نندارتون کې** کونکي د داسې یو شرکت محصولات ننداري ته ایښې
چې د IDEA-NEW لخوا ورسره مرسته شوې ده. (د USAID تصویر)

لکه څنګه چې CHAMP د 2014 کال لیږد ته نږدې کیږي، USAID وايي چې خپله توجه به د ګران بیه محصولاتو د ټولولو څخه وروسته مراحلو ته واړوي. یاد پروګرام غواړي چې د بازارموندنې او د وارداتو تعویض د وده ورکولو له لارې د صادراتو کچه زیاته کړي. پهرصورت، USAID وايي چې د امنیت نشتون د CHAMP پروګرام د بشپړ عملي کولو په وړاندې لاهم ستونزه جوړوي. ترهګر ګروپونه په خاصه بیا په کندهار، هلمند، زابل، وردګ، لوګر، او غزني ولایتونو کې د CHAMP کارکونکي او بزګرانو ته اخطار ورکوي.[578]

## د کندهار د خوړو زون

| د پروژې عنوان | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د کندهار د خوړو زون | 7/31/2013 | 7/30/2015 | $19,695,804 | $990,000 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته خواب، 1/7/2014.

پدې ربعه کې USAID د کندهار د خوړو زون (KFZ) پروګرام د پیل اعلان وکړ چې دوه لویې برخې لري: د مخدره موادو په ضد د مبارزې وزارت (MCN) د ظرفیت لوړاوي او د بدیل معیشت پروژې. د ظرفیت لوړاوي برخه د بدیل معیشت د پروژو په طرح، تطبیق، او اداره کولو کې د مخدره موادو په ضد د مبارزې وزارت ظرفیت ته وده ورکوي. د بدیل معیشت برخه د ټولنې زیربناو ته وده ورکوي او د قانوني کارونو موقې زیاتوي. د 2013 کال د دسمبر تر 8 پورې، KFZ د ټولنې په کچه کومه پروژه نده پیل کړې. د دې تعاوني موافقت لیک ابتدايي پانګه 19.7 میلیون ډالر اټکل شوې وه، چې له دې څخه 611,000 ډالر یې د 2013 کال د دسمبر تر 8 پورې تادیه شوي دي.[579]

د کندهار د خوړو زون که څه هم تر یو حده پورې د هلمند د خوړو زون (HFZ) له مخې جوړ شوی دی خو د USAID په وینا دا به بیله تګلاره ولري. د USAID په وینا،

د هلمند د خوړو زون پروګرام د کرنې په تعويض او له منځه وړلو ډېر تمرکز درلود چې دا د ورکړو په اساس او غير ثابته تګلاره ده. برعکس، د کندهار د خوړو زون پروګرام د ټولنو سره د کوکنارو د کرنې ټولنيز، سياسي، او اقتصادي عوامل معلوموي او د هغوی له مخې مناسبې پروژې په نظر کې نيسي. بالاخره، د هلمند د خوړو زون پرخلاف، دکندهار د خوړو زون داسې طرحه شوی چې MCN ته د يو فعال ملګري په سترګه ګوري.[580]

## د افغانستان د کرنيزه څېړنې او د توسعې د پراختيا پروګرام

| د پروژې عنوان | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د کرنيزه څېړنې او توسعې پرمختګ (AGRED) | 7/7/2012 | 7/16/2017 | $23,638,611 | $3,227,399 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

د افغانستان د کرنيزه څېړنې او د توسعې پراختيا (AGRED) د بوديجې په چوکاټ کې يو پروګرام دی چې د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت په ملګرتيا سره عملي کېږي. د ياد پروګرام موخه دا ده چې د کرنې توليدات زيات او د کرنې د پرمختللی تکنالوژۍ له لارې د کليوالي خلکو معيشت ته وده ورکړی. AGRED د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت او رياستونو ته د څېړنې او توسعې مراکز جوړوي او د اووه ولايتونو په 50 ولسواليو کې فعاليت کوي. AGRED همدارنګه د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ د وزارت او رياستونو پرسونل ته روزنه ورکوي ترڅو افغاني بزګرانو او کروند ګرو ته ټکنالوژي برابر کړي او ګټورې مشورې ورکړي.[581]

وروسته له هغه چې د MAIL د محدود ظرفيت له امله د فنډ يوه برخه د بوديجې له چوکاټ څخه بهر وليږدول شو او د AGRED په بهير کې ځنډ رامنځته شو، د USAID په وينا AGRED اوس تشريحي بوديجه، د تطبيق معيارونه، او د تصديق داسې وسايل لري چې د MAIL لخوا منل شوي دی. علاوه پردې، AGRED د څېړنې او توسعې ټاکل شوي فعاليتونه په لاره اچولي چې په ترڅ کې يې د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت او رياستونو 504 پرسونل ته 21 ترينګونه ورکړ شو.[582]

# اساسي خدمات/پراختيا

له 2002 کال راهيسې، متحده ايالاتو د بريښنا زياتولو، سړکونو او پلونو جوړولو او روغتيايي او تعليمي پياوړتيا ته بوديجه برابره کړې ده. په دې برخه کې د متحده ايالاتو هغه هڅې روښانه کيږي چې د بنسټيزو خدماتو د پياوړتيا په برخه کې د دولت توان زياتوي لکه بريښنا، ترانسپورت، روغتيا او تعليم.

## انرژي

د نړيوال بانک د وروستی راپور په اساس افغانستان په ټوله نړۍ کې يو له هغه هيوادونو څخه دی چې د بريښنا په برخه کې ډېر لږ خدمات لري، او يوازې 28% خلک يې د بريښنا له ليکو سره وصل دي. د دې وصل شوي خلکو 77% په ښاري سيمو کې اوسيږي.[583]

لکه څنګه چې بریښنا د افغانستان په پرمختګ کې رغنده رول لري، متحده ایالات د 2002 کال څخه راهیسې د افغان دولت او نړیواله ټولنې سره یوځای د انرژۍ یو جامع سکتور رامینځته کولو ته د خپل بیارغونیزو هڅو د ستر لومړیتوب په سترګه ګوري.[584] یوازې USAID د 2002–2011 کلونو ترمنځ د ESF په چوکاټ کې نږدې 2 میلیارده ډالر مرسته کړې ده تر څو د جنریټرونو، فرعي سټیشن، او انتقالي لینونو په جوړولو، او هم پدې برخه کې د تخنیکي مرستو د چمتو کولو لپاره مصرف شي. دا اداره پلان لري چې په راتلونکي څو کلونو کې لږ تر لږه 500 میلیونه ډالره نور هم مصرف کړي.[585] علاوه پردې، DOD د قوماندان د بیړنیو مرستو (CERP) له لارې 292 میلیونه ډالر او د افغانستان د زیربنا فنډ (AIF) له لارې 700 میلیونه ډالر د بریښنایي پروژو سره مرسته کړې، چې دواړه پروګرامونه د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا په ګډه اداره کیږي.[586]

افغانستان په اوس وخت کې د بریښنا نهه بیل سیسټمونه لري. دوه ابتدایي سیسټمونه د شمال ختیځ د بریښنا سیسټم (NEPS) او د جنوب ختیځ د بریښنا سیسټم (SEPS) دی. USAID د دواړو سیسټمونو د اړیکې او بریښنا زیاتولو لپاره درې پروژې لري — شبرغان؛ د کندهار-هلمند د بریښنا پروژه، چې د کجکي بند هایدروپاور پکې شامل دی؛ او د بریښنا د انتقالي توسعې او د اړیکې پروګرام. د امریکا دفاع وزارت د AIF پروژو له لارې د NEPS او SEPS سره مرسته کوي. افغان دولت د USAID او د امریکا دفاع وزارت په همغږۍ سره دې پروګرامونو ته لومړیتوب ورکوي، او موخه لري چې د لینونو له لارې د استفادې وړ بریښنا ته لاسرسي زیاته کړي. د بریښنا د لینونو نښلول د دې لپاره په نظر کې نیول شوې دی چې په لړه بیه د بریښنا غوره کارونه ټولو ته اسانه کړي، د بریښنا د نورو سرچینو کارونه کمه کړي، او د سیسټم ډاډمنتیا زیاته کړي.[587]

**NEPS:** د مرکزي آسیا له جمهوریتونو څخه بریښنا واردوي او کابل او شاوخوا سیمو ته یې ویشي.

**SEPS:** د خپل بریښنا زیاته برخه د کجکي بند او د کندهار ښار د ډیزلي جنریټرونو څخه لاسته راوړي. دا د هلمند او کندهار سیمو ته بریښنا ورکوي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لوري د پرمختګ په اړه‌راپور، 11/2013، لاسرسي 12/29/2013.

## د شبرغان پروګرام

د USAID په وینا افغانستان د خپل اوسنی بریښنا د 70% څخه زیاته برخه واردوي.[588] USAID د افغانستان بانک، د سیندونو څخه اخوا د خصوصي پانګونې شرکت، او د کانونو او پترولیم وزارت سره یوځای د شبرغان له پروژې څخه ملاتړ کوي تر څو د ګاز داسې سرچینې پیدا کړي چې د بریښنا په تولید کې د کارولو وړتیا ولري.[589]

USAID د دوو میکانیزمونو له لارې د شبرغان په پروګرام کې برخه اخلي: د شبرغان ګاز د پرمختیا پروژه (SGDP) چې د 90 میلیون ډالرو په ارزښت د بودیجې له لارې پلي کیږي، او د شبرغان ګاز د تولید فعالیتونه (SGGA)، چې 35 میلیون ډالرو په ارزښت د بودیجې له چوکاټه بهر پلي کیږي.[590] USAID د SGDP له لارې د بودیجې په چوکاټ کې 30 میلیونه ډالر ورکوي تر څو د آمو دریا حوزې د جمعه او باشي کرد په سیمو کې دوه څاګانې ترمیم او یو څاه وکنل شي. 7 میلیونه ډالره نور د افغانستان د ملي بودیجې لخوا ورکول کیږي. د ترکیې د ملي پترولیم شرکت د 2013 کال د دسمبر په 14 د کانونو او پترولیم وزارت سره یو قرارداد لاسلیک کړ تر څو دا کار ترسره کړي. تمه کیږي چې د 2014 کال په اګست/سپتمبر کې د ګاز زیرمې وټاکل شي. که چیرته په پای کې کنل شوې څاګانې دومره ګاز ولري چې 200 میګاواټه بریښنا تولید کړي نو بیا به USAID د SGDP له لارې بودیجې په چوکاټ کې پاتې 60 میلیونه ډالر هم ورکړي ترڅو د ګاز راټولولو سیسټم او د ګاز پروسس کولو دستګاه جوړه کړي. تر اوسه پورې هیڅ پیسې ندي تادیه شوې.[591]

د SGGA پروګرام د بوديجې څخه بهر برخه د اډوانس انجينرينګ اسوشيټس انټرنيشنل سره د يو قرارداد له لارې د تطبيق په حال کې دی او د کانونو او پټروليم وزارت سره د يادو څاګانو د کنلو په برخه کې تخنيکي مرسته کوي او همدارنګه د ګاز راټولولو سيستم او د ګاز پروسس کولو دستګاه د انجينرينګ/تدارکات/رغونې د مزايدې په برخه کې ياد وزارت سره مرسته کوي. د 2013 کال د دسمبر تر 18 پورې، نږدې 23 ميليونه ډالر مقيد شوي چې له دې څخه له 10 ميليونه ډالر څخه زيات يې تاديه شوي دي.[592]

USAID د شبرغان پروګرام ته 21% فنډ ورکوي؛ تمه کيږي چې د سيندونو څخه اخوا د خصوصي پانګونې شرکت د بريښنا ګازي دستګاه لپاره چې 200 ميګاواټه بريښنا توليدوي 300 ميليونه ډالر پانګه ولګوي (چې د ټول فنډ 52% کيږي)؛ د آسيا پراختيايي بانک د اړوند انتقالي لينونو په تعمير کې مرسته کوي (د ټول فنډ 22%)؛ او د کانونو او پټروليم وزارت پاتې 5% فنډ ورکوي.[593]

## د کندهار-هلمند د بريښنا پروژه

د کندهار-هلمند د بريښنا پروژه (KHPP) د دې لپاره په نظر کې نيول شوې ده چې د کندهار او هلمند ولايتونو کې د بريښنا لاسرسي او اعتماد زيات کړي. دا پروژه د دې لپاره طرحه شوې ده چې د بيړنيو اړتياو لپاره د ډيزلی بريښنا ځای ونيسي، د اوږدمهال لپاره د اوبو بريښنا برابر کړي، او د SEPS د لينونو او ويش د پراخولو په صورت کې د بريښنا له ضايع کيدو څخه مخنيوی وکړي.[594]

د 2010 کال د اکتوبر په 29 نيټه USAID د 266 ميليون ډالرو قرارداد له بلک ايند ويچ سره لاسليک کړ تر څو د بريښنا فرعي ستيشنونه ترميم او جوړ کړي، په کندهار ښار کې د منځني ولټاژ د ويش سيستم ته پرمختيا ورکړي، په کجکي بند کې دريم توربين نصب، آزموينه او په کار واچوي، او د ډيزلي بريښنا لپاره نوی جنريټورونه طرحه او نصب کړي تر څو د کجکي بند او/يا د SEPS-NEPS د لينونو له لارې ارزانه بريښنا خلکو ته برابره شي.[595] د توربين پرزې په 2008 کال کې د امريکا-برتانيې د يو ګډ ماموريت په مرسته د بند ساحې ته ورسول شو چې تر اوسه پورې ندي راټول شوي او د ترپال لاندې پراته دي.[596]

USAID د 2013 کال د اپريل په 22 نيټه د افغان دولت سره د بوديجې په چوکاټ کې يوه تطبيق پاڼه لاسليک کړه او د کجکي بند ددريم توربين د نصب، آزموينه او کاروني لپاره يې 75 ميليونه ډالر په فرعي ډول مقيد کړ، البته دا کار لکه څنګه چې ټاکل شوی و د بليک انډ ويچ د قرارداد لاندې ترسره نه شو.[597] د توربين د نصب موضوع چې د بليک ايند ويچ په قرارداد کې راغلی و ترې ايسته کړای شو.[598]

د افغانستان د ملي ګټې، د افغانستان برښنا شرکت (DABS)، منلې ده چې د تطبيق پاڼې د شرايطو او غوښتنو د عملي کيدو مسوليت په غاړه واخلي.[599] DABS د 2013 کال د دسمبر په 9 د GFA کانسلټنګ کمپني سره چې په دوبی کې ده د 6 ميليون ډالرو په ارزښت يو قرارداد لاسليک کړ تر څو د امنيت او ساحوي مرستو سربيره د کجکې بند د دريم توربين د انجينرينګ، تدارکات، او د مزايدې خدمات ترسره کړي.[600] په همدې وخت کې، USAID د 2013 د دسمبر په 17 اعلان وکړ چې په پام کې لري د بليک ايند ويچ سره يو انحصاري قرارداد لاسليک او KHPP پراخه کړي تر څو د دريم توربين د نصب په برخه کې د DABS او USAID سره مرسته وکړي. بليک اينډ ويچ به د پروژې اسناد او د کجکي

### د سيګار خبرداری ليک

سيګار پدې ربعه کې USAID ته يو خبرداری ليک وسپاره چې په هغې کې د هغه قرارداد احتمالي نواقص په ګوته شوي و چې له مخې يې ځد افغانستان ملي ګټې، د افغانستان بريښنا شرکت (DABS) ته د کجکي بند د اضافي توربين لپاره مستقيمه مرسته ورکول کيده. د لا زياتو معلوماتو لپاره، د 2 برخې 48 مخ وګورئ.

هایدرو پاور د دستګاه طرحې په جوړولو کې مرسته وکړي. USAID دا پریکړه د دې لپاره ونیوله چې بلیک اینډ ویچ د کجکي هایدروپاور د دستګاه په اړه تجربه لري.[601]

د امریکا دفاع وزارت د AIF له لارې په کندهار ښار کې د 2014 کال تر پایه پورې هغه جنریترونو ته چې د امریکا د پوځي انجینرانو د قطعې لخوا نصب شوي تیل ورکوي. DABS په ساحه کې نورو جنریترونو ته تیل چمتو کوي. د تیلو سبسایډي کیدای شي پراخه شي، خو USAID تمه لري چې دا لګښت کم کړای شي ځکه چې DABS هغه اړین ګامونه پورته کوي چې د تیلو دوامدار مصارف تامین کړي. یو ګام دا دی چې د کجکي بند د دریم توربین د نصب لپاره قرارداد لاسلیک شي، چې د فعالیت له پیل څخه وروسته اضافي بریښنا او عواید ترې لاسته راځي.[602]

د عایداتو راټولول کیدای شي له ننګونو سره مل وي. د سیګار یوې پلټنې موندلې دي چې سره له دې چې د USAID پانګونې د کابل بریښنا د څانګې په سوداګریز کولو کې بریالیتوب ترلاسه کړې او د عوایدو کچه 60% زیاته شوې، خو د افغانستان بریښنا شرکت لا هم په مالي کسر خپل کارونو ته دوام ورکوي. همدارنګه، DABS نشي کولی د دولت له سبسایډي څخه پرته چې دا هم په 2014 کال کې پای ته رسیږي، خپل بیلونه تادیه کړي.[603]

USAID د 2013 کال د دسمبر تر 18 پورې، د ESF له فنډ څخه 229.6 میلیونه ډالر د KHPP لپاره مقید کړي، چې شاوخوا 209.3 میلیونه ډالر یې تادیه شوي دي. دا شمیره د تیر ربعې په مقایسه 17.9 میلیونه ډالر زیاته ده.[604]

## د بریښنا د انتقال پراخولو او د اتصال پروګرام

د بریښنا د انتقال پراخولو او د اتصال پروګرام (PTEC) د امریکا په فنډ د دې لپاره طرحه شوې ده چې د بریښنا تولید، انتقال، او د ویش سیسټمونه پیاوړي او پراخه کړي. دا پروګرام د افغانستان د ملي انکشافي ستراتیژۍ د انرژي رسولو د ملي پروګرام څخه په مستقیمه توګه ملاتړ کوي کوم چې د بریښنا په وړاندې د بیلونو د سم ټولولو او د بریښنا خدمات د لاپراخولو غوښتنه کوي.[605]

د NEPS د تقویې او پراخولو سربیره، د PTEC یوه مهمه برخه دا ده چې د کابل او کندهار ترمنځ د بریښنا لینونو د 329 میل څخه د 304 میل لپاره یې فنډ برابر کړي او NEPS د SEPS سره ونښلوي. د SEPS-NEPS د نښلولو په لاره کې اته فرعي ستیشنونه هم جوړیږي چې موقعیت به یې د لارې پر سر ډیر جمعیت لرونکې سیمې وي. دا اتصال، د کجکي هایدرو پاور پلانټ د ترمیم سره یوځای، په 2010 کال کې یوازینۍ لاره وه چې کولی شو کندهار ته د ګرانه بیه ډیزلي بریښنا په ځای ارزانه او باثباته بریښنا چمتو کړي.[606]

NEPS سره د SEPS نښلول د ګڼو ډونرانو هڅې ته اړتیا لري. ADB د کابل څخه تر ارغندي پورې د لومړی 25 میلو مسولیت په غاړه لري.[607] USAID به د ارغندي څخه تر غزني پورې د 75 میلو مصرف ورکړي چې 101 میلیونه ډالر لګښت لري، او د امریکا دفاع وزارت د AIF څخه USAID ته انتقال شوی دی. USAID، د افغانستان مالیې وزارت، او DABS د دې برخې دوه اړخیزه موافقه د 2013 کال په فبروري کې رسمي کړه.[608] USAID په پلان کې لري چې د PTEC پروژې له 814 میلیون ډالرو څخه 417.6 میلیونه ډالر یې د آسیا پراختیایي بانک د افغانستان د زیربنا خیریه فند (AITF) ته ورکړي تر څو یوه برخه یې د غزني څخه تر کندهاره پورې د NEPS او SEPS د نښلولو لپاره پاتې 230 میله لینونه جوړ کړي. د SEPS-NEPS د اتصال بشپړول به تر 2018/2017 کلونو پورې د دوو کلونو لپاره وځنډول شي. د هغه پیسو

څخه چې AITF ته USAID ورکوي، نږدې 290 میلیونه ډالر به يې د غزني او کندهار ترمنځ د انتقالي لينونو په جوړولو کې ولګول شي تر څو SEPS-NEPS سره ونښلوي.[609]

د اسيا پراختيايي بانک (ADB) AITF د 2010 کال په دسمبر کې تاسيس کړ تر څو دوه اړخيزه، څو اړخيزه، او انفرادي مرسته کونکو ته اجازه ورکړي چې د زيربنايي پانګه اچونې په برخه کې د ADB سره ملګري شي. AITF د DABS او د افغان دولت د وزارتونو له لارې د بوديجې په چوکاټ کې پروژو ته فنډ ورکوي. د AITF په اوسنی مرسته کونکو کې د برتانيې د نړيوالې پراختيا اداره او د جاپان سفارت شامل دي.[610]

USAID د 2013 کال د دسمبر تر 31 پورې د AITF لپاره 180.3 میلیونه ډالر مقيد کړي او 105 میلیونه ډالر يې تاديه کړي چې له تاديه شوي شميرې څخه 45 میلیونه ډالر يې د 2013 کال په مارچ کې د پروګرام د کومکي موافقې د لاسليک سره سم او 60 میلیونه ډالر يې د 2013 کال په دسمبر کې د ADB د غوښتنې په اساس تاديه شوي دي. همدارنګه USAID د PTEC لپاره د مالیې وزارت او DABS سره د بوديجې په چوکاټ کې د 263.3 میلیونه ډالرو ژمنه کړې وه، خو په تیرو دوو ربعو کې يې کومې پیسې ندي تاديه کړي.[611] دا ځکه چې USAID د DABS لپاره 12 شرايط تعين کړي و تر څو عملي يې کړي. USAID په يوه تطبيق پاڼه کې چې د 2013 کال د دسمبر په 5 نيټه خپره شوې وه اعلان وکړ چې DABS په وروستيو کې د پيسو د تادیې شرايط پوره کړي، بناء خپل قراردادونه USAID ته د منظوري لپاره تسليم کړي.[612]

## د امریکا دفاع وزارت (DOD) په فنډ پروګرامونه

د امريکا دفاع وزارت د افغانستان د امنیت، ثبات، او اقتصادي ودې لپاره د بريښنا توليد، انتقال، او ويش ته د اساسي محور په توګه ګوري. په دې ربع کې DOD د انرژۍ سکتور د لومړيتوبونو ګنې پروژې پلې کړې چې پيسې يې د AIF د 2012 او 2013 مالي کال له بوديجې تر لاسه کيدې. چې په هغو کې دا شامل وو:[613]

- د کندهار د بريښنا د ستونزې حل
- د کندهار-دورايي د جنکشن انتقالي لينونه
- د چاريکار-بازارک او چاريکار-محمودراقي انتقالي لينونه او د بريښنا فرعي سټيشنونه
- د کجکي بند څخه تر موسی قلعې پورې انتقالي لينونه

## د کندهار د بریښنا د ستونزې حل

دا پروژه د کندهار ښار لپاره د ډيزلي جنريټرانو تيل برابروي تر هغې چې د DOD-USAID د مشترکو هڅو په نتيجه کې NEPS او SEPS سره وصل شي او کندهار ښار ته مناسب او پایداره بريښنا برابره شي.[614] د شورندام صنعتي پارک او د باغ پل جنريټرونه په مجموعي ډول د 8–13 میګاواټه بريښنا توليدولو وړتيا لري. پدې ربعه کې د فنډ ورکولو کچې د تيرې ربعې څخه توپير نه درلوده. په 2012 مالي کال کې د تيلو، عملياتونو، او مراقبت (O&M) لپاره 79.8 میلیونه ډالر ورکړ شو. په 2013 مالي کال کې نومونړي مصارف 100 میلیونه ډالر اټکل شوي چې 90 میلیونه ډالر يې د تيلو او 10 میلیونه ډالر يې د O&M لپاره ورکول کيږي.[615]

ولسمشر د 2014 مالي کال په بوديجه کې د AIF لپاره 279 میلیونه ډالر غوښتی و، د دې په اساس DOD وړانديز کړی تر څو 100 میلیونه ډالر يې د ډيزلي جنريټرانو د تيل، او د DOD او USAID د بريښنا مخکينيو پروژو په يوځای کولو کې ولګول شي. DOD به

د 2014 مالي کال د نهايي تخصيصاتو په نظر کې نيولو سره نوموړی پلان بياوارزوي.[616] دا پلان به د کندهار مختلف "بريښنايي پروګرامونه" په يوه کړۍ کې سره راټول کړي او پدې سره د بريښنا د ستونزې په حل کې مرسته کوي. DOD پلان لري چې په 2015 مالي کال کې هم د تيلو او O&M د اخيستو ته ادامه ورکړي، خو په پام کې لري چې د 2013 کال په دسمبر کې ټول جنريټرونه او د شپږو مياشتو اضافي پرزې DABS ته وسپاري. DOD ويلي چې د ليږد څخه وروسته تر يو کاله پورې به خپل تخنيکي مرستو ته ادامه ورکوي.[617] د امريکا دفاع وزارت د بريښنا دغه پروژه د کندهار خلکو د ژوند د آرامتيا او د اقتصادي پرمختګ لپاره اړين بولي او د جنګياليو په ضد د ستراتيژۍ يوه مهمه برخه يې ګڼي. DOD وايي چې د کندهار د بريښنا ستونزې حل د افغانستان د بريښنا پلان او د افغانستان لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په پراختيايي پلان کې مهم موقعيت لري.[618]

## له کندهار څخه دورايي پورې انتقالي لينونه

د SEPS پراختيا د يوې برخې په توګه، دغه پروژه له کندهار څخه تر دورايي پورې د انتقالي لينونو د نصب او ترميم هڅو ته دوام ورکوي او په ميوند او پشمول کې د فرعي ستيشنونو په جوړولو يا بيارغولو کې مرسته کوي. د دې پروژې لګښت چې په 2012 کال کې پيل شوې وه، د 2012 مالي کال په فنډونو کې 40 ميليونه ډالر پاتې شو. دا انتقالي لينونه د PTEC د ستړې پروژې يوه مهمه برخه ده چې SEPS او NEPS سره نښلوي او د افغانستان د جنوبي او جنوب ختيځه خلکو لپاره د پايداره بريښنا په چمتو کولو کې مرسته کوي. DOD غواړي په DABS کې اقتصادي وده، امنيت، ثبات او د ظرفيت لوړاوي هڅې پياوړې کړي څو د بريښنا سوداګريز کولو له لارې د پام وړ عوايد لاسته راوړي او د هغې په مرسته د بريښنا دې کړۍ ته لا زيات پرمختګ ورکړي. DOD وايي د دې پروژې بشپړيدا د هغه دريم توربين د بريښنا ويشلو لپاره هم اړين دی چې په کجکي بند کې د نصبولو انتظار کوي.[619]

## د چاريکار-بازارک او چاريکار-محمودراقي انتقالي لينونه او د بريښنا فرعي سټيشنونه

په دې پروژه کې به د چاريکار څخه تر بازارک او د چاريکار څخه تر محمودراقي پورې 52 ميل لينونه وغزول شي. او د NEPS د پراختيا لپاره به درې فرعي سټيشنونه هم جوړ کړي. کانګرس ته د امريکا د دفاع وزارت د خبرتيا په اساس، ياد وزارت په 2012 مالي کال کې 38 ميليونه ډالر او په 2013 مالي کال کې 33 ميليونه ډالر دې پروګرام ته تخصيص کړی و، چې مجموعي لګښت يې 71 ميليونه ډالر کيږي. د انتقالي لينونو او فرعي سټيشنونو د O&M لګښت په کال کې 580,000 ډالره کيږي.[620]

DOD کانګرس ته روښانه کړه چې دا پروژه به 1.15 ميليونه افغانانو ته په دريو ولايتونو کې مطمينه بريښنا برابره کړي او د خصوصي سکتور له ودې سره به په ځانګړې توګه په کرهنې، پروسس کولو، توليد او د کانونو سکتور په برخه کې مرسته وکړي. د AIF په فنډ نورو پروژو غوندې او د رسمي موافقې په اساس، ياده پروژه هم د بشپړيدو سره سم افغان دولت ته سپارل کيږي. DABS به د O&M مسوليت په غاړه اخلي. د DOD په وينا، د يو پراخيدونکی سکتور څخه زيات عايدات کول او د پيسو د ټولو ورټيا زياتول به له DABS سره مرسته وکړي تر څو اوږدمهاله ثبات پيدا کړي.[621] پهرصورت، سيګار د DABS ظرفيت په اړه انديښنې څرګندې کړي، او نورو پلټنو ښودلې ده چې افغانستان د O&M د مصارفو لپاره اړينې سرچينې په واک کې نلري.[622]

## د کجکي بند څخه تر موسی قلعې پورې انتقالي لینونه

دا پروژه د کجکي هایدروپاور پلانت څخه د هلمند ولایت تر موسی قلعې پورې د بریښنا نوي انتقالي لینونه جوړوي. د دې پروژې د I مرحلې لپاره په 2013 مالي کال کې 12 میلیونه ډالر تخصیص ورکړ شوی چې پدې سره به د 9 میله فاصلې لپاره د کجکي بند څخه تر یو نوی فرعي ستیشن پورې 110kV لینونه وغزول شي چې دا لینونه د مخکینی 20kV انتقالي لین سره یوځای کیږي. II مرحله په 2014 مالي کال کې د 49 میلیونه ډالرو په مرسته پیل کیږي چې پدې کې به د نوموړې فرعي سټیشن څخه تر موسی قلعه پورې 23 میله 110kV انتقالي لینونه غزول کیږي او همدارنګه د موسی قلعه اوسنی 20kV فرعي سټیشن هم ترمیمیږي. د DOD په وینا دا پروژه د موسی قلعی د سیمې 60,000 استوګنو ته ګټه رسوي.[623]

د پروژې نورې برخې داسې طرحه شوي چې د SEPS ټولې پروژې په یوه واحد او سره نښتی سیستم کې یوځای کوي. د AIF په فنډ نورو پروژو غوندې او د رسمي موافقې په اساس، یاده پروژه هم د بشپړیدو سره سم افغان دولت ته سپارل کیږي. DABS به د O&M مسولیت په غاړه اخلي. د DOD په وینا، د یو پراخیدونکی سکتور څخه زیات عایدات کول او د پیسو د ټولو وړتیا زیاتول به له DABS سره مرسته وکړي ترڅو اوږدمهاله ثبات پیدا کړي.[624] پهرصورت، لکه څنګه چې وویل شو، سیګار د DABS ظرفیت په اړه اندیښنې څرګندې کړي، او نورو پلټنو ښودلې ده چې افغانستان د O&M د مصارفو لپاره اړینې سرچینې په واک کې نلري.

## د خصوصي سکتور پراختیا

متحده ایالات د ESF، TFBSO او CERP له لارې په افغانستان کې د خصوصي سکتور ملاتړ کوي. USAID د 2002 مالي کال څخه تر 2012 مالي کاله پورې 1.06 میلیارده ډالر د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره مرسته کړې دی.[625] د اقتصادي ودې په برخه کې د USAIDستره پروژه، چې فنډ یې د ESF له لارې ورکول کیږي، د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته (ABADE) دی.

### د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته

| د پروژې عنوان | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د شرکتونو د پراختیا له لارې د افغانستان د ودانولو سره مرسته کول | 10/16/2012 | 10/15/2016 | $104,997,656 | $12,515,789 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته خواب، 1/7/2014.

د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته (ABADE) چې 105 میلیونه ډالر فنډ یې د USAID لخوا ورکول کیږي موخه لري چې د تولیدي، افغاني، واړه او متوسطو تشبثاتو له لارې خلکو ته کاري موقې زیاتې، پانګونه زیاته، او د خصوصي-عامه اتحادیو په مرسته د داخلي محصولاتو او خدماتو خرڅولو ته لاره هواره کړي. دا خپل کار په درې لارو کوي: عامه-خصوصي اتحادیې له تصویب څخه وروسته عملي کول؛ د اتحادیانو معلومول، ټاکل او ملاتړ کول؛ او د سوداګرۍ د چاپیریال بهتره کولو لپاره د افغان دولت سره مرسته.[626]

د 2013 کال له فبروري څخه چې ABADE پیل شوی، د 2014 کال د جنوري تر 14 پورې د USAID د راپور په اساس 25 عامه-خصوصي اتحادیان او 16 درخواستونه د تصویب انتظار کوي. علاوه پردې، په دې ربعه کې د سوداګرۍ څېړنتیا او د دولت د ظرفیت لوړاوي هڅې روانې وې.[627]

د ABADE عملی کول د ولسمشر د 62 فرمان څخه وروسته له محدودیتونو سره مخ شوی. په یاد فرمان کې له ټولو ادارو څخه غوښتل شوي چې د خپل امنیت لپاره د APPF او د خطر کمونکو شرکتونو څخه استفاده وکړي. د USAID په وینا، APPF نشي کولی چې خوځنده امنیتي واحدونه او نقلیه وسایل چمتو کړي، او له دې امله ABADE نشي کولی تر څو د افغانستان بیلابیلو سیمو ته سفر وکړي.[628]

## ترانسپورتیشن

د افغانستان د ترانسپورتي زیربناو نه شتون د داخلي سوداګرۍ، بهرنۍ تجارت، او اقتصادي ودې مخې ته خنډ جوړوي. نړیوال بانک ویلي چې د ترانسپورتیشن سکتور بیاجوړول د اقتصادي بیارغونې او پراختیا لپاره اساسي عامل دی.[629] د افغانستان د زیربناو نواقص په خاصه توګه د خدماتو او کرنې سکتور ډېر زیانمن کوي چې دا سکتور اوسمهال د هیوادو د GDP ډیری برخه جوړوي. همدارنګه نومړي نواقص د کان کیندنې صنعت هم له خنډ سره مخ کوي پداسې حال کې چې افغان دولت او نړیواله ټولنه تمه لري د بهرنیو مرستو له کمیدو وروسته د کانونو عواید وکولی شي د افغان دولت د مصارفو لګښت پوره کړي.[630] متحده ایالاتو بدې ربعه کې بیاهم د افغانستان د وزارتونو د ظرفیت لوړاوي، د کارونې او مراقبت ثبات، او د نړیوالو معیارونو سره د برابریدو په برخو کې خپل مرستو ته دوام ورکړی و.[631]

## سړکونه

USAID د 2013 کال د جولای په 14 نیټه د سړکونو سکتور د ثبات (RSS) پروژې طرحه منظوره کړه. دا پروژه څلور اساسي فعالیتونه لري:[632]

- 1 فعالیت - بیړنی O&M. دا د RFP په پراختیایي مرحله کې ده.
- 2 فعالیت - د عامه فوایدو له وزارت (MOPW) سره تخنیکي مرسته. د 2013 کال په سپتمبر/اکتوبر کې د داوطلبۍ لپاره مناسب شرکتونه غوره شو، د 2013 کال د نومبر په 27 نیټه خوشې شو او تمه کیږي چې وړاندیزونه د 2014 کال د جنوري تر 15 پورې تیار شي.
- 3 فعالیت - د MOPW د ظرفیت لوړاوي. د کار شرایط د نهایي کیدو په حال کې دی او وظیفوي فرمان غوښتنه هم د جوړیدو په درشل کې دی.
- 4 فعالیت - د سړک د O&M فعالیت. USAID د فنډونو او وړاندیز شوي فعالیتونو په اړه د AITF ADB's سره خپلو خبرو اترو ته دوام ورکوي.

د MOPW سره د USAID تخنیکي مرستې دا دي: 2 فعالیت، د سړکونو اداره جوړول، د سړکونو فنډ، او د ترانسپورتیشن انسټیټیوټ. USAID وایي چې د سړکونو د ریاست جوړولو په وړاندې لومړی ننګونه سیاسي مسایل دي. ولسمشر او کابینه بالاخره د 2013 کال د اګست په 12 نیټه د سړکونو ریاست او سړکونو له فنډ سره موافقه وکړه. په 2014 کال کې د هیواد د امنیتي او سیاسي ستونزو په نظر کې نیولو سره د دې طرحې لپاره سیاسي ملاتړ برابرول ننګونکی دی.[633]

## ریــــــل

د افغانستان د ریل چارواکي (ARA) د 2013 کال په نومبر کې د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې (CENTCOM) وروستی څېړنه ترلاسه کړه او غواړي چې د نورو نړیوالو ډونرانو له ماسټرپلانونو سره یې مقایسه کړي. د متحده ایالاتو د ټرانسپورټیشن وزارت د وینا په اساس د ARA لومړی مسولیت دا دی چې خپل قانوني او تنظیمي چوکاټ نهایي او بیا د پارلمان لخوا یې تصویب کړي تر څو د افغانستان د ریل په سکتور کې د یادې ادارې دندې او مسولیتونه په بشپړ ډول واضح شي.[634]

افغانستان په اوس وخت کې هیڅ د پام وړ ریل خط، عملیاتي تجربه، یا ظرفیت نلري. په دې هیواد کې تر اوسه پورې یوازې د ریل یوه بشپړه شوې لاره شته ده — د ازبکستان په پوله کې د حیرتان څخه تر مزاره پورې د 47 میلو لپاره.[635] یاد هیواد په پام کې لري چې د ریل دغه سړک وغزوي او د امریکا د نوی وریښمو د مفکورې په اساس یې د سیمه ایزو او اقتصادي لارو سره ونښلوي. د افغانستان، ترکمنستان، او تاجکستان ترمنځ د 249 میلو په اندازه د ریلو د سړک کار د 2013 کال په جون کې پیل شوی.[636]

د CENTCOM د ملي ریلوی پلان په باره کې د تشریحي معلوماتو لپاره، د 2013 کال په جولای کې د سیګار د درې میاشتنی راپور 164–166 مخ وګوری.

## زده کړه

د هغه معلوماتو په اساس چې USAID د معارف وزارت (MOE) د زده کړې د معلوماتي اداري له سیستم (EMIS) څخه لاسته راوړی افغانستان په 1390 لمریز کال (د 2011 کال مارچ - د 2012 کال مارچ) کې په مجموعي ډول 13,562 ابتدایي، ثانوي، او د لیسې مکتبونه درلودل. همدغه سرچینه ښیي چې په ټول افغانستان کې 185,255 تنه ښوونکي د زده کړې لپاره استخدام شوي، او شاوخوا 7.5 میلیون تنه زده کونکي په ابتداییه، ثانوي او لیسه مکتبونو کې په زده کړه بوخت دي.[637]

پهرصورت، USAID وایي چې د EMIS/MOE د اعتبار په اړه اندیښنه لري. یاده سرچینه یوازینی ډیټابیس دی چې په معارف وزارت کې تعلیمي محاسبې ترسره کوي. USAID اکثرآ د EMIS پر معلوماتو تکیه کوي خو سیګار ته یې ویلي چې د دې معلوماتو صفایي نشي کولی. USAID د معارف وزارت سره مرسته کوي تر څو د EMIS د معلوماتو اعتبار ته وده ورکړي. د دې مرستو زیاته برخه اوس د بودیجې په چوکاټ کې کیږي. USAID وایي چې د اړوندو معلوماتو د تصدیق او صفایي لپاره د خپل مامورینو، د نړیوال سوله ساتي ځواکونو، نورو ډونرانو، او عملي کونکو ملګرو له داخلي راپورنو څخه استفاده کوي.[638] سیګار خپله اندیښنه ښودلې چې د متحده ایالاتو دولتي اداري او نور نړیوال ډونران نشي کولی د زده کړې په برخه کې د افغانستان د لاسته راوړنو صحت معلوم کړي.

د سیګار یوې پلټنې پدې ربعه کې ومونده چې USAID/افغانستان په هغه ارزونه کې چې د امریکا د دوه اړخیزه مستقیمه مرستو د ترلاسه کولو لپاره یې افغاني وزارتونه ارزولي، ویلې ده چې د معارف وزارت تر هغه پورې د متحده ایالاتو د مستقیمه مرستو څخه فنډ نشي ترلاسه کولی چې په ارزونه کې راغلي 12 خطرونه او د خطر کمولو 39 معیارونه په نظر کې ونیسي. سره له دې چې USAID نتیجه ګیري کړی و چې د متحده ایالاتو دولت د ډونرانو د فنډ اداره کولو په برخه کې د معارف وزارت پر داخلي کنټرول باور نلري، بیا یې هم د مستقیمه مرستو یو فعال پروګرام لپاره 11.8 میلیون ډالر تادیه

### د سیګار تفتیش

پدې ربعه کې د سیګار یو تفتیش وموندل چې د بلخ تحصیلي ودانۍ د قرارداد له شرایطو او تخنیکي مشخصاتو سره سم ندي جوړ شوي؛ سره له دې چې د تعمیر له رغیدو څخه پنځه کاله تیر شوي اوس هم افغان دولت ته د سپارلو جوګه ندی؛ او افغان محصلین سره له دې چې تعمیر په رسمي ډول ندی تسلیم شوی، ترې استفاده کوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د 2 برخې 40 مخ وګوری.

کړې ده. USAID همدارنګه د 2013 کال د اګست تر 1 پورې، د اساسي زده کړو او د کاري ځواک د پرمختیا دوه پلان شوي پروګرامونو لپاره 206.1 میلیونه ډالر ژمنه کړې ده.[639]

USAID د 2002 کال څخه راهیسې د ښوونځیو د ترمیم، د نصاب جوړولو، او د ښوونکي د روزنو له لارې د زده کړې سره مرسته کړې ده. په دې ربعه کې د زده کړې هغه پروګرامونه چې د ESF له لارې فنډ ورکول کیده او د USAID په وړاندې لومړیتوب لري عبارت دي له:

- اساسي زده کړې، سواد، تخنیکې-مسلکي زده کړه او روزنه (BELT)
- د لوړو زده کړو پروژه (HEP)
- د افغانستان امریکایي پوهنتون (AUAF)

## د سیګار پلټنه

سیګار په یوه روانه پلټنه کې د افغانستان د تحصیلي سیسټم د ودې او پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو هڅې بررسي کوي.

## اساسي زده کړې، سواد، تخنیکې-مسلکي زده کړه او روزنه

| د پروژې عنوان | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| لومړنی زده کړه، سواد، او تخنیکي-مسلکي زده کړه او روزنه | 11/16/2011 | 12/31/2014 | $43,296,813 | $18,829,265 |
| BELT-په ټولنې کې میشته زده کړه | 10/29/2013 | 10/28/2017 | $56,000,000 | $0 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.



د بګرام په هوایي میدان کې د متحده ایالاتو د سمندري قطعاتو یو **پادري (مذهبي مشر)** د یوې افغاني انجلۍ سره د هغې په انګلیسي درس کې مرسته کوي. (د DOD تصویر)

اساسي زده کړې، سواد، تخنیکې-مسلکي زده کړه او روزنه (BELT) موخه لري په هغه سیمو کې چې دولت لاسرسی نلري باکیفیته زده کړې ته لاسرسي زیات کړي. دا پروګرام درسي کتابونه، تخنیکې-مسلکي زده کړه، او روزنه او همدارنګه د ټولنې په مرسته د زده کړې پروګرامونه چمتو کوي.[640]

BELT پنځه جلا برخې لري: د معارف وزارت د ظرفیت لوړاوي، د ښوونکو روزنه، تخنیکي مسلکي زده کړه او روزنه (TVET) تر څو د کار د بازار اړتیاوې پوره کړي، د معارف وزارت د 1–6 صنفونو لپاره درسي کتابونه برابرول، او د ټولنې په مرسته زده کړه.[641]

د CBE BELT لپاره، 01-39 شمیره تطبیق پاڼه د 2013 کال د سپتمبر په 18 نیټه د مالیې او معارف وزارتونو سره لاسلیک شوه چې د زده کونکو اهداف، د کړنې معیارونه، د صحت معلوماتو لارې، او د فنډ سویه پکې روښانه شوي دي. د TVET BELT طرحه د دې لپاره چې د ځوانانو په پرمختګ ډېره توجه وکړي بیاجوړېږي او موخه لري چې باکیفیته اساسي مهارتونه، د کاري ځواک چمتووالی او د مکتب څخه بهر د نورو ځوانانو لپاره د TVET روزنه برابر کړي.[642]

## د لوړو زده کړو پروژه (HEP)

| د پروژې عنوان | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د لوړو زده کړو پروژه | 2/23/2011 | 2/28/2014 | $21,216,813 | $16,499,985 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/31/2013.

په 2006 کال کې د لوړو زده کړو (HEP) پروژې له پیل راهیسې، دې پروژې د لوړو زده کړو وزارت سره د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژیک پلان په اجرا کې مرسته کړېده. د HEP وروستی مرحله چې د 2014 کال د فبروري په 28 پیل شوې ده، د مسلکي روزنې، د کیفیت یقیني کول او اعتبار ورکول، د نصاب بیاکتنه، د پوهنتونو ملګرتیا، اکاډمیکه پالیسي، او د مقرراتو له لارې د یاد وزارت ظرفیت ته وده ورکوي.[644] ولسي جرګې په دې ربعه کې د لوړو زده کړو قانون تصویب نه کړ. په یاد قانون کې دولتي پوهنتونو ته صلاحیت ورکړ شوی چې خپل عایدات او ترلاسه کړي مرستې په خپلواک ډول تولید او اداره کړي. پهرصورت، د HEP په مرسته د پولی تخنیک پوهنتون په چوکاټ کې د دوه کلن سند کار پای ته ورسید او لومړی صنف یې د 2014 کال په جنوري کې پیل شو.[645]

## د افغانستان امریکايي پوهنتون

| د پروژې عنوان | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان امریکايي پوهنتون | 8/1/2013 | 8/31/2018 | $40,000,000 | $2,054,928 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته خواب، 1/7/2014.

د USAID دویم پنځه کلنی تعاوني موافقت لیک دا دی چې د افغانستان امریکايي پوهنتون د انګلیسي ژبې لیسانس درسونه او روان درسونو ته دوام ورکړي. دا مرستې به د STEP-UP پروګرام په چوکاټ کې کیري او د ساینس، زده کړې او مدیریت د نوی نصاب په معرفي کولو، او همدارنګه د ماستری نوی پروګرام، د لرې فاصلې زده کړه، او آنلاین درسونو په برخو کې به مرسته کوي. د دې موافقې څلور برخې موخه لري چې د اکاډمیک او مسلکي پروګرامونو وده تقویه کړي، د پروګرام کیفیت زیات کړی، او پروګرام د ښځو لپاره هم وغزوي، او د مالي اړخ نه خودکفایی ته وده ورکړي.[646]

## د زده کړې په برخه کې د USAID نور فعال پروګرامونه

| د پروژې عنوان | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د زده کړې لپاره نړیواله ملګرتیا | 10/11/2012 | 3/31/2015 | $2,500,000 | $290,158 |
| د افغانستان تعبیرونه | 6/30/2013 | 5/31/2015 | $625,000 | $150,000 |
| د افغانستان تخنیکي مسلکي انستیټیوټ | 6/15/2013 | 1/14/2015 | $1,000,000 | $355,000 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته خواب، 1/7/2014.

## روغتیا

د USAID په وینا، افغانستان د 2002 کال څخه راهیسې په خپلو صحي شاخصونو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. سره له دې چې دا هیواد اوس هم د نړۍ په کچه د مور او ماشوم د مړینې لوړه شمیره لري، د مرګ ژوبلې سروې چې په 2010 کال کې د USAID په فنډ ترسره شوه معلومه کړه چې په دې هیواد کې د ژوند تمه 20 کاله زیاته شوې او په اوسط ډول 62–64 کلونو ته رسیږي.[647] پهرصورت، ځینې نورو ادارو بیا یو څه ټیټې شمیرې ښودلي دي. د CIA د نړۍ په معلوماتو کې د افغانانو د ژوند تمه د زیږیدنې څخه تر 50 کالو پورې، او نړیوال بانک لخوا بیا 48 کالو پورې محاسبه شوې ده.[648]

### د سیګار پلټنه

د امریکا د مستقیمه مرستو د اداره او حساب ورکونې په برخه کې د عامې روغتیا وزارت د ظرفیت د پلټنې په ترڅ کې سیګار ومونده چې سره له دې چې MOPH د مالي مدیریت په برخه کې نواقص لري بیا هم USAID د امریکا د مالیه ورکونکو میلیونونه ډالر د مستقیمه مرستو په شکل ورکوي حال دا چې د دې فنډونو د سمې کارونې په اړه لږ اطمینان لري.[643]

له 2002 تر 2012 مالي کاله پورې، د افغانستان روغتيايي سکتور سره د متحده ايالاتو هغه مرستې چې د افغان حکومت له لارې يا د حکومت له بوديجې بهر لګول شويدي 1.06 ميليارده ډالرو ته رسيږي.[649] د عامې روغتيا وزارت سره د بوديجې په چوکاټ کې ورکړ شوي مرستو کې د هغه کسانو معاشونه چې د امريکا په مرسته جوړ شوي مرکزونو کې کار کوي، طبي او غير طبي اکمالات، داخل خدمت روزنې، د وادانيو ورې بيارغونې، طبي تجهيزات او نظارت او ارزونه شامل دي. د بوديجې له چوکاټ څخه بهر مرستې په لاندې مواردو کې شوي: د صحي سيستم تقويه کول، په صحي مسايلو کې خصوصي سکتور راښکيلول، او درمل او کانتراسپتيف مواد (د اميداورۍ د مخنيوی لپاره) چمتو کول.[650]

پدې ربعه کې د روغتيا د سکتور لاندې پروګرامونه د USAID په وړاندې ستر لومړيتوب درلود:

- د روغتيايي خدمتونو لپاره مشارکتي قراردادونه (PCH)
- د صحي پاليسی پروژه (HPP)
- د مشرې، مديريت، او حکومتولۍ پروژه (LMG)

## د روغتيايي خدمتونو لپاره مشارکتي قراردادونه

| د پروژې عنوان | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د روغتيايي خدمتونو لپاره مشارکتي قراردادونه | 7/20/2008 | 1/31/2015 | $236,455,840 | $151,913,665 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

د روغتيايي خدمتونو لپاره د مشارکتي قراردادونو (PCH) پروګرام د عامې روغتيا وزارت سره مرسته کوي تر څو په 13 ولايتونو کې خلکو ته د روغتيايي خدماتو اساسي کڅوړه (BPHS) او د روغتون د خدماتو اساسي کڅوړه (EPHS) وړاندې کړي. د امريکا متحده ايالات د دې صحي مراکزو له 553 مرکزونو سره مرسته کوي —په ټول افغانستان کې د صحي مراکزو 26.4% کيږي— چې عبارت دي له:[651]

- 5 ولايتي روغتونونه
- 27 ولسوالي روغتونونه
- 13 د روغتيا جامع مرکزونه + ("+" پراخو خدماتو ته اشاره کوي)
- 157 د روغتيا جامع مرکزونه
- 271 د اساسي روغتيا مرکزونه
- 64 د روغتيا فرعي مرکزونه
- 10 د بنديخانو روغتيايي مرکزونه

همدارنګه USAID په ټول افغانستان کې د 6,402 صحي پوستو سره مرسته کوي —د ټولو صحي پوستو 48.5%. هره مياشت په اوسط ډول د 1.3 ميليونه ناروغانو خدمت کيږي.[652]

PCH د ابتدايي پاملرنې څخه نيولې تر اعلي او مسلکي تشخيصي او معالجوي خدماتو پورې وړاندې کوي. نوموړی پروګرام د ټولنې د قابله ګانو د ښوونې پروګرام سره هم مرسته کوي تر څو د ښځينه روغتيايي کار کونکو شمير زيات او پدې سره د ميندو او ماشومانو مرګ ژوبلې کمې شي.[653]

## د سيګار تفتيش

د سيګار يو تفتيش پدې ربعه کې ومونده چې د CERP په فنډ جوړ شوی سالنګ روغتون د قرارداد له شرایطو سره سم ندی جوړ شوی او د خونديتوب مهمې ستونزې لري؛ هغه نواقص چې د متحده ايالاتو ځواکونه-افغانستان لخوا په ګوته شوي و ندي سم شوي؛ او روغتون کې شمير خدمات چې په نظر کې نيول شوي و نه وړاندې کوي. د لا زياتو معلوماتو لپاره، د 2 برخې 41 مخ وګورئ.

USAID په خپل راپور کې ويلي چې اوسنی BPHS او EPHS نشي کولی د ټولنو زياتيدونکي صحي اړتياو ته ځواب ووايي. علاوه پردې، د PCH کار کونکي د مرستو او قراردادونو د مديريت څانګې ته ورکول، او د امنيتي شرايطو خرابيدل د دې لامل شوي چې روغتيايي مراکز په موقتي ډول بند او اداري فعاليتونه، د کارکونکو انتقال، څارنه او نظارتي فعاليتونه له ځنډ سره مخ شي.[654]

PCH هر شپږ مياشتې USAID ته راپور ورکوي.[655] خو سيګار د عامې روغتيا وزارت په اړه د پلټنې په ترڅ کې ومونده چې USAID د ياد وزارت د عملياتي لګښت پوره کولو لپاره په پيشکي ډول هر 45 ورځې اضافي فنډ ورکوي. د عامې روغتيا وزارت ياد شوی او نور داخلي نواقص د دې لامل کيږي چې د PCH پروګرام په چوکاټ کې د متحده ايالاتو فنډونه د درغلي، ضياع او ناوړه کارونې له خطر سره مخ شي. همدارنګه يادې پلټنې په ګوته کړه چې د USAID چارواکو ته معلومه نده چې آيا د عامې روغتيا وزارت د يادو نواقصو د لرې کولو لپاره کوم ګام پورته کړی که نه.[656]

### د USAID څارنه

USAID د عامې روغتيا وزارت د مرستو او قراردادونو د اداري په څانګه (GCMU) کې يو ټيم ته فنډ ورکوي تر څو د USAID په فنډ جوړ شوي تسهيلاتو څخه څارنه وکړي. دا ډله خپل کار د تطبيق کونکي انجيو ګانو د کار د ساحې کتنه او د مياشتنی راپور په مرسته ترسره کوي. USAID راپور ورکړی چې د GCMU ټيم په 2013 مالي کال کې 55 ساحوي کتنې کړي، چې پدې کې يې د PCH پروګرام 242 (44%) صحي مراکز کتلي دي. د انجيوګانو څخه غوښتل شوي چې د هر صحي مرکز په اړه عادي څارنه ترسره کړي او په خپل مياشتنی راپور کې د فعالو صحي مراکزو او په دوی کې د بوختو کسانو شميره هم وليکي.[657] د حاضرو ناروغانو شمير، د روغتيايي خدماتو ډول، کيفيت، يا نتايج ترې ندي غوښتل شوي.

USAID فعلا د افغانستان د صحي معلوماتو لپاره د عامې روغتيا وزارت د صحي اداري پر معلوماتي سيستم (HMIS) اعتماد کوي، لکه څنګه چې د معارف وزارت له EMIS سره هم داسې کوي. د EMIS برخلاف، USAID د مشرۍ، مديريت، او حکومتولۍ د پروژې له لارې د عامې روغتيا وزارت سره مرسته کوي تر څو د معلوماتو کيفيت د ارزولو وسيله وکاروي او پدې سره د HMIS لپاره بشپړ، په وخت او کره معلومات راغونډ کړي. USAID همدارنګه د عامې روغتيا وزارت سره پدې ربعه کې مرسته وکړه چې د معلوماتو د کيفيت يقيني کولو لپاره د نمونه ګيرۍ سروې په لاره واچوي. د 2013 کال په اکتوبر کې د معلوماتو راټولول بشپړ شو؛ نتايج يې په راتلونکی کې خپريږي.[658] د LMG پروګرام په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره 181 مخ وګورئ.

### د صحي پاليسی پروژه

| د پروژې عنوان | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د روغتيايي پاليسی پروژه | 6/2012 | 10/2014 | $28,000,000 | $13,700,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/31/2013؛ USAID، د سيګار بررسی ته ځواب، 10/13/2013.

د صحي پاليسی پروژه (HPP) د عامې روغتيا وزارت سره مرسته کوي ترڅو د روغتونونو د عامه-خصوصي ملګرتيا (PPPs) په طرحه، څيرنه، او مديريت سره د خلکو د روغتيا اساسي اړتياوې بشپړې کړي. همدارنګه دا پروژه موخه لري چې د محلي سيمو د خصوصي



**يوه افغاني كورنۍ** په كندهار ولايت كې د افغان ملي پوځ د روغتيايي كاركونكو په انتظار دي تر څو صحي مرستې ترلاسه كړي. (د DOD تصوير)

سكتور موسسو ظرفيتونه لوړ كړي تر څو د ټولنيزو رسنيو د بازار موندنې له لارې د افغان دولت سره يوځای د باكيفيته صحي خدماتو په چمتو كولو كې برخه واخلي.[659]

وايي چې د عامې روغتيا وزارت او نور برخه لرونكي يې د بازار د اقتصاد په اړه لږه پوهه لري او د خصوصي سكتور له فعاليتونو څخه غيركافي سياسي ملاتړ كيږي، چې له امله يې د صحت د خصوصي سكتور په وړاندې لوی خنډ جوړ شوی. د روغتونونو د عامه-خصوصي ملګرتيا (PPPs) په برخه كې د تكړه نړيوال مشاورينو نشتون؛ د عامې روغتيا په وزارت كې د يو مشخص دفتر نشتوالی چې د PPPs د كارونو لپاره ځانګړی شي؛ ناامني؛ او د صحي سكتور د بيو په اړه د قانوني اصلاحاتو اوږد بهير، هغه عوامل دي چې د PPPs كار يې له خنډ سره مخ كړی دی.[660]

د دې ننګونو سربيره، HPP پدې ربعه كې خپلو روزنو ته ادامه وركړه، لكه: د ميندو او ماشومانو د مړينې د كچې كمولو لپاره په ټولنه كې د مشهور شوي درملونو د سمې كارونې روزنه، او د روغتيا چمتو كونكو لپاره د جندر په اساس د تاوتريخوالی روزنه. همدارنګه د عامې روغتيا وزارت د خصوصي سكتور د همغږۍ رياست د HPP په مرسته يو كميسيون جوړ كړ تر څو د صحي جواز بهير ته نظم وبښي، او موخه يې دا ده چې د انتقالاتو لګښت كم او د صحت د خصوصي سكتور ودې ته لاره هواره كړي.[661]

## د مشرۍ، مديريت، او حكومتولي پروژه

| د پروژې عنوان | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټكل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| مشرۍ، مديريت، او حكومتولي | 9/25/2011 | 9/24/2016 | $26,000,000 | $13,612,927 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

د مشرۍ، مديريت، او حكومتولۍ (LMG) پروژه په مركز او ولاياتو كې د عامې روغتيا وزارت او د معارف وزارت سره كار كوي تر څو د افغانستان په روغتيايي، او تعليمي سيستمونو كې د مشرۍ، مديريت، او حكومتولۍ ظرفيتونو ته وده وركړي. دا پروژه همدارنګه د عامې روغتيا په وزارت كې شفافيت او حساب وركونې ته وده وركوي او له دواړو وزارتونو سره مرسته كوي ترڅو د بوديجې په چوكاټ كې مرستې اداره كړي.[662]

پدې ربعه كې د LMG په مرسته د معلوماتو د كيفيت په اړه دوه تحليلونه ترسره شو چې نتايج به يې په راتلونكې ربعه كې خپور شي؛ د كابل په څلورو روغتونو كې د مالي مديريت معلوماتي سيستم (FMIS) معرفي شو چې پدې سره د روغتونونو د عايداتو معلومات مستقيماً د ماليې وزارت ته استول كيږي؛ او د ټولنيزې شورا لپاره يو لارښود نهايي شوی چې د عامې روغتيا وزارت مشرتابه ته د تصديق لپاره وړاندې كيږي.[663]

سره له دې چې په 14 ملي روغتونونو كې پرمختګونه شوي، USAID وايي چې د روغتونونو كار كونكي د خپلواكه كارونو لپاره كمزوری ظرفيت لري. USAID تمه لري چې د بشري سرچينو خپلواكي—د استخدام او لرې كولو حق— به د نورو اصلاحاتو لپاره لاره هواره كړي. پدې ربعه كې د عامې روغتيا وزارت ومنله چې د كابل يو روغتون ته د بشري سرچينو واك وركړي. د ملكي خدماتو كميسيون ته يو وړاندی شوی درخواست د منلو انتظار باسي.[664] په تيره ربعه كې USAID راپور وركړ چې د LMG د تخنيكي مرستو هڅې په ګڼو روغتونونو كې په خاص ډول د بشري سرچينو د خپلواكۍ په برخه كې د ټولنيزو او سياسي مداخلو له امله د ننګونو سره مخ شوي.[665]

علاوه پردې، د عامې روغتيا وزارت تخنيکي رياستونه او د LMG تطبيق کونکي ملګري د ټولنې په اساس روغتيايي اړتياو ته په ځواب ورکولو کې د هيواد په کچه د خپلو دندو په منظمولو کې ستونزې لري، چې پدې سره د وزارت د هڅو په تقويه کې د LMG په وړاندې ننګونې دريږي. د نا امنۍ زياتيدل او محدود هوايي ترانسپورټيشن هم د LMG هڅې له محدوديت سره مخ کوي.[666]

## د USAID نور فعال روغتيايي پروګرامونه

| د پروژې عنوان | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 12/31/2013 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د فارمسي سيسټم تقويه کول | 8/29/2011 | 8/27/2015 | $24,499,936 | $10,951,500 |
| د پوليو له منځه وړلو فعاليتونه | 7/20/2008 | 1/31/2014 | $10,750,000 | $9,415,102 |
| TB = د ساحې مرسته | 9/29/2010 | 9/28/2015 | $4,600,000 | $600,000 |
| د پوهنتون څيرنه = د ساحې مرسته | 9/30/2009 | 9/29/2013 | $13,950,000 | $12,950,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/7/2014.

# مخابرات

د ملي مخابراتو لپاره يوه مناسبه زيربنا جوړول د 2002 کال څخه راهيسې د افغان دولت يو ستر لومړيتوب دی. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ سکتور (ICT) په تيرو څو کلونو کې ډيره وده کړې او د افغان دولت تر ټولو لوی عايداتي سرچينې په توګه پيژندل کيږي. ياد سکتور په کال کې نږدې 140 ميليونه ډالر عايد لري چې د دولت د مجموعي عايداتو نږدې 12% جوړوي.[667]

د سيګار يوې پلټنې پدې ربعه کې وموندل چې USAID/افغانستان په هغه ارزونه کې چې د امريکا د دوه اړخيزه مستقيمه مرستو د ترلاسه کولو لپاره يې افغاني وزارتونه ارزولي ويلي ده چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت (MCIT) تر هغه پورې د متحده ايالاتو د مستقيمه مرستو څخه فنډ نشي ترلاسه کولی چې په ارزونه کې راغلي 13 خطرونه او د خطر کمولو 56 معيارونه په نظر کې ونيسي. سره له دې چې نوموړې پلټنې په 2012 کال کې نتيجه ګيري کړې چې MCIT يو لوړ خطر لرونکی وزارت دی او USAID په خپله ارزونه کې ويلي چې د متحده ايالاتو دولت نشي کولی د ډونرانو د فنډ په اداره کې د MCIT د سيسټم په عمليات او داخلي کنټرول اعتماد وکړي، بيا هم USAID د 2013 کال د اګست تر 1 پورې د دولت يو بريښنايي پروګرام لپاره د 3.9 ميليونه ډالرو ژمنه کړې ده.[668]

ATAT په لومړی کې غواړي د نوري فايبر شبکه پراخه کړي چې د امريکا د پوځيانو لخوا کارول کيږي، او دا هڅه بيا په خپل وار سره د افغانستان له ICT سکتور څخه ملاتړ کوي. د امريکا دفاع وزارت په وينا دا کار حکومتولي، ثبات، او ټولنيزې پراختيا ته ګټه رسوي. د پروګرام په اهدافو کې انټرنيټي امنيت، پراخوالی، د دولت له تنظيمي چارواکو او ANSF سره مرسته، د موبايل له لارې د پيسو ليږد، او بيړنی تليفوني خدمات شامل دي.[669]

د TFBSO په وينا، سره له دې چې د ICT د تکړه کاري ځواک نشتون او غير کافي روزنې لويې ستونزې دي، غير کافي انټرنيټي امنيت ټول ICT سکتور له ګواښ سره مخ

**د متحده ايالاتو د دفاعي سيسټم معلوماتي اداره (DISA) د افغانستان د ټيليکام مشورتي ډلې (ATAT) ته د مشورې له لارې د افغانستان له ټيلی کميونيکيشن سره مرسته کوي. د 2014 مالي کال په لومړی ربعه کې د دې مرستو مجموعي پانګه 930,116 ډالرو ته رسيده چې د 2013 مالي کال د فنډونو سره يوځای ورکړ شوی و. 866,166 ډالر د قراردادکونکي د ملاتړ لپاره؛ او 64,000 ډالر يې د دولتي/پوځي سفر او اضافه کاري لپاره مصرف شو.**

سرچينه: TFBSO، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/30/2013.

کوي. سربيره پردې، د نوري فايبر لاسرسي افغان ټيليکام ته په انحصاري ډول ورکړ شوی، او هڅه کوي چې د اعتماد، ځواب ورکول، او د لاسرسی اړتياوې بشپړې کړي.[670]

د افغان ټيليکام 100% مالکيت د MCIT سره دی. د افغان ټيليکام اداره د دې شرکت د رييسانو بورډ ته ځواب ورکوي، چې ياد بورډ د MCIT د وزير اميرزي سنګين لخوا مشري کيږي او د MCIT او د ماليې وزارت مامورين، او د نورو افغاني شرکتونو استازي پکې شامل دي. د امريکا بهرنيو چارو وزارت په وينا، افغان ټيليکام د خپلو ژمنو په اساس د تجارتي جواز په لرلو سره د ټولو معمولو افغاني قوانينو سره سم کار کوي. دا شرکت د هغه شبکو په شمول چې د ډونرانو په فنډ جوړ شوي ټولې هغه زيربناوې کاروي چې د MCIT لخوا ورسپارل شوی وي، او همدارنګه هغه زيربنا کاروي چې په خپل مالي سرچينې يې جوړ کړي دي. همدارنګه ياد شرکت انتفاعي دی او له افغان دولت څخه سبسايډي نه تر لاسه کوي.[671]

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د سيګار دې پوښتنې ته ځواب ورنکړ چې آيا له MCIT سره د افغان ټيليکام ارتباطات د ګټو ټکر ندی رامنځته کړی او آيا د دې شرکت انحصاري ملي جواز د نورو مخابراتي شرکتونو په پرتله ورته غير منصفانه ګټه کوي که نه.[672] دا خبره د توقع څخه پورته نده چې افغان ټيليکام په عين حال کې چې يو انتفاعي شرکت دی بيا هم پر شبکو داسې بيې ږدي او کاروي چې د ډونرانو لخوا جوړ شوی او فنډ ورکول کيږي. DOD وايي چې د افغان ټيليکام لخوا د فايبر انحصاري اخيستنه د ICT سکتور په وړاندې يوه ننګونه ده، او نړيوال بانک وايي چې د افغان ټيليکام لخوا د ملي شبکې د ملا د تير اداره (د اتصالي شبکو سره يوځای کول) د دې لامل شوی چې دلته د انټرنيټ بيې په مصنوعي ډول د ګاونډيو هيوادونو په مقايسه لوړه وساتل شي. لږ تر لږه د انټرنيټي خدماتو يو وړاندې کونکی سيګار ته ويلي چې د ICT په سکتور کې غير منصفانه سيالي روانه ده.[673]

د State په وينا، افغان ټيليکام د موبايل شبکې چلونکو (MNOs)، د انټرنيټي خدماتو وړاندې کونکو (ISPs)، او نورو موسسو ته د تجارتي شرايطو په اساس د پراخ موج (bandwidth) خدمات وړاندې کوي. State ويلي چې MNOs او ISPs کولی شي، او ډير ځلي يې کوي، چې د امواجو د ليږد لپاره د بديلو زيربناو څخه کار واخلي (چې مرکز يې په سټلايټ کې يا د ځمکې د مايکرو ويف شبکه وي). علاوه پردې، MNOs ته اجازه ورکړ شوی چې په کومو ځايونو کې د افغان ټيليکام فايبر نه وي د خپلې شبکې فايبر جوړ کړي او په کار واچوي.[674] په‌هرصورت، دا له هغه ګټې سره نه برابريږي چې افغان ټيليکام يې د خپل انحصاري-رسمي موقعيت څخه ترلاسه کوي.

### د سيګار پلټنه

سيګار پدې ربعه کې د افغانستان د معلوماتو او مخابراتي ټکنالوژی (ICT) د رغونې او سوداګريز کولو په برخه کې د متحده ايالاتو د هڅو په اړه په سکتوري پلټنه پيل کړه. د لازياتو معلوماتو لپاره د 2 برخې 29 مخ وګورئ.

# 4
# د نورو ادارو
# **څارنيز** فعاليتونه



# د نورو ادارو د څارنیزو فعالیتونو منځپانګې

د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه 187

د نظارت یا څار روان فعالیتونه 189

**تصویر په تیره پاڼه کې**
د امریکا د اردو د 10 محاربې هوایی لوا CH-47 هلیکوپترونه د بګرام په هوایي ډګر، افغانستان کې د ماموریت لپاره په تمه دي. (د امریکا د پوځ انځور)

# د نورو ادارو نظارت

د سيګار قانوني مسوليت غوښتنه کوي چې د بيارغونيزو پروګرامونو په اداري کې د ستونزو په هکله دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو ته خبرتيا ورکړي، او د هر ربعې پای ته رسيدو سره تر 30 ورځو پورې د خپل څارنيزو کارونو او متحده اياالاتو د بيارغونيزو هڅو په اړه يو رپوټ کانګرس ته وړاندې کړي. په هرو درې مياشتو کې سيګار د نورو ادارو څخه د بشپړ شوو او روانو څارنيزو فعاليتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوي. دا برخه لاندې نوې کوونې لري.

د هغوی تفصيل يوازې د راپور د نورو برخو سره د همغږۍ په موخه (مخففات، تخليصات، په لويو حروفو معياري ليکنه، د اتصال د نښو، نقطه ګذاري، غوره املا او دريم-کس سمونې) پرته په تسليم شوي ځير ښکاري.

دغه اداري په افغانستان کې څارنيز فعاليتونه ترسره کوي او پايلې يې سيګار ته وړاندې کوي:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(DOD OIG)
- د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(State OIG)
- د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د امريکا د پوځ د پلټنې اداره (USAAA)
- د امريکا لپاره د متحده اياالاتو ادارې عمومي پلټونکي دفتر (USAID OIG)

## د نظارت بشپړ شوي فعاليتونه

جدول 4.1 د بيارغونې په برخه کې 4 څارنيزې پروژې ښيي چې پدې ربع کې ګډون کوونکو ادارو راپور ورکړی چې بشپړې شوي دي.

جدول 4.1

**د 2013 کال د دسمبر تر 30 پورې د نورو امريکايی ادارو د څارنې پدې وروستيو کې بشپړ شوي فعاليتونه**

| اداره | د راپور شميره | د خپريدلو نېټه | د پروژې سرليک |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | DODIG-2014-027 | 12/23/2013 | له 2014 وروسته د افغانستان امنيتي ځواکونو د مهمو توانمنديو لپاره د اغيزمنو وده ورکولو او سپارل، د افغانستان د ملي اردو د توانمندی د ودې د مهمو مسلو II برخه |
| DOD OIG | DODIG-2014-020 | 12/5/2013 | د امريکا د اردو قرارداد کولو قوماندانی د مخابرې تجهزاتو لپاره مناسب قيمتونه لاسته ندي راوړي |
| DOD OIG | DODIG-2014-010 | 11/22/2013 | د امريکا د ټرانسټلانټيک ولسوالی شمال د انجنيرانو قول اردو اړتيا لري ترڅو په افغانستان کې د بيارغونې نظارت ښه کړي |
| State OIG | AUD-MERO-14-05 | 12/2013 | په افغانستان کې د پوځي شتون کمولو لپاره د بهرنيو چارو وزارت د ليږد پلان پلټنه |

سرچينې: د سيګار معلوماتي غوښتنې ته د DOD OIG ځواب، 12/23/2013؛ د سيګار 12/5/2013 معلوماتي غوښتنې ته د State OIG ځواب؛ د سيګار 12/24/2013 معلوماتي غوښتنې ته د GAO ځواب؛ د سيګار 1/6/2014 معلوماتي غوښتنې ته د USAAA ځواب؛ د سيګار 12/18/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID OIG ځواب.

## د امريکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

پدې ربع کې DOD OIG په افغانستان کې د بيارغونې د هڅو په تړاو درې راپورونه خپاره کړي.

### له 2014 وروسته د افغانستان امنيتي ځواکونو د مهمو توانمنديو لپاره د اغيزمنو وده ورکولو او سپارل، د افغانستان د ملي اردو د توانمندی د ودې د مهمو مسلو II برخه

(د رپوټ شميره. DODIG-2014-027، د خپريدلو نيټه د 2013 د دسمبر 23)

دغه محرم دی.

### د امريکا د اردو قرارداد کولو قوماندانی د مخابرې تجهزاتو لپاره مناسب قيمتونه لاسته ندي راوړي (د رپوټ شميره. DODIG-2014-020، د خپريدلو نيټه 2013 د دسمبر 5)

دا راپور يواځې د رسمي کارونې لپاره ځانګړی شوی دی.

### د امريکا د ټرانسټلانټيک ولسوالی شمال د انجنيرانو قول اردو اړتيا لري ترڅو په افغانستان کې د بيارغونې نظارت ښه کړي

(د رپوټ شميره. DODIG-2014-010، د خپريدلو نيټه د 2013 د نومبر 22)

د امريکا د انجنيرانو قول اردو (USACE) د شمال حوزه (د بګرام ساحوي دفتر) لخوا د بګرام په هوايي ډګر کې د اردو ځانګړو ځواکونو لپاره د دوو ساختماني پروژو چې ارزښت يې 37.6 ميليونه امريکايي ډالر وو د کيفيت ډاډ او د قرارداد کولو چاړواکو نظارت د فيدرال د اخيستلو مقرراتو په اساس او د USACE د لارښوونو په اساس ترسره کړې ندي. له 2010 څخه کله چې دا پروژې پيل شوي، د ساحې او هستوګنو انجنيرانو د پروژې انجنيرانو او د ساختماني استازو ته د پوهې او اطاعت راپور ندی ورکړی؛ د پروژې انجنيرانو د قرارداد نظارت مسوليتونه تل ندي تعقيب کړي؛ او د قراردادیانو د کيفيت کنترول له نيمګړي پلان سره يې کار کاوو، د کيفيت ډاډ پلانونه يې ندي چمتو کړي، او دا يې نشو تاييدولای چې قراردادیانو د دريو برخو تفتيش پروسه په پوره توګه تطبيق کړې وې؛ د قراردادیانو د ساختماني هڅو په اړه د USACE TAN تخنيکي تفتيشونه محدود وو. دا لدې کبله شوي چې د کيفيت ډاډ اوسنيو چاړواکو له راتګ څخه وړاندي تل د کيفيت ډاډ مهم سندونو ندرلودل او دايې نشو تشريح کولای چې ولي د پروژې د پيل لپاره د کيفيټ ډاډ اړتياوي ولي په پوره توګه ندي ترسره شوي. مګر، د ساحې انجنيرانو ويلي چې د کيفيت ډاډ سندونو بشپړول لږ اهميت درلود او د ځانګړو ځواکونو د اردو ساختماني پروژو بشپړول لوړ لمړيتوب وو. په پايله کې، خطر زيات شوی، که څه هم د ځانګړي ځواکونو د ا ردو ساختماني پروژې به بشپړې شي، مګر کيدای شي د قرارداد اړتياوي پوره نکړي.

## د امريکا منځني ختيځ کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی سيمه ييز دفتر

پدې ربع کې، State OIG د افغانستان د بيارغونې په هکله يو رپوټ خپور کړی.

## په افغانستان کې د پوځي شتون کمولو لپاره د بهرنيو چارو وزارت د ليږد پلان پلټنه

(د رپوټ شميره. AUD-MERO-14-05، د خپريدلو نيټه د 2013 دسمبر)

د State OIG دا کتلي چې په افغانستان کې تر ډيرې کچې له اردو څخه د ملکيانو په مشرۍ د سپارلو لپاره پلان کول عموماً اغيزمن وو او له عراق څخه يې زده کړې لوستونه په پام کې نيولي دي. راپور کومه سپارښتنه نلري.

## د حکومت د حساب ورکولو دفتر

پدې ربع کې، GAO د افغانستان بيارغونې په هکله دوه راپورونه خپاره کړي.

## د امريکا د پوځ پلټونکې اداره

USAAA پدې ربع کې د افغانستان د بيارغونې په هکله کوم رپوټ ندی خپور کړی.

## د امريکا پراختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې عمومي پلټونکي دفتر

د دې ربع په موده کې، USAID OIG د افغانستان بيارغونې پورې اړوند دوه راپورونه بشپړ کړي.

# د نظارت يا څار روان فعاليتونه

د 2013 کال د دسمبر تر 30 پورې، ګڼون کونکو ادارو د افغانستان بيارغونې په هکله د 22 روانو پلټنو په اړه راپور ورکړی. دغه څارنيز فعاليتونه په 4.2 جدول کې لست شوي او په لاندې برخو کې اداره وار شرح شوي.

جدول 4.2

**د 2013 کال د دسمبر تر 30 پورې د نورو امريکايی ادارو د څارنې روان فعاليتونه**

| اداره | د پروژې شميره | د پيل نيټه | د پروژې سرليک |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | D2013-D00SPO-0181.000 | 6/13/2013 | د متحده ايالاتو د هغو هڅو ارزونه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د مرستې لپاره د امنيتي مرستو د ليږد مسوليت د دفاع وزارت د چارواکو څخه د کورنيو چارو وزارت چارواکو ته سپاري |
| DOD OIG | D2013-D00SPO-0154.000 | 4/26/2013 | افغان ملي پوليسو ته د روغتيا پالنې پايداره وړتيا چمتو کولو په برخه کې د متحده ايالاتو پوځ او د ايتلاف د هڅو بررسي کول |
| DOD OIG | D2013-D000AS-0097.000 | 2/8/2013 | د W58RGZ-09-D-0130-0102 وظيفوي فرمان په اساس د Mi-17 د پيلوټ ځای بدلونونه |
| DOD OIG | D2013-D000AT-0083.000 | 1/3/2012 | د ډاترون ورلډ کمونيکيشن.انکارپوريشن لپاره د بيې سموالی معلومول. هغه قراردادونه چې د متحده ايالاتو پوځ د قرارداد کونکې قوماندې لخوا د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره ورکړل شوي دي |
| DOD OIG | D2013-D00SPO-0087.000 | 12/18/2012 | د 2014 کال څخه وروسته د افغان ملي امنيتي ځواکونو د مهم پياوړي کونکي امکاناتو ليږد لپاره د پلان جوړونې ارزونه |
| DOD OIG | D2013-D000FL-0056.000 | 12/3/2012 | د دفاع وزارت لخوا د شمالي اتلانتيک پيمان سازمان (ناټو) د مرسته کونکو هيوادونو د افغانستان ملي پوځ خيريه بوديجې سره د هغو مرستو معاينه چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي دي |
| DOD OIG | D2013-D000AS-0052.000 | 11/1/2012 | د شين ډنډ د روزنې قراردادونه |
| DOD OIG | D2013-D000AS-0001.000 | 10/5/2012 | د متحده ايالاتو ترانسپورتيشن قوماندانی لپاره د هغو قراردادونو مراقبتي جوړښتونه چې د افغانستان د ځرخي الوتکو پروګرام څخه ملاتړ کوي |

جدول 4.2 (دوام لري)

**د 2013 کال د دسمبر تر 30 پورې د نورو امریکایی ادارو د څارنې روان فعالیتونه**

| اداره | د پروژې شمیره | د پیل نیټه | د پروژې سرلیک |
| --- | --- | --- | --- |
| DOD OIG | D2012-D000JA-0221.000 | 9/28/2012 | په بګرام هوايي ډګر، افغانستان کې د ځانګړو عملیاتونو ځواکونو لپاره د پوځي ودانیو د پروژو د قرارداد مدیریت او څارنه |
| State OIG-MERO | 13AUD082 | 6/13/2013 | د قانون پلي کولو چارو او د مخدره توکو نړیوالې ادارې د افغانستان سره د تریاکو ضد مرستې پلټنه |
| State OIG-MERO | 13AUD52 | 2/2013 | په بیت المقدس او افغانستان کې د خوځیدنې او سکون امنیتي خدماتو لپاره د 2، 9 او 11 وظیفوي فرمانونو په اړه د ډپلوماټیک امنیت ادارې د نړیوال محافظتي خدماتو قرارداد پلټنه |
| State OIG-MERO | 12AUD79 | 12/2012 | په افغانستان کې د پوځي شتون کمولو لپاره د بهرنیو چارو وزارت د لیږد پلان پلټنه |
| GAO | 351851 | 8/16/2013 | په افغانستان کې د DOD قراردادکونکو وټل |
| GAO | 320985 | 6/26/2013 | د بهرني لیږر قراردادکونکو بهر کارول |
| GAO | 351819 | 5/9/2013 | د افغان عامه محافظت ځواک ته د DOD لیږد لګښت |
| GAO | 121119 | 3/6/2013 | د بهرنیو چارو وزارت او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې احتمالي قرارادادونه |
| GAO | 351798 | 1/18/2013 | په افغانستان کې د تجهیزاتو کمول او د مراکزو تړل |
| USAID OIG | FF100113 | 4/1/2013 | د USAID/افغانستان د ټاکنو مرستې پروګرام پلټنه |
| USAID OIG | FF100712 | 11/28/2012 | د USAID/افغانستان انتقال پلانونو پلټنه (تعلیق شوي) |
| USAID OIG | FF100612 | 10/9/2012 | د اضافي پرداختونو په برخه کې د USAID/افغانستان د اداري کنترول څخه بیاکتنه |
| USAID OIG | FF101712 | 10/25/2012 | د USAID/افغانستان لخوا د ټاکلو پروژو لپاره د قوماندان د بیړنی غبرګون پروګرام فنډ د کارولو بیاکتنه |

سرچینې: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د DOD OIG ځواب، 12/23/2013؛ د سیګار 12/5/2013 معلوماتي غوښتنې ته د State OIG ځواب؛ د سیګار 12/24/2013 معلوماتي غوښتنې ته د GAO ځواب؛ د سیګار 1/6/2014 معلوماتي غوښتنې ته د USAAA ځواب؛ د سیګار 12/18/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID OIG ځواب.

## د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د دفاع وزارت د سیندونو څخه پورې غاړې احتمالي عملیاتونو (OCO) په ترسره کولو لاهم د ننګونو سره مخ دی. د دفاع وزارت عمومي پلټونکي دفتر (DOD OIG) د دغو ننګونو او سترو خطرونو په اساس خپل لومړیتوبونه یې ټاکلي. په 2014 مالي کال کې، د DOD OIG نظارت په بهر کې په احتمالي عملیاتونو باندې کار کوي، او د OIG سرچینې به په افغانستان کې د عملیاتونو ملاتړ وکړي. DOD OIG تمرکز اساسا په افغانستان کې د افغان امنیتي ځواکونو فنډ، نظامي ودانۍ، د پرسونل خوندیتوب، او د قراردادونو ملاتړي ایتلاف ځواکونو ادارې او نظارت د مدیریت او اجرا په عرصو کې دوام لري. پردې برسیره، په افغانستان کې د DOD OIG په نظارت کې په افغانستان کې د ځواکونو کمیدلو په اړه موضوعګانې او د سپارلو عملیاتونه شامل دي.

لکه څنګه چې افغانستان کې د ملیاردونو ډالرو لګښت دوام لري، د وتلو هڅو سربیره، د افغان امنیتي ځواکونو (ASF) روزنې، سمبال، او پیاوړي کولو باندې د لاسته راوړنې او قرارداد پروسو نظارت او څار باید د لوی لومړیتوب په حیث دوام ولري. DOD OIG د افغانستان امنیتي ځواکونو د تجهیزاتو لکه چورلکې، الوتکې، مهمات، راډیو، او په شپه کې د لیدنې وسایلو د قراردادونو د اداره او څارنې لپاره ځینې پلانونه په پام کې نیولي. DOD OIG به د افغان ملي پولیسو روزلو ته د قراردادونو اداره کولو او اجرا کولو کې د وزارت هڅو بیاکتلو او ارزونې ته دوام ورکړي.

د DOD OIG په مشرۍ د سویل لویدیزې اسیا د پلان جوړولو ګډه ډله به د فدرالي او DOD OCO پورې اړوند نظارت فعالیتونو همغږۍ کولو او ستونزو له منځه وړلو کې مرسته وکړي. DOD OIG، له سیګار سره او نورو عمومي پلټونکو سره او د پلټنو عمومي او دفاع ټولنې غړو سره کار کوي، په افغانستان کې د پلټنې ټولنې لپاره د 2014 مالي کال

ستراتيژيک پلټنې پلان نهايي کړی او پلان لري چې د سويل لويديز اسيا لپاره د 2014 مالي کال د پلټنې جامع پلان د 2013 په اکتوبر کې خپور کړي. د 2014 مالي کال د پلان جوړونې يوه اساسي برخه په افغانستان کې د ځواک بيا جوړښت /د عملياتونو کيدلو وړاندوينه ده.

د DOD OIG د OEF په اړه روانه څارنه د افغانستان د امنيتي ځواکونو د مرستې د ملکيت؛ غير مناسب تاديات؛ د قرارداد اداره او مديريت پشمول د ساختماني پروژو؛ د سپارلو پلان کول؛ په افغانستان کې لوژستيکي توزيع؛ عنعنوي عملياتونه، روغتيايی پاملرنه؛ او د اخيستلو پلان کول او کنټرولونو لپاره د حل لار پيدا کوي.

## د متحده ايالاتو د هڅو ارزونه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د امنيتي مرستې او مرستندويه فعاليتونو د ليږد مسوليت د امريکا دفاع وزارت څخه د امريکا ب هرنيو چارو وزرات ته سپاري

(د پروژې شميره. 2013-D00SPO-0181.000، د پيل نيټه، 13 جون، 2013)

DOD OIG هغه پلانونه او فعاليتونه ارزوي چې په افغانستان کې د DOD څخه د بهرنيو چارو وزارت ته د امنيتي همکارۍ او مرستندويه فعاليتونو انتقال لپاره بشپړ شوي يا پلي شوي، او د وړانديزونو رامنځته کول چې د بهرنيو چارو وزارت ته د دغه فعاليتونو انتقال ته د موجود امنيتي همکارۍ لارښود يا امنيتي مرستې قوانينو سره په مطابقت کې اسان يا وده ورته ورکړي چې ممکن اړوند وي. د دې فعاليتونو ځانګړې موخې دا دې چې معلومه کړي آيا:

a. د متحده ايالاتو حکومت اهداف؛ مقاصد؛ پلانونه، او لارښود په افغانستان کې د امريکا دفاع وزارت واک څخه د امريکا بهرنيو چارو وزارت لاندې امنيتي همکارۍ نهاد ته د ګډ امنيتي ليږد قوماندې-افغانستان (CSTC-A) امنيتي مرستې فعاليتونو انتقال لپاره کافي دي، صادرشوي او د کار وړ دي.

b. د افغانستان دولت ته د امنيتي مرستې چمتو کولو لپاره د متحده ايالاتو روانو هڅو باندې په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو-افغانستان (USFOR-A) لپاره د ايستلو پلانونو د عملي کيدو سره او د ناټو واک لاندې قوماندې نهاد ته د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) او ايساف ګډې قوماندې (IJC) ليږد منفي اغيز کړی.

## افغان ملي پوليسو ته د روغتيا پالنې پايداره وړتيا چمتو کولو په برخه کې د متحده ايالاتو پوځ او د ايتلاف د هڅو بررسي کول

(د پروژې شميره. D2013-D00SPO-0154.000، د 2013 کال د اپريل په 26 مه پيل شوې)

DOD OIG د افغان ملي پوليسو (ANP) په ملاتړ کې د مؤثره او مداوم روغتيايی پاملرنې پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو او ايېتلاف هڅو وده ارزوي. دا ارزونه به په ځانګړې توګه معلومه کړي چې، آيا:

- د افغان ملي پوليسو لپاره د روغتيا پالنې پايداره وړتيا چمتو کولو پلانونه په موثر ډول رامنځته شوي، او د افغان دولت د هڅو سره همغږی شوي، او داسې عملي کیږي چې په ټاکلی مهال ویش کې د لیږد موخې تر لاسه کوي.
- د افغان ملي پوليسو د روغتيايي اړتياو پوره کولو لپاره، د روغتياپالنې د خدماتو په برخه کې د مشاورينو سرچينې په نظر کې نيول شوي، او
- داسې پراختيايي پلانونه په پام کې نيول شوي چې افغان ملي پوليسو ته د مناسب طبي خدماتو وړاندې کول يقيني کوي، تر څو د ژوبلې څخه نيولې د ضرورت وړ پاملرنې پورې خدمت وړاندې کړي.

## د W58RGZ-09D-0130-0102 وظيفوي فرمان په اساس د Cockpit Mi-17 بدلونونه

(د پروژې شميره. D2013-D000AS-0097.000، د پيل نيټه، 8 فبروري، 2013)

DOD OIG د Mi-17 د چلونکي او سپرو ځای د بدلونونو په اړه د وظيفوي فرمان څخه يو تعقيبوي پلټنه تر سره کوي (د پروژې شميره. D2012-D000AS-0075.000). په دې تعقيبي پلټنه کې DOD OIG معلوموي چې ايا د DOD چارواکو د فيدرالي او DOD مقرراتو او پاليسيو په اساس د Mi-17 ډوله الوتکو د بدلون په اړه، د وظيفوي فرمان 0102، W58RGZ-09-D-0130 شميره قرارداد کې نامعينه انتقال او نامعينه مقدار په سمه توګه قرارداد او اداره کړي که نه. د تيرې پروژې په اساس، DOD OIG د پاکستان په ملکيت Mi-17 ډوله الوتکې د ترميم لپاره هغه قرارداد بياکتنه وکړه چې د 0102 وظيفوي فرمان لخوا لاسليک شوی و.

## د دفاع وزارت لخوا د شمالي اتلانتيک پيمان سازمان (ناټو) د مرسته کونکو هيوادونو د افغانستان ملي پوځ خيريه بوديجې سره د هغو مرستو معاينه چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي دي

(د پروژې شميره. D2013-D000FL-0056.000، د پيل نيټه، 3 دسمبر 2012)

د دفاع وزارت تر واک لاندې (کنترولر)/د مالي مامورينو مشر، DOD [CFO/USD(C)] د دې معاينې غوښتنه کړې ده. CFO/USD(C) پلان لري څو ثابته کړي چې د ټولو موادو په اړه دا لاندې جدول په سمه توګه کارول شوی دی:

- د افغانستان ملي پوځ د خيريه بوديجې سره د مرستندويه هيوادونو د مرستو جدول چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي دي
- د افغانستان ملي پوځ د خيريه بوديجې سره د مرستندويه هيوادونو د مرستو د جدول مالي وضعيت چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي او د امريکا متحده اياالاتو ته ليږدول شوي دي

DOD OIG معلوموي چې آيا CFO/USD(C) د هغو مرستو سم رسيد او مصارف چې د افغانستان ملي پوځ خيريه بوديجې ته ورکړ شوي دي، چمتو کړي او DOD ته يې وړاندې کړي څو د امريکا او شمالي اتلانتيک تړون او د متحدو ځواکونو د سترو مرکزونو-اروپا د تفاهم ليک په اساس د افغانستان د ملي پوځ د ملاتړ او پايښت لپاره د دې مرستو څخه اجراات وکړي. برسيره پردې، DOD OIG به د مالي رپوټونو داخلي

کنترول څخه بياکتنه وکړي، او معلوموي چې د قوانين او مقرراتو سره جوړ راځي که نه. CFO/USD(C) د يادو جدولو مسوليت په غاړه لري. د DOD OIG مسوليت دا دی چې د خپلو معايناتو په اساس خپل نظر وړاندې کړي.

## د شين ډنډ د روزنې قراردادونه

(د پروژې شميره. D2013-D000AS-0052.000، د پيل نېټه، 1 نومبر 2012)

DOD OIG معلوموي چې آيا کوم قراردادونه چې د شين ډنډ په هوايي ډګر کې د څرخي او غيرڅرخي الوتکو په اړه د پيلوټانو روزنې تړونونه د فيدرال او DOD شرطونو سره سم ترتيب او اداره شوي دي که نه. په ځانګړې ډول، DOD OIG به معلومه کړي چې آيا د قرارداد شرطونه په نظر کې نيول کيږي، او د قرارداد د څارنې اغيزه ارزوي.

## د متحده ايالاتو ترانسپورتيشن قوماندانۍ لپاره د هغو قراردادونو مراقبتي جوړښتونه چې د افغانستان د څرخي الوتکو پروګرام څخه ملاتړ کوي

(د پروژې شميره. D2013-D000AS-0001.000، د پيل نېټه، 5 اکتوبر 2012)

DOD OIG د افغانستان د څرخي ترانسپورت قراردادونو په اړه د رپوټونو يوې لړۍ څخه دويم رپوټ تر کار لاندې نيولی دی. په عمومي توګه موخه دا ده چې معلومه کړي آيا د متحده ايالاتو د ترانسپورتيشن قوماندانۍ او د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندانۍ چارواکي د قرارداد له کړنلارو او بهير څخه سمه څارنه کوي که څنګه. لومړی پلټنه دا وه "د متحده ايالاتو د ترانسپورتيشن قوماندانۍ لپاره د افغانستان د څرخي الوتکو د ترانسپورت قراردادونه" (D2012-D000AS-0031.000).

## منځنۍ ختيځ کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی سيمه ييز دفتر

د State OIG پدې ربع کې د افغانستان بيارغونې په اړه دوې رواني پروژې لري.

## د قانون پلي کولو چارو او د مخدره توکو نړيوالې ادارې د افغانستان سره د تارياکو ضد مرستې پلټنه

(د پروژې شميره. 13AUD082، د پيل نېټه جون 2013)

دا پلټنه د افغانستان د مخدره توکو په ضد د مبارزې په برخه کې د قانون ملاتړ او د مخدره توکو نړيوالې ادارې مديريت او څارنه بررسي کوي، تر څو معلومه کړي چې آيا ياده اداره خپل ټاکل شوي موخې ترلاسه کړي، او آيا د افغانستان د مخدره توکو ضد ادارې سره يې د مستقيمه مرستو د ادارې لپاره داخلي کنترول عملي کړی دی.

## په بيت المقدس او افغانستان کې د خوځيدنې او سکون امنيتي خدماتو لپاره د 2، 9 او 11 وظيفوي فرمانونو په اړه د ډيپلوماټيک امنيت ادارې د نړيوال محافظتي خدماتو قرارداد پلټنه

(د پروژې شميره. 13AUD52، د پيل نېټه فبروري 2013)

د پلټنې کلي هدف د نړۍ په کچه محافظتي خدماتو قرارداد کاري حکمونو 2، 9 او 11 د وزارت مديريت او څار مؤثرتوب ټاکل دي. پلټونکې ډله به په ځانګړی ډول معلومه کړي

چې آيا قرارداد کونکی خپل کارونه د قرارداد له شرطونو سره سم کوي، د قرارداد کارونه سم څارل کيږي، د دقت ډاډه کولو او د لګښت بشپړوالي لپاره د صورتحساب بياکتنه او د منلو کړنلارې کارول کيږي.

## د حکومت د حساب ورکولو دفتر

GAO پدې ربعه کې افغانستان بيارغونې پورې اړوند پنځه رواني پروژې لري.

### د امريکا کې د امريکا ملکي شتون

(د پروژې شميره. 320997، د 2013 په اکتوبر 22 کې پيل شوی)

په افغانستان کې د امريکا ملکي ادارې د 2014 په پای کې په افغانستان کې له ډيرې زيات نظامي شتون څخه د ملکي شتون لپار چې مشري به يې د امريکا بهرنيو چارو وزارت لخوا کيږي د سپارلو پلان کولو په حال کې دي. دا راپور به دا آزموينه وکړي (1) د سپارلو لپار ملکي ادارې څنګه پلان جوړوي، پشمول د له سپارلو وروسته پروګرامونه او کارکوونکي، امنيت، او د هغوی ملاتړ لپاره لوژستيکي اړتياوي، (2) له سپارلو وروسته په افغانستان کې د ملکيانو شتون اټکل شوي لګښتونه، او (3) هغه عوامل چې کيدای شي پدغو پلان کولو او اړوندو اټکلونو لګښت باندې اغيز وکړي.

### په افغانستان کې د DOD قراردادکونکو وتل

(د پروژې شميره. 351851، په اګست 16، 2013 پيل شوی)

کليدي اهداف د دې ټاکل دي چې (1) ترکومه حده د دفاع وزارت زده کړی شوي د عملياتو قرارداد ملاتړ درسونه پلي کوي لکه څنګه چې په افغانستان کې د هغه د قراردادیانو او تجهيزاتو وتل پيل کيږي؛ (2) د DOD او USFOR-A په واسطه د هغو قراردادي کاري ځواک او اړوند تجهيزاتو وتلو ته رامنځته کړی شوي پروسې او ايا دا پروسې د تاسيس شوي لارښود سره نامتناقص دي؛ (3) تر کومه حده د دفاع وزارت د لګښت او نور معلومات کاروي چې ورسره مرسته وکړي اطمينان لاسته راوړي چې هغه د لګښت له پلوه مؤثره عملياتي قرارداد ملاتړ پريکړې کوي، په شمول د قراردادي اداره کيدونکي حکومتي تجهيزاتو تنظيم؛ (4) د دې اطمينان لاسته راوړو لپاره د وزارت فعاليتونه چې په افغانستان کې د نظامي ځواکونو شمير په کميدو سره په ساحه کې د څار لپاره د څار کافي پرسونل شتون لري؛ او (5) تر کومه حده د دفاع وزارت او USFOR-A د دسمبر 2014 وروسته د قراردادیانو کارولو لپاره پلان جوړول پيل کړي. برسيره پردې، GAO به هغه فاکتورونه وپيژني چې د ملاحظه کيدو په حال کې دي لکه څنګه چې DOD د خپل 2014 وروسته قراردادي اړتياو پلانول پيل کړي او د دې اطمينان لپاره DOD کوم ګامونه پورته کړي چې عملياتي قراردادي ملاتړ د 2014 څخه وروسته اړين دی چې په لګښت مؤثره ممکن ډول د چمتو کيدو دي.

### د بهرني ليبر قراردادکونکو بهر کارول

(د پروژې شميره. 320985، په جون 26، 2013 کې پيل شوی)

متحده ايالات په قراردادیانو تکيه کوي چې د پولو هاخوا ورته مختلف خدمات چمتو کړي. د متحده ايالاتو حکومت ټولو قراردادونو لپاره د قاچاق شوي کارمندانو د کارولو

ممانعت سربیره، د متحده ایالاتو قراردادیانو په واسطه ګمارل شوي کارګرانو ته چمتو شوي محافظتونو په اړه اندیښنې پرځای پاتې دي ځکه چې په ځینې کوربه هیوادونو کې شایع کړنې د متحده ایالاتو معیارونو سره په اختلاف کې دي. مهمـــــې پوښتنې: (1) د متحده ایالاتو څخه بهر کار لپاره د بهرنیو کارګرانو په ګمارنه کې د متحده ایالاتو حکومت قراردادیانو تجارب څه دي؟ (2) د متحده ایالاتو څخه بهر د متحده ایالاتو حکومت قراردادیانو په واسطه ګمارل شوي بهرني کارګرانو ته د محافظت چمتو کولو لپاره د متحده ایالاتو کومې ادارې قانوني او نور مقامات پیژني؟ (3) د دا ډول مقاماتو ترکومه کچه فدرالي ادارې نظارت او اجرا چمتو کوي؟

## د افغان عامه محافظت ځواک ته د DOD لیږد لګښت

(د پروژې شمیره. 351819، په میی 9، 2013 کې پیل شوی)

افغان عامه محافظت ځواک (APPF) په مارچ 2012 کې د امنیتي مسؤلیت په غاړه اخیستل پیل کړل. د امنیت خصوصي قرارداد کونکي (PSCs)، چې د نظامي بیزونو خوندي کولو لپاره کارول کیده، په مارچ 2013 کې د APPF یا نظامي پرسونل په واسطه بدل کړی شو. مهمـــــې پوښتنې: ترکومه بریده: (1) د دفاع وزارت د امنیتي خدماتو لیږد له خصوصي امنیتي قراردادیانو څخه APPF ته پلي کړي؛ (2) APPF DOD ته د لیږد پورې اړوند لګښت تخمینونه جوړکړي او د دې لګښتونو کمولو لپاره کوم اعمال سرته رسیدلي؛ او (3) د دفاع وزارت APPF ته د لیږد پایلې په حیث د متحده ایالاتو پرسونل او لوژستیک ته اوسني او احتمالي خطرات ارزولي او د دې خطراتو کمولو لپاره ګامونه پورته شوي؟

## د بهرنیو چارو وزارت او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې احتمالي قرارادادونه

(د پروژې شمیره. 121119، د 2013 کال د مارچ په 6 پیل شوی)

د بهرنیو چارو وزارت او USAID په عراق او افغانستان کې په لویه کچه قراردادیانو باندې تکیه کړې. پداسې حال کې چې په داسې احتمالي عملیاتونو کې د قرارداد کونکو کارونه نوې ندي، GAO او نورو موندلي چې State او USAID د دې عملیاتونو د قراردادونو په اداره کې له ننګونو سره مخ شوي دي. دا پروژه به معلومه کړي چې د بهرنیو چارو وزارت او USAID تر کومه بریده: (1) د احتمالي عملیاتو لپاره قراردادکولو ته اړوند د هغوی نهادي بنې ارزولي او ټاکلي چې ایا اړوند بدلونونه اړین دي؛ (2) د احتمالي عملیاتو لپاره د هغوی قرارداد نومول او مدیریت پالیسۍ ارزولي او ټاکلي چې آیا دې پالیسیو ته بدلونونه اړین دي؛ او (3) د دوی کاري ځواکونه ارزولي، په شمول د قراردادیانو باندې تکیه، د احتمالي عملیاتو لپاره او وټاکي چې ایا بدلونونه اړین دي؟

## په افغانستان کې د تجهیزاتو کمول او د مراکزو تړل

(د پروژې شمیره. 351798، د 2013 کال د جنوري په 18 پیل شوی)

DOD ویلي چې له افغانستان څخه د 90,000 کانټینر مواد او 50,000 نقلیه وسیلو ویستل لږ تر لږه 5.7 میلیارده ډالر مصرف لري. په افغانستان کې د زیات شمیر مرکزونو او ستونزمن شرایطو په نظر کې نیولو سره، یو موثر او اقتصادي وتنه دې پورې تړلې ده چې DOD ته معلومه وي څومره تجهیزات په افغانستان کې لري او د ځای په ځای کولو لپاره

يې کم لګښته پريکړې ونيسي. مهمــــــې پوښتنې: تر کومه حده (1) DOD د تجهيزاتو حساب ورکونې په شمول د مرکز تړلو کړنلارې پلې کړي، تر څو د قوماندې موخې او مهال ويش سره برابر شي؟ (2) آيا له افغانستان څخه د تجهيزاتو د ويستنې موخې او مهال ويش د DOD تسهيلاتو او بهيرونو لخوا ملاتړ شوي؟ (3) آيا DOD د کم لګښته پريکړې نيولو لپاره لګښت او نورو مسايلو معلومات کاروي؟

## د امريکا د پوځ پلټونکې اداره

پدې ربع کې، USAAA د بيارغونيزو نوښتونو په اړه کومه روانه پلټنه نلري.

## د امريکا پراختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې عمومي پلټونکي دفتر

پدې ربع کې، OIG USAID د بيارغونې نوښتونو پورې اړوند درې روانې پلټنې لري. په لاندې لست کې دوې شاملې پروژې تعليق شوې دي.

### د تره خيل په فابريکه کې د USAID افغانستان فعاليتونو دوام او عملياتونو ارزونه

(د پروژې شميره. FF100914، د 2013 د دسمبر په 18 پيل شوې)

د موخې ارزونه:

- آيا د تره خيل فابريکه اوس هغه سرچينې لري ترڅو خپلې ساتنې او عملياتونو ته دوام ورکړي او د USAID پانګونه خوندي کړي؟

### په افغانستان کې د USAID د اساسي زده کړې، سواد زده کړې، او تخنيکي حرفوي زده کړې او روزنې (BELT) پروژه

(د پروژې شميره. FF100314، د 2013 د نومبر په 14 پيل شوې)

د موخې ارزونه:

- آيا په افغانستان کې USAID د کيفيت وړ اساسي روزنې، سواد زده کړې، او د تخنيکي مهارتونو زده کړې، او د انجونو لپاره زده کړې او د نورو ګوښه شويو لپاره لاس رسی ښه کوي؟

(دا ارزونه په اوس وخت کې تعليق شوې ترڅو له سيګار او GAO نظارت فعاليتونو سره ستونزې حل شي).

### د افغانستان په پراختيا کې تحقيق لپاره د افغانستان/ USAID مالي مرستې (FAIDA) پلټنه

(د پروژې شميره. FF100513، د 2013 د اکتوبر په 21 پيل شوې)

د پلټنې موخه:

- آيا د FAIDA پروژه د دوام وړ، هر اړخيزه، او بشپړ مالي سکتور ته وده ورکولای شي چې وکولای شي د کيفيت وړ کارونو ته وده ورکړي او وساتي ترڅو په هيواد کې د ډيرو وړو، وړو او منځنې شرکتونو اړتياوې پوره کړي؟

## په افغانستان کې د USAID/افغانستان د ملکي مرستې پروګرام (ACAP II)

(د پروژې شميره. FF100114، د 2013 د اکتوبر په 16 پيل شوی)

د پلټنې موخه:

- آيا په افغانستان کې د افغانستان د ملکي مرستې پروګرام II له لارې د USAID مرسته پلان شويو ګټه اخيستونکو ته رسيږي او خپل پلان شوی اغيز لري؟

## د USAID/افغانستان د ټاکنو مرستې پروګرام ارزونه

(د پروژې شميره. FF100113، د 2013 د اپريل په 2 پيل شوی)

د موخې ارزونه:

- تر څو معلومه کړي چې آيا د USAID ملاتړ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د تاسيساتو، افغان مدني ټولنې، او نورو ادارو ظرفيت ته دومره وده ورکړې چې په 2014 کال کې د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو لپاره د اعتبار وړ، جامع، او ربنې ټاکنې ترسره کړي.
- همدارنګه معلومه کړي چې آيا د USAID مرستې د افغان دولت هغه اوږدمهاله ستونزو په هوارولو کې برخه اخيستې چې د OIG لخوا د ټاکنيزو مرستو په اړه مخکينی پلټنه کې ورته اشاره شوې وه (د رپوټ شميره. F-306-11-003-P، 19 جون 2011).

## د USAID /افغانستان د ليرد پلانونو پلټنه

(د پروژې شميره. FF100712، د 2012 د نومبر په 29 پيل شوی)

د پلټنې موخه:

- آيا USAID/افغانستان په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ليږد په بهير کې د احتمالي پيښو لپاره کوم پلان لري؟ (يادښت: دا پلټنه په اوس وخت کې تعليق شوې).

## د اضافه کارۍ په تادياتو باندې د USAID/افغانستان ادارې کنټرولونو په پلټنه

(د پروژې شميره. FF100612، د 2012 د اکتوبر په 9 پيل شوی)

د پلټنې موخه:

- ترڅو دا وکتل شي چې په افغانستان کې USAID د اضافه کارۍ تادياتو لپاره د کنترول مناسب طرزالعملونه تعقيبوي.

## USAID/افغانستان ته چمتو کړی شوي د قوماندان بيړني غبرګون پروګرام (CERP) فنډونو د DOD پلټنې تعقيبول

(د پروژې شميره. FF101712، د 2011 د اکتوبر په 25 پيل شوی)

د پلټنې موخه:

- ترڅو دا وکتل شي چې آيا د DOD لخوا USAID ته د CERP ځانګړو پروژو لپاره ورکړل شوې مرستې د پلان شويو موخو لپاره کارول شوي، او د اړوندو قوانينو او مقرراتو اطاعت يې کړی.

# ضميمې او د پايليکونو منځپانګې


| | |
|---|---|
| **ضميمه الف** | **200** |
| **ضميمه ب** | **204** |
| **ضميمه ج** | **206** |
| **ضميمه د** | **210** |
| **هـ ضميمه** | **215** |
| **پای ليکونه** | **220** |


**د سيګار رسمي ټاپه**

د سيګار رسمي ټاپه د متحده ايالاتو او افغانستان تر منځ د همغږۍ د هڅو استازيتوب کوي څو د بيا رغونې فعاليتونو لپاره حساب ورکوونه او نظارت برابر کړي. د ټاپې د مرکز په پورتنۍ برخه کې عبارت په دري ژبه دی او مانا يې د افغانستان د بيا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی (سيګار) دی. د ټاپې په منځ کې د کتنې غاړې سره عبارت په پښتو کې دی او ورته مانا لري.

# ضميمې
# او پايليکونه

# ضميمه الف

## قانوني غوښتنو ته د راپور متقابل مراجعه

دا ضميمه د دې راپور پاڼې د درې مياشتني راپور ورکولو او نورو اړوند شرايطو سره د سيګار د جوړونکي قانون په اساس، د ملي دفاع د اختياراتو قانون د 2008 مالي کال لپاره متقابل مراجعه کوي P.L. 110-181، 1229 § (جدول A.1).

جدول A.1

**د P.L. 110-181, § 1229 په اساس د سيګار درې مياشتنی راپور ورکولو شرايطو ته متقابل مراجعه**

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکې ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| مقصد | | | |
| برخه 1229(a)(3) | د دا ډول پروګرامونو او عملياتو د اداري پورې اړوندو ستونزو او نيمګړتياو په اړه د امريکا د بهرنيو چارو او دفاع وزيرانو ته په خپلواک او هدفمند ډول د پوره معلوماتو ورکول او په بشپړ ډول د هغوی باخبره ساتل او د اصلاحي فعاليتونو د اړتيا او پرمختګ په اړه هغوی ته معلومات ورکول. | روان؛ درې مياشتنی راپورونه | بشپړ راپور |
| نظارت کول | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي پلټونکی بايد نيغ په نيغه د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته راپور ورکړي او د هغوی تر عمومي څارنې لاندې وي | د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته راپور ورکول | بشپړ راپور |
| مسووليتونه | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بيارغوني څارنه —<br>دا به د عمومي پلټونکي وظيفه وي چې د هغو پيسو چې اختصاص شوي او يا په بله مانا په افغانستان کې د بيا رغونې لپاره په لاس ورکړل شوي، او د هغو پروګرامونو، عملياتو او قراردادونو هم چې د دې بسپنو په کارولو سره ترسره شوي، د چلند، سمبالولو او لګښتونو څارنه وکړي او د کنترول او تفتيش او تحقيقاتو انسجام يې وکړي، د (A) څخه تر (G) لاندې فرعي برخو په شمول. | د تخصيص شوې/موجود فنډونو بياکتنه<br><br>د هغو پروګرامونو، عملياتو، قراردادونو بياکتنه چې اختصاص شوې/موجود فنډونه کاروي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د داسې بوديجو د مسووليت او لګښت د حساب کتاب نظارت | د اختصاص شويو/موجود بوديجو د مسووليتونو او لګښتونو کتنه | د سيګار نظارت بوديجې |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د هغو بيارغونيزو فعاليتونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوې وي | د بيا رغونې د هغو فعاليتونو کتنه چې د اختصاصونو او ورکړو لخوا تمويل شوې وي | د سيګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوې وي | د هغو قراردادونو کتنه چې اختصاص شوې او موجودې بوديجې کاروي | يادونه 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د رياستونو، ادارو، او د متحده ايالاتو د سازمانونو، او شخصي او نادولتي سازمانونو ترمنځ د داسې بوديجو او ورسره تړلي معلوماتو د لېږد نظارت او کتنه | د اختصاص شويو/موجود بوديجو د داخلي او خارجي ليږد کتنه | ضميمه ب |
| برخه 1229(f)(1)(E) | د داسې بسپنو د کارولو ثبتونو (ريکارډ) سمبالتيا د دې لپاره چې په راتلونکي کې د داسې بسپنو/ پلټنې او تحقيقات اسان کړي | د پلټنې تاريخچې سمبالول | د سيګار نظارت<br>ضميمه ج<br>ضميمه د |
| برخه 1229(f)(1)(F) | د افغانستان ترون او د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژۍ په تطبيقولو کې د افغانستان د دولت او نورو مرستندويه هيوادونو سره د متحده ايالاتو د ارتباط د اغېزمنتيا نظارت او کتنه | نظارت او بياکتنه<br>څرنګه چې تشريح شوي | پلټنې |

جدول A.1 (دوام لري)

| د P.L. 110-181, § 1229 په اساس د سيګار درې مياشتنۍ راپور ورکولو شرايطو ته متقابل مراجعه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنوونکې ژبه** | **د سيګار عمل** | **د راپور برخه** |
| برخه 1229(f)(1)(G) | د اضافي پيسو د ورکړې څيړنه لکه د دوه ځلي پيسو ورکول يا دوه ځله بل او هر ډول احتمالي غيرقانوني يا ناسم عمل چې د فدرال مامورينو، قراردادیانو، يا اړوندو کسانو لخوا شوی وي، او د عدليې وزارت ته د دې ډول راپورونو ورکول، کله چې ضرورت وي، ډاډ ترلاسه شي چې نورې څيړنې، قانوني تعقيب، د اضافي پيسو بيرته ترلاسه کول، او نور جبرانوونکي کارونه ترسره شي. | د تحقيقاتو ترسره کول او راپور کول څرنګه چې تشريح شوي دي | تحقيقات |
| برخه 1229(f)(2) | د نظارت پورې اړوند نورې دندې —<br>عمومي پلټونکی بايد داسې سيستمونه، کړنلارې، او کنټرولونه جوړ، سمبال او تر نظارت لاندې وساتي چې عمومي پلټونکی يې د (1) پاراګراف لاندې د وظيفو د ترسره کولو لپاره مناسب ګڼي | د سيستمونو، پروسيژرونو، او کنټرولونو جوړول، سمبالول او نظارت کول | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(3) | د عمومي پلټونکي د 1978 کال د لايحې په اساس د عمومي پلټونکې دندې —<br>سربيره پر دې،... عمومي پلټونکی بايد د عمومي پلټونکي د 1978 قانون لاندې د عمومي پلټونکيو وظيفې او مسووليتونه هم ولري | هغه وظيفې چې د عمومي پلټونکي په قانون کې مشخص شوي دي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(4) | د هڅو همغږی کول —<br>عمومي پلټونکی بايد خپل کارونه د لاندې کسانو سره همغږي او د دوی همکاري ترلاسه کړي: (A) د دفاع وزارت عمومي پلټونکی، (B) د بهرنيو چارو وزارت عمومي پلټونکی، او (C) د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د اداري عمومي پلټونکی. | د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو او USAID د عمومي پلټونکو سره همغږي | د نورو ادارو نظارت |
| فدرالي ملاتړ او نورې سرچينې | | | |
| برخه 1229(h)(5)(A) | د فدرالي ادارو څخه مرسته —<br>که چيرته عمومي پلټونکی د فيدرالي حکومت د هر وزارت، ادارې، يا موسسې څخه د مرستې او معلوماتو غوښتنه وکړي، نو د اړوندې ادارې مشر په هغه صورت کې چې د عمومي پلټونکې غوښتنه د حاکمو قوانينو په خلاف نه وي، مسوليت لري چې ياده مرسته يا معلومات ورته چمتو کړي. | تمه لرو چې د غوښتنې په صورت کې ورسره مرسته وکړی | بشپړ راپور |
| برخه 1229(h)(5)(B) | د مسترد شوو مرستو په اړه راپور ورکول —<br>هر هغه وخت چې د عمومي مفتش لخوا مطالبه شوي معلومات او يا هم مرسته د هغه په باور په غيرضروري ډول مسترد او يا هم منظور شوې نه ده، عمومي مفتش بايد پدې اړه ژر ترژره د قضيې تړاو ته په کتو هغه د بهرنيو چارو وزارت ، دفاع وزارت او ياهم د کانګرس اړوندې کميټې ته خبر ورکړي. | راپور نه دی ورکړل شوی | N/A |
| راپورونه | | | |
| برخه 1229(i)(1) | درې مياشتنې راپورونه —<br>د هر مالي کال د دريو مياشتو د پای ته رسيدو څخه تر 30 ورځو پورې، عمومي پلټونکی بايد د کانګرس اړوندو کميټو ته يو راپور وړاندې کړي چې د دغې دورې، او تر کومه حده چې امکان لري د مخکينۍ ورته راپور د وخت څخه د دې رپوټ تر مودې پورې په دې مهال کې د عمومي پلټونکي او د هغه د فعاليتونو د هغو پروګرامونو او عملياتو لاندې چې بوديجه او پيسې د افغانستان د بيا رغونې لپاره ورکړل شوې وي يو لنډيز وړاندې کړي. په افغانستان کې د بيارغونې په اړه د ټولو منل شوو، لګول شوو او عايداتو په ګډون بايد د اړوندې مودې په اړه په هر راپور کې ذکر شوې وي، او بايد د لاندې ټکو درلودنکې وي – | راپور - د هر کال د درې مياشتو د پای ته رسيدو څخه 30 ورځې وروسته<br><br>د عمومي پلټونکي د فعاليتونو لنډيز وړاندې کوي<br><br>او د ژمنه شوي مرستو، لګښتونو او عايداتو په اړه تفصيلي معلومات ورکوي | بشپړ راپور<br>ضميمه ب |

جدول A.1 (دوام لري)

| د P.L. 110-181, § 1229 په اساس د سیګار درې میاشتنی راپور ورکولو شرایطو ته متقابل مراجعه | | | |
|---|---|---|---|
| د عامه قانون برخه | د سیګار توانمنوونکې ژبه | د سیګار عمل | د راپور برخه |
| برخه 1229(i)(1)(A) | د اختصاص شویو/ورکړ شویو بودیجو مسوولیتونه او لګښتونه | د اختصاص شویو/ورکړ شویو بودیجو مسوولیتونه او لګښتونه | ضمیمه ب |
| برخه 1229(i)(1)(B) | د هغو لګښتونو یو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب چې تر دې نېټې د افغانستان په بیا رغونه کې لګول شوي، د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې، تر کومه چې تطبیقېدونکی وي، د هرې پروژې او پروګرام د بشپړولو لګښتونو د یو اټکل سره ملګري | د لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب. د هرې پروژې یا پروګرام د نالګول شویو بودیجو لیست جوړول | بودیجې<br>یادونه 1 |
| برخه 1229(i)(1)(C) | هغه عایدات چې د متحده ایالاتو حکومت د کومې ادارې یا وزارت یو پروګرام ته د فنډ برابرولو په موخه د بهرنیو ملتونو یا نړیوالو موسسو لخوا چمتو شوي دي، او د دغو عایداتو ژمنې یا مصارف | د مرستندویه ادارو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه، او لګښتونه | فنډ ورکول |
| برخه 1229(i)(1)(D) | د هغو بودیجو سره تړلي یا شامل عایدات چې هغو پروګرامونو او پروژو ته د بهرنیو نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو څخه ورکړل شوي وي د کومو بودیجې چې د متحده ایالاتو د کوم ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوې وي، او د داسې عایداتو هر ډول مسوولیتونه او یا لګښتونه | د نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه او لګښتونه | بودیجې |
| برخه 1229(i)(1)(E) | د هغو ادارو یا سازمانونو فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوې پیسې ترلاسه کوي او یا په بله توګه د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوې وي | د هغو ادارو یا کوم سازمان فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوې بودیجې ترلاسه کوي | بودیجې<br>ضمیمه ب |
| برخه 1229(i)(1)(F) | د هر هغه قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون یا د بسپنې د بل کوم میکانیزم په صورت کې چې په (2)* پاراګراف کې یې یادونه شوې —<br>(i) د قرارداد یا د فنډ کوم بل میکانیزم رقم؛<br>(ii) د قرارداد یا د بسپنې د بل کوم میکانیزم د طرحې لنډ بحث؛<br>(iii) په دې اړه یو بحث چې څرنګه د متحده ایالاتو د حکومت هغه وزارت یا اداره چې په دې قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون، یا د بسپنې په بل میکانیزم کې کار کوي د مهمو کاندیدانو ورانديزونو پیژندل یا غوښتل چې دغه قرارداد، بلاعوضه مرسته، تړون، یا د بسپنې بل کوم میکانیزم ترسره کړي، د نورو مهمو ادارو یا اشخاصو د یو لیست سره چې د دې وراندیز ورته شوی یا غوښتل شوی؛ او<br>(iv) د توجیه او منظورۍ هغه اسناد په کومو چې د دې پروسو د پرېکړې بنسټ و له هغو پروسو پرته چې بشپړه او پرانستې مقابله وراندې کوي | د قرارداد جزییات تشریح کړئ | یادونه 1 |
| برخه 1229(i)(3) | د عامه خلکو لاسرسي —<br>عمومي پلټونکی باید په یوه عامه ترلاسه کېدونکې انټرنیټي ویبپاڼه کې د دې ضمني برخې د (1) پاراګراف لاندې هر راپور په انګلیسي او نورو هغو ژبو کې خپور کړي چې عمومي پلټونکی پوهیږي چې په افغانستان کې په پراخه پیمانه ویل کیږي او خلک پرې پوهیږي | لکه څنګه چې په www.sigar.mil کې لاربښود شوی، راپور خپور کړل شي<br><br>دري او پښتو ژباړې تر کار لاندې دي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(i)(4) | بڼه —<br>د دې فرعي برخې لاندې غوښتل شوی هر راپور باید په ښکاره بڼه وراندې شي، خو کیدای شي محرمې ضمیمې ولري، که چیرې عمومي پلټونکې هغه ضروري وګڼي | د راپور خپرول څرنګه چې یې لاربښوونه شوې | بشپړ راپور |

جدول A.1 (دوام لري)

| د P.L. 110-181, § 1229 په اساس د سيګار درې مياشتنۍ راپور ورکولو شرايطو ته متقابل مراجعه | | | |
|---|---|---|---|
| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکې ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
| برخه 1229(1)(j) | عمومي مفتش بايد د (i) بند په اساس د امريکا بهرنيو چارو وزارت او دفاع وزارت ته هم راپور وسپاري. | د درې مياشتني راپور تسليمي | بشپړ راپور |

يادونه 1: که څه هم په عادي ډول معلومات د سيګار په ويب سايټ کې موجود وي (www.sigar.mil)، خو هغه معلومات چې سيګار ترلاسه کړي دي په نسبتاً خام شکل کې وي او اوسمهال د سيګار د راټلونکو ټولو موخو لپاره کتل کيږي، تحليل کيږي، او تنظيم کيږي.

* پوښښ شوي "قراردادونه، بلاعوضه مرستی، موافقتنامې، او د تمويل ميکانيزمونه" د P.L. No. 110-181 د 1229(i) برخې په (2) پاراګراف کې تعريف شوي، داسې چې—

"هر لوی قرارداد، مالي مرسته، تړون، يا د بوديجې مکانيزم چې د متحده ايالاتو د دولت د هر رياست يا ادارې لخوا پکې برخه اخيستل کيږي، او په هغوی د افغانستان د بيا رغوني لپاره اختصاص شوي او يا بل ډول ورکړ شوي پيسې شاملې وي، که له هر ډول دولتي يا شخصي سازمان سره د لاندې هر مقصد لپاره وي: په افغانستان کې د فزيکي زيربنا جوړول يا بيا جوړول.

د افغانستان د سياسي يا ټولنيزي اداري تاسيس يا بيا تاسيس.

د افغاستان د خلکو لپاره د خدمتونو او توليداتو وړاندې کول."

# ضمیمه ب

## د امریکا فنډونه د افغانستان د بیا رغونې لپاره (په میلیون ډالرو)

جدول B.1 د هغو بودیجو لست دی چې د پروګرام پرسر په هر کال کې د افغانستان بیا رغونې لپاره تخصیص ورکول شوي، د 2014 کال د جنوري تر 17 پورې.

جدول B.1

| د امریکا د بسپنو سرچینې | اداره | ټولټال | 2002 مالي کال |
|---|---|---|---|
| **امنیت** | | | |
| د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه (ASFF) | DOD | 57,503.41 | 0.00 |
| روزنه او تجهیزات (د دفاع وزارت) | DOD | 440.00 | 0.00 |
| بهرني پوځي مالي مرستې (FMF) | State | 1,059.14 | 57.26 |
| نړیواله نظامي ښوونه او روزنه (IMET) | State | 13.32 | 0.18 |
| NDAA برخه 1207 انتقال | نور | 9.90 | 0.00 |
| **ټولټال – امنیت** | | **59,025.77** | **57.44** |
| **حکومتداري او پرمختیا** | | | |
| د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام (CERP) | DOD | 3,669.00 | 0.00 |
| د افغانستان د زیربنا فنډ (AIF) | DOD | 1,223.00 | 0.00 |
| د ثبات او سوداګرۍ عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) | DOD | 783.39 | 0.00 |
| د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) | USAID | 16,686.22 | 117.72 |
| پرمختیایي مرسته (DA) | USAID | 885.55 | 18.30 |
| د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون (AFSA) | DOD | 550.00 | 0.00 |
| د ماشوم بقا او روغتیا (GHAI + CSH) | USAID | 554.58 | 7.52 |
| د تولیداتو د اعتبار اردو (CCC) | USAID | 31.65 | 7.48 |
| USAID (نورې) | USAID | 49.26 | 0.00 |
| د هیڅ ډول کټې اخیستلو پرته، تروریزم ضد، ماینونه لیرې کول، او اړوند (NADR) | State | 606.29 | 44.00 |
| د ولایتي بیا رغونې ټیم مشاوران | USDA | 5.70 | 0.00 |
| د خزانې تخنیکي مرسته | خزانه | 4.45 | 0.90 |
| **ټولټال – حکومتداری او پرمختیا** | | **25,049.09** | **195.92** |
| **د مخدره توکو پرضد مبارزه** | | | |
| د مخدره توکو نړیوال کنټرول او د قانون تنفیذ (INCLE) | State | 4,181.80 | 60.00 |
| د نشه یي توکو بندیز او د نشه یي توکو پر ضد فعالیتونه (DOD CN) | DOD | 2,941.45 | 0.00 |
| د نشه یي توکیو په اړه د تنفیذ اداره (DEA) | DOJ | 200.97 | 0.58 |
| **ټولټال – د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه** | | **7,324.22** | **60.58** |
| **بشر دوستانه** | | | |
| P.L. 480 عنوان I | USDA | 5.00 | 0.00 |
| P.L. 480 عنوان II | USAID | 903.69 | 159.50 |
| په مصیبت کې مرسته (IDA) | USAID | 521.33 | 197.09 |
| د انتقال نوښتونه (TI) | USAID | 36.49 | 8.07 |
| د کډوالی او مهاجرینو مرسته (MRA) | State | 845.22 | 135.47 |
| داوطلب سوله ساتنه (PKO) | State | 69.33 | 23.93 |
| د مهاجر او مهاجرت بیړنۍ مرسته (ERMA) | State | 25.20 | 25.00 |
| خواړه د ودې لپاره | USDA | 109.49 | 0.00 |
| 416(b) د خوړو کومک | USDA | 95.18 | 46.46 |
| خواړه د تعلیم لپاره | USDA | 50.49 | 0.00 |
| ایمرسن بودیجه | USDA | 22.40 | 0.00 |
| **ټولټال – بشر دوستانه** | | **2,683.81** | **595.52** |
| **د نړیوالو چارو عملیات** | | | |
| نظارت | | 281.60 | 0.00 |
| نور | | 7,764.91 | 155.60 |
| **ټولټال – د نړیوالو چارو عملیات** | | **8,046.50** | **155.60** |
| **ټولټال بودیجې** | | **102,129.39** | **1,065.06** |

یادښتونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. DOD د 2011 مالي کال ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي. DOD د 2012 مالي کال ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي. P.L. 113-6، 1 میلیارد امریکایي ډالر د ASFF 2012 مالي کال څخه فسخ کړل. DOD د 2011 مالي کال AIF څخه 101 میلیونه ډالر د 2011 مالي کال ESF ته انتقال کړه تر څو داسې یو زیربنایي پروژې ته بودیجه ورکړي چې د USAID لخوا پلي کیږي.

[a] هغه مقدار پکې شامل دی چې د مدغم شوي تخصیصاتو قانون، 2014 کې مختص شوي.

سرچینه: د سیګار 1/22/2014، 1/2/2014، 12/30/2013، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009 معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ د سیګار 1/13/2014، 1/9/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سیګار 1/2/2014 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سیګار 7/19/2013 او 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سیګار 1/7/2014، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سیګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DOJ ځواب؛ د سیګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ د سیګار 1/8/2014 معلوماتي غوښتنې ته د CRS ځواب؛ DFAS، "AR(M) 1002 تخصیص دریځ په مالي کال پروګرام او فرعي حسابونو دسمبر 2013 کې،" 1/18/2014؛ H.R. 3547، "د مدغم شوي تخصیصاتو قانون، 2014،" 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.

# ضميمې

| 2014 مالي کال[a] | 2013 مالي کال | 2012 مالي کال | 2011 مالي کال | 2010 مالي کال | 2009 مالي کال | 2008 مالي کال | 2007 مالي کال | 2006 مالي کال | 2005 مالي کال | 2004 مالي کال | 2003 مالي کال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4,726.72 | 5,124.17 | 9,200.00 | 10,619.28 | 9,166.77 | 5,606.94 | 2,750.00 | 7,406.40 | 1,908.13 | 995.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 290.00 | 150.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 396.80 | 414.08 | 191.00 |
| 0.00 | 1.42 | 1.18 | 1.56 | 1.76 | 1.40 | 1.66 | 1.19 | 0.98 | 0.95 | 0.67 | 0.39 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 9.90 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| **4,726.72** | **5,125.59** | **9,201.18** | **10,620.84** | **9,168.53** | **5,608.34** | **2,761.56** | **7,407.59** | **1,909.11** | **1,682.75** | **564.75** | **191.39** |
| | | | | | | | | | | | |
| 30.00 | 200.00 | 400.00 | 400.00 | 1,000.00 | 550.67 | 488.33 | 209.00 | 215.00 | 136.00 | 40.00 | 0.00 |
| 199.00 | 325.00 | 400.00 | 299.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 91.24 | 137.40 | 241.82 | 239.24 | 59.26 | 14.44 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 1,623.15 | 1,836.76 | 2,168.51 | 3,346.00 | 2,083.18 | 1,399.51 | 1,224.24 | 473.39 | 1,283.00 | 906.97 | 223.79 |
| 0.00 | 0.00 | 0.35 | 0.00 | 0.30 | 0.40 | 149.43 | 166.81 | 185.08 | 169.21 | 153.14 | 42.54 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 100.00 | 150.00 | 300.00 |
| 0.00 | 0.25 | 0.00 | 69.91 | 92.30 | 58.23 | 63.07 | 100.77 | 41.45 | 38.00 | 33.40 | 49.68 |
| 0.00 | 0.00 | 0.55 | 3.09 | 4.22 | 4.22 | 10.77 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.33 |
| 0.77 | 1.84 | 7.18 | 6.26 | 4.90 | 2.81 | 20.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.50 |
| 0.00 | 52.60 | 65.32 | 69.30 | 70.74 | 59.92 | 29.72 | 36.72 | 35.72 | 40.65 | 66.90 | 34.70 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.70 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.47 | 0.75 | 0.13 | 0.19 | 0.95 | 0.06 | 1.00 |
| **321.02** | **2,340.23** | **2,951.98** | **3,255.30** | **4,577.72** | **2,780.04** | **2,161.57** | **1,737.67** | **950.83** | **1,767.80** | **1,355.47** | **653.54** |
| | | | | | | | | | | | |
| 0.00 | 568.81 | 358.75 | 400.00 | 589.00 | 484.00 | 307.57 | 251.74 | 232.65 | 709.28 | 220.00 | 0.00 |
| 320.79 | 307.37 | 422.96 | 379.83 | 392.27 | 230.06 | 192.81 | 290.97 | 108.05 | 224.54 | 71.80 | 0.00 |
| 0.00 | 17.00 | 18.70 | 18.70 | 19.20 | 18.80 | 40.59 | 20.38 | 23.66 | 16.77 | 3.72 | 2.87 |
| **320.79** | **893.17** | **800.41** | **798.53** | **1,000.47** | **732.86** | **540.97** | **563.09** | **364.36** | **950.59** | **295.52** | **2.87** |
| | | | | | | | | | | | |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 |
| 0.00 | 0.00 | 59.20 | 112.55 | 58.13 | 65.41 | 177.00 | 60.00 | 60.00 | 56.60 | 49.20 | 46.10 |
| 4.06 | 22.21 | 56.33 | 66.68 | 29.73 | 27.13 | 16.90 | 0.03 | 0.04 | 4.23 | 11.39 | 85.53 |
| 0.13 | 0.42 | 0.64 | 1.10 | 0.87 | 0.75 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.60 | 11.22 | 11.69 |
| 0.00 | 76.07 | 99.56 | 64.65 | 80.93 | 76.79 | 44.25 | 53.80 | 41.80 | 47.10 | 63.30 | 61.50 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 15.50 | 20.00 | 9.90 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.20 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 12.09 | 20.55 | 9.47 | 23.24 | 30.10 | 9.08 | 4.96 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 34.58 | 14.14 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 25.08 | 10.02 | 6.12 | 9.27 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 22.40 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| **4.18** | **98.70** | **215.73** | **244.98** | **169.66** | **182.37** | **281.10** | **123.30** | **150.16** | **165.15** | **204.89** | **248.08** |
| | | | | | | | | | | | |
| 50.30 | 58.70 | 59.00 | 37.20 | 34.40 | 25.20 | 14.30 | 2.50 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.08 | 1,288.90 | 1,433.58 | 905.10 | 1,761.70 | 1,060.70 | 435.51 | 207.80 | 131.90 | 136.29 | 212.44 | 35.30 |
| **50.38** | **1,347.60** | **1,492.58** | **942.30** | **1,796.10** | **1,085.90** | **449.81** | **210.30** | **131.90** | **136.29** | **212.44** | **35.30** |
| **5,423.08** | **9,805.30** | **14,661.88** | **15,861.94** | **16,712.47** | **10,389.51** | **6,195.01** | **10,041.96** | **3,506.37** | **4,702.57** | **2,633.07** | **1,131.18** |

# ضميمه ج

## د سيګار ليکل شوي محصولات

### د سيګار پلټنې

### د فعاليت بشپړې شوي پلټنې

سيګار د دې راپور ورکوونې په موده کې څلور پلټنې بشپړې کړې.

| د 2014 د جنورۍ تر 30 پورې د سيګار فعاليت بشپړې شوي پلټنې | | |
|---|---|---|
| د راپور پېژند | د راپور سرليک | د خپرېدلو نېټه |
| د سيګار پلټنه 14-32-AR | مستقيمې مرستې: USAID مثبت ګامونه اخيستي ترڅو د مرستندويانو مرستو لپاره د افغانستان وزارتونو توان ارزونه وکړي، مګر کمزورتياوې پاته دي | 1/2014 |
| د سيګار پلټنه 14-30-AR | افغان ملي امنيتي ځواکونه: د برياوو راپور ورکولو برسېره، د سواد زده کړې پروګرام پايلو، د قرارداد نظارت، سپارلو، او ساتنې په اړه انديښنې پاته دي | 1/2014 |
| د سيګار پلټنه 14-26-AR | د افغانستان قضا سکتور لپاره ملاتړ: د امريکا بهرنيو چارو وزارت پروګرام ښه مديريت او د سيګار نظارت ته اړتيا لري | 1/2014 |
| د سيګار پلټنه 14-16-AR | د افغانستان د بانکدارۍ سکتور د خصوصي بانکونو تنظيمولو لپاره د مرکزي بانک ظرفيت اوس هم کمزورې دی | 1/2014 |

### د نويو فعاليتونو پلټنې

د راپور وروکولو پدې موده کې سيګار د فعاليت څلور پلټنې پيل کړې.

| د 2014 د جنورۍ تر 30 پورې د سيګار فعاليت نوي پلټنې | | |
|---|---|---|
| د پلټنې پېژند | د پروژې سرليک | د پيل نېټه |
| سيګار 091A | د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پوليسو (CNPA) د ولايتي قطعو جوړولو او ځواکمن کولو لپاره د امريکا د حکومت د هڅو پلټنه | 12/2013 |
| سيګار 090A | د افغانستان د ملي اردو د انجنيرانو د لوا د تجهيزاتو پلټنه | 11/2013 |
| سيګار 089A | د افغانستان د هوايي ځواک ودې لپاره د امريکا ملاتړ پلټنه | 11/2013 |
| سيګار 088A | د افغانستان د معلوماتو او ټيکنالوجۍ سکتور د بيارغونې او خصوصي کولو لپاره د امريکا د حکومت د مرستو د هڅو پلټنه | 11/2013 |

### د فعاليت روانې پلټنې

سيګار د دې راپور ورکوونې دورې په جريان کې 10 پلټنې د پرمختګ په حال کې درلودې.

| د 2014 د جنورۍ تر 30 پورې د سيګار فعاليت روانې پلټنې | | |
|---|---|---|
| د پلټنې پېژند | د پروژې سرليک | د پيل نېټه |
| سيګار 087A | د ښځو نوښتونه | 8/2013 |
| سيګار 086A | د معارف سيکتور | 8/2013 |
| سيګار 085A | افغان ملي پوځ لپاره د ضربتي نقليه وسيلو اخيستل | 7/2013 |
| سيګار 083A | د امريکا عايداتو د تخمين او راټولولو په برخه کې د افغانستان د ظرفيت لوړاوي لپاره د نړيواله پراختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري (USAID) او د داخلي امنيت وزارت د ګمرکاتو او سرحداتو د ساتنې څانګې (CBP)، کمکي هڅې | 7/2013 |

| د 2014 د جنوری تر 30 پورې د سیګار فعالیت روانې پلټنې | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې پېژند** | **د پروژې سرلیک** | **د پیل نېټه** |
| سیګار 082B | د امریکا د مرکزي بانک د ظرفیت لوړاوي او پراختیا په برخه کې د متحده ایالاتو هڅې | 6/2013 |
| سیګار 079A | د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د قوماندانانو قطعې د ارزونې وسیلې اعتبار | 2/2013 |
| سیګار 079B | د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پېژند د معلوماتو اعتبار | 2/2013 |
| سیګار 078A | د هڅو وسلو او تجهیزاتو حساب اخیستنه چې افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) ته چمتو شوي دي | 5/2013 |
| سیګار 080A | د امریکا د دولت د بیارغونې انتقالي پلان | 3/2013 |
| سیګار 077A | د افغانستان د اوبو سکټور سره د USAID مرستې | 2/2013 |

## بشپړې شوي مالي پلټنې

د راپور ورکولو پدې موده کې سیګار اته مالي پلټنې بشپړې کړي.

| د 2014 د جنوری تر 30 پورې د سیګار بشپړې شوي مالي پلټنې | | |
|---|---|---|
| **د راپور پېژند** | **د راپور سرلیک** | **د خپرېدلو نېټه** |
| د سیګار مالي پلټنه 14-29-FA | د ښاري وګړو لپاره د USAID د خواړو کموالي غبرګون: د پاملرنې نړیوالې موسسې لخوا د ترسره شویو لګښتونو پلټنه | 1/2014 |
| د سیګار مالي پلټنه 14-23-FA | د ښاري وګړو لپاره د USAID د خواړو کموالي غبرګون: د نړیوال نظر شرکت لخوا د ترسره شویو لګښتونو پلټنه | 1/2014 |
| د سیګار مالي پلټنه 14-20-FA | د USAID د ټولنې پراختیا پروګرام: د مرکزي آسیا د پراختیا ډلې شرکت لخوا د ترسره شویو لګښتونو پلټنه | 1/2014 |
| د سیګار مالي پلټنه 14-19-FA | د USAID د ټولنې پراختیا پروګرام: د مرسي کورپس لخوا د ترسره شویو لګښتونو پلټنه | 1/2014 |
| د سیګار مالي پلټنه 14-18-FA | USAID د ښوونکو او ټولنې د باثباته کولو لپاره د روزنې ملاتړ سیستمونو مرستې پروژه: د نړیوال نوښت ملګرو شرکت لخوا د ترسره شویو لګښتونو پلټنه | 1/2014 |
| د سیګار مالي پلټنه 14-15-FA | د افغانستان د مدني ټولنې ودې لپاره د USAID نوښت پروژّه: د کونتر پارت انترنیشنل لخوا د ترسره شویو لګښتونو پلټنه | 1/2014 |
| د سیګار مالي پلټنه 14-14-FA | د USAID د سیمه ایزې مرستې او کوپراتیفي پراختیا پروژه: د کریډیت اتحادیو د شرکت نړیوالې شورا لخوا د ترسره شویو لګښتونو پلټنه | 1/2014 |
| د سیګار مالي پلټنه 14-11-FA | په افغانستان کې د امریکا بهرنیو چارو وزارت مین پاکولو فعالیتونه: د افغانستان تخنیکي سلاکارانو لخوا د ترسره شویو لګښتونو پلټنه | 12/2013 |

## نوې مالي پلټنې

سیګار د دې راپور ورکوونې دورې په جریان کې 3 مالي پلټنې پیل کړې.

| د سیګار نوې مالي پلټنې د 2014 د جنوري تر 30 پورې | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې پېژند** | **د پروژې سرلیک** | **د پیل نېټه** |
| F-040 | د آزاد خوځښت لپاره د A-T حل لارو سره د امریکا اردو قرارداد | 12/2013 |
| F-039 | د لیګاسي ختیځ ملاتړ لپاره د یورګ ساینټیفیک شرکت سره د امریکا اردو قرارداد | 12/2013 |
| F-038 | د امریکا انجنیری، لوژستیکي انجنیری او عملي کار اخیستلو هڅو لپاره د CACI ټیکنالوژی له شرکت سره د امریکا اردو قرارداد | 12/2013 |

## رواني مالي پلټنې

سيګار د دې راپور ورکوونې دورې په جريان کې 17 رواني مالي پلټنې درلودې.

**د سيګار رواني مالي پلټنې د 2014 د جنوري تر 30 پورې**

| د پلټنې پېژند | د پروژې سرليک | د پيل نيټه |
|---|---|---|
| F-037 | د قانون حاکميت استحکام پروګرام - رسمي ته د تخنيکي ملاتړ لپاره د تيترا ټيک ARD سره د USAID کاري امر | 9/2013 |
| F-036 | په کابل کې د نوي ملي ميوزيم معماري او انجينرنګ ډيزاين لپاره د پروژې مديريت خدماتو لپاره د سعيد مجيدي معماري او ډيزاين (SMAD) سره د بهرنيو چارو وزارت مرسته | 9/2013 |
| F-035 | د افغان تلويزيون منځپانګې توليد مدير پروژې او د ملت په کچه د لويانو سواد زده کړې پروژې ته د ملاتړ لپاره د CETENA ګروپ سره د بهرنيو چارو وزارت کوپراتيف تړون او مرسته | 9/2013 |
| F-034 | د ځمکې ماينونو او ناچاوديدلي توکو لرې کولو لپاره ملاتړ چمتو کولو ته د ماين پاکونې پلان کولو اداري سره د بهرنيو چارو وزارت مرستې | 9/2013 |
| F-033 | د ملکي پوليس پروګرام ته تخنيکي ملاتړ لپاره د PAE سره د بهرنيو چارو وزارت کاري امر | 9/2013 |
| F-032 | د افغان کلين انرژي پروګرام (ACEP) ته تخنيکي ملاتړ لپاره د IRG (اوس د انجيليټي برخه) سره د USAID کاري امر | 9/2013 |
| F-031 | د افغانستان ښاروالی پروګرام پياوړي کولو (AMSP) ته د تخنيکي ملاتړ لپاره د ICMA سره د USAID کوپراتيف تړون | 9/2013 |
| F-030 | د قانون حاکميت پروګرام - رسمي، ته د تخنيکي ملاتړ لپاره د تيترا ټيک سره د USAID کاري امر | 9/2013 |
| F-029 | په افغانستان کې د ټولنې ميشته معارف ودې لپاره (PACE-A) ملګرتيا ته تخنيکي ملاتړ لپاره د کير انټرنيشنل سره د USAID کوپراتيف تړون | 9/2013 |
| F-028 | د افغانستان ټولنيز وسعت پروګرام تخنيکي ملاتړ لپاره (ASOP) د AECOM سره د USAID کاري امر | 9/2013 |
| F-027 | په افغانستان کې د خپلواک رسنيو سيکتور پياوړي کولو لپاره د PACT سره د USAID کوپراتيف تړون | 9/2013 |
| F-026 | د پياوړي اوبو سپلای او ناروغيو مخنيوی (SWSS) پروژې ته د تخنيکي ملاتړ چمتو کولو لپاره د ARD (اوس د تيترا ټيک برخه) سره د USAID کاري امر | 9/2013 |
| F-025 | د کرهنې پروګرام (AVIPA) کې د ډېرښوي توليد لپاره د افغانستان وچرو پلي کولو ته د IRD سره د USAID کوپراتيف تړون | 9/2013 |
| F-024 | د شيمونک سره د USAID تړون، د افغانستان استحکام نوښت لپاره ترځو په افغانستان کې د اقتصادي او ټولنيز اوضاع ودې په واسطه (سويلي سيمه) د ترهه ګری ضد عمليات ملاتړشي او پياوړی کرهنيز پروګرام (ASAP) | 7/2013 |
| F-023 | د افغان کوچني او منځني پانګوونې پراختيا (ASMED) پروژې او د افغانستان استحکام نوښت لپاره د پراختيا الټرنيټيوز انک سره د USAID قرارداد | 7/2013 |
| F-016 | د روغتيا خدمت ملاتړ پروژې (HSSP) ته ملاتړ لپاره د JHPIEGO کارپوريشن سره د USAID کوپراتيف تړون | 4/2013 |
| F-012 | په سويلي او ختيځ افغانستان کې د ستراتيژيک ولايتي سړکونو پروژې لپاره د نړيوال کمک او پراختيا انک سره د USAID کوپراتيف تړون | 12/2012 |

# د سيګار تفتيشونه

## بشپړې شوې معاينې

سيګار درې تفتيشونه د دې راپور په موده کې بشپړ کړي:

| د سيګار بشپړ شوي تفتيشونه د 2014 کال د جنوري تر 30 پورې | | |
|---|---|---|
| د راپور پېژند | د راپور سرليک | د خپرېدلو نېټه |
| د سيګار تفتيش 14-31-IP | د سالنګ روغتون: د اوبو او برېښنا نشتون د روغتون خدمات ډېر محدود کړي، او د ساختمان زياتې نيمګړتياوې د خونديتوب اندېښنه راپورته کوي | 1/2014 |
| د سيګار تفتيش 14-24-IP | د بلخ روزنې تاسيسات: له نږدې پنځو کلونو وروسته د هستوګنې لپاره ودانۍ ناتمامه او خطرناکه ده | 1/2014 |
| د سيګار تفتش 14-13-IP | د شرنې د عملياتو مخکنۍ پايګاه: د غير فعالو سوځولو فابريکو او د باندې د کثافاتو سوځولو د کمزورې پلان کولو او جوړولو پايله دا وه چې 5.4 ميليونه امريکايي ډالر ولګول شي | 12/2013 |

# د سيګار ځانګړې پروژې

## ځانګړې بشپړې شوې پروژې

سيګار د دې راپور ورکوونې دورې په جريان کې د ځانګړې پروژو پنځه راپورونه بشپړ کړي.

| د سيګار ځانګړې بشپړې شوې پرورژې د 2014 کال د جنوري تر 30 پورې | | |
|---|---|---|
| د راپور پېژند | د راپور سرليک | د خپرېدلو نېټه |
| د سيګار ځانګړې پروژه 14-28-SP | د جيو-فضايي حقيقت پاڼه: د امريکا د انجينرانو قول اردو غوره شويو پروژو او د کجکي بند پروژې لپاره د نظارت لاس رسی | 1/2014 |
| د سيګار ځانګړې پروژه 14-27-SP | د افغانستان بيارغونې لپاره د USAID مرسته: د 2002 او 2013 ترمنځ 13.3 ميلیارده امريکايي ډالر تخصيص شوي | 1/2014 |
| د سيګار ځانګړې پروژه 14-25-SP | د 64,000 فوټ مربعې خالي ودانۍ | 1/2014 |
| د سيګار ځانګړې پروژه 14-22-SP | د قوماندان د بيړني غبرګون پروګرام مرستې معلوماتو مکتوب | 1/2014 |
| د سيګار ځانګړې پروژه 14-12-SP | د افغانستان د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د مالي اداري ظرفيت ارزونې کېدای شي د 4 ميليارډو امريکايي ډالرو د مستقيمې مرستې نظارت ښه کړي | 12/2013 |

## د ځانګړې پروژې خبرتيا مکتوب

د راپور ورکولو پدې موده کې سيګار د ځانګړې پروژې د خبرتيا يو مکتوب بشپړ کړی.

| د سيګار نوی شهادت د 2014 کال د جنوري تر 30 پورې | | |
|---|---|---|
| د ليک پېژند | د ليک سرليک | د خپرېدلو نېټه |
| د خبرتيا مکتوب 14-27-AL | د کجکي بند د توربين نصبول | 12/31/2013 |

# د سيګار نور ليکل شوي محصولات

د افغانستان بيارغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش، جان اف ساپکو، د دې راپور ورکولو په موده کې د کانګرس په وړاندې يوځل شهادت ورکړی.

| د سيګار نوی شهادت د 2014 کال د جنوري تر 30 پورې | | |
|---|---|---|
| د شهادت پېژند | د شهادت عنوان | د شهادت نېټه |
| سيګار 14-21-TY | په افغانستان کې د مخدره توکو په وړاندې د متحده ايالاتو راتلونکې هڅې | 1/15/2014 |

# ضميمه د

## د سيګار تحقيقات او د تماس شميره

### د سيګار تحقيقات

پدې ربعه کې، سيګار 51 نوي تحقيقات پيل او 39 يې وتړل، چې د خلاصو تحقيقونو شمير يې ټولټال 318 ته ورسيد. له نويو تحقيقونو څخه، ډيری د پيسو مينځلو او په تدارکاتو کې د تقلب په اړه وو، لکه څنګه چې پدې شکل D.1 کې ښودل شوي. د تړل شوي تحقيقاتو څخه، ډيری يې د بې بنسټه تورونو له امله وتړل شول، څرنګه چې په شکل D.2 کې ښودل شوي.

شکل D.1

**د SIGAR نوې څېړنې، 1 اکتوبر31- دسمبر 2013**

**ټولې:** 51




سرچينه: د SIGAR د څېړنو رياست، 1/10/2014.

شکل D.2

**د SIGAR څېړنې: بندې شوې څېړنې، 1 اکتوبر-31 دسمبر 2013**




د SIGAR د څېړنو رياست، 1/9/2014.

### د سيګار ځانګړي شميره

پدې ربعه کې د هاټلاين له لارې راغلي 101 شکاياتو څخه، ډيری يې بريښنايي و، لکه څنګه چې په شکل D.3 کې ښودل شوي. په نويو شکايتونو کارکولو برسيره، د تحقيق رياست پدې ربع کې د 2013 د اکتوبر په 1 ترلاسه شويو شکايتونو باندې خپل کار ته دوام ورکړ. پدې ربع کې، رياست 141 شکايتونو باندې کار کړی، لدغو څخه ډيری تړل شوي، لکه څنګه چې پدې شکل D.4 کې ښودل شوي.

شکل D.3

**د SIGAR د تماس لین د شکایتونو سرچينه 1 اکتوبر-31 دسمبر 2013**




سرچينه: د SIGAR د څېړنو رياست، 1/8/2014.

شکل D.4

**د SIGAR د تماس لین د شکایتونو حالت: 1 اکتوبر31- دسمبر 2013**




سرچينه: د SIGAR د څېړنو رياست، 1/6/2014.

يادونه: په درېو مياشتو کې 101 شکايتونه ترلاسه شوي؛ په ټولو کې مخکې دورو کې شوې شکايتونه شامل دي.

## ځنډونې او مخنيوی د سيګار د ارجاع ګانو څخه

د 2013 د دسمبر تر 31 د تعليق او بنديز لپاره د سيګار راجع کول، لکه څنګه چې د الفبا په ترتيب پدې جدول D.1 کې ښودل شوي.

جدول D.1

| **د 2013 کال د دسمبر تر 31 پورې تعليقونه او بنديزونه** | |
|---|---|
| **تعليقونه** | **بنديزونه** |
| الوطن ساختماني شرکت | فاروقي، حشمت الله |
| بصيرت ساختماني شرکت | حامد ليس ساختماني شرکت |
| برافي، کنيت | حميد ليس ګروپ |
| نقيب الله، نديم | لودين، روح الله فاروقي |
| رحمن، عبيدالر | بينيت، فاوچ اسوسيتس، LLC |
| کمپبل، نيل پاتريک | براندن، کاري |
| بوکاتا، راول ای | K5 ګلوبل |
| کلوس، جارد لي | احمد، نور |
| نړيوال لوژستيکي عمليات | نور احمد يوسفزی ساختماني شرکت |
| رابنسن، فرانز مارتين | آيني، شريل ادينايک |
| تيلر، ذاچري دستن | کانن، جستين |
| آريا ګروپ ساختماني شرکت | کانستنتينو، اپريل ان |
| آريا ګروپ | کانستنتينو، دي |
| آريا هروي جنرال ټريډنګ | کانستنتينو، رامل پالميز |
| آريا M.E. جنرال ټريډينګ LLC | کريلي، برام |
| آريا ميډل ايسټ | ډراتلف، کريستوفر |
| آريا ميډل ايسټ شرکت LLC | فيل - تيک انجنيري او ساختماني شرکت |
| آريا مډل ايسټ کمپني لميټډ -هرات | هاندا، سيدارت |
| آريا سپلايز کمپني لميټډ | جبک، عماد |

جدول D.1 (دوام لري)

| د 2013 کال د دسمبر تر 31 پورې تعليقونه او بنديزونه | |
|---|---|
| **تعليقونه** | **بنديزونه** |
| د آريا تداركاتي او مشورتي خدمتونه | جمالي، روح الله |
